جاوید احمد غامدی

# بُرهان

ژباړن:
عبدالغفور پیروز

المورد
د علم او څېړنې اداره

برهان

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

جاوید احمد غامدي

# برهان

ژباړن

عبد الغفور پېروز

## المورد

د علم او څېړنې اداره

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ټول حقوق خوندي دي

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

خپرندوی: المورد

لومړی چاپ: ۲۰۱۶

بیه:

ISBN: 978-969-681-006-3

Address: Post Box ۱۵۸۵, Lahore Pakistan.

Post Box ۷۱۰٦, Karachi Pakistan.

Website: www.al-mawrid.org

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

# فهرست

پیلامه ۱

دیت ته یوه کتنه ۳

د شاهدۍ قانون ۱۹

د رجم سزا ۲۹

حدود او تعزیرات ... څو مهم بحثونه ۱۲۸

امرهم شوری بینهم ۱۳۸

ناسم تاویل ۱۶۱

اسلام او تصوف ۱۷۳

د بیعت د پلویانو حضور ته ۲۰۱

د منهاج القرآن د مسئولینو حضور ته ۲۶۶

اسلامي انقلاب ۲۸۸

د دعوت حدود ۳۰۳

د مضامینو تېروتنې ۳۱۴

ماخذونه ۳۲۴

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

# پیژلامه

د دې ټولګې ډېرې لیکنې پر معاصر مذهبي فکر کره کتنه ده، له همدې امله مې د برهان نوم ورته غوره کړی دی.

ممکن اسلوب یې د ځینو کسانو لپاره د زړه بداوي سبب شي خو که دا هر څه د لیکنیز ذوق د تسکین لپاره وای نو زه به یې هیڅکله خپرولو ته چمتو شوی نه وای. مګر دا چې د کوم مسئولیت د احساس پر بنسټ لیکل شوي نو د هغه غوښتنه دا ده چې لوستونکو ته ورسېږي، اردو شعر دی:

چمن میں تلخ نوائی مری گوارا کر
کہ زہر بھی کبھی کرتاہی کار تریاقی

په چمن کي زما ترخې خبرې وزغمه
ځیني وختونه زهر هم د تارياکو کار کوي

جاوید

المورد، لاهور
۳/ جنوري/ ۱۹۹۳

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

بسم اللّٰہ الرحمن الرحیم

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

# ديت ته يوه کتنه

په قرآن کريم کي چي د ديت کوم قانون بيان شوی دا مهال يې په اړه دا دوې پوښتنې د بحث موضوعات دي: يوه دا چي ايا په شريعت کي د ديت کوم مقدار ټاکل شوی او ايا له هغه سره سم د نارينه په مقابل کي رښتيا هم د ښځې ديت نيمايي دی؟.

دويمه دا چي د ديت حقيقت څه دی؟، ايا دا د هغه اقتصادي زيان بدل دی چي د مجرم له لوري د وژل شوي وارثانو او ژوبل شوي ته رسېږي، که د ځان او غړي قيمت دی؟ او يا له دې پرته بل درېيم شی؟.

د لومړۍ پوښتنې په ځواب کي هغو اياتونو ته پام وکړئ چي د دې قانون په اړه قرآن کريم بيان کړي دي، په سورت النساء کي دي:

وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ أَن يَقْتُلَ مُؤْمِنًا إِلاَّ خَطَئًا وَمَن قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَئًا فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ إِلَى أَهْلِهِ إِلاَّ أَن يَصَّدَّقُواْ فَإِن كَانَ مِن قَوْمٍ عَدُوٍّ لَّكُمْ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ وَإِن كَانَ مِن قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُم مِّيثَاقٌ فَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ إِلَى أَهْلِهِ وَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةً فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ تَوْبَةً مِّنَ اللّهِ وَكَانَ اللّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا (النساء: ۹۲)

او هيڅ مسلمان ته روا نه ده چي بل مسلمان ووژني، مګر که تېروتنه ترې وشي او که څوک د دې ډول غلطۍ له امله کوم مسلمان ووژني نو پر هغه لازمه ده چي يو مسلمان له مرييتوب څخه ازاد کړي او د وژل شوي وارثانو ته ديت ورکړي، مګر دا چي هغوی يې وبخښي. که وژل شوی ستاسو د کوم دښمن قوم غړی خو مسلمان وي نو له مرييتوب څخه د يوه مسلمان ازادول کفايت کوي او که د کوم معاهد قوم غړی وي نو وارثانو ته به يې ديت هم ورکول کېږي او تاسو به يو مسلمان مريی هم ازادوئ، څوک چي مريی ونه لري نو

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دوې میاشتې به پرله پسې روژه نیسي. دا
د الله له خوا پر دې ګناه د توبې طریقه ده او
الله علیم او حکیم دی.

د سورت النساء په دې ایت کې د دِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ إِلَى أَهْلِهِ الفاظ راغلي، راجحه داده چې دا د حذف شوي خبر مبتدا وبلل شي یعني فَعَلَيْهِ تَحْرِيْرُرَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ وَ دِيَـةٌ مُسَـلَّمَةٌ. په دې ایت کې د دیت لفظ نکره دی، د اسم نکرې په اړه را ته معلومه ده چې د خپلې معنا د تشخیص لپاره د لغت، رواج او کلام د سیاق له دلالت پرته بل څه ته اړتیا نه لري. د بیلګې په توګه الله په قرآن کریم کې ویلي: إِنَّ اللّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تَـذْبَحُواْ بَقَـرَةً[1] (الله تاسو ته امر کوي چې یو غویی حلال کړئ) په دې ایت کې د بقرة لفظ نکره دی، له همدې امله دا بیخي یقیني ده چې یهودو ته د هماغه حیوان د حلالولو امر شوی وو چې د هغه لپاره د عربو په ژبه او عرف کې د بقرة لفظ کارېږي او که دوی هر غویی حلال کړی وای نو یقینا د فرمان مراد پوره کېدی. ګواکې د عربیت له مخې که متکلم یو واجب شی د اسم نکرې په بڼه ذکر کوي نو معنا به یې دا وي چې موږ ته یې په دې معامله کې د عرف یا دود د پیروۍ امر کړی دی، څرنګه چې اسم نکره پر عموم دلالت کوي له همدې امله که د کلام په سیاق کې کوم مانع نه وي نو د دې نوم ټول مسمیات یې له څه تعین او تخصیص پرته د اطلاق په دایره کې داخل بلل کېږي، نو په دې ایت کې د دیت معنا داده: هغه شی چې د دیت په نوم پېژندل شوی او د دِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ إِلَى أَهْلِهِ د الفاظو حکم چې پر کوم مراد دلالت کوي هغه له دې پرته بل هیڅ شی نه دی چې د مخاطب په عرف کې د کوم څه نوم دیت دی هغه دې د وژل شوي وارثانو ته وسپارل شي.

---

[1] البقرة ۲ : ۶۷



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

قرآن کریم چي په سورت البقرة کي کوم ځای د قصدي قتل حکم بیان کړی، هلته یې دا خبره د معروف د لفظ په صراحت سره بیان کړې ده:

| | |
|---|---|
| فَمَنْ عُفِيَ لَهُ مِنْ أَخِيهِ شَيْءٌ فَاتِّبَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ وَأَدَاءٌ إِلَيْهِ بِإِحْسَانٍ (البقرة ۲ : ۱۷۸) | نو چا ته چي د خپل ورور له لوري بخښنه وشوه نو له معروف سره سم دي يې پیروي وشي او هر ډول دیت دي په ښه ډول ادا کړای شي. |

د نساء او بقرې له دې ایاتونو څخه معلومه شوه چي په قصدي او خطایي قتل دواړو کي د قرآن حکم همدا دی چي د ټولنې له دود او دستور سره سم دیت دي ورکړل شي. رسول الله ﷺ په خپل وخت کي په همدې عمل وکړ، په دې اړه چي روایاتو کوم بیان کړی هغه د عربي دستور وضاحت دی، په هغو کي هیڅ شی هم د رسول الله ﷺ حتمي حکم نه دی.

د دیت په اړه د عربو دستور څه وو؟ د جاهلیت په دوره کي د موجودو شاعرانو د کلام او عربي تاریخ له مطالعې معلومېږي چي په پیل کي له یوې قبیلې سره د څرګند نسبي تعلق درلودونکي شخص دیت لس اوښان وو. د قبیلې د حلیف او د مینځې د زوی دیت د صریح[۲] د دیت او د ښځې دیت د نارینه وو د دیت په پرتله نیمایي وو.

د الاغاني لیکوال د اوس او خزرج ترمنځ د یوه جنګ د پېښو په بیانولو لیکي:

| | |
|---|---|
| وكانت دية المولى فيهم وهو الحليف خمسا من الابل و دية الصريح عشرا. (۳/۴۱) | او په دوی کي د مولی یعني حلیف دیت پنځه اوښان او د صریح دیت لس اوښان وو. |

[۲] دا لفظ د هر هغه چا لپاره د یوې اصطلاح په ډول کارېدی چي له یوې قبیلې سره به یې باوري نسبي تړاو درلود.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د «المفصل في تاريخ العرب قبل الاسلام» ليكوال جواد علي ليكلي:

واما اذا كان القتيل هجينا فتكون ديته نصف دية الصريح. وتكون دية المرأة نصف دية الرجل. (٥/ ٥٩٢)

او كه به وژل شوى د مينځې زوى وو نو ديت يې د صريح په پرتله نيمايي وو او د نارينه په مقابل كي د ښځې ديت نيم وركول كېده.

ځينو قبايلو د خپل شرافت پر بنسټ دوه چنده ديت تر لاسه كاوه او ځينو به د سخاوت و كرم له مخې نورو ته دوه چنده ديت وركاوه، په المفصل كي دي:

روى ان الغطاريف، وهم قوم الحارث بن عبدالله بن بكر بن يشكر، كانوا يأخذون للمقتول منهم ديتين ويعطون غيرهم دية واحدة اذا وجبت عليهم. وكان لبنى عامر بن بكر بن يشكر، وهم من الغطاريف ايضا وقد عرف عامر المذكور بالغطريف ديتان ولسائر قومه دية. وورد ان بنى الاسود بن رزن كانوا يؤدون فى الجاهلية ديتين من ديتين. (٥/ ٥٩٣)

ويل كېږي چي غطاريف يعني د حارث بن عبدالله بن بكر بن يشكر د قوم كسانو د خپل وژل شوي دوه ديتونه اخيستل او كه به پر دوى د نورو ديت واجب شو نو يو ديت يې وركاوه. د بني عامر بن بكر بن يشكر لپاره چي مشر يې عامر غطريف بلل كېده دوه ديته او د نور قوم لپاره يو ديت ټاكل شوى وو. همدارنګه په رواياتو كي دي چي بنو اسود بن رزن د جاهليت په زمانه كي نورو ته دوه چنده ديت وركاوه.

جواد علي ليكي:

و لم يكن هذا التحديد عن ضعف

د دوه چنده ديت وركولو دا قانون د ضعف



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وانما هو رغبة منهم فی الافضال علی ذوی القتیل. (المفصل ۵ / ۵۹۳)

له امله نه بلکي د هغوی له لوري د وژل شوي پر وارثانو د احسان له مخې وو.

د پاچاهانو دیت زراوښه ټاکل شوی وو چي دیة الملوک بلل کېده، قراد بن حنش الصاردي د بنو فزاره په ستایلو وایي:

ونحن رهنا القوس ثمت فودیت بألف علی ظهر الفزاری اقرعا

"او موږ لیندهٔ ګروکړه نو د فزاري له مال څخه پوره زراوښان په فدیه کي ورکړل شول."

بعشر مئین للملوک سعی بها لیوفی سیار بن عمرو فاسرعا

"زراوښان چي د پاچهانو دیت دی، د ورکړې لپاره یې سیار بن عمرو هڅه وکړه او دا مسئولیت یې له څه ځنډ پرته پوره کړ."

د رسول الله ﷺ تر زوکړي څو کاله وړاندي په دې دود کي یو ناڅاپي بدلون راغی، ویل کېږي چي د رسول الله ﷺ نیکه عبد المطلب نذر منلی وو چي که الله ده ته لس زامن ورکړي نو یو به پکي د قربانۍ په توګه حلالوي. کله چي الله د ده هیله پوره کړه نو ده غوښتل په خپل نذر وفا وکړي، د زامنو تر منځ د انتخاب لپاره نوم اچونه وشوه چي د عبد الله نوم وخوت. عبد المطلب هغه د قربانۍ د ځای پر لور روان کړی وو چي خلګو هغه را وګرزاوه او د زوی په بدل کي یې د اوښانو حلالولو مشوره ورکړه. لکه څرنګه چي موږ وویل هغه مهال دیت لس اوښان وو، ځکه نو د لسو اوښانو او عبد الله تر منځ نوم اچونه وشوه. هر ځل د عبد الله نوم را ووت ان تر دې چي د اوښانو شمیر سلو ته ورسېد، کله چي په دې وار نوم اچونه وشوه نو د اوښانو په نوم شوه. په روایاتو کي دي چي تر دې پېښې وروسته په عربو په ځانګړي ډول قریشو کي دیت سل اوښان وټاکل شول. ابن عباس رضي الله عنه وایي:



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

كانت الدية يومئذ عشرا من الابل و عبد المطلب اول من سن دية اللفظ مأة من الابل فجرت فى قريش و العرب مأة من الابل.

هغه مهال دیت لس اوښان وو، تر هغو لومړی عبد المطلب سل اوښان وټاکل چې په قریشو او عربو کې د دیت همدا مقدار دود شو.

(الطبقات الكبرى د ابن سعد ۱ / ۸۹)

زهیر بن ابی سلمی په خپله معلقه کې د دیت همدا مقدار بیان کړی دی، د عبس او فزاره په جګړو کې د دیت په توګه د درو زرو اوښانو ورکولو له امله ده د عربو د دوو مشرانو هرم بن سنان او حارث بن عوف په ستاینلو ویلي:

تعفى الكلوم بالمئين فاصبحت ينجمها من ليس فيها بمجرم

" د څو سوو اوښانو په وسیله به ټپونه له منځه ولاړ شي، نو څوک چې بې ګناه وو په تقسیم سره دا اوښان د دیت په توګه ورکړل شول."

د زهیر له دې شعر څخه معلومېږي چې د عبس او فزاره د وژل شویو دیت په قسطونو ورکول شوی دی، په الاغاني کې دي:

فكانت ثلاثة الاف بعير فى ثلاث سنين. (۱۰ / ۲۹۷)

درې زره اوښان وو چې په درو کلونو کې ورکړل شول.

زهیر په همدې معلقه کې ویلي چې په دیت کې عموما افال یعني د واړه عمر اوښان ورکول کېدل، دی وايي:

فاصبح يحدى فيهم من تلادكم مغانم شتى من افال مزنم

" ستاسو له میراثي مال څخه بیلابیل غنیمتونه چې د افال یعني ښه نسل بشپړ بچیان دي د مقتولینو وارثانو ته لیږل کېږي."

د افال د تخصیص په اړه د معلقات شارح زوزني لیکي:



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

خص الصغار لان الدیات طعطی من بنات اللبون و الحقاق و الاجذاع. (شرح المعلقات د الزوزني، مخ: ۸۰)

شاعر د تېټ عمر اوښان په ځانګړې ډول د دې لپاره یاد کړي دي چې په دیت کې دوه کلن، درې کلن او څلور کلن اوښان ورکول کېدل.

په عربو کې د ټپونو دیت هم دود وو، د عربي لغت له مطالعې ښکاري چې د جاهلي عربو په ژبه کې د ارش او نذر الفاظ پر نورو معانیو سربېره د دې لپاره هم کارول کېدل. په لسان العرب کې دي:

اصل الارش الخدش ثم قیل لما یؤخذ دیة لها: ارش و اهل الحجاز یسمونه النذر. (۶/۲۶۳)

د ارش اصل زخم یا ټپ دی خو بیا د هغه مال لپاره هم وکارول شو چې د ټپونو په دیت کې ورکول کېدی، حجازیانو د دې لپاره د نذر لفظ کاراوه.

لکه څرنګه چې مو وړاندې وویل د عربو همدا دستور رسول الله د قرآن له لارښوونې سره سم په خپل وخت کې نافذ کړی، په دې اړه ځینو روایاتو په ډاګه دا خبره کړې چې رسول الله د دیت دود هماغه ډول پر خپل حال پرېښود لکه څرنګه چې د ده تر رسالت وړاندې په عربي ټاپو وزمه کې دود وو. پورته چې مو د دیت په مقدار کې د بدلون په اړه د ابن عباس کوم روایت نقل کړ، په هغه کې دی وایي:

فجرت في قریش و العرب مأة من الابل و اقرها رسول الله ﷺ على ما كانت علیه. (الطبقات الكبرى د ابن سعد ۱/ ۸۹)

په قریشو او نورو عربو کې د دیت همدا سل اوښان دود شول او رسول الله ﷺ هم پر خپل حال پرېښودل.

په یوه بل حدیث کې چې د لغتو امامانو یې عموما د معلقه لفظ د نظیر په توګه وړاندې کوي او د الفاظو له معمولي تغیر سره په مسند احمد کې هم نقل شوی دا خبره په



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دې ډول بیان شوې ده:

کتب بين قريش و الانصار كتابا فيه: المهاجرون من قريش على رباعتهم يتعاقلون بينهم معاقلهم الاولى. (لسان العرب ۱۱۱/ ۴۶۲)

رسول الله د قریشو او انصارو تر منځ د معاهدې په توګه یوه لیکنه وکړه او دا خبره هم پکښې وه چې د قریشو مهاجرین به پر خپل پخواني حالت پاتې وي او د دوی تر منځ به د دیت معاملې د پخوا په شان وي.

د یمن (جنوبي عرب) په سیمه کې قانون دا وو چې د مرګ او ژوبلې په بیلابیلو شکلونو کې به د دیت مقدار د واکمن له خوا ټاکل کېده، کله چې د رسول الله ﷺ په زمانه کې دا سیمه د اسلامي واکمنۍ برخه شوه نو ده د هغې سیمې د مشرانو په نوم خپل یوه لیک کې د دوی لپاره د دیت هماغه مقدار وټاکی چې د ده په خپله سیمه کې دود وو. په المفصل في تاريخ العرب قبل الاسلام کې دي:

و قد عرفت الدية عند العرب الجنوبين كذالك و لم تحدد فى القوانين وانما ترك امر مقدارها الى الملك. (۵/ ۵۹۴)

په جنوبي عربو کې هم دیت دود وو، خو ځرګند قانون یې نه درلود بلکې د مقدار چاره یې د واکمن پریکړې ته پریښودل شوې وه.

د یمنیانو په اړه د رسول الله لیک[۳] دادی:

ان من اعتبط مؤمناً قتلاً عن بينة فانه قود الا ان يرضى اولياء

چا چې په ناحقه کوم مسلمان وواژه او جرم یې ثابت شو نو بدل به ترې اخیستل کېږي، مګر که د وژل شوي وارثان د دیت

[۳] د ټپونو په دیت کې چې دې لیک کوم تناسب بیان کړی که غور وشي نو د عدل او انصاف له مخې وروستی ټکی دی، د دولت د چارو مسئولین باید په دې اړه د قانون جوړولو پر مهال ورته پام وکړي.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

المقتول: و ان فی النفس الدیة مائة من الابل و فی الانف اذا اوعب جدعه الدیة، و فی اللسان الدیة، و فی الشفتین الدیة، و فی البیضتین الدیة، و فی الذکر الدیة، و فی الصلب الدیة، و فی العینین الدیة، و فی الرِّجل الواحدة نصف الدیة، (و فی الید الواحدة نصف الدیة [٤]) و فی المامومة ثلث الدیة، و فی الجائفة ثلث الدیة، و فی المنقلة خمس عشرة من الابل، و فی کل اصبع من اصابع الید و الرِّجل عشر من الابل، و فی السن خمس من الابل، و فی الموضحة خمس من الابل: و ان الرجل یقتل بالمرأة و علی اهل الذهب الف دینار. (نسائی، شمیره: ۴۸۵۷)

په اخیستلو راضي شي. په دې صورت کې به د یوه نفس، بشپړې پزې، ژبې، شونډانو، خوټو، جنسي الاتو، شا او دواړو سترګو دیت سل اوښان وي. د یوه لاس او یوې پښې دیت به نیم وي، کوم زخم چې تر دماغه ورسېږي یو ثلث او کوم زخم چې تر ملا ورسېږي په هغه کې به هم یو ثلث وي. همدا راز چې کوم ټپ هډوکی خراب کړي په هغه کې به پنځلس اوښان ورکول کېږي. د لاس او پښې پر هره ګوته لس، پر غاښ پنځه او په کوم زخم کې چې هډوکی لوڅ وي په هغه کې به هم پنځه وي، د ښځې په بدل کې به نارینه وژل کېږي او څوک چې سره زر ورکولای شي د هغوی لپاره به دیت زر دیناره وي.

له دې بحث څخه دا حقیقت په بشپړه ډول ثابت شو چې اسلام د دیت په معامله کې نه د تل لپاره ځانګړی مقدار ټاکلی او نه یې زموږ لپاره د ښځې و نارینه، مرییي و ازاد او کافر

[٤] دا الفاظ د سنن نسایي د همدې لیک له یوه بل روایت څخه اخیستل شوي دي.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

و مومن د دیتونو تر منځ توپیر را باندي لازمي کړی. د دیت قانون تر اسلام وړاندي په عربو کي دود وو، قرآن کریم په قصدي او خطایي دواړو قتلونو کي له هماغه سره سم د دیت ورکولو امر کړی دی. د قرآن د دې حکم له مخې دیت د هر وخت او هرې ټولنې لپاره د اسلام لازمي قانون دی، مګر د هغه د مقدار نوعیت او نورو چارو په اړه د قرآن لارښوونه همدا ده چي د معروف یعني ټولنې د دود او دستور پیروي وشي. رسول الله او خلفاء راشدینو په خپل وخت کي د عربو له دستور سره سم د دیت پریکړې وکړې، د فقهې او احادیثو په کتابونو کي چي د دیت کوم مقدار بیان شوی دا له هماغه دستور سره سم دی. د عربو دود د هغوی د تمدني حالاتو او کولتوري روایاتو پر بنسټ ولاړ وو، د زمانې خوځښت د تاریخ په کتاب کي د څورلسو پیړیو پاڼې اړولې دي، د مدني حالاتو او کولتوري دودونو تر منځ د ځمکې او اسمان توپیر را منځ ته شوی دی، دا مهال نه موږ اوښان ورکولای شو او نه په دې وخت کي د اوښانو له مخې د دیت ټاکنه هوښیاري ده. د عاقلې ډول بیخي بدل شوی او د خطایي قتل هغه بڼې را منځ ته شوې دي چي هغه مهال یې تصور هم ممکن نه وو. د قرآن کریم لارښوونې د هر وخت او هرې ټولنې لپاره دي ځکه یې نو په دې لړ کي د معروف د پیروۍ امر کړی دی، د قرآن له دې حکم سره سم هره ټولنه د خپل دود او دستور په پیروۍ مکلفه ده، څرنګه چي زموږ په ټولنه کي له پخوا د دیت کوم قانون نه شته ځکه نو زموږ چارواکي اختیار لري چي که وغواړي د عربو دا دود دې پر ځای وساتي او که یې خوښه وي نو دې ته دې بل شکل وټاکي. دوی چي هر شکل غوره کوي ټولنه یې مني نو بیا هماغه زموږ لپاره معروف بلل کېږي. پر معروف یا دود د ولاړو قوانینو په اړه دا هم بیخي څرګنده ده چي د حالاتو او زمانې د بدلون له امله پکي تغیر راتلای شي او که د ټولنې چارواکي وغواړي نو د خپلو ملي ګټو پر بنسټ یې له سره تنظیمولای شي. د حنفي فقهې یو وتلی عالم ابن عابدین په خپله رساله نشر العرف کي



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ليکي:

اعلم ان المسائل الفقهية، اما ان تکون ثابتة بصريح النص وهی الفصل الاول و اما ان تکون ثابتة بضرب اجتهاد ورأی، و کثير منها ما يبنيه المجتهد على ما کان فی عرف زمانه بحيث لو کان فی زمان العرف الحادث لقال بخلاف ما قاله اولا. و لهذا قالوا فی شروط الاجتهاد: انه لا بد فيه من معرفة عادات الناس فکثير من الاحکام تختلف باختلاف الزمان لتغير عرف اهله و لحدوث ضرورة او فساد اهل الزمان بحيث لو بقی الحکم على ما کان عليه اولاً للزم منه المشقة و الضرر بالناس و لخالف قواعد الشريعة المبنية على التخفيف و التيسير و دفع الضرر و الفساد. (رسائل ابن عابدين ۱۲۵)

باید وپوهېږو فقهي مسایل یا په صریح نص ثابتېږي چي دا لومړی قسم دی او یا په اجتهاد و رایه ثابتېږي، د اجتهاد او رایي پر بنسټ ډېری مسایل هغه دي چي له امله یې مجتهدین په خپله زمانه کي له دې مخې اجتهاد کوي چي که د نوي عرف په زمانه کي وای نو خپل پخوانی نظر به یې بدل کړی وای. دوی د اجتهاد په شرایطو کي دا شرط هم بیانوي چي په دې کي د خلکو د عادتونو پېژندل ضروري دي ځکه د زماني له بدلون سره ډېر احکام بدلېږي چي دا ګڼ لاملونه درلودای شي، د بیلګي په توګه د عرف بدلون، د ضرورت تقاضا او یا د خلکو په حالاتو کي له دې امله د کومې خرابۍ ویره چي که پخوانی شکل باقي پاتي شي نو د دوی لپاره به د زیان او تکلیف سبب وګرزي او زموږ د هغو شرعي قواعدو خلاف به وي چي پر اسانۍ او د ضرر پر مخنیوي بنا دي.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

پاتي شوه دویمه پوښتنه یعني دا چي د دیت حقیقت څه دی؟ نو په دې اړه عموما دوه نظرونه دود دي. یو دا چي دا د نفس قیمت دی او دویم دا چي د مجرم له لوري د وژل شوي وارثانو او یا ټیپي ته کوم مالي زیان رسېدلی د هغه بدله ده. زموږ په اند دا دواړه نظرونه د نقد وړ دي. څوک چي یې د نفس قیمت ګڼي د هغوی نظر صرف پر مغالطه ولاړ دی. په جاهلي عربو کي د قتل پېښي د انتقام، قصاص او دیت په بڼه فیصله کېدې. لکه څرنګه چي له ترتیب څخه ښکاري انتقام د عربو په نزد اصلي موخه وه هغوی پر دې باور درلود چي د وژل شوي روح د مرغه په بڼه الوزي او تر څو چي یې بدل وانه خیستل شي نو په غرونو او رغونو کي د اسقوني اسقوني (ما اوبه کړئ، ما اوبه کړئ) نارو په وهلو لالهانده ګرزي. په دوی کي ځیني په دې باور وو چي په قبر کي هغه وژل شوی ژوندی وي چي بدله یې وانه خیستل شي او که د چا بدل وانه خیستل شي هغه مري، په قبر کي یې تیاره خپرېږي. د خپلو همدغو باورونو له امله یې انتقام ته ترجیح ورکوله او دیت څه چي قصاص ته هم د کوم مجبوریت پر بنسټ تیارېدل، ام شمله وایي:

فیا شمل! شمِّر و اطلب القوم بالذی

اصبت و لا تقبل قصاصاً و لا عقلًا

"نو اې شمله! پورته شه، چمتو شه له خپلو دښمنانو د هغه مصیبت بدله واخله چي تا ته رسېدلی او ګوره قصاص و دیت په هیڅ حالت کي مه قبلوه."

عباس بن مرداس السلمي د خزاعه قبیلې یوه کس عامر د انتقام اخیستلو ته په پارولو وایي:

ولا تطمعن ما یعلفونک انهم　　آتوک علی قرباهم بالمثمل

"او دوی چي تا ته د کوم دیت تمه درکوي هغه ته هیڅ توجو مه کوه ځکه دوی له خپلوی سره - سره وژونکي زهر درته راوړي."



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د اسلام تر منلو وروسته هم په دې اړه د دوی احساسات یو څه سخت وو، د دې اندازه د مسور بن زیاده له هغو اشعارو کېدای شي چې د خپل پلار تر وژلو وروسته یې د مدینې د والي سعید بن العاص له لوري د اوو دیتونو د وړاندیز په ځواب کې ویلي، دی وایي:

ابعد الذی بالنعف نعف کویکب    رهینة رمس ذی تراب و جندل

" ایا تر هغه چا وروسته چې د کویکب غره په لمن کې د خاورو او ډبرو تر منځ ښخ شوی."

اذکر بالبقیا علی من اصابنی    و بقیای انی جاهد غیر مؤتل

" ما ته نصیحت کېږي چې کوم ظالم ما ته دا غم رسولی پر هغه زړه وسوځوم، زما زړه سوی له دې پرته بل څه کېدای شي چې زه د بدل په اخیستلو کې هیڅ لټي ونه کړم.

فان لم انل ثأری من الیوم او غد    بنی عمنا فالدهر ذو متطول

" زما د اکا زامنو! که ما نن یا سبا خپل انتقام وانه خیست نو څه وشول؟ د زمانې عمر ډېر اوږد دی."

فلا یدعنی قومی لیوم کریهة    لئن لم اعجّل ضربة او اعجّل

" که زه له څه تم کیدو پرته پر دښمن ګوزار ونه کړم او یا د هغوی تر ګوزار لاندې را نه شم نو زما قوم دې ما هیڅ جګړې ته نه ورغواړي."

انختم علینا کلکل الحرب مرة    فنحن منیخوها علیکم بکلکل

" تاسو یو ځل پر موږ د جنګ سینه ایښې نو واورئ! موږ هم پریکړه کړې چې موږ به هم پر تاسو د هغه د سینې له ایښودو پرته ارام نه شو."

یقول رجال ما اصیب لهم اب    و لا من اخ: اقبل علی المال تعقل

" ما ته هغه کسان دیت وړاندې کوي او د مال منلو ته مې هڅوي چې پلار او ورور



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

یې هیڅکله د وژونکي د تیغ ښکار نه دي ګرځېدلي."

د همدې احساساتو نتیجه وه چې دوی دیت پیغور باله او دې ته یې د وژل شوي کس د وینو خرڅولو په سترګه کتل. د بنو نصر بن قعین د یوه شاعر ربیع بن عبید شعر دی:

أذواب! اني لم اهبک و لم اقم    للبیع عند تحضر الاجلاب

" اې ذوابه! ما نه ستا قتل بخښلی او نه مې د عکاظ په بازار کې د خرڅولو او را نیولو پر مهال ستا وینه خرڅولو (دیت اخیستلو) ته وړاندې کړې."

مګر څرګنده ده چې دې د دیت له حقیقت سره هیڅ تړاو نه درلود، صرف له جذباتي تعبیر سره یې تړاو درلود او د وینو او وژنو په پېښو کې د دا ډول احساساتي تعبیرونو مثالونه موږ شپه او ورځ وینو. پر همدې بنسټ د دیت د حقیقت تعین په خبره د پوهېدو ښه بیلګه نه ده، چا چې دا درک غوره کړی غالبا یې دې لور ته نه دي کتلي چې د انسان ځان او غړي تر هر قیمت لوړ دي. هیڅ مورو پلار، ورونه او زوی د دې فکر له مخې دیت منلو ته نه شي چمتو کېدای چې د خپل وژل شوي، ورور او یا پلار د وینې قیمت تر لاسه کوي. که دا نظر و منل شي نو نتیجه به یې دا وي چې د دیت قانون پر کوم مصلحت بنا دی ټولنه به یې له ګټو بې برخې شي.

پاتې شول هغه کسان چې دیت د مالي زیان بدله ګڼي نو هغوی غالبا د دې دریځ خپلولو پر مهال پر دې غور نه دی کړی چې د یوه شي د حقیقت لپاره اړینه ده چې هغه یې په ټولو لویو او وړو اجزاوو کې موجود وي. هر چا چې د دیت قانون په سرسري ډول هم مطالعه کړی دی په هر حالت کې به و مني چې دیت یوازې د نفس په وژلو کې نه بلکې د بدن د ټولو غړو لګه پزې، غوږو، سترګو، ژامې او غاښونو په له منځه تلو کې هم ټاکل شوی دی. څرګنده ده چې په دې کې د ډېرو غړو له منځه تګ د مالي زیان سبب نه ګرزي، بالفرض که ژامه، غاښ، د لاس او یا پښې یوه ګوته له منځه ولاړ شي نو په دې سره څه



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مالي زیان رسېږي؟. که د دیت ټول قانون ته په پام غور وشي نو دا خبره په ډاګه کېږي چي نورو ډېرو لاملونو ته له پام پرته صرف د دې داخلي تضاد له امله دا نظر پر ځای نه شي بلل کېدای. که د دیت د حقیقت په اړه دا دواړه نظرونه سم نه وي نو بیا په واقعیت کي د دیت حقیقت څه دی؟. د دې پوښتني په ځواب کي اړینه ده چي عربي روایاتو ته رجوع وشي، د جاهلي عربو په شاعرۍ کي د دیت مضمون ځو ځایه بیان شوی دی. د وژني او ویني تویوني پېښي د هغوی په ژوند کي دومره عامې وې چي د ثأر، قصاص او دیت مضامین ګواکي د دوی د شاعرانو د ذهن ازموینې لپاره تل حاضر وو. په دې کي شک نه شته چي هغوی په خپلو اشعارو کي عموما د دیت منونکو ته پیغور ورکاوه او هغوی یې غچ اخیستلو ته هڅول خو له دا ډول احساساتي شالید پرته چي کله هغوی د دیت پر موضوع څه وایي نو په عمومي توګه د دوی له بیان څخه د دیت حقیقت هم په ډاګه کېږي. په داسي ځایونو کي هغوی د دیت لپاره د غرامه یا د دې مترادف لفظ مغرم کاروي. په عربي ژبه کي دا لفظ بالکل په هماغه معنا کارېږي په کومه معنا کي چي په (پښتو) کي د تاوان یا جرماني لفظ استعمالېږي. لکه څرنګه چي زموږ په ژبه کي د هر هغه مال لپاره چي د کوم جرم د سزا په توګه له مجرم څخه اخیستل کېږي د تاوان یا جرمانې لفظ کارول شوی همدارنګه د عربي جاهلیت په ژبه کي د دې لپاره د غرامه لفظ کارول کېدی. لکه څرنګه چي موږ وویل د دیت له حقیقت څخه د تعبیر لپاره عربي شاعرانو همدا لفظ کارولی، زهیر بن ابی سلمی وایي:

ینجمها قوم لقوم غرامة　　　ولم یهرقوا بینهم ملء محجم

"اوښان یې د تاوان په توګه په قسطونو یوه قوم بل قوم ته ورکول په داسي حال کي چي ورکوونکو په اخیستونکو کي یوه ډکه لپه ویني هم نه وې بهولې."

د دیت په اړه همدا مفکوره وروسته هم پاتي وه، د اموي زمانې د یوه شاعر عجیر



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

السلولي يو شعر دى:

يسرك مظلوماً و يرضيك ظالماً     ويكفيك ما حلمته عند مغرم

"كه ته مظلوم وې نو ستا د انتقام په اخيستلو دي خوشاله كوي او كه ظالم وې نو له تا سره په ملګرتيا دي خوشاله كوي او د دې ظلم په نتيجه كي د تاوان (ديت) وركولو پر مهال چي ته پر ده هر بوج اچوې دى يوازي د هغه لپاره كافي دى."

له دې څخه معلومه شوه چي ديت نه د مالي زيان بدل دى او نه د وژل شوي د وينې بيه، د خپل حقيقت له مخې يوازي غرامه يعني تاوان يا جرمانه ده چي په قصدي قتل كي له قصاص څخه تر تيريدو وروسته او په خطايي قتل كي په هر صورت كي مجرم ته راجع كيږي.

١٩٨٧

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

# د شاهدۍ قانون

د جرم د اثبات لپاره قرآن کريم د ځانګړې طريقې پيروي لازمه نه ده ګرزولې ځکه نو دا ييخي باوري ده چي په اسلامي قانون کي جرم په هغو ټولو طريقو ثابتېږي چي د اخلاقياتو په قانون کي په منل شوي ډول د جرم ثابتولو د طريقو په توګه منل شوې وي او په اړه يې عقل تقاضا کوي چي بايد په دې سره ثابت شي ځکه نو د حالاتو، قراينو، طبي څېړنو، عدلي طب، ګوتو د نښو، شاهدانو په شاهدي، مجرم په اقرار، قسم، قسامه او دا ډول نورو شواهدو سره چي په څه ډول په نوره نړۍ کي جرم ثابتېږي د اسلامي شريعت جرايم هم بالکل په همدې طريقه ثابتبلل کېږي. رسول الله همدا حقيقت په خپله دې وينا البينة على المدعى و اليمين على المدعى عليه[1] کي د البينة په لفظ بيان کړی. ابن قيم ليکي:

البينـة فى کلام الله و رسوله و کلام الصحابة اسم لکل ما يبين الحق فهى اعم من البينة فى اصطلاح الفقهاء حيث خصوها بالشاهدين او الشاهد و اليمين. (اعلام الموقعين ۱/۱۳۱)

بينه د الله، رسول او صحابه وو په کلام کي د هر هغه شي نوم دی چي حق واضح کړي، د فقهاوو تر اصطلاح يې مفهوم ډېر پراخ دی ځکه دوی يوازي تر دوو شاهدانو او يا يوه شاهد او قسم پوري ځانګړی کړی.

[1] ترمذي، شميره: ۱۳۴۱ ... دليل وړاندي کول د دعوه کوونکي مسئوليت دی او قسم به هغه څوک کوي چي له دعوې منکر دی.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."
www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

له دې څخه یوازې دوه صورتونه مستثنا دي، لومړی دا چې یو څوک پر داسې شریفه او پاک لمنې ښځې یا نارینه د زنا تور ولګوي چې ټولنیز حیثیت یې بیخي منل شوی وي. په دې صورت کې قرآن ټینګار کوي چې په هر حال به څلور عیني شاهدان راولي، له دې څخه د کمو شاهدانو په صورت کې به یې دعوه ونه منل شي، په دې معامله کې حالات، قراین او طبي معاینه ټول د منلو نه دي. که یو څوک د ښه دریځ خاوند نه وي نو د جرم ثابتولو لپاره دا ټولې طریقې غوره کېدلای شي خو که د یوه عزتمن او پاک لمنې شخص په توګه منل شوی وي نو اسلام همدا غواړي چې که له ده څخه کومه تېروتنه وشي نو باید پرده پرې واچول شي او په ټولنه کې رسوا نه شي ځکه نو په دې حالت کې څلور عیني شاهدان غواړي او که تور لګوونکی داسې ونه کړي نو حتما د قذف مجرم بلل کېږي. قرآن وېلي:

وَالَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ فَاجْلِدُوهُمْ ثَمَانِينَ جَلْدَةً وَلاَ تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا وَأُولَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ * إِلاَّ الَّذِينَ تَابُوا مِن بَعْدِ ذَلِكَ وَأَصْلَحُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ* (النور ۲۴: ۴، ۵)

او کوم کسان چې پر پاک لمنو ښځو تور لګوي او څلور شاهدان را نه ولي نو هغه اتیا درې ووهئ او بیا یې هیڅکله شاهدي مه منئ، همدا خلک فاسقان دي. مګر څوک چې تر دې وروسته توبه وباسي او ځان اصلاح کړي نو الله غفور او رحیم دی.

دویم دا چې که په کومه ټولنه کې بد لمنې ښځې وي نو له هغو څخه د ځان خلاصولو لپاره د قرآني حکم له مخې همدا کافي ده چې څلور مسلمان شاهدان را وبلل شي او هغوی د دې خبرې شاهدي ورکړي چې فلانۍ واقعا په زنا روږده حرفوي زانیه ده. که هغوی په محکمه کې له پوره مسئولیت سره دا شاهدي ورکړي چې موږ یې د حرفوي زانیې په توګه پېژنو او محکمه تر کره کتنې وروسته د هغوی شاهدي مني نو دې ښځو ته



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

سزا ورکولای شي. الهي وینا ده:

وَاللاَّتِي يَأْتِينَ الْفَاحِشَةَ مِن نِّسَآئِكُمْ فَاسْتَشْهِدُواْ عَلَيْهِنَّ أَرْبَعةً مِّنكُمْ فَإِن شَهِدُواْ فَأَمْسِكُوهُنَّ فِي الْبُيُوتِ حَتَّىَ يَتَوَفَّاهُنَّ الْمَوْتُ أَوْ يَجْعَلَ اللّهُ لَهُنَّ سَبِيلاً (النساء۴: ۱۵)

او ستاسو په ښځو کي[۲] چي کومې بد کاري کوي د هغوی په اړه له خپلو ځانونو څلور شاهدان را وغواړئ، که هغوی شاهدي ورکړي نو په کورونو کي يې تر هغه وخته بندې کړئ چي هغوی مړې شي او یا الله ورته کومه لار را وباسي.

له دې دوو استثناوو پرته اسلامي شريعت د جرم ثابتولو لپاره هیڅکله محکمه په ځانګړې طریقه نه مکلفوي، له همدې امله د حدودو جرمونه وي او که له دې پرته د کوم جرم شاهدي زموږ په اند دا د قاضي په پریکړه پوري اړه لري چي د چا شاهدي او مني او د چا نه مني؟ په دې کي د ښځې او نارینه تخصیص نه شته، که ښځه په خپل بیان کي له څه مشکل پرته کره شاهدي ورکوي نو صرف له دې امله به نه ردېږي چي بله ښځه یا نارینه ورسره نه شته، که د نارینه په شاهدي کي کومه پېچلتیا او ابهام وي نو یوازي به له دې امله نه منل کېږي چي نارینه دی، که محکمه د شاهدانو د وینا او نورو حالاتو او اسنادو پر بنسټ دا ډاډ تر لاسه کوي چي مدعا ثابته ده نو حتما به یې ثابته بولي او که مطمینه نه وي نو له شک پرته دا حق لري چي د لسو نارینه وو د شاهدۍ له منلو هم انکار وکړي. د نا مسلمانو د شاهدۍ هم دا حالت دی.

دلته باید ووایو چي په دې اړه زموږ د فقهاوو نظر بیل دی، ابن رشد په خپل مشهور کتاب بدایة المجتهد کي لیکي:

واتفقوا على انه تثبت الاموال بشاهد عدل ذكر و امرأتين لقوله

ټول فقهاء پر دې متفق دي چي په مالي چارو کي دعوه د یوه عادل نارینه او دوو

[۲] یعني کومې مسلمانې ښځې چي په بد کارۍ روږدې وي.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

تعالیٰ: فرجل وامرأتن ممن ترضون من الشهداء. واختلفوا فی قبولهما فی الحدود. فالذی علیه الجمهور انه لا تقبل شهادة النساء فی الحدود، لا مع رجل و لا مفردات، و قال اهل الظاهر: تقبل اذا کان معهن رجل و کان النساء اکثر من واحدة فی کل شیء علی ظاهر الآیة. و قال ابو حنیفة: تقبل فی الاموال و فیما عدا الحدود من احکام الابدان مثل الطلاق و الرجعة و النکاح و العتق و لا تقبل عند مالک فی حکم من احکام البدن. و اختلف اصحاب مالک فی قبولهن فی حقوق الابدان المتعلقة بالمال، مثل الوکالات والوصیة التی لا تتعلق الا بالمال فقط. فقال مالک و ابن القاسم و ابن وهب: یقبل فیه شاهد و امرأتان و قال اشهب و

ښځو په شاهدي ثابتېږي، دليل يې د الله دا وينا ده: (که دوه نارينه نه وي نو ستاسو له خوښو کسانو څخه يو نر دوې ښځې) خو د حدودو چاره اختلافي ده، د جمهورو مذهب دادی چي د ښځو شاهدي په هيڅ حالت کي هم منل کېدای نه شي. له نارينه وو سره يو ځای شاهدي ورکړي او که يوازي، ظاهريان د دې بر خلاف وايي چي که تر يوې زياتې او کوم نارينه ورسره وي نو د ايت د ظاهري مفهوم پر بنسټ به يې شاهدي په ټولو معاملاتو کي منل کېږي. د امام ابو حنيفه په نزد يې په دې صورت کي شاهدي يوازي په مالي چارو او له حدودو پرته په نورو بدني احکامو لکه طلاق، رجوع، نکاح او د مريپانو په ازادولو کي منل کېږي. امام مالک يې په هيڅ ډول بدني احکامو کي نه مني، له مال سره په تړلو بدني حقوقو لکه وکالت او هغه وصيت په هکله چي يوازي له مال سره تړلی وي مالک او د هغه ملاتړي اختلاف لري. اشهب او ابن ماجشون په دې معاملاتو کي يوازي د دوو نارينه وو خو مالک، ابن قاسم او ابن وهب د يوه نارينه او دوو ښځو شاهدي مني، پاتي شوه صرف د ښځو شاهدي نو د جمهورو

www.javedahmadghamidi.com www.al-mawrid.org



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ابن الماجشون: لا يقبل فيه الا رجلان. و اما شهادة النساء مفردات، اعني النساء دون الرجال، فهي مقبولة عند الجمهور في حقوق الابدان التي لا يطلع عليها الرجال غالبا مثل الولادة و الاستهلال و عيوب النساء. (۲/ ۳۴۸)

په نزد صرف په هغو بدني حقوقو کې منل کېږي چې په عمومي ډول نارينه پرې نه شي خبرېدای لکه د ښځو عيوب، زيږون او د ولادت پر مهال د ماشوم ژړا.

فقهاوو چې خپل دا دريځ د سورت البقرې له کوم ايت څخه اخيستی هغه دا دی:

وَاسْتَشْهِدُواْ شَهِيدَيْنِ من رِّجَالِكُمْ فَإِن لَّمْ يَكُونَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَامْرَأَتَانِ مِمَّن تَرْضَوْنَ مِنَ الشُّهَدَاء أَن تَضِلَّ إْحْدَاهُمَا فَتُذَكِّرَ إِحْدَاهُمَا الأُخْرَى (البقرة ۲ : ۲۸۲)

او تاسو (د پور پر اسنادو) خپل دوه نارينه شاهدان کړئ او که دوه نارينه نه وي نو ستاسي د خوښې له کسانو يو نارينه او دوې ښځې شاهدانې کړئ ځکه که يوه تېروزي نو دويمه به يې ورياده کړي.

زما په اند له دې ايت څخه د فقهاوو استدلال له دوو وجو د نقد وړ دی، يو له دې امله چې دا ايت د پېښو له شاهدۍ سره هيڅ تړاو نه لري بلکې د اسنادو له شاهدۍ سره تړلی دی. هر عاقل پوهېږي چې د اسنادو د شاهدۍ لپاره شاهدان موږ غوره کوو او د پېښو په شاهدي کې د شاهد موجوديت يوه تصادفي چاره ده، که موږ کوم سند ليکلای او يا په کومه معامله کې مو اقرار کړی وي نو دا زموږ اختيار دی چې څوک وغواړو شاهد يې کړو مګر د زنا، غلا، وژنې، ډاکې او دا ډول نورو جرايمو پر مهال چې هر څوک پر موکه موجود وي هغه به شاهدي ورکوي. د شاهدۍ د دې دوو شکلونو تر منځ توپير دومره



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

واضح دی چي په هغو کي یو د بل لپاره د قیاس بنسټ نه شي کېدای. دویمه دا چي د ایت په اسلوبو او سیاق و سباق کي د دې هیڅ ګنجایش نه شته چي له قانون او محکمې سره تړاو ورکړل شي. په دې کي محکمې ته په خطاب کولو دا خبره نه ده شوې چي که دا ډول کومه دعوه درته وړاندي شي نو له مدعي څخه د دې نصاب په اندازه شاهدان وغواړئ، د دې مخاطبین په قرض د راکړې - ورکړې کوونکي دي او هغوی ته لارښوونه شوې چي که دوی تر څانګړې مودې دا ډول کومه معامله کوي نو اسناد دي ولیکي او له شخړو او تاوان څخه د ځان ساتنې لپاره دي هغه شاهدان غوره کړي چي د ښو اخلاقو درلودونکي، باوري، معتبر او ایماندار هم وي او د خپلو حالاتو و بوختیاوو له مخې په ښه ډول دا دنده پوره کولای هم شي.

همدا وجه ده چي په دې کي اصلاً د نارینه وو د شاهد ګرزولو او که دوه نارینه نه وي نو له یوه نارینه سره د دوو ښځو د شاهدانو ګرزولو لارښوونه شوې چي که په کور کي میشته دا میرمن د محکمې په فضا کي له کوم مشکل سره مخ شي نو له پیچلتیا او ګډ - وډۍ څخه د شاهدۍ د ژغورنې لپاره به یوه بله ورسره مرسته وکړي. څرګنده ده چي د دې دا معنا نه ده او نه کېدای شي چي په محکمه کي به دعوه هغه مهال ثابتېږي چي لږ ترلږه دوه نارینه یا یو نارینه او دوې ښځې یې په اړه د شاهدۍ لپاره راشي. دا یوه ټولنیزه لارښوونه ده [۳] چي که یې خلګ پلي کړي نو له شخړو به یې وساتي. دوی باید د خپل ځان د ښېګڼې لپاره ورته پام وکړي مګر دا د دعوو د پریکړو لپاره د شاهدۍ کوم نصاب نه دی چي محکمه یې په پلي کولو مکلفه وي. د دا ډول ټولو لارښوونو په اړه په خپله د قرآن وینا ده:

---

[۳] که وګورو د قرآن کریم د نورو احکامو په څېر دا لارښوونه هم داسي له فطرت سره برابره ده چي په دنیا کي هره ورځ په لکونو اسناد لیکل کېږي، خو ښځې پکي ممکن په زرو کي یوه هم شاهده نه ټاکل کېږي.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."
www.javedahmadghamidi.com www.al-mawrid.org

ذَلِكُمْ أَقْسَطُ عِندَ اللّهِ وَأَقْومُ لِلشَّهَادَةِ وَأَدْنَى أَلاَّ تَرْتَابُواْ (البقرة۲: ۲۸۲)

دا لارښوونې د الله په نزد ډېرې پر انصاف بنا، د شاهدۍ ښه برابروونکې او دې ته ډېر نژدې دي چې تاسو شک ونه کړئ.

په دې اړه علامه ابن قیم په خپل کتاب اعلام الموقعین کي لیکي:

فهذا فی التحمل و الوثیقة التی یحفظ بها صاحب المال حقه لا فی طریق الحکم و ما یحکم به الحاکم فان هذا شیء و هذا شیء. (۱/۱۳۲)

دا د شاهدۍ د منلو او هغه لاسوند په اړه دی چې په وسیله یې د مال څښتن خپل حق ساتي، د محکمې پریکړې له دې سره هیڅ تړاو نه لري ځکه دا له یوه بله بېل شیان دي.

دا مهال ځینو کسانو د فقهاوو د دې دریځ په هکله د سورت النور له څلورم او سورت النساء له پنځلسم ایت څخه په ترتیب سره په اربعة شهداء او اربعة منکم باندې استدلال کړی او داسې بیان یې وړاندې کړی چې اربعة مونث دی او د عربي قانون له مخې یې باید معدود مذکر وي ځکه نو له اربعة شهداء څخه مراد حتماً څلور نارینه دي، په دې کي ښځې نه شي شاملېدای. دا ظاهرا د عربي قواعدو پر بنسټ یو دلیل دی مګر حقیقت دا دی چې ممکن د علم او استدلال په نړۍ کي له عربیت څخه دومره نا اشنا شی به بل هیڅ نه وي لیدلی. په دې ژبه خبر بل هر سړی پوهېږي چې دا قاعده صرف یوازې دا نه ده چې له درو څخه تر لسو که معدود مذکر وي نو عدد به یې مونث وي بلکي دا هم ده چې که معدود یو داسې اسم وي چې د مذکر او مونث دواړو لپاره استعمالېږي نو عدد به یې حتماً مونث وي. په سورت الأنعام کي د ازواج عدد د همدې اصولو له مخې ثمانیة راغلی دی:

ثَمَانِيَةَ أَزْوَاجٍ مِّنَ الضَّأْنِ اثْنَيْنِ وَمِنَ

اته جوړې دوې له پسونو او دوې له اوزو، ووایه! ایا نریې حرام کړي او که یې



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

الْمَعْزِ اثْنَيْنِ قُلْ آلذَّكَرَيْنِ حَرَّمَ أَمِ الْأُنْثَيَيْنِ (الأنعام ۶ : ۱۴۳) بنځې؟.

همدا راز په سورت المجادله کي دي:

مَا يَكُونُ مِن نَّجْوَى ثَلاَثَةٍ إِلاَّ هُوَ رَابِعُهُمْ وَلاَ خَمْسَةٍ إِلاَّ هُوَ سَادِسُهُمْ (المجادلة ۵۸ : ۷)

هیڅکله داسي نه شي کېدای چي درې کسان پټې خبرې وکړي او څلورم يې دی نه وي، يا پنځه پټې خبرې کوي او شپږم يې دی نه وي.

د اربعة منکم په څېر دلته د ثلاثة او خمسة محدود د قرينې له امله حذف شوی يعني ثلاثة نفر، څرنګه چي نفر د مونث او مذکر دواړو لپاره کارېدونکی اسم دی ځکه نو په دې ايت کي عدد مونث راوړل شوی دی. د دې اسلوب بيلګي په لاندينيو احاديثو کي هم شته:

و طعام الاثنين يکفي الاربعة. [۴]

اذا کان ثلاثة فلا يتناجی اثنان. [۵]

ما من مسلم يشهد له ثلاثة الا وجبت له الجنة. [۶]

رُفِعَ الْقَلَمُ عن ثلاثة عن النائم حتی يستيقظ. [۷]

---

[۴] دارمي، شميره: ۲۰۵۰ (د دوو خوراک د څلورو لپاره کفايت کوي.)

[۵] مسلم، شميره: ۵۶۹۴ (که درې کسان وي نو دوه دي يې پټې خبرې نه کوي.)

[۶] ترمذي، شميره: ۱۰۵۹ (د چا په هکله چي درې مسلمانان شاهدي ورکړي د هغه لپاره جنت واجبېږي.)

[۷] ابوداود، شميره: ۴۳۹۸ (له درو کسانو قلم پورته شوی له بيده څخه تر هغه وخته چي را ويښېږي.)



www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org
© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

په دې احاديثو کې هم اربعة او ثلاثة عدد ونه مونث دي مګر د ژبې او بيان په اسلوبو يو خبر سړی ويلای شي چې له دې څخه مراد صرف نارينه دي او يا دا چې ښځې پکې څه ډول شاملېدای شي؟.

همدا راز دې خلګو يو دليل دا وړاندې کړی چې د سورت البقرې په ۲۸۲ [۸] کې د شاهدۍ پر مهال د ښځو د بې لارې کېدو يادونه ده او په دې سره يې په شاهدۍ کې د شک احتمال پيدا کېږي، ځکه نو د رسول الله د دې وينا له امله چې ادرءوا الحدود بالشبهات [۹] (که شک وي حدود مه جاري کوئ) د دوی د شاهدۍ له امله تعزيري سزا ورکول کېدای شي مګر د حد سزا په هيڅ حالت کې نه شي ورکول کېدای. که غور وکړو دا دليل هم بيخي باطل دی، اول له دې امله چې که ښځې د شاهدۍ پر مهال بې لارې شي او محکمه احساس کړي چې په دې سره يې شاهدي اغيزمنه شوې نو په کومه ځانګړې قضيه کې چې دا حالت پيښ شوی هلته يې شاهدي ردولای شي مګر له دې څخه په څه ډول دا نتيجه را ووتله چې د قانون په کتاب کې دې د تل لپاره دا ماده وليکل شي چې د ښځو شاهدي نوره نه شي منل کېدای؟ هغوی ويريدای شي او موږ هم دا احتمال منو خو د دې په مقابل کې ايا دا احتمال قوي نه دی چې دوی به له ويرې پرته په پوره اعتماد سره محکمې ته خپله شاهدي وړاندې کړي. قرآن ويلي چې هسې نه دوی ووېرېږي، داسې يې نه دي ويلي چې هغوی به په هر حالت کې او حتما ويرېږي، احتمال په هر حالت کې يو احتمال دی، د کوم منطق له مخې يې په يقين او باور اړوو چې بيا يې پر

---

[۸] دا ايت په همدې بحث کې وړاندې نقل شوی دی.

[۹] التلخيص الحبير د ابن حجر ۴ / ۵۶ همدا مضمون د ترمذي په ۱۱۴۲۴ او د ابن ماجه په ۲۵۴۵ شميره کې د ادرء وا الحدود عن المسلمين ما استطعتم او ادفعوا الحدود ما وجدتم له مدفعا په الفاظو هم بيان شوی دی.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

بنسټ عمومي قانون جوړ وو؟. دویم له دې امله چې د ادرءوا الحدود بالشبهات معنا نه داده او نه کېدای شي چې که شک وي نو صرف د حدودو مخه دې ونیول شي بلکې داده او همدا کېدای شي چې که شک وي نو د سزا مخه دې ونیول شي.

دلته د حد لفظ د فقهي اصطلاح له مخې نه بلکې د مطلقې سزا لپاره کارول شوی، د رسول الله دا وینا د اخلاقي قانون پر هغو منل شویو اصولو ولاړه ده چې کله شک وي نو جرم نه ثابتېږي ځکه نو مجرم ته کومه سزا هم نه شي ورکول کېدای له همدې امله که دا ښاغلي وايي چې د ښځې په شاهدي تعزیر نافذېدای شي نو دې معنا داده چې جرم پرې ثابتېږي، خو که جرم ثابتېږي نو حد ولې نه ثابتېږي؟ او که د دوی نظر دا وي چې د ښځې په شاهدي کې حتما شک پاتې وي نو جرم نه ثابتېږي، نو بیا به د کومې ګناه تعزیر ورکوي؟. د جرم په هکله دا ییخي ثابته ده چې هیڅکله په لس، شل، نوي او نهه نوي سلنه نه ثابتېږي، هغه تل یا په سل فیصده ثابتېږي او یا ییخي نه ثابتېږي ځکه نو دا ییخي بې معنا خبره ده چې د جرم د ثبوت او نه ثبوت تر منځ یو حالت ومنل شي او بیا ووایو چې که جرم دومره ثابت وي نو حد به پلې کېږي او که دومره ثابت وي نو تعزیر به ورکول کېږي. د جرم ډول او د مجرم حالاتو ته په پام یقینا په سزا کې توپیر راتلای شي مګر ایا د ثبوت ډول هم د دې توپیر بنسټ کېدای شي؟. روغ عقل یې په پوره سختۍ ردوي او انساني فطرت یې په بشپړ ځواک له منلو انکار کوي.

۱۹۸۷



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

# د رجم سزا

(دا مضامین د هغو نیوکو په ځواب کې لیکل شوي چې د رجم د سزا په اړه د استاذ امین احسن اصلاحي پر هغه دریځ شوې وې چې ده په خپل تفسیر تدبر قرآن کې بیان کړی دی.)

(۱)

د زنا د سزا په اړه چې د قرآن کریم په سورت النور کې کوم یقیني حکم بیان شوی په هغه کې په صراحت سره ویل شوي چې زاني نر وي او که ښځه هر یو به سل درې وهل کېږي. په دې کې شک نه شته چې د قرآن کریم دا حکم د خپلو اسلوبو له مخې ډېرې شرحې او تفصیل ته اړتیا لري مګر زموږ فقهاوو چې ورسره کوم یو اړخیز چلند کړی د هغه له مخې د احنافو په نزد دا سزا یوازې د بې واده زانیانو لپاره ده. د واده درلودونکو زانیانو سزا سنت ټاکلې چې رجم یعني سنګسار دی. د واده درلودونکو زانیانو د سزا په اړه د شافعیانو او مالکیانو هم دا نظر دی.

پاتې شو بې واده زاني نو امام شافعي، امام احمد، امام داود، اسحاق بن راهویه، سفیان ثوري، حسن بن صالح او ابن ابی لیلی د هغه سزا هم له سنت څخه اخلي او د دوی له نظر سره سم د نارینه او ښځې دواړو لپاره سل درې او د یوه کال جلا وطني ده. امام مالک او امام اوزاعي هم د بې واده نارینه وو لپاره د سلو درو او یوه کال جلا وطنۍ قایلین دي.

امام احمد، اسحاق بن راهویه او داود ظاهري د واده درلودونکو زانیانو په معامله کې هم له دوی سره اتفاق نه لري، د دوی له تحقیق سره سم واده درلودونکي زانیان به د قرآن کریم له مخې په سلو درو تر وهلو وروسته د سنت په پیروۍ د سنګسار سزا ورکول کېږي.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د زنا د سزا په اړه زموږ د فقهاوو پر دې دريځونو له غور څخه دا خبره په ډاګه کېږي چې دوی د قرآن په بيان کړې سزا کي د سنت په وسيله زياتوب کړی او يا يې تر بې واده ښځې او نارينه خاصه کړې ده. د فقهاوو د يوې ډلې په نزد دا تخصيص دی او بله يې په نسخ تعبيروي. د دې اختلاف وجه دا ده چې لومړۍ ډله د تخصيص له لفظ څخه کوم مفهوم اخلي هغه د دويمې په نزد نسخ ده او دويمه ډله چې کوم څه ته نسخ وايي د لومړۍ ډلې په نزد د هغه د ډيرو صورتونو لپاره د تخصيص اصطلاح دود ده. په هر حال نسخ يې بولئ او که تخصيص خو څرنګه چې يې دليل له سنت څخه اخيستل کېږي له همدې امله په طبعي ډول دا پوښتنه پيدا کېږي چې ايا سنت د قرآن کريم په کوم حکم کي دا ډول تغير او بدلون را وستلای شي؟. د اصطلاحاتو توپير ته له پام پرته دا خبره په پوره باور سره کېدای شي چې زموږ فقهاوو د دې پوښتني ځواب په مطلق اثبات سره ورکړی، موږ له دې انکار نه کوو چې دې مشرانو په دين پوهنه کي منل شوی ځای درلود خو له دې سره دا هم حقيقت دی چې په دوی کي هيڅ يو هم داسي نه دی چې د دې دليل پر بنسټ د نورو د قانع کولو هڅه نه ده کړې چې دا د دوی او دا ډول نورو لويانو خلګو رايه ده، له همدې امله بايد حتما ومنل شي. د دې بر خلاف په دوی کي هر يوه چې په خپلو کتابونو کي دا دريځ وړاندې کړی هلته يې عقلي او نقلي دلايل هم بيان کړي دي، څرګنده ده چې که د دليل خبره کېږي نو د منلو او نه منلو پريکړه به يې هم د دليل پر بنسټ وي. که دليل قوي وي نو هر هغه څوک يې بايد ومني چې له دينداری سره د حق په لټه کي وي او که دليل کمزوری وي نو که څه هم وړاندې کوونکي يې مخکيني او وروستني مشران دي نو د حق غوښتونکي يې بايد په پوره شدت سره رد کړي. که تاسو غواړئ يو څوک په دليل سره قانع کړئ نو د هغوی دا حق هم ومنئ چې دوی يې د دليل پر بنسټ له منلو انکار وکړي، علم او استدلال نه د کومې ډلې ميراث دی او نه د کومې زمانې ځانګړنه. که پخوانيو د يوه اصل را منځ ته کولو حق درلود نو موږ يې له دلايلو سره د باطلولو حق هم لرو، که کوم شی تر نيوکې لوړ



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وي نو هغه يوازي کتاب او سنت دي، د هغو د تعبير او تشريح حق هر هغه څوک لري چي په ځان کي د دې وړتيا پيدا کړي. کوم کسان چي تر موږ وړاندي تېر شوي هغوی هم انسانان وو او موږ هم انسانان يو، په انسانانو کي يوازي رسول دا حق لري چي خبره يې له څه ويلو پرته و منل شي. موږ د دين د يوه زده کوونکي په توګه په پوره باور سره ويلای شو چي موږ د هغوی علمي لوړتيا ته په پام د دوی کتابونه مطالعه کړي او د دې موضوع په اړه مو هغه ټول شيان لوستي چي په دې فن کي د اصولو درجه لري خو څرنګه چي زموږ په نزد دا ټول ښاغلي رسولان نه وو ځکه مو نو د هغوی د دلايلو د صحت او نه صحت د جاجونې جرأت هم کړی دی.

تر کلونو مطالعې او غورو فکر وروسته مو له هغه درناوي او احترام سره – سره چي د دې ښاغليو د علمي خدماتو له امله يې په زړه کي لرو دې ويلو ته مجبور شوو چي دوی د خپل دې دريځ په تائيد کي څو مره دلايل وړاندي کړي هغه ټول پر منطقي مغالطو بنا او سخت کمزوري دي. له همدې امله زموږ په نزد دا اصول چي سنت د قرآن په احکامو کي هر ډول تغير او بدلون راوستلای شي د عقل او نقل دواړو له مخې صحيح نه دی. څرنګه چي د رجم د سزا په اړه زموږ د فقهاوو دريځ پر همدې اصل بنا دی ځکه نو زموږ په اند غوره داده چي د دوی پر ځينو نورو څرګندونو تر نقد وړاندي د دې اصولو غلطي په ډاګه شي، ځکه د اصل تر له منځه تلو وروسته فروع په خپله بې معنا ګرزي.

## د قرآن او سنت خپل منځي تړاو

سنت تر قرآن کريم وروسته د دين دويم يقيني ماخذ دی، زموږ په نزد دا اصل يو نه ردېدونکی علمي حقيقت لري. قرآن کريم په دې مسئله کي ډېر واضح دی چي د محمد ﷺ احکام او لارښوونې تر قيامته هماغسي لازمي دي لکه څرنګه چي په خپله د قرآن اطاعت لازمي دی. رسول الله ﷺ يوازي د الهي پيغام رسوونکی نه وو چي د کتاب تر رسولو وروسته يې کار ختم شو، د رسول په توګه د هغه هر قول او فعل پر خپل ځای د



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

قانوني سند او حجت حیثیت لري، ده ته دا مرتبه کوم امام او فقیه نه ده ورکړې په خپله قرآن یې همدا مقام بیان کړی دی. یو څوک چې تر کومه وخته په ښکاره له قرآنه انکار ونه کړي د هغه لپاره د سنتو د دې قانوني حیثیت نټکول امکان نه لري. قرآن په ښکاره الفاظو ویلي چې باید د ژوند په هره معامله کې د رسول امر او نهې له څه ویلو پرته عملي شي:

وَمَا أَرْسَلْنَا مِن رَّسُولٍ إِلاَّ لِيُطَاعَ بِإِذْنِ اللّهِ (النساء ۴ : ۶۴)

او موږ هیڅ رسول نه دی لیږلی مګر د دې لپاره چې د الله په اراده یې اطاعت وشي.

د سنت او امر او نواهي له دوه ډوله معاملاتو سره تړاو درلودای شي. یو هغه چې په اړه یې قرآن بالکل چوپ دی او په ښکاره یا اشاره یې څه نه دي ویلي او دویم ډول هغه دي چې قرآن یې د نفې یا اثبات امر کړی او یا یې کوم اصل بیان کړی دی. د لومړي ډول معاملاتو په اړه که موږ ته د سنت په وسیله کوم حکم یا اصل ورسیږي نو په هکله یې د اصولو له مخې د بحث او شخړې سوال نه شته، په دا ډول معاملاتو کې سنت پر خپل ځای د مرجع او ماخذ حیثیت لري. په دا ډول معاملاتو کې زموږ د کار دایره همدا ده چې مفهوم او مطلب یې تشخیص کړو او تر دې وروسته پرې له څه شک پرته عمل وکړو. پاتې شول دویم ډول معاملات یعني هغه چې په اړه یې قرآن کریم کوم حکم یا قانون بیان کړی نو په دې اړه دا خبره بیخي پخه ده چې سنت نه د قرآن کریم کوم حکم او قانون منسوخولای شي او نه پکې هیڅ ډول تغیر او بدلون راوستلای شي. قرآن سنتو ته دا واک نه دی ورکړی نو ځکه اوس کوم امام او فقیه هم دا حق نه لري چې له خپله ځانه د سنتو لپاره د دې واک ثابتولو هڅه وکړي، د قرآن کریم په کوم حکم کې د تغیر او بدلون مسئله کومه عادي مسئله نه ده چې تاسو یې د عقلي قیاسونو پر بنسټ په اړه کوم حکم وکړئ. که سنت دا ډول کوم اختیار لري نو د دې لپاره باید د قرآن کریم واضح او قطعي نصوص وړاندې شي. تر دې د کمې درجې کوم شي په وسیله د سنتو لپاره دا اختیار نه شي ثابتیدای. که موږ دا خبره کوو چې سنت د قرآن کریم د کوم حکم د نسخې او یا په هغه کې



© "All rights of this book are reserved with the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د هیڅ ډول بدلون او تغیر اختیار نه لري نو د دې لپاره صرف دا دلیل کافي دی چې د قرآن کریم د دوو پښتیو تر منځ هیڅ ایت هم د سنتو لپاره دا اختیار نه دی ثابت کړی، هر څوک چې د سنتو لپاره د دې اختیار دعوه کوي دا یې د هغه مسئولیت دی چې دی سنتو ته په خپله دا اختیار ورکوي او که قرآن کریم ورکړی دی؟. په لومړي صورت کې د دین په اړه د ده وینا هیڅ ارزښت نه لري او په دویم صورت کې به خپله دعوه په قرآن ثابتوي، پخوانیو چې د دې دعوې د اثبات لپاره کوم عقلي او نقلي دلایل بیان کړي نو که د رب خوښه وه وروسته به یې کمزورتیا بیان کړو. دلته صرف دومره وایو چې طبعي چارې وي او که شرعي د الله په پاچاهي کې چې کوم څوک هر ډول اختیار لري د هغه لپاره باید په هر حال کې د امر ور سپارلو فرمان له قرآن څخه وړاندې شي. د فلاني او فلاني په وینا وو نه د چا لپاره داسي اختیار ثابتېدای شي چې قرآن نه وي ورکړی او نه داسي واک ترې اخیستل کېدای شي چې د هغه لپاره په قرآن ثابت دی. د قرآن کریم د یوه زده کوونکي په توګه موږ له څه شک پرته دا خبره کولای شو چې د سنت لپاره قرآن کریم دا ډول هیڅ اختیار په هیڅ ځای کې نه دی بیان کړی، د دې بر خلاف قرآن په ښکاره وایي چې رسول د قرآن په لفظ او معنا کې هیڅ ډول ترمیم او زیادت نه شي کولای. هغه په دې مکلف دی چې پر ده کوم کلام نازل شوی نو رو ته له رسولو سره – سره یې په خپله هم په هر حالت کې د احکامو پیروي وکړي. قرآني وینا ده:

قُلْ مَا يَكُونُ لِي أَنْ أُبَدِّلَهُ مِن تِلْقَاءِ نَفْسِي إِنْ أَتَّبِعُ إِلاَّ مَا يُوحَى إِلَيَّ (یونس ۱۰ : ۱۵)

ووایه زه دا حق نه لرم چې له ځانه په قرآن کې ترمیم وکړم، زه خو صرف د هغه څه پیروي کوم چې ما ته یې وحې کېږي.

د دې ایت په اړه چې ځینو علماوو کوم ملاحظات وړاندې کړي ان شاء الله په راتلونکو بحثونو کې به یې ځواب ورکړم، البته دلته باید دومره خبره سپینه شي چې د سنتو لپاره د قرآن په احکامو کې د نسخې او یا تغیر و بدلون اختیار لکه څرنګه چې مو



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

پورته وویل په کوم مثبت دلیل سره ثابتېدای شي. په دې او دې ته ورته نورو ایاتونو د سنتو لپاره د هر ډول اختیار ثابتولو په اړه کفایت نه کوي، قرآن د ځمکې او اسمان د واکمن کلام دی، هغه ځای پر ځای خپل دا مقام بیان کړی چي دی د فرقان یعني معیار حیثیت لري، هیڅوک پر ده قاضي نه دی او دی د هر هغه څه لپاره قاضي دی چي پر دې ځمکه د الله او یا د هغه د رسول لور ته منسوبېږي. رسول د ده د احکامو پلي کوونکی دی، هغه په دې احکامو کي د هیڅ ډول بدلون او تغیر واک نه لري، د نسخې او بدلون د دې اختیار تر تردید وروسته چي بالاخره په دې اړه کومه خبره کېدای شي هغه دا ده چي سنت د قرآن بیان کولای شي. په دې اړه چي عموما د قرآن کوم ایت وړاندي کېږي هغه دا دی:

وَأَنزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ (النحل ۱۶ : ۴۴)

او موږ تا ته هم دا ذکر نازل کړی چي ته خلګو ته هغه څه واضح کړې چي دوی ته نازل شوي.

د ایت مطلب دا دی چي د کایناتو خالق خپل دا فرمان صرف له دې امله د رسول په وسیله نازل کړی چي خلګو ته یې بیان کړي، ګواکي تبیین یا بیان د رسول مسئولیت هم دی او د هغه د لازمي نتیجو په توګه د ده هغه حق هم دی چي په خپله د نړۍ والو رب ورکړی. په بل عبارت تاسو ویلای شئ چي رسول ته د الله له لوري د کتاب د بیانوونکي امر شوی، د رسول او قرآن تر منځ دا هغه تړاو دی چي د اصولو د مشهور کتاب الموافقات لیکوال امام شاطبي داسي بیان کړی دی:

ان السنة اما بیان للکتاب او زیادة علی ذالک فان کان بیانا فهو ثان علی المبین فی الاعتبار ... و ان لم یکن بیانا فلا یعتبر الا بعد ان لا

سنت به یا د قرآن بیان وي او یا پر هغه زیادت، نو که بیان وي نو مرتبه یې د هغه څه په مقابل کي دویمه ده چي دی یې بیان دی او که بیان نه وي نو صرف په هغه صورت کي اعتبار لري چي کوم څه په ده



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

يوجد فى الكتاب. (۶/۴) کي بيان شوي هغه په قرآن کي نه وي.

د شاطبي له دې بيان څخه معلومه شوه چي سنت په هره هغه معامله کي چي قرآن پرې چوپ دی په خپله د قانوني ماخذ درجه لري، مګر که کوم شی په قرآن کي ذکر وي نو سنت يې يوازي بيان کولای شي. په دا ډول معاملاتو کي سنت تر دې زيات هيڅ اختيار نه لري.

د قرآن کريم په اړه د سنتو د دې اختيار تر وضاحت وروسته اوس د غور وړ مسئله يوازي دا پاتېږي چي د دې تبيين معنا څه ده؟ جامع او منطقي تعريف يې څه دی او د دې تعريف له مخې کوم شی تبيين بلل کېږي او د څه شي تبيين بلل ممکن نه دي؟.

## د تبيين مفهوم

تبيين د عربي ژبې يو مشهور لفظ دی، دا که له خپل مفعول سره يو ځای راشي نو صرف د بيان په معنا هم وي او د واضح په معنا هم. زموږ د بحث په ايت کي د (ما نزل اليهم) له الفاظو سره په متعدي ډول استعمال شوی، له همدې امله يې دويمه معنا مرادېږي چي عموما خلګو ترې اخيستې ده ځکه بيا يې نو دلته مفهوم عيني هماغه وي چي د دې لپاره موږ د شرحې لفظ کاروو. په قرآن او عربي کلام دواړو کي دا لفظ په همدې معنا استعمال شوی دی، په سورت البقرة کي چي په کوم ځای کي بني اسرائيلو ته د غوايي حلالولو امر شوی دی د هغه ځای له مطالعې معلومېږي چي يهودو د الله په دې امر له عمل کولو ډډه کوله ځکه نو هغوی د (ان تذبحوا بقرة) حکم چي پکي د بقرة لفظ نکره راغلی او له امله يې دا خبره بيخي څرګنده وه چي دوی ته د هر غوايي د حلالولو امر شوی دی خو دوی د خپل باطني خبث له امله ناڅرګند وباله او له الله څخه يې د شرحې و وضاحت غوښتنه وکړه، له همدې امله يې بيا – بيا دا لفظ استعمال کړ. په قرآن کريم کي دا مکالمه داسي نقل شوې ده:

وَإِذْ قَالَ مُوسَى لِقَوْمِهِ إِنَّ اللَّهَ او هغه وخت در ياد کړه چي موسی خپل قوم ته وويل: الله تاسو ته د يوه غوايي



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

يَـأْمُرُكُمْ أَنْ تَـذْبَحُواْ بَقَـرَةً قَـالُواْ أَتَتَّخِذُنَا هُـزُواً قَـالَ أَعُـوذُ بِاللّـه أَنْ أَكُونَ مِنَ الْجَاهِلِينَ * قَالُواْ ادْعُ لَنَـا رَبَّكَ يُبَيِّن لَّنَا مَا هِيَ قَالَ إِنَّـهُ يَقُـولُ إِنَّهَا بَقَرَةٌ لاَّ فَـارِضٌ وَلاَ بِكْـرٌ عَـوَانٌ بَيْنَ ذَلِكَ فَافْعَلُواْ مَا تُؤْمَرونَ * قَالُواْ ادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّن لَّنَا مَا لَوْنُهَـا قَـالَ إِنَّهُ يَقُولُ إِنّهَـا بَقَـرَةٌ صَـفْرَاء فَاقِـعٌ لَّوْنُهَا تَسُرُّ النَّاظِرِينَ * قَالُواْ ادْعُ لَنَـا رَبَّكَ يُبَيِّن لَّنَا مَا هِيَ إِنَّ البَقَرَ تَشَـابَهَ عَلَيْنَا وَإِنَّآ إِن شَاءَ اللَّـهُ لَمُهْتَـدُونَ * قَالَ إِنَّهُ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٌ لاَّ ذَلُولٌ تُثِيرُ الأَرْضَ وَلاَ تَسْقِي الْحَرْثَ مُسَلَّمَةٌ لاَّ شِيَةَ فِيهَا قَـالُواْ الْـآنَ جِئْـتَ بِـالْحَقِّ فَذَبَحُوهَا وَمَا كَادُواْ يَفْعَلُونَ*(البقرة ۲: ۶۷-۷۱)

حلالولو امر کوي، دوی وویل: ته له موږ سره ټوکي کوې. موسی وویل: زه په الله پناه غواړم چي د جاهلانو په څېر خبري وکړم. دوی وویل: له خپل رب څخه وغواړه چي وښيي غويی به څرنګه وي؟. موسی وویل: هغه وايي چي غويی به نه بوډا وي، نه بچی، د منځني عمر به وي، په هغه څه عمل وکړئ چي تاسو ته يې امر کېږي، دوی وویل: له خپله ربه وپوښته چي واضحه کړي رنګ به يې څرنګه وي؟. موسی وویل: هغه وايي چي هغه به ژړ وي، داسي شوخ رنګ درلودونکی چي ليدونکي خوشاله کوي. بيا يې وویل: له خپل رب څخه وغواړه چي په ښه ډول بيان وکړي چي څرنګه غويی يې په کار دی؟، موږ د غوايانو په امتياز کي شکمن يو او که الله وغوښتل نو موږ به يې ومومو. موسی ځواب ورکړ: هغه وايي چي غويی به کار کوونکی، د ځمکې څيرونکی او د کښتونو لپاره د اوبو راکښونکی نه وي، د ټول بدن رنګ به يې يو او بې داغه وي. دوی وویل: اوس دي سپينه خبره وکړه، بيا يې حلال کړ په داسي حال کي چي د دې کار کوونکي نه وو.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

اعشی میمون بن قیس د کرکې په یوه معامله کي د علقمه بن علاثه په غندلو او د عامر بن طفیل په ستایلو وایي:

ان الذی فیه تداریتما    بین للسامع و الآثر

"بې شکه تاسو چي په کومه خبره کي اختلاف کوئ د هر اورېدونکي او د بیا بیانوونکي لپاره واضحه شوې ده."

د اعشی یو بل شعر دی:

فلعمر من جعل الشهور علامة    قدراً فبین نصفها و هلالها

"نو په هغه ذات قسم چي میاشتې یې د اندازې ننښه ګرزولې، بیا یې د هغو نیمايي هم واضحه کړې او پیل هم."

د قرآن کریم او عربي کلام له دې شواهدو په ښکاره معلومېږي چي د تبیین لفظ د یوې معاملې د حقیقت پرانیستلو، د کوم کلام د مطلب توضیح کولو او له یو شي څخه د خفا په لرې کولو او د هغه د ښکارولو په معنا استعمالېږي. کله چي یهودو د کلام له واضح مفهوم څخه په تیښته د دې څرګندولو هڅه وکړه چي دوی غواړي صرف د متکلم مراد معلوم کړي نو د دې لپاره یې بیا –بیا همدا د تبیین لفظ استعمال کړ. د اعشی ستایلی سړی د څو اوصافو څښتن وو خو کله چي یې مخالفینو له منلو انکار وکړ او اعشی هر یو له دلایلو سره څرګند کړ او له خفا څخه په وتلو د څرګندتیا نړۍ ته راغلل نو ده تبیین وباله، د نړۍ خالق کال پر میاشتو او میاشتې پر ورځو وویشلې چي په دې سره یې هم پیل پیدا کړ او هم نیمايي خو د دواړو د سرچپه کېدو له امله چي کله د ابتدا او نیمايي د ورکېدو اندیښنه پیدا شوه نو د سپوږمۍ په پړاوونو یې تبیین وشو. ګواکي تبیین داسي شی نه دی چي له بهر څخه په راوړلو د کومې خبرې، معاملې او یا کلام پر سر ورو تپل شي، دا د یوې خبرې هغه حقیقت دی چي له پیله پکښې وي او تاسي یې



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

پرانیزئ، دا د کوم کلام هغه مدعا ده چي د کلام د پیدا کېدو له وخته ورسره وي او تاسي يې توضیح کوئ. دا د یو شي هغه لازم دی چي له پیله یې د وجود په حقیقت کي پټ وي او تاسو یې څرګندوئ، د تبیین حقیقت نه د ویښته په اندازه نور زیات او نه تر دې کم دی. د سورت النحل په ایت کي دا لفظ د الهي کلام لپاره کارول شوی دی له همدې امله یې هلته مفهوم له دې پرته بل څه نه دی چي د متکلم هغه اراده چي له پیله د ده په کلام کي موجوده ده بیان کړای شي.

## د تبیین تعریف

د تبیین دې لغوي مفهوم ته په پوره پام کولو که هدف د هغه د تعریف ټاکل وي نو موږ ویلای شو: تبیین د یوه کلام د ویونکي د هغې مدعا اظهار دی چي تر نورو یې د رسونې لپاره د لومړي ځل لپاره دا کلام را منځ ته کړی وو.

د همدې مفهوم لپاره موږ په خپله ژبه کي د شرحې لفظ کاروو، شرح صرف شرح ده هر څوک پوهېږي چي د دې لفظ اطلاق پر دې خبره کېدای شي چي په اړه یې تاسو ثابته کړای شئ چي دا په حقیقت کي د هغه کلام د ویونکي مطلب دی چي تاسو ورته هغه خبره منسوبوئ، تاسو چي د کوم کلام په اړه څه وایاست او یا دعوه کوئ چي ستاسو دا وینا د دې کلام شرح ده نو دا به یوازي ستاسو د خبرې پر بنسټ ونه منل شي. هر سړی به در څخه غوښتنه وکړي چي د خپلې دې وینا دلیل بیان کړه، هغه به در څخه وپوښتي چي تاسو د متکلم لور ته څه شی منسوبوئ ایا د هغه الفاظ د خپل لغوي مفهوم له مخې پر دې دلالت کوي؟، ایا د هغه د جملو د ترکیب نحوي تقاضا هغه څه ده چي تاسو یې بیانوئ؟، ایا دا معنا مو د هغه د جملو د سیاق و سباق له دلالت څخه اخیستې، ایا دا د متکلم همیشني عادت دی چي هغه په کوم ځای کي دا ډول الفاظ کاروي هغه څه ترې مراد وي چي تاسو بیان کړي؟، ایا د عام عقل حتمي تقاضا داده چي ستاسو وینا د متکلم مطلب وبلل شي؟. که تاسو غواړئ د کوم کلام په اړه خپله خبره شرح یا تبیین وبولئ نو د خپلې وینا د



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ثابتولو لپاره به له دې دلايلو څخه حتما يو دليل وړاندې کوئ، له دا ډول کوم دليل پرته هيڅ خبره نه شرح بلل کېداى شي او نه تبيين، د شرحې او تبيين الفاظ د خپلې معنا له مخې د دا ډول دليل غوښتونکې دي. له همدې امله ځينو څېړونکو د تبيين يا بيان تعريف په دې الفاظو بيان کړى دى:

هو الدليل الموصل بصحيح النظر فيه الى اكتساب العلم بما هو دليل عليه. (کشف الاسرار د علاء الدين بن عبد العزيز ۳/۱۰۵)

بيان هغه دليل دى چې د صحيح استدلال په وسيله د هغه شي علم تر لاسه کولو ته رسېږي چې دى پرې دلالت کوي.

له دې بحث څخه دا خبره په ډاګه کېږي چې تبيين صرف د متکلم د هغې فحوا اظهار دى چې له پيله د ده په کلام کې وجود لري، د کوم کلام تر را منځ ته کېدو وروسته چې هر بدلون د هغه د کلام لور ته منسوبېږي تا سو يې نسخ بولئ او که تغير و تبديل خو تبيين يا بيان او يا شرح نه شي بلل کېداى. له همدې امله وينو چې په اصول پوهانو کې کومو کسانو د دې لفظ حقيقت ته پام کړى هغوى د تبيين په تعريف کې دا خبره په بشپړ ډول توضيح کړې ده. امام بزدوي د علم الاصول په خپل کتاب کې وايي:

حد البيان ما يظهر به ابتداء وجوده فاما التغيير بعد الوجود فنسخ و ليس ببيان. (کنز الوصول د بزدوي، مخ: ۲۱۲)

بيان هغه شي ته ويل کېږي چې په وسيله يې د کلام په پيل کې د هغه شي موجوديت څرګندېږي، پاتې شو هغه تغيير چې د کلام تر موجوديت وروسته پکې را منځ ته کېږي نو هغه نسخ ده بيان نه شي بلل کېداى.

## د بحث لنډيز

د تبيين لفظ د معنا، تعريف او د حدودو تر تشخيص وروسته نو ره دا خبره له هيڅ پلوه نا څرګنده نه ده پاتې چې قرآن کريم د ځان په اړه د سنتو کوم مقام بيان کړى هغه د



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

شارح مقام دی، د شارح په توګه سنت د قرآن رازونه بیانوي، عموم او خصوص یې څرګندوي او غوښتني یې توضیح کوي، د سنت دا کار کوم معمولي کار نه دی دا هغه کار دی چي په نتیجه کي یې دین تشکیلېږي او د ژوند له ډول-ډول حالاتو سره یې تعلق را منځ ته کېږي. د دې حیثیت له مخې چي د سنت کوم احکام او قوانین موږ ته په بیلا بیلو وسایلو معلومېږي لکه څرنګه چي مو د دې بحث په پیل کي وویل د هغو پیروي پر موږ لازمي ده او هماغسي یې تر قیامته اطاعت واجب دی لکه د قرآن کریم اطاعت چي واجب دی، په اصول پوهانو کي چي الله کوم کسان د دین پوهنې په نعمت نازولي هغوی د سنتو په اړه همدا خبره کړې. د حدیثو او سنتو د ښښتن امام احمد بن حنبل په اړه ویل شوي:

قال الفضل بن زیاد: سمعت ابا عبدالله یعنی احمد بن حنبل، و سئل عن الحدیث الذی روی ان السنة قاضیة علی الکتاب. فقال: ما اجسر علی هذا ان اقوله ان السنة قاضیة علی الکتاب، ان السنة تفسر الکتاب و تبینه. قال الفضل: و سمعت احمد بن حنبل یقول لا تنسخ السنة شیئا من القرآن. قال: لا ینسخ القرآن الا القرآن. (جامع البیان العلم، ابن عبد البر ۲/ ۲۳۴)

فضل بن زیاد وایي: له ابو عبدالله احمد بن حنبل څخه د ان السنة قاضیة حدیث په اړه پوښتنه وشوه. نو ویې ویل: زه د دې ویلو جرأت نه شم کولای چي سنت د الله پر کتاب قاضي دی، سنت خو د الهي کتاب شرح او تفسیر کوي. فضل وایي: ما د هغه دا وینا هم واورېده چي سنت د قرآن هیڅ خبره نه شي منسوخولای، قرآن یوازي په قرآن منسوخېدای شي.

همدا خبره امام شاطبي په الموافقات کي په نورو اسلوبو بیان کړې ده:



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ان قضاء السنة على الكتاب ليس بمعنى تقديمها عليه واطراح الكتاب، بل ان ذالک المعبر فی السنة هو المراد فی الكتاب، فكان السنة بمنزلة التفسير و الشرح لمعانی احكام الكتاب، و دل على ذلک قوله: لتبين للناس ما نزل اليهم. (۴/ ۷)

پر قرآن د سنت د قاضي کېدو معنا دا نه ده چي تر قرآن لومړیتوب ورکړل شي او په مقابل کي يې قرآن پرېښودل شي، بلکي په سنتو کي چي څه بيانېږي هغه د قرآن مراد وي، ګواکي سنت د قرآني احکامو د معانيوو لپاره د شرحې او تفسير حيثيت لري او همدا خبره د قرآن په دې ايت (لتبيين للناس ما نزل اليهم) کي واضحه شوې ده.

تر دې وروسته نوموړي امام د لاس پرې کولو د سزا په اړه د ځينو تشريحاتو لکه د يد د لفظ د معنا، غلا شوي مال د مقدار ساتني او نورو شرايطو په يادولو زيات وضاحت کړی دی:

فذالک هو المعنى المراد من الاية، لا ان نقول: ان السنة اثبتت هذه الاحكام دون الكتاب. كما اذا بين لنا مالک او غيره من المفسرين معنى اية او حديث فعملنا بمقتضاه، فلا يصح لنا ان نقول: انا عملنا بقول المفسر الفلانی دون ان نقول: عملنا بقول الله او قول رسوله عليه الصلاة و السلام. و

د سنتو دا تشريح په حقيقت کي د ايت مفهوم او مراد دی، موږ دا نه وايو چي دا احکام سنتو له قرآن پرته ورکړي لکه څرنګه چي امام مالک يا بل مفسر د کوم ايت يا حديث معنا بيانوي او موږ له هغه سره سم عمل کوو نو موږ دا نه شو ويلای چي د فلاني مفسر په وينا مو عمل کړی دی. د دې پر ځای به موږ وايو چي زموږ عمل د الله او يا د هغه د رسول له وينا سره سم دی، همدا حالت د هغو ټولو قرآني اياتونو دی چي سنتو يې بيان کړی ځکه



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."
www.javedahmadghamidi.com www.al-mawrid.org

هکذا سائر ما بینته السنة من کتاب الله تعالی فمعنی کون السنة قاضیة علی الکتاب انها مبینة له. (۸/۴)

نو د الله پر کتاب د سنتو د قضاوت معنا له دې پرته بل څه نه ده چې د کتاب الله تشریح کوي.

## د ځینو دلایلو ارزونه

د سنتو او قرآن د خپل منځي تړاو په اړه دا بحث که څه هم د نظر د خاوندانو لپاره کفایت کوي خو د حجت پوره کولو لپاره موږ دلته د هغو دلایلو یوه لنډه ارزونه وړاندې کوو چې د سنت په وسیله د قرآن په مطلب کې د تغیر روا بلونکو د خپل دریځ په اړه بیان کړي دي.

دا بناغلي وایي چې د سنتو کوم احکام د قرآن نسخ کوونکي دي او یا د هغه په وسیله د قرآن کریم د کوم ایت په معنا کې کوم ډول بدلون او تغیر را منځ ته کېږي دا هر څه په حقیقت کې د پټې وحې پر بنا وي، له همدې امله د وحې په وسیله د وحې نسخ یا د هغې په مراد کې بدلون عقلاً ممنوع نه شي بلل کېدای.

له همدې امله چې کوم کسان د قُلْ مَا يَكُونُ لِي أَنْ أُبَدِّلَهُ مِن تِلْقَاءِ نَفْسِي[1] ایت په وسیله کوم کسان د نسخې د امتناع دلیل وړاندې کوي دوی یې په ځواب کې وایي چې په دې کې شک نه شته چې رسول د قرآن په مراد کې له ځانه بدلون نه شي راوستلای خو که دا بدلون د خفي وحې پر بنسټ وکړي نو دا نه د دې ایت مخالفت دی او نه پرې کومه عقلي نیوکه کېدای شي.

هغوی خپل نظر په دې ډول ثابتوي چې د متلو او غیر متلو وحې تر منځ که څه هم دا توپیر شته چې په یوه کې صرف مفهوم نازلېدی او په دویمه کې الله تعالی خپل الفاظ

[1] یونس ۱۰ : ۱۵ (ووایه زه دا حق نه لرم چې له خپله ځانه دا قرآن بدل کړم)



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

نازلول خو دا فرق دومره د پاملرنې وړ نه دی ځکه نو خفي وحې او قرآن د حقیقت له مخې یو شی دي نو که په قرآن د قرآن نسخ کېدای شي نو په خفي وحې سره هم د هغه په مدعا کې تغیر او د کوم حکم نسخ کېدای شي.

د سرسري نظر له مخې دا خبره یو څه منطقي ښکاري خو حقیقت دا دی چې کله یو انسان ژور نظر وکړي نو د هغه لپاره د دې منل ګرانېږي چې د نسخ القرآن بالسنة په څېر مسئله کې دې زموږ دې مشرانو په حقیقت کې دومره کمزوری استدلال وړاندې کړی وي.

تاسو فکر وکړئ د وحې متلو او غیر متلو ترمنځ چې دا ښاغلي کوم توپیر مني هغه دا چې په یوه کې صرف الفاظ وحې کېدل او په بله کې الله تعالی خپل الفاظ نازلول ایا دا کوم عادي توپیر دی؟[٢] خو د یوې شیبې لپاره دا له یاده وباسئ او غور وکړئ چې ایا د قرآن او خفي وحې ترمنځ صرف همدا شی بېلوونکی وو چې دې ښاغلیو هغه د پام وړ و نه باله او د وحې په وسیله یې د وحې د نسخې دلیل را منځ ته کړ او بیا د سنتو په وسیله د قرآن د نسخې خبرې ته د جواز په ورکولو ارام کېنښستل؟. له قرآن کریم سره اشنا هر د نظر خاوند به دا خبره ومني چې هغه د تیت-پرک ویناوو په بڼه امت ته د معنوي روایت په طریقه نه دی نقل شوی، د الله دا فرمان یو مربوط الهي کلام دی چې پر بابونو او سورتونو ویشل شوی او د کتاب په بڼه ترتیب شوی دی. هر ایت یې له مخکیني او وروستني بیان سره تړلی په خپل سیاق او سباق کې محدود او د یوه مجموعي نظام کړی دی، ترتیب یې په خپله نازلوونکي را منځ ته کړی او د ساتنې مسئولیت یې په خپله اخیستی. امت ته د

---

[٢] د متلو او غیر متلو دا توپیر که دومره معمولي وي نو بیا باید د هغو خلکو ګناه هم دومره غیر معمولي نه وي چې د الله له خوا د قرآني الفاظو د نزول منلو ته چمتو نه دي. موږ پر دا ډول خبرو د خپلو دې مشرانو حضور ته له دې پرته څه وړاندې کولای شو چې په خپل تبر مو خپلې پښې وهلې دي.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

متواتر قول په توګه رسېدلی او لفظي روایت ته یې جدي پاملرنه شوې ده، حجت یې په بشپړه ډول پوره او د لفظ و معنا دلالت یې یقیني دی د قرآن لفظ صرف د همدې معنا لپاره استعمالیږي او صرف همدا الهي کلام دی، له دې پرته بل هیڅ شی که څه هم خفي وحې وي او یا جلي نه الهي کلام دی او نه قرآن بلل کېدای شي. د خفي وحې په وسیله که رسول ته کوم شی ورکول کېږي نو هغه د قرآن برخه نه ګرزي د رسول حدیث او یا سنت بلل کېږي، دا ټول هغه نه ردېدونکي حقایق دي چې نه د اوس لپاره نوي دي، نه په تېر کي خلګ ورسره نا اشنا وو او نه به د سنتو په وسیله د قران د نسخې منونکو زموږ لویو بزرګانو له نظره پټ وو خو څه وو ایو هغوی دا هر څه له پامه وغورځول. که د دوی په نزد د متلو او غیر متلو فرق د پام وړ نه وو نو ایا دا ټول امتیازات هم دومره عادي او د پام وړ نه وو چې هغو ته له پام پرته یې دا نظر خپل کړ چې قرآن کریم او خفي وحې په حقیقت کي یو شی دي.

دوی عقلا دا شی روا ګڼي، په داسي حال کي چې هیڅ هوښیار انسان د دې خبرې تصور هم نه شي کولای چې د خفي وحې په وسیله ښکاره وحې د معنوي روایت په وسیله لفظي روایت او د مشکوک خبر په وسیله قطعي حدیث او د رسول د قول و فعل په وسیله الهي کلام منسوخېدای او یا یې په مراد کي کوم بدلون را تلای شي.

د افسوس ځای دا دی چې زموږ د دې مشرانو د قرآن حقیقت بس صرف همدومره ګڼلی چې د وحې په وسیله نازل شوی، که دوی موجود وای نو موږ به یې په حضور کي دا وړاندیز کړی وای چې دوی دې د قرآن مقام په خپله په قرآن کي معلوم کړي. هغه به ورته ووایي چې د ده حقیقت صرف دومره نه دی چې تلاوت کېدونکې وحې ده، هغه خو د وحې د لړۍ جامع، د دین غوڅوونکی برهان، د حق و باطل معیار، د الله او د هغه د رسولانو لور ته د هر منسوب شوي شي لپاره فرقان او پر ځمکه د الله میزان دی: اللَّـهُ الَّـذِي أَنـزَلَ



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."
www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

الْكِتَابَ بِالْحَقِّ وَالْمِيزَانَ[3] (الله هغه دی چي په حق سره يې کتاب يعني ميزان نازل کړ) نور به هر شی پر همدې ميزان تلل کېږي، هيڅ شی د هغه لپاره ميزان نه دی، هر څوک چي د قرآن په دې مقام خبر وي هغه به له څه شک پرته ومني چي خفي وحې خو يوه لور ته پرېږده که کومه ښکاره وحې هم وای نو د الله په دې ميزان کي يې د هيڅ زيادت او کمبوت اجازه نه درلوده. هغه به په هر حال ومني چي قرآن يوازي په قرآن منسوخېدای شي، پر قرآن له دباندي څخه هيڅ شی تر هغو چي دی يې اجازه ورنه کړي هيڅ ډول تاثير نه شي کولای.

دا د همدې ښاغلو د يوه دليل ځواب دی، دوی دويم دليل دا وړاندي کړی چي رسول د تبيين اختيار لري او تبيين د وضاحت په معنا دی نو که هغه د قرآن کوم ايت منسوخ بولي او يا يې په مراد کي بدلون راولي نو دا ګواکي د هغه له لوري د هغه ايت په اړه د دې خبرې وضاحت دی چي د دې حکم نور نه دی پاتي او په محتوا کي يې بدلون راغلی دی.

د دې خبرې کمزوري له څو اړخونو بيانېدای شي مګر څرنګه چي له موږ سره د دې په ځواب کي د قرآن قطعي دليل موجود دی ځکه نو موږ نورو ټولو خبرو ته له پام پرته يوازي د هغه پر وړاندي کولو اکتفا کوو.

په کوم ايت کي چي رسول ته د تبيين دا اختيار ورکول شوی د هغه الفاظ دا دي:

وَأَنزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ (النحل ۱۶ : ۴۴)

او موږ تا ته هم دا ذکر نازل کړی چي خلګو ته د هغه شي وضاحت وکړې چي دوی ته نازل شوی.

که په ژور نظر وګورو په دې کي د تبيين فعل خپل مفعول ما نزل اليهم ته د متعدي په توګه راغلی دی، له عربي ژبې سره اشنا هر سړی پوهېږي چي په دې صورت کي يې معنا نه صرف وضاحت دی او نه دلته هغه د خپل مفعول ما نزل اليهم يعني قرآن په اړه د وضاحت په معنا اخيستل کېدای شي. د عربيت له مخې به يې معنا صرف دا وي چي ته

[3] الشوری ۴۲ : ۱۷



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

خلگو ته د ما نزل الیهم یعني قرآن وضاحت وکړه، هر سړی پوهېدای شي چي د قرآن په اړه وضاحت او د قرآن وضاحت. د دې دواړو خبرو تر منځ د ځمکې او اسمان توپیر دی، که د وضاحت اختیار د قرآن په اړه وای نو بې شکه هغه دا وضاحت هم کېدای شوای چي کوم ایت یې منسوخ او یا یې په الفاظو ثابته مدعا بدله شوې وای مګر د قرآن د وضاحت معنا صرف د قرآن شرح کېدای شي او د شرحې په اړه مو لیکلي چي شرح صرف شرح ده، هر سړی پوهېږي چي د دې اطلاق پر داسي خبره کېدای شي چي په اړه یې تاسو ثابته کړای شئ چي هغه په حقیقت کي د هغه کلام د ویونکي مراد دی چي تاسو ورته دا خبره منسوبوئ.

## د بحث پای

د قرآن او سنت د خپل منځي تړاو تر دې وضاحت وروسته د سورت النور هغه ایت ته پام وکړئ چي پکي د زنا سزا بیان شوې، قرآني وینا ده:

الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا مِئَةَ جَلْدَةٍ وَلَا تَأْخُذْكُم بِهِمَا رَأْفَةٌ فِي دِينِ اللَّهِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَائِفَةٌ مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ
(النور ۲۴ : ۲)

زانیه ښځه او زاني سړی هریو سل درې ووهئ او د الهي قانون په نفاذ کي دي له تاسو سره هیڅ نرمي پیدا نه شي، که تاسو په حقیقت کي پر الله او د اخرت پر ورځ ایمان لرئ او په کار ده چي د دوی د سزا پر مهال د مسلمانانو یوه ډله موجوده وي.

پورته مو د دې لیکنې په پیل کي وویل چي الله په دې ایت کي د زنا کومه سزا بیان کړې زموږ فقهاء یې تر بې واده ښځې او نارینه خاصوي د دوی په نزد د واده درلودونکي نارینه او ښځو سزا رجم یعني سنګسار دی او د خپل دې نظر په اړه د رسول الله ﷺ هغه ویناوې او کړنې پیشوي چي له مخې یې د دوی د تحقیق پر بنسټ دا خبره ثابتېږي چي رسول الله ځیني زانیان د قرآن کریم د دې حکم په تعمیل کي د سلو درو وهلو پر ځای صرف



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د واده درلودلو له امله د رجم سزا ورکړې ده.

که د فقهاوو دا نظر و منل شي نو د سورت النور د دې ایت په تاویل کي صرف دوې خبرې کېدای شي، یوه دا چي له الزانیة و الزاني څخه د قرآن مراد صرف بې واده زانیه او زاني دي. د قرآن دا الفاظ واده درلودونکې زانیې او زاني ته نه شاملېږي، رسول الله د همدې ایت بیان کړی او د دې هغه مدعا یې په خپلو اقوالو او افعالو بیان کړې چي د دې ایت الفاظ ورباندي دلالت کوي.

دویمه دا چي رسول الله د واده درلودونکي نارینه او ښځې د زنا جرم د دې ایت له عموم څخه استثنا کړی او په دې توګه یې د قرآن هغه مفهوم چي په خپلو الفاظو ثابت دی بدل کړی دی.

تر کومه ځایه چي له دې دویمې خبرې سره تړاو لري نو مورږ د بحث په پیل کي په پوره وضاحت سره بیان کړی چي سنت د قرآن په مفهوم کي هیڅ بدلون نه شي راوستلای، مورږ لیکلي دي:

" سنت نه د قرآن کریم کوم حکم او قانون منسوخولای شي او نه پکي هیڅ ډول تغیر او بدلون راوستلای شي. قرآن سنتو ته دا واک نه دی ورکړی نو ځکه اوس کوم امام او فقیه هم دا حق نه لري چي له خپله ځانه د سنتو لپاره د دې واک ثابتولو هڅه وکړي، د قرآن کریم په کوم حکم کي د تغیر او بدلون مسئله کومه عادي مسئله نه ده چي تاسو یې د عقلي قیاسونو پر بنسټ په اړه کوم حکم وکړئ. که سنت دا ډول کوم اختیار لري نو د دې لپاره باید د قرآن کریم واضح او قطعي نصوص وړاندي شي. تر دې د کمې درجې کوم شي په وسیله د سنتو لپاره دا اختیار نه شي ثابتېدای. که مورږ دا خبره کوو چي سنت د قرآن کریم د کوم حکم د نسخې او یا په هغه کي د هیڅ ډول بدلون او تغیر اختیار نه لري نو د دې لپاره صرف دا دلیل کافي دی چي د قرآن کریم د دوو پښتیو تر منځ هیڅ ایت هم د سنتو لپاره دا اختیار نه دی ثابت کړی."



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

پاتې شوه لومړنۍ خبره یعني دا چې هغه د قرآني الفاظو مراد او د هغو شرح وبلل شي نو موږ په پوره ډاډ سره ویلای شو چې د عربي ژبې د بیان په اسلوب کې د دې لپاره هیڅ ځای نه شته، د قرآن له ژبې سره اشنا هیڅ سړی د دې خبرې تصور هم نه شي کولای چې د الزانیة و الزاني له الفاظو څخه یوازې بې واده زانیه او زاني هم مراد بېدلای شي. د ایت الفاظ د خپل لغوي مفوم له مخې دا نه مني او د جملې ترکیب وجوړښت یې له منلو ډډه کوي، د کلام سیاق و سباق یې منلو ته چمتو نه دي، د عرف و عادت د دلالت پر بنسټ د متکلم مراد نه شي ګڼل کېدای او د عقل قاضي یې په ښکاره د نه جواز فتوا ورکوي. لنډه دا چې په هیڅ توګه د قرآن کریم د مدعا شرح او بیان نه شي بلل کېدای، که دا شرح وي نو بیا له غوایي څخه اس مراد بېدلای شي، د ځمکې لفظ د اسمان په معنا کارېدلای شي، د ثریا له لفظ د ثرا مفهوم اخیستل کېدای شي، لمر د سپوږمۍ په معنا کېدای شي او رڼا د تیارې په ځای کې استعمالېدای شي، هر څوک چې دې ته د شرحې ویلو جرأت کوي له څه شک پرته ویل کېدای شي چې دی د قرآن پر بلاغت نیوکه کوي، له فصاحت څخه یې منکر دی او وضاحت یې مجروح ګڼي. قرآن د لایزال رب کلام دی، د عربو او عجمو د ترټولو وتلي فصیح پر ژبه جاري شوی، دا پر ځمکه د اسمان حجت او د انسانانو لپاره الهي عدالت دی، هر څوک چې په عربي ژبه او د هغې په اسلوبو لږ خبر وي هغه دا خبره نه شي کولای چې که د سلو درو سزا یوازې د بې واده زانیې او زاني لپاره ځانګړې وه نو د دې مطلب د څرګندولو لپاره د سیاق له دلالت، د عرف له کوم حجت او کوم عقلي دلیل پرته د قرآن په څېر یوه کتاب کې چې دعوه کوي انسانان و پیریان یې د بیلګې راوړلو توان نه لري او په بلسان عربی مبین نازل شوی د الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا مِئَةَ جَلْدَةٍ الفاظ هم کارول کېدای شي.

موږ په پوره مسئولیت سره وایو چې نه د دې لومړۍ خبرې لپاره کوم دلیل وړاندې کېدای شي، نه د دویمې خبرې لپاره له چا سره حجت شته او نه د درېیمې خبرې امکان



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ځکه نو موږ نه شو کولای چې د فقهاوو له دې خبرې سره اتفاق وکړو. موږ یې له شک پرته منلو ته چمتو نه یو او تر هغه وخته به پر دې انکار ټینګار کوو چې تر څو زموږ د دې استدلال په رد کې د یو چا له خوا قطعي دلیل وړاندې نه شي. که څوک موږ ته دا ډول کوم شی وړاندې کړي نو موږ چې په څومره زور له دې څخه انکار کوو بیا به که رب غوښتل په هماغومره قوت له دې انکار څخه رجوع ته چمتو شو. وما توفیقنا الا بالله

زموږ د اختلاف بنسټ همدا دریځ دی، فقهاوو چې په دې هکله د رسول الله د ویناوو او کړنو کوم تعبیر کړی او له هغو څخه یې د حکم کوم علت را ایستلی لکه څرنګه چې مو وړاندې په دلایلو سره واضحه کړه هغه زموږ په نزد د قرآن کریم خلاف دی او د قرآن کریم خلاف هیڅ خبره که څه هم رسول ته منسوبه وي په هیڅ حال کې منل کېدای نه شي.[4] کوم کسان چې غواړي زموږ دا دریځ رد کړي د دوی لپاره سمه طریقه دا ده چې هغوی دي د فقهاوو دا تعبیر د قرآني شرحې په توګه ثابت کړي او یا دي په قرآن سره د سنت لپاره دا اختیار ثابت کړي چې د هغه په احکامو کې تغیر او تبدیل راوستلای شي؟. تر دې وروسته به هغوی د خپل دریځ ثابتولو لپاره د روایاتو او اثارو د انبار را غونډولو ته اړتیا ونه لري که دوی یو روایت وړاندې کړي نو هم به یې موږ په وړاندې سر ټیټولو ته تیار شو خو د اختلاف د دې بنسټ په اړه د نظر د څرګندولو په ځان خلاصولو چې هر څه هم وو ایي زموږ په نزد هیڅ ارزښت نه لري. د پوهې د دې قحطۍ په زمانه کې کېدای شي خلک د هغوی بې معنا خبرې د څېړنې نمونه وګڼي خو دوی باید فکر وکړي چې د علم او استدلال په محکمه کې به دوی په مخلصانه ډول د خپلو هڅو پر ثابتولو بریالي شي؟.

اللهم ارنا الحق حقا و ارزقنا اتباعه

---

[4] ځکه چې رسول ته یې نسبت په هیڅ حالت کې صحت نه لري.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

(۲)

د رجم د سزا په اړه چي مو د قرآن او سنت د خپل منځي تړاو په اړه څه ليکلي د هغه تر لوستلو وروسته د هر زده کوونکي په ذهن کي دا پوښتنه پيدا کېږي چي که په دې مسئله کي زموږ د فقهاوو نظر د قرآن خلاف وي نو بيا به د رجم د هغې سزا په اړه څه وايو چي په اړه يې څرګنده ده ځينو مجرمينو ته رسول الله او خلفاء راشدينو ورکړې؟ همدا پوښتنه ده چي په ځواب کي يې د اوسني وخت يو وتلي عالم او محقق امام حميد الدين فراهي خپل هغه نظر وړاندي کړی چي په دې سره د پېړيو دا ستونزه نه يوازي حل کېږي بلکي دا خبره هم په پوره ډول سپينېږي چي د رسول هيڅ حکم هيڅکله د قرآن خلاف نه وي خو وړاندي تر دې چي دلته د امام فراهي نظر وړاندي شي موږ د علماوو په مخ کي د هغو رواياتو حقيقت هم بيانوو چي زموږ فقهاوو د خپل دريځ په اثبات کي وړاندي کړي دي.

## روايات

په دې لړ کي لومړنی روايت چي له عباده بن صامت څخه روايت شوی امام مسلم په خپلو الفاظو نقل کړی دی:

قال رسول الله خذوا عنى خذوا عنى فقد جعل الله لهن سبيلا البكر بالبكر جلد مائة و نفى سنة و الثيب بالثيب جلد مائة و الرجم. (مسلم، شميره: ۴۴۱۴)

رسول الله وويل چي له ما يې واخلئ، له ما يې واخلئ، له ما يې واخلئ الله چي د زاني ښځو په اړه د کوم حکم نازلولو وعده کړې وه هغه يې نازل کړ له بې واده ښځي سره بې واده زنا کوونکي نارينه به سل درې وهل کېږي او يو کال به شړل کېږي، له واده درلودونکي ښځي سره واده زنا کوونکي نارينه سزا سل درې او رجم دی.

په دې لړ کي بل وړاندي کېدونکی روايت د امام مالک په موطا کي داسي نقل شوی:



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

قال: اياكم ان تهلكوا عن اية الرجم، ان يقول قائل: لا نجد حدين في كتاب الله فقد رجم رسول الله صلى الله عليه وسلم ورجمنا. والذي نفسي بيده، لو لا ان يقول الناس زاد عمر بن الخطاب في كتاب الله تعالى لكتبتها: الشيخ و الشيخة فارجموهما البتة. فانا قد قرأناها. (شميره: ۲۵۶۸)

عمر رضی الله عنه وويل: تاسو د رجم له ايت څخه په انکار کولو خپل ځان له هلاکت څخه وژغورئ، داسي نه وي چي يو څوک ووايي موږ د الله په کتاب کي دوې سزاوې (درې او رجم) نه دي موندلې بې شکه رسول الله هم د رجم سزا پلې کړې او موږ هم، په هغه ذات قسم چي زما روح يې په ولکه کي دی که له ما سره دا انديښنه نه وای چي خلک به ووايي عمر د الله پر کتاب زيادت وکړ نو ما به دا ايت چي بوډی زانيه او بوډی زاني حتما رجم کړئ په قرآن کي ليکلی وای ځکه دا ايت موږ په خپله تلاوت کړی دی.

همدا روايت په بخاري کي داسي نقل شوی:

ان الله بعث محمدا صلى الله عليه وسلم بالحق و انزل عليه الكتاب فكان مما انزل الله اية الرجم فقرأناها و عقلناها ووعيناها، رجم رسول الله صلى الله عليه وسلم ورجمنا بعده فاخشى ان طال بالناس زمان ان يقول قائل: والله ما نجد اية الرجم في كتاب الله فيضلوا بترک فريضة انزلها الله. و

(عمر رضی الله عنه وويل:) بې شکه الله محمد صلی الله عليه وسلم له حق سره را ولېږی او خپل کتاب يې پرې نازل کړ، په هغه کي د رجم ايت هم وو موږ ولوست، پرې پوه شوو او ياد مو کړ. رسول الله پر همدې بنسټ رجم پلی کړ او تر ده وروسته موږ هم عملي کړ، زه ويره لرم چي پر خلکو به يو څه زمانه نه وي تيره چي وبه وايي: موږ د الله په کتاب کي هيڅ ځای د رجم ايت نه دی موندلی او په دې ډول به د الله د نازل کړې فرض په پرېښودو بې لارې شي، ياد ولرئ

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

الرجم فی کتاب الله حق علی من زنی اذا احصن من الرجال و النساء. (شمیره: ۶۸۳۰)

چي رجم د الله په کتاب کي پر هغه نارينه او ښځې واجب دی چي تر واده وروسته زنا وکړي.

دریم روایت په سنن النسايي کي له ام المؤمنين عائشې څخه داسي نقل شوی:

ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: لا یحل دم امرئ مسلم الا باحدی ثلاث خصال: زان محصن یرجم او رجل قتل رجلا متعمدا فیقتل او رجل یخرج من الاسلام یحارب الله عز وجل و رسوله فیقتل او یصلب او ینفی من الارض. (شمیره: ۴۰۵۳)

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: د مسلمان وینه یوازي په درو صورتونو کي روا ده: یو واده درلودونکی زاني چي رجم کېږي به، دویم هغه څوک چي قصدي قتل وکړي، هغه به په قصاص کي وژل کېږي او دریم هغه څوک چي د اسلام په پرېښودو له الله او رسول سره جګړې ته چمتو شي، هغه به یا وژل کېږي، یا به په دار ځړول کېږي او یا به له وطنه شړل کېږي.

په دې لړ کي څلورم روایت ابن المنذر او عبد الرزاق د الفاظو په لږ تغیر سره په خپلو کتابونو کي په دې ډول راوړی:

البکران یجلدان و ینفیان، و الثیبان یرجمان ولا یجلدان، و الشیخان یجلدان ثم یرجمان. (فتح الباري د ابن حجر ۱۲ / ۱۵۷)

د بې واده زاني سزا سل درې او له وطنه شړل دي، واده درلودونکي زاني ته به صرف د رجم سزا ورکول کېږي او بوډا زانیان به لومړی په درو وهل کېږي او وروسته به رجم کېږي.

د رجم د سزا په اړه همدا روایات د حدیثو په بیلابیلو کتابونو کي په مختلفو طریقو نقل شوي دي، تاسو یې لږ په غور سره مطالعه کړئ.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

پر دې رواياتو د غور په کولو چې لومړی کومه خبره تر سترګو کېږي هغه يې خپل منځي تضاد دی چې نه يې په تيرو ديارلسو پيړيو کې څوک پر له منځه وړلو بريالی شوی او نه اوس بريالی کېدای شي. په دې کې که لومړني روايت ته پام وکړئ نو ترې ښکاري چې د زنا په سزا کې د زاني او زانيې واده درلودل او نه درلودل جلا –جلا اعتبار نه لري بلکې د درو او جلا وطنۍ سزا به صرف په هغه صورت کې ورکول کېږي چې زاني او زانيې دواړه بې واده وي او د درو و رجم سزا به هم په هغه صورت کې نافذيږي چې دواړه ودونه لري. پر دې سربيره له دې روايت څخه دا خبره هم معلومېږي چې واده درلودونکي زانيان به د رجم تر سزو وړاندې حتما سل درې هم وهل کېږي، تر دې وروسته دويم روايت ته پام وکړئ په هغه کې د واده او بې واده بحث بالکل نه شته. د دې برعکس چې پکې کومه خبره بيان شوې هغه دا ده چې د سنګسار سزا په حقيقت کې د بوډا زاني او زانيې لپاره ده، نورو ته ورکول کېږي او که نه خو پر دې بې چاره ګانو بايد په هر حال کې پلې شي. همدا روايت چې کله په بخاري کې بيان شوی نو پکې يو ځل بيا د دې سزا لپاره د واده يادونه ده ، په دريم روايت کې بوډا ييخي ژغورل شوی او تر رجم وړاندې د سلو درو سزا هم بخښل شوې ده او په لومړني روايت کې چې د رجم د سزا لپاره له واده درلودونکې سره د ودګني د سزا کوم شرط بيان شوی وو هغه هم پکې ختم شوی. د دې ټولو خبرو ته له پام پرته چې په دې روايت کې کوم قانون بيان شوی ظاهرا همدا سې معلومېږي چې که واده درلودونکی نارينه له واده درلودونکې ښځې سره زنا وکړي او که له بې واده سره په هر حال کې به د رجم سزا ورکول کېږي. څلورم روايت له دې ټولو جلا دی، په هغه کې د درو او جلا وطنۍ د سزا لپاره له بې واده سره د بې واده د زنا شرط هم نه دی پاتې، د واده درلودونکو زانيانو لپاره هم پکې يوازې د رجم سزا بيان شوې مګر بوډاګان په دې روايت کې بې زړه سويه مري، د دوی لپاره چې کومه سزا بيان شوې هغه دا ده چې دوی به تر سنګسار وړاندې حتما سل درې وهل کېږي ګواکې هماغه خبره ده چې:



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کس کا یقین کیجئی کس کا یقین نہُ کیجیئی

لائی هې بزم ناز سې یار خبر الگ الگ

"په چا باور وکړې او په چا يې ونه کړې، يار له مجلسه جلا – جلا خبرونه راوړي."

له دې رواياتو په ځانګړي ډول د موطا امام مالک له روايت څخه چي دويمه کومه خبره معلومېږي هغه داده چي دا مهال له موږ سره کوم قرآن موجود دی پوره نه دی، بلکي ځيني اياتونه ترې ايستل شوي دي. څرګند ده چي دا يوه ډېره خطرناکه خبره ده او هر منافق چي دا روايت جوړ کړی د هغه اصل هدف همدا ښکاري چي قرآن کريم د خلګو په نظر کي شکمن وګرزوي او د فتنه جوړوونکو لپاره دا لار خلاصه کړي چي د دا ډول ځينو نورو اياتونو په جوړولو د الله کتاب ته خپل عقايد او نظريات ور داخل کړای شي. په دې روايت کي چي کومه جمله د قرآن ايت بلل شوې د ژبې او بيان له مخې دومره کمزورې ده چي د قرآن په ښکلي لباس کي د دې ټاټ پيوند لګول او د هغه له لاهوتي ژبې سره يې وصلول څه چي د سالم ذوق انسان يې د رسول وينا هم نه شي بللای او بيا دا خبره هم ډېره خندوونکې ده چي ايت ايستل شوی او حکم يې لا هم پاتي دی. سره له دې چي په قرآن کي هغه اياتونه هم شته چي حکم يې د قرآن په کوم بل ايت منسوخ شوی دی او پر دې سربېره د هر عاقل په ذهن کي دا پوښتنه هم پيدا کېږي چي که دا د قرآن ايت وو او ترې ايستل شوی وي نو په دې سره خو دا خبره ثابته شوه چي حکم يې هم له منځه تللی، نو څرنګه په دې سره د رجم په اثبات کي استدلال کېدای شي؟. استاذ امام امين احسن اصلاحي يې په اړه ډېر ښه ليکلي:

"دا يو ډېر بې معنا روايت دی او ظلم دادی چي عمر رضی الله عنه ته منسوب شوی، حال دا چي که د ده په زمانه کي چا د دې روايت جرأت کړی وای نو زما باور دی چي د ده له درو به يې ځان نه وای ژغورلای." (تدبر قرآن ۵ / ۳۶۷)



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

له دې روایاتو درېیمه خبره دا ښکاري چې د سنګسار په څېر د سختې سزا قانون بیانولو لپاره چې کوم اسلوب غوره شوي هغه ډېر ناڅرګند او مبهم دي، د بېلګې په توګه پام وکړئ په لومړي روایت کي له بې واده سره د بې واده او له ودګني سره د ودګني د زنا سزا بیان شوې خو که کوم بې واده سړی له واده درلودونکې ښځې او واده درلودونکی سړی له واده درلودونکې ښځې سره زنا وکړي نو باید سزا یې څه وي؟. په دې روایت کي یې هیڅ یادونه نه شته، هغه چې په کومه جمله پیل شوی دا اشتباه هم ترې را منځ ته کېږي چې په دې کي غالبا صرف د زاني ښځو سزان بیان شوې، په دې روایت کي چې د البکر بالبکر او الثیب بالثیب کوم الفاظ راغلي د عربیت له مخې یې هغه مفهوم شکمن دی چې عموما ترې اخیستل کېږي. همدا راز چې په دویم او درېیم روایت کي د واده او ودګني لپاره د احصان او محصن کوم الفاظ کارول شوي د هغو په اړه له عربي ژبې سره اشنا هر سړی پوهېږي چې په عربي لغت کي که د دې معنا لپاره کارول کېږي همدا ډول د مرېیتوب او مرېیي په مقابل کي د ازادۍ او ازاد او د عفت و عفت درلودونکې لپاره هم عموما کارول کېږي. د رسول الله تر رسالت وروسته لغت پوهانو په صراحت سره ویلي چې د اسلام او مسلمان په معنا هم استعمال شوي، په عربي ژبه کي هغه الفاظ موجود دي چې صرف د واده او ودګني لپاره کارول شوي مګر دا حیرانوونکې خبره ده چې د یوه داسي قانون د بیان لپاره چې په نتیجه کي یې یوه انسان ته د سنګسار په څېر سخته سزا ورکول کېږي د مختلفو معناوو درلودونکي الفاظ له څه قرینې پرته استعمال شوي دي، نو که د بېلګې په توګه یې یو څوک د زنا بعد الاحصان الفاظ تر ازادۍ وروسته د زنا په معنا واخلي نو د روایت په الفاظو کي به کوم شی د دې معنا مخه نیسي؟.

دا د هغو روایاتو حقیقت دی چې په وسیله یې د قرآن حکم بدلېږي او د واده درلودونکي زاني لپاره ترې د رجم قانون اخیستل کېږي، د هغو ابهام او تناقض ته وګورئ او بیا پرېکړه وکړئ چې د یوه انسان د سنګسار سزا خو ډېره لویه خبره ده، که د



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کوم غوماشي د حلالولو قانون هم په دې طريقه بيان شي نو ايا کوم هوښيار يې منلای شي؟.

## مقدمات

پر دې رواياتو سربيره چي د دې سزا په اړه د احاديثو په کتابونو کي څه شی بيان شوي هغه په حقيقت کي د زنا د بيلابيلو قضاياوو راپورونه دي چي په دې پېښو کي د شريک او يا ليدونکو له خولې په بالکل نيمګړي ډول، متناقض شکل او ډېره ناڅرګنده طريقه د اسي روايت شوي چي د دې سزا په اړه د قانون او منصف فکر له مخې چي کوم مسايل پيدا کېږي په دې راپورونو کي د يوې ځواب هم نه موندل کېږي، مګر ځرنګه چي يې د دې مهال د ملايي مکتب ځيني پيروان د قانوني روايت او يوې قضيې د راپور تر منځ توپير نه له پام پرته رسول الله ته د منسوبو ويناوو په څېر بلکي د ناسخ په توګه وړاندي کوي له همدې امله موږ دلته پر دې راپورونو هم يوه لنډه تبصره کوو چي د حق د زده کوونکو لپاره د سمې خبرې په درک کي کومه ستونزه پاتي نه شي.

له دې قضاياوو چي تر ټولو لومړی کومه مسئله ښکاري هغه داده چي په دې کي هم د سزا په اړه هغه تناقض دی چي پورته مو د رواياتو په اړه بيان کړی دی، مثلاً د يهودي او يهودۍ د رجم کومه پيښه چي په سنن ابی داود کي له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت شوې په هغه کي که احسان د واده په معنا واخستل شي نو د عباده بن صامت د روايت په رڼا کي به د سزا علت له واده درلودونکي سره د واده درلودونکي زنا بلل کېږي مګر د مزدور په قضيه کي د هغه د پلار له دې تصريح سره – سره چي زوی يې واده نه لري ښځې ته دا سزا ورکول شوې:

عن ابي هريرة قال: زنی رجل و امرأة من اليهود وقد احصنا.

له ابو هريره څخه روايت دی چي ويې ويل: يوه يهودي نارينه او ښځې زنا وکړه، دوی دواړو واده درلوده.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

(شمیره: ۴۴۵۱)

كان ابنى اجيراً لامرأة هذا و ابنى لم يحصن. (فتح الباري د ابن حجر ۱۲ / ۱۴۰)

(د هغه پلار وويل:) زما زوی (زنا کوونکی) د دې سړي له ښځې سره مزدوري کوله او واده يې نه درلود.

همدا راز يهودي او يهوديه تر رجم وړاندي په سلو درو نه دي وهل شوي، همدا عمل د ماعز، غامدیې او مزدور په قضيه کي هم ترسره شوی دی[5] مګر د علي رضی الله عنه په څېر د یوه ستر صحابي په اړه احمد بن حنبل روايت کړی چي ده د خپل حکومت پر مهال د شراحه په نوم يوه ښځه تر رجم وړاندي سل درې ووهله او اعلان يې وکړ چي ما هغې ته له قرآن سره سم د سلو درو سزا ورکړه او له سنت سره سم مي رجم کړه.

عن الشعبي ان عليا جلد شراحة يوم الخميس و رجمها يوم الجمعة و قال اجلدوها بكتاب الله و ارجموها بسنة رسول الله. (احمد، شمیره: ۸۳۹)

له شعبي څخه روايت دی چي علي رضی الله عنه د شراحه په نوم ښځه د پنج شنبې په ورځ په دورو ووهله او د جمعې په ورځ يې رجم کړه، ويې ويل: د الله له کتاب سره سم مي په درو ووهله او د رسول الله ﷺ له سنت سره سم يې سنګساروم.

د بې واده زانیانو په معامله کي همدا حالت دی، د مزدور په قضیه کي د بخاري[6] روايت دی چي هغه د سلو درو تر وهلو وروسته يو کال جلا وطن هم شو. د موطا[7] له

---

[5] د دې قضاياوو روايات نژدې د احاديثو په ټولو کتابونو کي نقل شوي دي د بيلګې په توګه د بخاري، مسلم او ابوداود كتاب الحدود وګورئ.

[6] بخاري، شمیره: ۶۸۲۷

[7] موطا، شمیره: ۲۵۷۳



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

روایت سره سم ابو بکر هم یوه سړي ته دا ډول سزا ورکړه، ترمذي[۸] د عمر رضی الله عنه په اړه دا ډول روایت کړی مګر په ابوداود کي د جابر بن عبدالله هغه روایت چي پکي یوه شخص ته د سلو درو تر سزا وروسته څرګنده شوه هغه واده لري او د رجم سزا ورکړل شوه هغه د دې بر خلاف وایي چي دا ډول مجرمینو ته به د درو سزا ورکول کېږي (نه د جلا وطنۍ) همدا قانون د عمرو بن حمزه اسلمي له هغې پېښې هم ښکاري چي په طبقات ابن سعد کي نقل شوې ده:

عن جابر ان رجلا زنی بامرأة فامر به النبی صلی الله علیه وسلم فجلد الحد ثم اخبر انه محصن فامر به فرجم. (ابوداود، شمیره: ۴۴۳۸)

له جابر څخه روایت دی چي یوه سړي له کومې ښځې سره زنا وکړه نو رسول الله یې د سزا امر وکړ او په درو ووهل شو، وروسته څرګنده شوه چي دی واده لري نو د رجمولو امر یې وکړ.

ان عمرو بن حمزه بن سنان کان قد شهد الحدیبیة مع رسول الله قدم المدینة ثم استأذن النبی صلی الله علیه وسلم ان یرجع الی بادیته فاذن له فخرج حتی اذا کان بالضبوعة علی برید من المدینة علی المحجة الی مکة لقی جاریة من العرب وضیئة فنزغه الشیطان حتی اصابها و لم یکن احصن ثم

عمرو بن حمزه له رسول الله سره په حدیبیه کي ګډون درلود، هغه مدینې ته راغی له رسول الله یې اجازه وغوښته چي خپلې بیدیا ته ولاړ شي. رسول الله اجازه ورکړه هغه روان شو، کله چي له مدینې څخه د مکې پر لور د لارې په منځ کي یوه پړاو ضبوعه ته ورسېد نو د عربو له یوې ښکلې مینځې سره مخ شو، شیطان وپاراوه نو له هغې سره یې زنا وکړه او ده هغه مهال واده نه درلود بیا پښیمانه شو رسول الله ﷺ ته راغی کیسه یې ورته وکړه

---

[۸] ترمذي، شمیره: ۱۴۳۸



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ندم فأتى النبي صلى الله عليه وسلم نو ده حد پرې جاري کړ.

و اخبره فأقام عليه الحد. (الطبقات الکبرى ۳ / ۲۲۵)

وګورئ په دې دواړو قضيو کې د جلا وطنۍ يادونه نه شته.

له دې قضاياوو څخه دويمه مسئله دا معلومېږي چې په دې کې عموما د مجرم د واده په اړه د رسول الله تحقيق هم د همدې احصان په لفظ بيان شوی دی او موږ وړاندې څرګنده کړه چې دا لفظ په عربي کې يوازې د واده لپاره نه استعمالېده، په دې کې شک نه شته چې په ځينو رواياتو کې د دې هدف لپاره د ثيب[۹] لفظ هم راغلی مګر څرنګه چې په خپله له دې اختلاف څخه دا خبره څرګندېږي چې د دې پېښې د بيانولو پر مهال د لفظي روايت طريقه نه ده اختيار شوې له همدې امله او س له موږ سره په دې د پوهېدو هيڅ ذريعه نه شته چې په خپله رسول الله پر دې مهال کوم لفظ کارولی وو؟ ځکه نو د رجم په اړه دا خبره چې دا سزا مجرم ته صرف د واده له امله ورکول شوې په دې اړه د رواياتو په څېر له دې قضاياوو هم په يقيني ډول نه شي ثابتېدای.

دريمه مسئله دا معلومېږي چې که د واده درلودونکو سزا سل درې او سنګسار يا صرف سنګسار او د بې واده زانيانو سزا سل درې او جلا وطني وي نو په قرآن کريم کې چې يوازې د سلو درو کومه سزا بيان شوې نو هغه به د زنا کومو مجرمينو ته ورکول کېږي؟. تر دې وروسته که د قرآن کريم د هغه ايت چې پکې دا سزا بيان شوې کوم مصداق پاتېږي هغه به صرف دا وي چې په لوستو يې سزا موندونکو ته ثواب ورسول شي.

دريمه مسئله دا ښکاري چې دا مهال په دې کې د نبوي دور د قضاياوو په اړه هيڅوک په پوره يقين سره دا دعوه نه شي کولای چې په سورت النور کې د زنا په اړه د

---

[۹] موطا امام مالک، شميره: ۷۱۶



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

حکم تر نزول وروسته د رسول الله ﷺ محکمې ته وړاندي شوې او یا تر هغه وړاندي، د بخاري او مسلم دواړو له روایته ښکاري چي دا مسئله د پخوانیو تر منځ هم جنجالي وه، هغوی ویلي چي شیباني له عبد الله بن ابی اوفی څخه وپوښتل چي رسول الله ﷺ د رجم سزا د سورت النور تر نزول وروسته ورکړه او که وړاندي؟. نو هغه ځواب ورکړ چي زه نه پوهېږم.[10]

ځیني کسان هڅه کوي چي د سورت النور د نزول زمانه د افک د پېښي له مخې معلومه کړي مګر په خپله د افک د پېښي په اړه هم په باوري ډول نه شي ویل کېدای چي دا کله او څرنګه را منځ ته شوه؟[11] او د محدثانه فکر له مخې چي د نزول د زمانې روایات په کوم حالت کي دي هغه هم د پوهانو له نظره پټ نه دي، تر دې وروسته څرګنده ده چي که یو څوک وواېي چي د زنا مجرمینو ته رسول الله د رجم سزا په دې اړه د قرآن کریم د کوم حکم تر نزول وړاندي د اهل کتابو له قانون سره سمه ورکړې او بیا د سورت النور ایت نسخ کړې نو په ځواب کي یې له بې ځایه خبرو پرته نور کوم شی شته چي په پوره باور سره وړاندي کړای شي؟.

پنځمه مسئله دا ده چي د زنا په جرم کي کومو مجرمینو ته سزا ورکول شوې له دې قضایاوو چي د دوی د حالاتو او جرم د نوعیت په اړه کوم معلومات تر لاسه کېږي هغه د قانوني فکر له مخې ډېر نیمګړي او په ځینو صورتونو کي دومره متناقض دي چي په وسیله یې باوري نتیجې ته رسېدل اوس په هیڅ ډول شوني نه دي، په ځینو قضایاوو کي

---

[10] بخاري، شمیره: ۶۸۴۰، مسلم، شمیره: ۴۴۴۴

[11] و اختلف هل کان سنة اربع او خمس او ست (او په دې کي هم اختلاف دی چي د افک پېښه د هجرت په څلورم کال وه، که په پنځم او یا شپږم؟) فتح الباري د ابن حجر ۱۲/ ۱۲۰



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

چې د پریکړې کومه طریقه نقل شوې د هغو په اړه هیڅ سړی دا باور نه شي کولای چې د الله رسول ته يې په یوه وجه نسبت صحت درلودای شي.

وګورئ د موطا امام مالک له روایت سره سم چې عمرفاروق رضی الله عنه شام ته د خپل سفرپر مهال کومې ښځې ته د رجم سزا ورکړه د هغې په اړه هیڅ څرګنده نه ده چې له دې سره زنا کوونکی سړی څوک وو؟. دا یوه تصادفي پیښه وه او که د اشنایي یوه زړه کیسه وه چې یوه ورځ يې مېړه هم پرې خبر شوی وو، مېړه چې يې هغه کله له خپلې ښځې سره ولید نو ولې يې هغه ګرفتار نه کړ؟ که تښتېدلی وو نو مېړه يې له خپلې ښځې سره تر لیدو او د ښځې له خوا د زنا تر اقرار وروسته قانون ولې تعقیب نه کړ؟ ایا د اسلام قانون همدا دی چې د ښځې له خوا د جرم تر اقرار وروسته د نارینه په اړه له دې معلوماتو سره- سره چې هغه څوک دی له هغه څخه هیڅ ډول پوښتنه جواز نه لري؟:

عن ابي واقد الليثي ان عمر بن الخطاب اتاه رجل، وهو بالشام، فذكر له انه وجد مع امرأته رجلا فبعث عمر بن الخطاب ابا واقد الليثي الى امراته يسألها عن ذلك. فاتاها وعندها نسوة حولها فذكر لها الذى قال زوجها لعمر بن الخطاب واخبرها انها لا تؤخذ بقوله وجعل يلقنها اشباه ذلك لتنزع فأبت ان تنزع وتمت على الاعتراف فامر بها عمر فرجمت.

له ابو واقد اللیثي څخه روایت دی چې عمر بن الخطاب په شام کې وو چې یو سړی راغی او ویې ویل چې ده یو سړی له خپلې میرمنې سره ولید، عمر ابو واقد د هغه میرمنې ته د پلټنې لپاره ور ولېږه کله چې هغه ورغی نو له دې سره ځینې ښځې ناستې وې، ده هغه خبره ورته بیان کړه چې مېړه يې د عمر رضی الله عنه په مخ کې کړې وه او ورته ویې ویل چې دا به د مېړه په تور ونه نیول شي او په دې ډول يې ور وښوده چې اقرار ونه کړي خو هغې ونه منله او پر خپله خبره ټینګه شوه نو عمر امر وکړ او سنګسار شوه.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

(شمیره: ۲۵۶۷)

د موطا په روایت کي د ابو بکر صدیق په اړه ویل شوي چي د ده پر مهال یوه سړي له بې وادہ نجلۍ سره زنا وکړه او هغه حامله شوه، خلګو هغه ابوبکر صدیق ته راووست، ده د درو او جلا وطنۍ سزا ورکړه خو په دې روایت کي د نجلۍ د سزا په اړه هیڅ یادونه نه شته. ایا له دې څخه داسي فهم واخیستل شي چي دا په حقیقت کي د زور زنا وه چي نجلۍ د خپلې بې عزتۍ له وېري پټه ساتلې وه؟ خو کله چي حمل څرګند شو نو مجرم یې ونیو او د زنا په جرم د سلو درو تر وهلو وروسته د بدماشۍ په تور جلا وطن شو؟. که دا خبره نه وه نو نجلۍ ته ولي سزا ورنه کړل شوه او که ورکړل شوې وي نو په روایت کي یې ولي یادونه نه شته؟ که مینځه وه حد پرې نه شو ای جاري کېدای نو ایا د تعزیر په توګه د کومې سزا ورکول هم ممکن نه وو؟.

ان ابا بکر الصدیق اتی برجل قد وقع علی جاریة بکر فاحبلها ثم اعترف علی نفسه بالزنا و لم یکن احصن. فامر به ابو بکر فجلد الحد ثم نفی الی فدک. (شمیره: ۲۵۷۳)

ابو بکر صدیق ته یو سړی چي وادہ یې درلود راوستل شو، ده له بې وادہ ښځې سره زنا کړې وه او هغه حامله وه. ده پر خپل جرم اعتراف وکړ نو ابو بکر صدیق یې د سزا امر وکړ پر هغه حد جاري شو او فدک ته یې جلا وطن کړ.

دا پوښتنې د هغې پیښې په اړه هم پیدا کېدای شي چي په ابوداود کي د یوې ښځې په اړه نقل شوې، ویل شوي هغه له ماشوم سره رسول الله ته راغله نو ده له هغه سره یو ولاړ ځوان ته تر دې اقرار وروسته چي دا د ده د جرم نتیجه ده د سنګسار سزا ورکړه خو ښځې ته یې هیڅ ونه ویل:

ان خالد بن اللجلاج حدثه ان

له خالد بن اللجلاج څخه روایت دی چي پلار یې ورته وویل: ده په بازار کي کار



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

اللجلاج اباه اخبره انه كان قاعدا يعتمل في السوق فمرت امرأة تحمل صبيا فثار الناس معها و ثرت فيمن ثار فانتهيت الى النبى صلى الله عليه وسلم وهو يقول: من ابو هذا معك؟ فسكتت. فقال شاب حذوها: انا ابوه يارسول الله! فاقبل عليها فقال: من ابو هذا معك؟ فقال الفتى: انا ابوه، يا رسول الله! فنظر رسول الله صلى الله عليه وسلم الى بعض من حوله يسألهم عنه فقالوا: ما علمنا الا خيرا. فقال له النبى صلى الله عليه وسلم: احصنت؟ قال: نعم. فامر به فرجم. (شميره: ۴۴۳۵)

کاوه يوه ښځه له ماشوم سره راغله، خلګ پرې را ټول شول له دې سره روان وو او زه هم ورسره يو ځای شوم. رسول الله ته ورغله هغه ترې پوښتنې کولې، له تا سره د دې ماشوم پلار څوک دی؟. ښځه چوپه وه، نو د ده مخ ته يوه ولاړ ځوان وويل چې اې د الله رسوله! پلار يې زه يم. خو رسول الله بيا هغې ښځې ته مخ واړاوه ويې ويل: ستا د دې ماشوم پلار څوک دی؟. ځوان وويل: اې د الله رسوله! زه يې پلار يم. په دې سره رسول الله هلته ولاړو خلګو ته وکتل چې د هغه په اړه ترې وپوښتي، نو دوی وويل: موږ يې په ښو پېژنو، رسول الله وويل: ته محصن يې؟. ده وويل: هو! نو ده امر وکړ او هغه رجم شو.

د شراحه په نوم مېرمنې په اړه مو د احمد بن حنبل روايت تر دې وړاندې نقل کړ چې علي رضي الله عنه د پنځ شنبې په ورځ په درو ووهله او د جمعې په ورځ يې سنګسار کړه[12] علي رضی الله عنه هغه سړی دی چې شپه او ورځ يې له رسول الله ﷺ سره په مدينه کې تېر کړي، د خلفاوو زمانه يې ليدلې او د ده په اړه له ځينو رواياتو ښکاري چې د رجم په ځينو

[12] احمد، شميره: ۸۳۹



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."
www.javedahmadghamidi.com www.al-mawrid.org

قضایاوو کي مشوره هم ورسره شوې. د ده په اړه له دې روایته موږ ته ښکاري چي دی تر رجم وړاندي د سلو درو منونکی وو، که د ده په اړه دا روایت سم وي نو د رسول الله د پریکړو روایات به څه کوو؟ او که هغه صحیح وګڼو نو بیا به د دې روایت په اړه څه وایو؟. دا به څرنګه و منو چي علي رضی الله عنه د رجم د سزا په څېر د رسول الله له پریکړو نه وو خبر او که خبر نه وو نو د وروستنیو خبرتیا څه اعتبار لري چي د دومره مهم قانون ماخذ وبلل شي؟.

په موطا امام مالک کي دي چي عثمان رضی الله عنه ته یوه ښځه چي تر واده شپږ میاشتې وروسته یې ماشوم زېږولی وو را وستل شوه هغه امر وکړ چي دا دي سنګسار شي، خلک دا روایت هم وډګني ته د رجم د سزا ورکولو په اړه وړاندي کوي. په داسي حال کي چي که ماشوم واقعا د زنا په نتیجه کي زېږېدلی وو نو په خپله دا روایت ثابتوي چي ښځې دا جرم تر واده وړاندي کړی وو نو ایا په قانون کي به دا ماده هم شاملېږي چي که بې واده زانیه تر زنا وروسته واده وکړي نو په دې صورت کي به هم د رجم سزا ورکول کېږي؟:

| | |
|---|---|
| ان عثمان بن عفان اتی بامرأة قد ولدت فی ستة اشهر فامر بها ان ترجم. (شمیره: ۲۵۷۰) | عثمان رضی الله عنه ته یوه ښځه چي تر واده شپږ میاشتې وروسته یې ماشوم زېږولی وو را وستل شوه نو هغه یې د رجم امر وکړ. |

په سنن ابی داود کي د بکر بن لیث د قبیلې د یوه نارینه قضیه نقل شوې چي رسول الله لومړی پر هغه د زنا حد جاري کړ، بیا یې له ښځې وپوښتل هغې له زنا انکار وکړ. په دې سره رسول الله پر هغه د قذف حد جاري کړ، همدارنګه د ابوداود روایت دی چي یوه سړي زنا وکړه او رسول الله صرف په درو وواهه، وروسته څرګنده شوه چي واده یې درلود نو ده رجم کړ. حقیقت دا دی چي دا دواړه روایتونه پر رسول الله یو ډېر خطرناک تور دی، ایا له ده څخه څوک دا هیله درلودای شي چي ده دي مجرم ته د درو تر سزا ورکولو



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وروسته له ښځې پوښتنه کړې وي؟. ایا د عقل او انصاف حتمي تقاضا دا نه وه چې کله هغه د ښځې نوم یاد کړی وو نو له هغې څخه بې پوښتنې د دې قضیې پریکړه نه وای شوې؟. دویم روایت تر دې هم ډېر د افسوس وړ دی، د رسول الله په اړه کوم هوښیار انسان دا منلای شي چې که په سزا کې د توپیر بنسټ واقعا واده وو نو ده ولې د هغه په اړه له تحقیق پرته مجرم ته د سلو درو سزا ورکړه؟ ایا د یو چا په اړه د واده او نه واده تحقیق هم داسې خبره ده چې پلټنه یې مشکل ولري؟ او په دې سره هم خیر پېښ شو چې لومړی یې په درو وواهه، که معامله د دې برعکس وای نو مسئولیت به یې چا ته راجع کېده؟.

په روایاتو کې دي:

عن ابن عباس ان رجلا من بكر بن ليث اتى النبى صلى الله عليه وسلم فاقر انه زنى بامرأة اربع مرات فجلده مائة، وكان بكرا، ثم سأله البينة على المرأة فقالت: كذب والله! يا رسول الله! فجلده حد الفرية ثمانين. (شمیره: ۴۴۶۷)

له ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی چې د بکر بن لیث قبیلې رسول الله ته راغی او څلور ځله یې اقرار وکړ چې ده له یوې ښځې سره زنا کړې. هغه واده نه درلود، نو رسول الله سل درې وواهه، بیا له ده څخه د ښځې پر خلاف د ثبوت غوښتنه وشوه نو هغې وویل: اې د الله رسوله! قسم په الله دی دروغ وایي په دې سره رسول الله هغه د قذف په تور اتیا درې وواهه.

عن جابر ان رجلا زنى بامرأة فلم يعلم باحصانه فجلد ثم علم باحصانه فرجم. (شمیره: ۴۴۳۹)

له جابر رضی الله عنه څخه روایت دی چې یوه سړي له کومې ښځې سره زنا وکړه، د هغه د واده او نه واده په اړه معلومات نه وو نو سل درې ووهل شو. بیا څرګنده شوه چې دی محصن دی نو رجم شو.

د یهودي او یهودۍ د رجم کومه پېښه چې په بخاري، مسلم او د احادیثو په نورو کتابونو کې نقل شوې د هغې په اړه تر ننه دا خبره په ډاګه نه شوه چې رسول الله هغوی ته د



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

اسلام د کورني قانون له مخې سزا ورکړې وه او که یې د دوی مذهبي قانون پرې پلې کړی وو؟. له روایاتو څخه ظاهرا دویمه خبره ښکاري، مګر څرګنده ده چي دا پېښه تر دې وروسته د دې سزا په اړه د کوم نظر ماخذ نه شي کېدای.

فقال النبی صلی الله علیه وسلم : فانی احکم بما فی التوراة. فامر بهما فرجما. (ابوداود، شمیره: ۴۴۵۰)

رسول الله وویل: زه به له تورات سره سمه پرېکړه وکړم، نو (د یهودي او یهودۍ) په اړه یې امر وکړ او هغوی دواړه سنګسار شول.

فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم : اللهم انی اول من احیا امرک اذا اماتوه. (ابوداود، شمیره: ۴۴۴۸)

رسول الله وویل: اې الله! زه لومړنی کس یم چي کله دوی ستا امر ختم کړ نو ما را ژوندی کړ.

د غامدیې پېښه هم د احادیثو په ګڼو کتابونو کي نقل شوې، دې ښځې واده درلود او که نه په روایاتو کي یې هیڅ یادونه نه شته، په یوه روایت کي دي چي د ماشوم تر زیږون سمدستي وروسته سنګسار شوه او په بل روایت کي د دې بر خلاف په پوره صراحت سره ویل شوي چي سزا هغه مهال ورکړل شوه چي له تي څخه د هلک تر جلا کولو وروسته ماشوم په خپله د خوراک وړتیا ومونده، په دې موده کي هغه چیري اوسېده؟ له یوه روایت سره سم یوه انصاري له خپل ځان سره ساتلې وه او له بل روایت سره سم دا مسئولیت د هغې سرپرست ته راجع وو. ایا دا یوه بد لمني ښځه وه چي له رسول الله سره یې په بیعت کي تر دې وعدې وروسته چي زنا به نه کوي دا جرم ترسره کړ؟ او که یوه شرافت درلودونکې میرمن وه چي د میړه له درلودلو سره-سره یې تصادفا ګناه کړې وه؟. په روایاتو کي د دې پوښتنې ځواب نه شته، پر دې سربېره دا خبره هم واضحه نه ده چي که دې کوم میړه درلود هغه او د قبیلې غړي یې د دې قضیې پر مهال چیرته وو؟ د ښځو لو پر

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مهال يې هم د کورنۍ کوم غړی ونه ليدل شو، که دا د کومې کورنۍ ښځه وه نو د دا ډول پېښنو پر مهال چې د کورنۍ غړي طبعا له کوم حالت سره مخ کېږي ولې يې په روايا تو کې کومې نښې –نښانې نه شته؟.

روايات دادي:

قالت: انها حبلى من الزنى فقال: آنت؟ قالت: نعم، فقال لها: حتى تضعي ما في بطنك. قال: فكفلها رجل من الانصار حتى وضعت، قال: فاتى النبي صلى الله عليه وسلم فقال: قد وضعت الغامدية، فقال: اذاً لا نرجمها وندع ولدها صغيرا ليس له من يرضعه فقام رجل من الانصار فقال: الىّ رضاعه يا نبي الله! قال: فرجمها.
(مسلم، شميره: ۴۴۳۱)

دې وويل: دا له زنا حامله ده. ده پوښتنه وکړه: ايا ته رښتيا حامله يې؟. هغې وويل: هو!. رسول الله زياته کړه: د حمل تر زيږون پوري انتظار وکړه. راوي وايي: تر دې وروسته يې يوه انصاري کفالت تر هغه وخته پر غاړه واخيست چې ماشوم يې وزېږاوه، بيا هغه سړی راغی او ويې ويل: د غامدېي ماشوم پيدا شو. ده وويل: لا يې هم نه رجم کوو چې ماشوم يې همداسې کوچنی پرېږدو او تې ورکوونکې ونه لري. د انصارو يو سړی ولاړ شو ويې ويل: اې د الله نبي! تې ورکول يې پر ما دي. نو ده رجم کړه.

قالت: يا رسول الله لم تردني؟ لعلك ان تردني كما رددت ماعزاً، فوالله اني لحبلى. قال: اما لا، فاذهبي حتى تلدي. فلما ولدت اتته بالصبي في خرقة، قالت: هذا قد

دې وويل: اې د الله رسوله! ته ما ولې ستنوې؟ غالبا په هغه ډول مې ستنوې لکه ماعز چې دې ستون کړی وو؟ قسم په الله! زه حامله يم. ده وويل: نه د زيږون تر وخته انتظار وکړه، کله چې يې ماشوم وزېږاوه نو هغه يې په يوه ټوکر کې نغښتې راووړ او ويې ويل: همدا مې زيږولی. رسول الله

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ولدته، قال: اذهبي فارضعيه حتى تفطميه، فلما فطمته اتته بالصبي في يده كسرة خبز، فقالت: هذا يا نبي الله! قد فطمته، وقد اكل الطعام، فدفع الصبي الى رجل من المسلمين ثم امر بها فحفر لها الى صدرها و امر الناس فرجموها. (مسلم، شميره: ۴۴۳۲)

وويل: ورشه تر هغه وخته شيدې ورکوه چي ترې بيلوې يې. کله چي يې له شيدو بيل کړ نو له ماشوم سره داسي راغله چي د هغه په لاس کي د ډوډۍ ټوټه وه او دې وويل: اې د الله نبي! له تي مي پرې کړ او اوس خوراک کوي. په دې سره يې ماشوم يوه مسلمان ته ورکړ، بيا يې لاربښوونه وکړه چي تر سينې دې خندق ورته وايستل شي، بيا يې خلکو ته امر وکړ او هغوی رجم کړه.

عن عمران بن حصين ان امرأة من جهينة اتت نبي الله صلى الله عليه وسلم وهي حبلى من الزنا فقالت: يا نبي الله، اصبت حدا فاقمه علي. فدعا نبي الله صلى الله عليه وسلم وليها فقال: احسن اليها فاذا وضعت فائتني بها. ففعل فامر بها نبي الله صلى الله عليه وسلم فشكت عليها ثيابها ثم امر بها فرجمت. (مسلم، شميره: ۴۴۳۳)

له عمران بن حصين څخه روايت دی چي د جهينه قبيلې يوه ښځه رسول الله ته راغله، د زنا حمل يې اخيستی وو. دې وويل: اې د الله رسوله! زه د حد وړ يم سزا را کړه. رسول الله د هغې ولي را وغوښت او ورته ويې ويل: له دې سره ښه چلند کوه، کله چي بچی وزېږوي نو ما ته يې راوله. هغه همداسي وکړل، بيا رسول الله لاربښوونه وکړه، جامې يې پر بدن وتړل شوې او بيا د ده په امر سنګسار شوه.

د مزدور پېښه هم نژدې د احاديثو په ټولو کتابونو کي نقل شوې ده، د بخاري له روايت سره سم چي ده له کوم چا سره مزدوري کوله د هغه له ښځې سره يې زنا کړې ده.

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

پلاریې هغه سړی د سلو پسونو او یوې مینځې په ورکولو راضي کړ خو علماوو ورته وویل چې په دې معامله کې د رضایت جواز نه شته. نو دی له هغه سړي سره رسول الله ته راغی، ده ورته وویل: پسونه او مینځې به بیرته تا ته درکړي ستا د زوی لپاره سل درې او یو کال جلا وطني ده او که د ده میرمنې اقرار وکړ نو سنګساریږي به.

اخبرني عبيدالله انه سمع اباهريرة و زيد بن خالد قالا: كنا عند النبي صلى الله عليه وسلم فقام رجل فقال: انشدك الله الا قضيت بيننا بكتاب الله، فقام خصمه وكان افقه منه، فقال: اقض بيننا بكتاب الله واذن لي. قال: قل، قال: ان ابني كان عسيفا على هذا فزنى بامراته فافتديت منه بمائة شاة و خادم ثم سالت رجالا من اهل العلم فاخبروني ان على ابني جلد مائة و تغريب عام و على امراته الرجم. فقال النبي صلى الله عليه وسلم: والذي نفسي بيده لَاَقْضِيَنَّ بينكما بكتاب الله جل ذكره:

ما ته عبيدالله خبر راکړ چې ده له ابو هریره او زید بن خالد څخه واورېدل، دوی وویل: موږ له رسول الله سره وو چې یو کس ولاړ شو ویې ویل: زه له تا غواړم چې زموږ ترمنځ د الله له کتاب سره سمه پریکړه وکړې. له دې سره مخالف لوری ولاړ شو او تر ده یو څه هوښیار ښکارېده، ویې ویل: ته زموږ ترمنځ د الله له کتاب سره سمه پریکړه وکړه او اجازه راکړه چې پیښه بیان کړم. رسول الله وویل: وایه. هغه وویل: زما زوی له دې سړي سره مزدور وو، د ده له ښځې سره یې زنا وکړه، ما په فدیه کې سل پسونه او یو خادم ورکړل. بیا مې له ځینو علماوو پوښتنه وکړه نو هغوی را ته وویل: زما د زوی لپاره سل درې او د یوه کال جلا وطنۍ سزا ده خو د ده میرمن به سنګساریږي. رسول الله وویل: قسم په هغه ذات چې زما روح یې په ولکه کې دی زه به ستاسو ترمنځ د الله له کتاب سره سمه پریکړه وکړم، سل پسونه او خادم به بیرته

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

المائة شاة و الخادم رد عليک و على ابنک جلد مائة و تغريب عام، واغد يا انيس على امرأة هذا فان اعترفت فارجمها. (شميره: ۶۸۲۸)

تا ته در کول کېږي، ستا د زوی لپاره سل درې او د يوه کال جلا وطني ده، انيسه! ته د ده ميرمنې ته ورشه که يې اقرار وکړ نو رجم يې کړه.

که غور وکړو نو د دې پېښې بيان هم ډېر مبهم دی، دا کوم غيرتي عرب وو چې د ښځې د وژلو او يا لږ تر لږه د پرېښودو پر ځای يې د هغې عصمت په يوه مينځه او سلو پسونو خرڅ کړ؟ ايا دا واقعا يوه شريفه کورنۍ وه او که يې عادت همدا وو چې اول يو سړی ښکيل کړي او بيا د خپل عصمت د قيمت په اخيستلو معامله پای ته ورسوي؟، دا جرم څرنګه افشا شو؟، مجرم ونيول شو او که ميرمنې په خپله ميړه ته وويل چې دا په خپل مقصد کې بريالۍ شوه او اوس د هغه ځوان له پلار څخه د مينځې او پسونو غوښتنه کولای شي؟. د ځوان رول څه وو؟، د پېښې په نقل کې په صراحت سره ويل شوي چې کله دواړه رسول الله ته راغلل نو مسئله يوازې د جرم د سزا په اړه د علمي اختلاف نه وه بلکې د يوې شخړې شکل يې درلود، دا شخړه ولې را منځ ته شوه؟ ايا ډول يې داسې نه وو چې د ښځې ميړه له مينځې او پسونو څخه لاس اخيستلو ته تيار نه وو او د ځوان پلار غوښتل چې زانيه هم د خپل جرم سزا تر لاسه کړي او زوی ته يې هم خبرداری ورکړل شي؟. د دې پېښې په بيان کې د دې پوښتنو هيڅ واضح ځواب نه شته.

په دې لړ کې تر ټولو مهمه پېښه د ماعز اسلمي ده، دا يو يتيم هلک وو چې د هزال اسلمي په کور کې روزل شوی وو.[13] دی يوه ورځ هغه ته راغی او ورته ويې ويل: زه د مهيره په نوم يوه ښځه پسې وم نن مې خپل خواهش پوره کړ خو اوس پښيمانه يم چې دا

[13] ابو داود، شميره: ۴۴۱۹

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مي څرنګه کار وکړ؟.[14] هزال مشوره ورکړه چي ته په خپله رسول الله ته ورشه، له دې څخه يې هدف دا وو چي د جرم له سزا څخه د ځان ساتنې يوه لار به يې پيدا شي.[15] نو دې لومړې ابو بکر صديق او بيا عمر فاروق ته ورغی، د دواړو له دې نصيحت سره–سره چي الله ته رجوع وکړه، ده چي کومه پرده در باندي اچولې تر هغې لاندي پټ شه[16] صرف په دې نيت رسول الله ته ورغی چي دی به يې له عادي سزا سره پرېږدي. د جابر په روايت کي دي:

انا لما خرجنا به فرجمناه فوجد مس الحجارة صرخ بنا: يا قوم، ردونی الی رسول الله صلی الله عليه وسلم فان قومی قتلونی و غرونی من نفسی و اخبرونی ان رسول الله صلی الله عليه وسلم غير قاتلی. (ابوداود، شميره: ۴۴۲۰)

موږ هغه دباندي راووست په سنګسار مو پيل وکړ، کله چي ډبري پري ولګيدې ناري يې کړې: اې خلګو ما رسول الله ته ورولئ، زه د خپلې قبيلې خلګو مړ او خطا کړم هغوی را ته ويل چي رسول الله به ما ونه وژني.

له ځينو رواياتو په ظاهره ښکاري چي ده تر ټولو لومړی د خپل جرم په اړه رسول الله ته ويلي وو[17] مګر د ابن عباس په روايت کي په ښکاره ويل شوي چي رسول الله د ده تر راتګ وړاندي د هغه په جرم خبر وو. روايت دا دی:

[14] الطبقات الکبری د ابن سعد ۳ / ۲۲۸

[15] ابوداود، شميره: ۴۴۱۹

[16] موطا، شميره: ۲۵۵۹

[17] د بيلګي په توګه وګورئ بخاري، شميره: ۶۸۱۴، مسلم، شميره: ۴۴۲۸، ابوداود، شميره: ۴۴۱۹



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."
www.javedahmadghamidi.com www.al-mawrid.org

ان النبی صلی الله علیه وسلم قال لماعز بن مالک: احق ما بلغنی عنک؟ قال: و ما بلغک عنی. قال: بلغنی انک وقعت بجاریة آل فلان، قال: نعم، قال: فشهد اربع شهادات. ثم امر به فرجم. (مسلم، شمیره: ۴۴۲۷)

رسول الله له ماعز څخه وپوښتل چي ستا په اړه کوم خبر را رسېدلی رښتیا دی؟. ده وویل: زما په اړه کوم خبر در رسېدلی؟. ده وویل: ما ته خبر راغلی چي تا د فلانی قبیلي له ښځي سره زنا کړې ده؟. ده وویل: هو. ابن عباس وایي چي تر دې وروسته هغه څلور ځله اقرار وکړ، نو د سزا ورکولو امر وشو او رجم یې کړ.

د هغه د جرم شکل څه ډول وو؟ که څه هم په روایاتو کي یې په اړه واضحه خبره نه ده شوې مګر د ابن سعد له روایت سره سم چي ده له کومې ښځي سره زنا کړې وه رسول الله هغه را وغوښته خو سزا یې ورنه کړه، له دې ښکاره معلومېږي چي ده له هغې سره په زور زنا کړې وه:

دعا رسول الله صلی الله علیه وسلم المرأة التی اصابها فقال: اذهبی و لم یسألها عن شیء. (الطبقات الکبری ۳ / ۲۲۹)

رسول الله هغه ښځه را وغوښته چي ماعز ورسره زنا کړې وه، بیا یې ورته وویل: ځه ولاړه شه او د هیڅ شي پوښتنه یې تري ونه کړه.

دا څه ډول مجرم وو؟ د دې پوښتني ډېر واضح ځواب په هغه وینا کي موجود دی چي رسول الله د هغه تر رجم وروسته په همدې ورځ مازیګر مهال وکړ. د امام مسلم روایت دی چي ده وویل:

او کلما انطلقنا غزاة فی سبیل الله تخلف رجل فی عیالنا له نبیب کنبیب التیس. علیّ ان لا اوتی

ایا داسي نه وو چي کله موږ د الله په لار کي د جهاد لپاره روان شو نو زموږ په کورنۍ و اولادونو کي یو سړی شاته پاته شو چي د شهوت له جوشه د پسه په څېر پر



www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org
© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

برجل فعل ذلک الا نکلت به. (شمیره: ۴۴۲۸) له او ښتي، واورئ! پر ما لازمه ده چي که ما ته کوم داسي مجرم را وړل شي نو زه يې دردناکه سزا ورکړم.

دا مهال ځيني کسان وايي چي په دې وينا کي د ماعز نوم چيري دی چي هغه يې مصداق وبلل شي؟ خو د دې وينا تر لوستلو او په دې تر پوهېدو وروسته چي ده د ماعز تر رجم وروسته په همدې ورځ وينا وکړه هر سړی اټکل کولای شي چي دا څومره بې معنا خبره ده؟ مثلاً زموږ ولسمشر سهار پر کومه ډله بنديز ولګاوه او ماښام يې ملت ته په وينا کي وويل چي دلته يوې ډلې د دې هيواد د ويجاړې پلانونه جوړول نو هر سړی بايد پوه شي چي که دا ډول کومه بله ډله جوړه شي نو هم به يې په هيواد کي شتون ونه زغمل شي. ايا د دې وينا تر اوريدو وروسته له يوه هوښيار شخصه دا تمه کېدای شي چي په اړه به يې وايي؟ په دې کي د يو چا نوم کوم دی چي ممنوع شوې ډله يې مصداق وبلل شي؟.

همدارنګه ځيني کسان وايي چي دا ماعز هغه څوک دی چي پر خپل جرم يې اعتراف وکړ او پښيماني يې وښوده.[18] کله چي ابو بکر صديق او عمر فاروق ته ورغی نو هغوی ورته د جرم پټولو او الله لور ته د رجوع سپارښتنه وکړه،[19] رسول الله هم په جرم د هغه د اعتراف منلو پر ځای پر هغه بيا-بيا رد وکړ[20] او د سزا تر پريکړې وړاندي يې له ده داسي پوښتنې وکړې چي ته په زنا پوهېږې؟ شراب خو به دې نه وي څښلې او د هغه له قوم څخه يې پوښتنه وکړه چي دماغ خو به يې نه وي خراب؟[21] خلګو وويل: د ډېرو په

[18] الطبقات الکبری د ابن سعد ۳ / ۲۲۹

[19] موطا، شميره: ۲۵۵۹

[20] مسلم، شميره: ۴۴۲۸

[21] بخاري، شميره: ۵۲۷۱، مسلم، شميره: ۴۴۲۰، ۴۴۲۸، ۴۴۳۱، ۴۴۳۲، ابوداود، شميره: ۴۴۲۱، ۴۴۲۸



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ویشتلو هغه نارې وهلې چې ما رسول الله ته ورولئ زه خپلې قبیلې مړ کړم. نو ده وویل: ولې مو نه خوشي کاوه؟ [22] ممکن هغه توبه ایستلې او الله قبوله کړې وای. [23] او د هغه سرپرست ته یې وویل: تا ښه نه دي کړي غوره دا وه چې تا یې پر جرم پرده اچولې وای. [24] کله چې خلکو وویل: هغه خپلې بد بختۍ ته رهغو پرې نه ښود چې د سپي په څېر یې سنګسار کړ نو رسول الله خلکو ته خبرداری ورکړ. [25] که څه هم د ښخولو پر مهال یې رسول الله د جنازې له لمانځه انکار وکړ خو دویمه ورځ یې لمونځ ورکړ، خلګو ته یې د هغه په اړه د دعا لارښوونه وکړه. [26] او ورته ویې ویل: ده داسې توبه وایستله چې که پر یوه امت وویشل شي نو بس یې ده. [27] او زېری یې ورکړ چې الله هغه ته بخښنه وکړه جنت ته یې داخل کړ. [28] دوی وایي: څرنګه چې د هغه په اړه دا ټولې خبرې د احادیثو په کتابونو کې بیان شوې دي له همدې امله په هیڅ توګه دا باور نه شي کېدای چې د رسول الله د دې وینا مصداق دي په حقیقت کې دی وو او که ده جبري زنا هم کړې وه نو باید داسې وفهمول شي چې دا یو ساده سړی وو او د احساساتو د غلبې له وجې یې دا کار وکړ.

په دې کې شک نه شته چې د ماعز په اړه دا هر څه د احادیثو په کتابونو کې بیان شوي، مګر حقیقت دادی چې په دې کې هیڅ داسې خبره نه شته چې پر بنسټ یې د ده هغه

---

[22] ابوداود، شمیره: ۴۴۲۰

[23] ابوداود، شمیره: ۴۴۱۹، الطبقات الکبری د ابن سعد ۳ / ۲۲۹

[24] الموطا، شمیره: ۲۵۶۰، الطبقات الکبری د ابن سعد ۳ / ۲۲۹

[25] ابوداود، شمیره: ۴۴۲۸

[26] فتح الباري د ابن حجر ۱۲/ ۱۳۱، مسلم، شمیره: ۴۴۳۱

[27] مسلم، شمیره: ۴۴۳۱

[28] ابوداود، شمیره: ۴۴۲۸



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کردار نفي کړای شي چې د رسول الله له وينا ښکاري.

د جرم له منلو او پښېمانتيا دا نه لازمېږي چې دا يو صالح انسان وو او په تصادفي ډول يې دا جرم ترسره کړ. په نړۍ کې چې ترننه د جرمونو کوم تاريخ موجود دی له هغه څخه په لسګونو داسې بېلګې وړاندې کېدای شي چې ډېر ياغيان او د بدو عادتونو درلودونکي هغه کسان چې په هيڅ ډول نه شوای نيول کېدای د جرم تر کولو سمدستي وروسته يې په داسې توګه ځانونه قانون ته سپارلي چې د دوی پر پښېمانتيا ورباندې د خلګو زړونه سوځېدلي. د جرمي نفسياتو له مطالعې ښکاري چې دا څو عوامل درلودای شي، مثلا له مجرم سره دا ويره پيدا کېږي چې نور به يې جرم پټ پاتې نه شي ځکه نو له دې فکر سره سم خپل ځان قانون ته سپاري چې په دې ډول به ممکن سخته سزا ورنه کړل شي. جرم په داسې ډول ترسره شوی وي چې پټول يې ممکن نه وي، نو د وار په مخ ته کولو هڅه کوي چې ځان د خلګو له توند غبرګون څخه وساتي. د جنسي شور په غلبه کې چې په مياشتو د ښځو تعقيبوونکی کله په لومړي ځل په زور زنا کوي نو ځيني وختونه د دې جرم په نتيجه کې د هغه شور ختميدل دی په جرم اعتراف ته چمتو کوي. د مجرم په ماحول کې د يو غير معمولي ديني شخصيت وجود هم د دې سبب ګرزي، د جرم حالات مثلا د مجرم له زور زياتي سره د مخ شوې ښځې او يا ماشوم بې وسي هم دا نتيجه درلودای شي. د وجدان بيداري او په انسان کې د نفس لوامه ترټنه هم صرف په ساده مجرمينو کې د پښېمانتيا پيدا کولو سبب نه ګرزي، ځيني وختونه لوی بدمعاشان هم په ځانګړي حالت کې ترې عبرت اخلي او په پوره اخلاص سره نه يوازې خپل جرم مني بلکې ټينګار کوي چې ژر تر ژره دې سزا ورکړل شي.

رسول الله او د ده دوو لويو ملګرو چې بيا – بيا له هغه مخ واړاوه او لاربښوونه يې ورته وکړه چې بايد د سزا پر ځای خپل ځان اصلاح کړي د هغه سرپرست ته يې هم دا خبره وکړه او عامو خلګو ته يې هم نصيحت وکړ نو دا د مجرم په اړه د محکمې پرېکړه څه



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

اثر کوي؟ په هر صالح نظام کي بايد د ټولنې د مشرانو چلند دا وي چي تر څو معامله د دعوې يا قضيې بڼه خپله نه کړي تر هغه مهاله هر سړي ته همدا سي نصيحت وشي. قرآن چي کوم ځای په سورت المايده کي د بغاوت او په ځمکه کي د فساد کوونکو مجرمينو لپاره عبرتناکې سزاوې بيان کړې دي هلته يې دا لارښوونه هم کړې ده چي دا سزاوې دي پر هغو خلګو نه نافذېږي چي د قانون منګولو ته تر لوېدو وړاندي توبه وباسي او خپل ځان اصلاح کړي. د دا ډول مجرمينو په اړه که وروسته هم معلومه شي چي د پښېمانۍ له احساس سره ځان سمولو ته چمتو دي نو د قرآن کريم د همدې اياتونو له مخې محکمه د کمې درجې سزا هم ورکولای شي. کله چي رسول الله وويل: تاسو ولي هغه خوشي نه کړ نو ښرګنده ده چي هدف يې همدا وو، که الله وغواړي نو هر ډول لوی مجرم ته د ځان سمولو او توبې توفيق ورکولای شي او په نتيجه کي يې خپل رب جنت ته هم داخلولای شي. که د الله رسول په دنيا کي موجود وي او د وحې په وسيله ورته وويل شي چي مجرم وبخښل شو تر دې وروسته يې د جنازې لمونځ وشو او خلګو ته د هغه په اړه د دعا نصيحت وکړي نو په دې سره به يې ښرنګه د هغه کردار نفې کېږي چي مجرم تر توبې او ځان سمولو وړاندي درلود؟. ايا له دې څخه به دا مفهوم اخيستل کېږي چي يو بد معاش هيڅکله د توبې توفيق نه تر لاسه کوي او څوک چي توبه وباسي د هغه په اړه فکر نه شي کېدای چي دی به يو وخت بد معاش وو.

همدا راز دا خبره يقينا سمه ده چي د هر ډول بد شخص تر مړينې وروسته بايد هغه په سپکو الفاظو ياد نه شي او رسول الله له همدې کبله هغو خلګو ته خبر ورکړ چي د ماعز په اړه يې ويل: هغه خپلې بد مرغۍ تر هغو خوشي نه کړ چي د سپي په څېر يې سنګسار کړ خو ايا د دې معنا داده چي که د يو چا په اړه له اړتيا پرته خلګ له دغسي تبصرو را وګرزول شي نو هغه به حتما يو سپېڅلی شخصيت وي او د قانون و شريعت د پلټنې لپاره يې هم کردار تر پلټنې لاندي نه شي نيول کېدای؟.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

پاتي شوه دا خبره چي مثلاً رسول الله له هغه څخه داسي پوښتني وکړې چي ايا ته په زنا پوهېږې؟ نو دا هغه پوښتني دي چي د جرم منلو په صورت کي يې بايد حتما هره محکمه وکړي، څرنګه چي په داسي حالت کي هر وخت د دې امکان شته چي وروسته به کوم څوک د مجرم د ناڅرګند بيان پر بنسټ محکمې ته ګوته ونيسي او څرنګه چي د مديني په څېر فضا کي منافقين سهار او ماښام د دا ډول فتنو په را منځ ته کولو بوخت وو او د دغسي نيوکو انديښنه زياته وه ځکه نو رسول الله د خپلو پوښتنو په وسيله د دې مسئلې هيڅ اړخ ناڅرګند پرې نه ښود. په دې سره که څوک د دې ثابتولو هڅه کوي چي هغه خوارکی خو په زنا هم نه پوهېده نو د هغوی په اړه سړی څه ويلای شي؟. حقيقت دادی چي که دا ډول خلګ د جبري زنا په اړه دا وايي چي شريف کسان هم کله-کله داسي کار کوي نو بايد حيران نه شو، زموږ په مدرسو کي چي دا مهال د عقل او هوښيارتيا کوم څه پاتي دي د هغو پر بنسټ له دې خلګو څخه د نور څه شي تمه کېدای شي؟.

په هر حال د دې هر څه حقيقت همدا دی، خو که له دې سره-سره يو څوک ټينګار کوي چي له دې رواياتو ښکاري هغه يو صالح شخصيت وو، په تصادفي ډول پر لاره تلی چي له يوې ښځې سره يې زنا وکړه نو هغه بايد ومني چي په دې صورت کي د رسول الله د وينا او دې رواياتو تر منځ کوم سخت تناقض پيدا کېږي د هغه پر بنسټ به هيڅوک د دې پيښې په اړه پريکنده وينا ونه کړای شي.

پر دې سربېره د احاديثو په کتابونو کي د ځينو نورو قضيو راپورونه هم نقل شوي دي، لومړی قضيه د هغه چا ده چي لمانځه ته د تلو پر مهال يې د لارې پر سر له يوې ښځې سره په زور زنا وکړه او رسول الله سمدستي رجم کړ. دويمه قضيه د يوه پېژندل شوي صحابي عمرو بن حمزه اسلمي ده چي هغه واقعا زنا کړې وه او رسول الله هم د جرم تر منلو وروسته صرف سل درې ووهه او خوشي يې کړ. د لومړی قضيې روايت دادی:

عن علقمة بن وائل عن ابيه، ان    علقمه بن وايل له خپل پلار څخه روايت



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

امرأة خرجت على عهد النبي صلى الله عليه وسلم تريد الصلاة فتلقاها رجل فتجللها فقضى حاجته منها فصاحت و انطلق ومر عليها رجل فقالت: ان ذاک فعل بي کذا و کذا و مرت عصابة من المهاجرين فقالت: ان ذلک الرجل فعل بي کذا و کذا فانطلقوا فاخذوا الرجل الذي ظنت انه وقع عليها فاتوها به فقالت: نعم، هو هذا. فاتوا به النبي صلى الله عليه وسلم فلما امر به قام صاحبها الذي وقع عليها. فقال: يا رسول الله انا صاحبها. فقال لها: اذهبي فقد غفر الله لک. و قال للرجل قولا حسنا و قال للرجل الذي وقع عليها: ارجموه. (ابوداود، شميره: ۴۳۷۹)

کوي چي د رسول الله په زمانه کي يوه ښځه د لمانځه لپاره له کوره راووتله نو په لاره کي يوه سړي وليدله، را ګير يې کړه او د خپل نفس تنده يې پرې سړه کړه. په دې سره هغې ناري کړې او دی وتښتېد، په همدې منځ کي هلته يو سړی تېرېده هغې ښځې ورته وويل چي يوه سړي داسي شرمولې ده، همدا خبرې رواني وې چي د مهاجرينو يوه ډله هغې خوا ته راغلله دې هغوی ته هم خپله کيسه وکړه. دوی منډه کړه او هغه سړی يې ونيو چي ښځې فکر کاوه ده پرې تېری کړی، دوی هغه دې ته راووست، نو دې وويل: هو دا هماغه دی. رسول الله ته يې حاضر کړ، ده يې د سزا په اړه امر وکړ نو اصل مجرم ولاړ شو او ويې ويل: اې د الله رسوله پر هغې دا تېری ما وکړ، په دې سره يې ښځې ته وويل: ځه الله ته وبخښلې او د هغه سړي په اړه يې هم ښه وينا وکړه چي په شک نيول شوی وو، بيا يې د هغه چا د سزا امر وکړ چي له ښځې سره يې بد کاري کړې وه، نو رجم شو.

د دويمي قضيې روايت دادی:

ان عمرو بن حمزة بن سنان کان قد

عمرو بن حمزه له رسول الله سره په حديبيه



www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org
© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

شهد الحديبية مع رسول الله صلى الله عليه وسلم قدم المدينة. ثم استأذن النبی صلی الله عليه وسلم ان يرجع الى باديته فاذن له فخرج حتی اذا كان بالضبوعة، على بريد من المدينة، على المحجة الى مكة، لقى جارية من العرب و ضيئة فنزغه الشيطن حتى اصابها و لم يكن احصن ثم ندم فاتى النبی صلى الله عليه وسلم فاخبره فاقام عليه الحد. (الطبقات الکبری د ابن سعد ۳ / ۲۲۵)

کي وو، هغه مديني ته راغی له رسول الله څخه يې اجازه وغوښته چي خپلې بيديا ته ولاړ شي، رسول الله اجازه ورکړه هغه روان شو کله چي له مديني څخه د مکې پر لور د لارې په منځ کي يوه پړاو ضبوعه ته ورسېد د عربو له يوې ښکلې ښځې سره مخ شو. شيطان هغه وپاراوه، له هغې سره يې زنا وکړه او دی محصن وو. بيا پښيمانه شو، رسول الله ته راغی کيسه يې ورته وکړه نو ده حد پرې جاري کړ.

ايا په لومړۍ قضيه کي مجرم ته د رجم سزا د واده له امله ورکړل شوه او که په زور د زنا له امله د دې وړ وبلل شو؟ د قضيې په راپور کي يې هيڅ ځواب نه موندل کېږي. دويمه پيښه له دې پلوه بيخي څرګنده ده چي مجرم د بيعة الرضوان له ګډونوالو څخه وتلی صحابي وو او رسول الله هماغه سزا ورکړه چي قرآن د دا ډول مجرمينو لپاره بيان کړې ده خو که دې پيښې ته هم د رواياتو په رڼا کي وکتل شي نو پوښتنه پيدا کېږي چي له سلو درو سره په دې رواياتو کي د جلا وطنۍ کومه سزا بيان شوې هغه ولې د دې صحابي په اړه له منځه تللې؟ ايا له دې څخه داسي وانګېرل شي چي رسول الله ته د سزا صرف همدا يو مجرم را وستل شوی وو، له دې پرته چي څومره مجرمينو ته له سزا سره د جلا وطنۍ سزا هم ورکړل شوې هغوی صرف د سزا مجرمين نه وو، له دې سره په بل جرم کي



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

هم ککړو وو چي په ځواب کي يې د دروتر سزا وروسته له وطنه وشړل شول؟.

## د رجم ماخذ

دا هماغه روايات او قضيې دي چي پر بنسټ يې زموږ فقهاء د قرآن حکم بدلوي او د زنا د مجرمينو لپاره صرف د واده درلودو پر بنسټ د رجم د سزا ثابتولو هڅه کوي. موږ چي پر دې ټولو موادو کومه تبصره کړې د هغې په رڼا کي يې له پوره اخلاص سره وارزوئ، له دې څخه چي بالاخره تر ټولو لويه کومه خبره ښکاري هغه صرف دا ده چي رسول الله او خلفاء راشدينو د زنا ځينو مجرمينو ته د رجم او جلا وطنۍ سزا هم ورکړې، خو دا سزا د څه ډول مجرمينو لپاره ده، رسول الله او د ده خلفاوو کومو زانيانو ته دا سزا ورکړې؟. د دې پوښتني په ځواب کي د هغو قضاياوو او رواياتو پر بنسټ هيڅ حتمي پريکړه نه شي کېداى، په حقيقت کي د دې سزا ماخذ څه شى دى؟ دا هغه غوټه ده چي امام حميد الدين فراهي په خپله رساله احکام الاصول باحکام الرسول کي حل کړې ده. له خپلو اصولو سره سم ده د دې مبهمو او معترضو رواياتو پر بنسټ د قرآن کريم په حکم کي د تغير پر ځاى هڅه کړې چي د دې کتاب په رڼا کي په هغو ځان پوه کړي، د ده په اند د رجم او جلا وطنۍ د سزا ماخذ د سورت المايدې د محاربې ايت دى په هغه کي الله وېلي:

إِنَّمَا جَزَاء الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللّهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الأَرْضِ فَسَادًا أَن يُقَتَّلُواْ أَوْ يُصَلَّبُواْ أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُم مِّنْ خِلافٍ أَوْ يُنفَوْاْ مِنَ الأَرْضِ (المائدة ۵ : ۳۳)

هغه کسان چي له الله او د ده له رسول سره جګړه کوي او په ځمکه کي د فساد را منځ ته کولو لپاره هڅې کوي د هغوى سزا صرف دا ده چي يا په عبرتناکه سزا ووژل شي، يا په دار شي، يا يې پښې او لاسونه بې ترتيبه غوڅ شي او يا له وطنه وشړل شي.

د امام فراهي د دې دريځ په وضاحت کي استاذ امام امين احسن اصلاحي په خپل تفسير تدبر قرآن کي ليکي:



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

" مجرمين دوه ډوله وي: يو هغه چي د غلا، قتل، زنا او قذف جرم ترسره کوي خو داسي نه وي چي د ټولنې لپاره افت او وبال (nuisance) شي او يا د حکومت لپاره د حقوقو او فرمان ستونزه پيدا کړي. دويم ډول هغه وي چي په شخصي او ډلييز ډول د ټولنې او دولت لپاره ستونزې پيدا کوي، د لومړي ډول مجرمينو لپاره په قرآن کريم کي مشخص حدود او د قصاص احکام دي او اسلامي حکومت به يې له هغو شرايطو سره سم نافذوي چي په قرآن او حديث کي بيان شوي دي. د دويم ډول مجرمينو د ټکولو لپاره د سورت المايدې په ۳۳ او ۳۴ اياتونو کي احکام ورکول شوي دي." (۵/۳۶۷)

ده د سورت المايدې تر دې اياتونو لاندي ليکلي دي:

" له الله او رسول سره جګړه داده چي يو څوک ډله او يا تنظيم په جرأت، بې باکي او ضد سره د هغه حق او عادل نظام د دړې - وړې کولو هڅه وکړي چي الله او رسول را منځ ته کړی، دا ډول هڅې که د بهرنيو دښمنانو له لوري وي نو د هغوی د مقابلې لپاره د جنګ او جهاد احکام په تفصيل سره جلا بيان شوي، دلته د بهرنيو دښمنانو پر ځای د اسلامي حکومت د هغو داخلي دښمنانو د ټکولو لپاره د تعزيراتو قانون بيانېږي چي د اسلامي حکومت تر واک لاندي اوسېږي، مسلمانان وي او که نه خو قانون او اداره يې ننګوي. د قانون د مخالفت يو شکل دادی چي يو سړی کوم جرم ترسره کړي، په دې صورت کي به له هغه سره د شريعت د عام قانون پر بنسټ د حدودو او تعزيراتو عمل ترسره کېږي، دويم صورت دادی چي کوم شخص يا ډله په خپل لاس کي د قانون اخيستلو هڅه وکړي، په خپل شر او فساد سره د سيمې د امنيت په ګډوډولو اخته شي، خلګ تل د هغوی له کبله د ځان، مال، عزت ا عفت له خطر سره مخ وي، د غلا، وژنو، لارو هنو، اورلګولو، تښتونو، زنا، ترهګرۍ او تخريب په څېر لوی جرمونه د حکومت لپاره د قانون او نظم ستونزې پيدا کړي. له داسي حالاتو څخه د ځان خلاصولو لپاره اسلامي حکومت د حدودو او تعزيراتو د عام قانون پر ځای د لاندي ګامونو اجازه لري." (تدبر قرآن ۲/۵۰۵)



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

تر دې وروسته یې د رجم ماخذ په دې الفاظو بیان کړی دی:

" أَن يُقَتَّلُوا دا چې په ځمکه کې د فساد جوړولو مجرمین ووژل شي، دلته د قتل د لفظ پر ځای د تفعیل باب تقتیل استعمال شوی. تفعیل د معنا پر سختي او ډېروالي دلیل وي ځکه نو تقتیل سخته وژنه ده، له دې څخه اشارتا معلومېږي چې هغوی په عبرتناکه او سبق اخیستونکې طریقه ووژل شي چې نور ترې عبرت واخلي. یوازې هغه طریقه به ترې مستثنا وي چې په شریعت کې منع شوې لکه په اور سوځول، له دې پرته حکومت هغه ټولې طریقې غوره کولای شي چې د مجرمینو او بد معاشانو د عبرت، ویرونې او په خلکو کې د قانون او نظم د احترام پیدا کولو لپاره ضروري وبلل شي. زموږ په اند رجم یا په ډبرو ویشتل هم په تقتیل کې داخل دي." (تدبر قرآن ۲/ ۵۰۵)

د امام حمید الدین فراهي د دې څېړنې لنډیز دا دی چې زاني واده ولري او که نه اصلي سزا یې په سورت النور کې د قرآن د څرګند حکم پر بنسټ سل درې ده خو که مجرم په زور زنا وکړي، یا بد کاري خپل کسب وګرځوي، په ښکاره بد معاشي پیل کړي او یا د خپلې بې لارۍ، بد معاشۍ او جنسي انحراف له امله د شریفو خلکو د عزت او ناموس لپاره خطر وګرځي، له قبرونو څخه د مړو ښځو جسدونه را وباسي له هغو سره زنا وکړي، د خپلې شتمنۍ او اقتدار په نشه کې د بې وزلو خوندې او نږندې په عام بازار کې لوڅې کړي او کم عمره نجونې یې هم له وحشته خوندي نه شي نو په سورت المایده کې د محاربې د ایت له مخې د رجم سزا هم ورکول کېدای شي. همدا رنګه د مجرم حالاتو او د جرم ډول ته په پام چې په دې ایت کې نوري کومې سزاوې بیان شوې دي که یې محکمه مناسبې وګڼي نو دا ډول مجرمینو ته یې ورکولای شي چې یوه پکې د جلا وطنۍ سزا ده. رسول الله هغو مجرمینو ته چې یوازې د زنا مجرمین نه وو بلکې له دې سره یې د خپلې بې لارۍ له امله په ځمکه کې د فساد پیدا کولو جرم هم کړی وو دا دواړې سزاوې ورکړې دي، په دوی کې هغه مجرمین چې د خپلو حالاتو او جرم د ډول له مخې د رعایت وړ وو نو



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

هغوی یې د زنا په جرم کې د سورت النور د ایت له مخې په سلو درو تر وهلو وروسته د دوی له شرځخه د ټولنې د خوندیتوب لپاره د خپلې بد معاشۍ په سزا کې د سورت المایدې د محاربې د ایت پر بنسټ له وطنه د شړلو په سزا محکوم کړل او هغه مجرمین یې چې له دوی سره هیڅ رعایت ممکن نه وو د همدې ایت د حکم پر بنسټ د أَن يُقَتَّلُواْ له مخې سنګسار کړل.

د امام فراهي دا تحقیق د قرآن کریم پر نصوصو بنا دی او لکه څرنګه چې پورته زموږ تبصرو وښوده په روایاتو کې یې هم شواهد شته، که له دې سره کوم څوک اختلاف لري نو باید د دلایلو پر بنسټ یې محاکمه کړي. دا کوم داسې شی نه دی چې د احساساتي لیکنو او بې معنا فتواوو په وسیله رد بدای شي، دا مهال چې خلک څه غواړي ودې وایې مګر اوس غالبا هغه وخت ډېر لرې نه دی چې د علم او عرفان په مجلسونو کې به د دې خیړنې لپاره له شاباسي او ستاینې پرته بل څه پاتي نه شي.

(۳)

موږ چې پورته د زنا د سزا په اړه خپل کوم نظر بیان کړی له هغه څخه دا حقیقت ببخي په دلیل سره ثابتېږي چې د قران له مخې د بې واده زانیانو په څېر د واده درلودونکو زانیانو سزا هم په درو وهل دي. د قرآن دا مراد په سورت النور کې د درو پر ایت سربیره له دوو نورو ایاتونو هم په ډاګه کېږي، په هغو کې یو یې د سورت النور اتم او بل یې د سورت النساء پنځه ویشتم ایت دی. په سورت النور کې دي:

وَيَدْرَأُ * عَنْهَا الْعَذَابَ أَنْ تَشْهَدَ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ لَمِنَ الْكَاذِبِينَ * وَالْخَامِسَةَ أَنَّ غَضَبَ اللَّهِ عَلَيْهَا إِن كَانَ مِنَ الصَّادِقِينَ* (النور ۲۴: ۸،۹)

او له هغې ښځې سزا په دې ډول منع کېدای شي چې څلور واري په الله قسم وکړي چې دی دروغجن دی او پنځم وار ووایي: پر دې دې د الله غضب وي که به دی (په خپل تور کې) رښتنی وي.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دا ایاتونه د هغې واده درلودونکې ښځې په اړه نازل شوي چې خپل میړه پرې د زنا تور لګولی وي، په دې کې د سزا لپاره د العذاب لفظ کارول شوی، تر دې وړاندې د درو په ایت کې همدا لفظ په درو د وهلو هغې سزا لپاره هم راغلی چې د دې سورت په پیل کې د زنا د مجرمینو لپاره بیان شوې ده. هلته یې ویلي:

الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا مِئَةَ جَلْدَةٍ وَلَا تَأْخُذْكُم بِهِمَا رَأْفَةٌ فِي دِينِ اللَّهِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَائِفَةٌ مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ (النور۲۴: ۲)

د زانیې او زاني هریو سل درې ووهئ او د الهي قانون په نفاذ کې دې په تاسو کې له دوی سره د نرمۍ جذبه پیدا نه شي، که تاسو واقعاً پر الله او د اخرت پر ورځ ایمان لرئ او باید د دوی د سزا پر مهال د مسلمانانو یوه ډله موجوده وي.

په اتم نمبر ایت کې ښکاره ده چې الف لام د عهد لپاره دی او د عربیت له مخې به یې معهود حتماً هغه سزا وي چې د دې لپاره په دویم ایت کې د عذابهما لفظ کارول شوی دی. د ژبې په قوانینو کې له دې پرته د بل نظر لپاره هیڅ ځای نه شته، د عربیت منل شوې قاعده ده چې که قرینه مانع نه وي او په مخکیني کلام کې د الف لام معهود وجود ولري نو کوم خارجي شی یې معهود نه شي بلل کېدای او که معرفه د معرفې په بڼه تکرار شي لکه دلته چې د عذابهما تکرار د العذاب په صورت ترسره شوی نو د قرینې له دلالت پرته دواړه په جلا - جلا معناوو نه شي اخیستل کېدای. د سورت النور اتم نمبر ایت د دې سورت د دویم نمبر ایت په څېر یو ځل بیا دا حقیقت په پوره ډول ثابتوي چې د قرآن کریم له مخې د واده درلودونکو زاني مجرمینو سزا هم سل درې ده.

دلته د سورت النساء پنځه ویشتم نمبر ایت ته پام وکړئ، په هغه کې ویل شوي:

وَمَن لَّمْ يَسْتَطِعْ مِنكُمْ طَوْلًا أَن يَنكِحَ الْمُحْصَنَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ فَمِن مَّا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُم مِّن فَتَيَاتِكُمُ الْمُؤْمِنَاتِ وَاللَّهُ

او څوک چې په تاسې کې دومره توان نه لري چې له ازادو مومنو ښځو سره نکاح وکړای شي نو له هغو مومنو مینځو سره



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

أَعْلَمُ بِإِيمَانِكُمْ بَعْضُكُم مِّن بَعْضٍ فَانكِحُوهُنَّ بِإِذْنِ أَهْلِهِنَّ وَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ مُحْصَنَاتٍ غَيْرَ مُسَافِحَاتٍ وَلاَ مُتَّخِذَاتِ أَخْدَانٍ فَإِذَا أُحْصِنَّ فَإِنْ أَتَيْنَ بِفَاحِشَةٍ فَعَلَيْهِنَّ نِصْفُ مَا عَلَى الْمُحْصَنَاتِ مِنَ الْعَذَابِ (النساء ۴ : ۲۵)

دي نكاح وكړي چي ستاسو په ولكه كي دي، الله مو په ايمان ښه خبر دى، تاسو ټول له يوه جنسه ياست نو له دې مينځو سره د هغوى د مالكانو په اجازه نكاح وكړئ او له دود سره سم يې مهر وركړئ، په داسي حال كي چي هغوى پاک لمنې وي نه ښكاره بد كاري كوي او نه پټه اشنايي، كله چي هغوى پاک لمنې وي او تر دې وروسته بد كاري وكړي نو پر دوى د ازادو ميرمنو نيمه سزا ده.

په دې ايت كي په پوره صراحت سره ويل شوي چي كه مينځې بدكاري وكړي نو دوى ته به د هغې سزا نيمه وركول كېږي چي د ازادو ښځو لپاره ټاكل شوې ده. په دې ايت كي چي د ازادو ميرمنو لپاره د المحصنت لفظ په څه ډول كارول شوى په هغه كي دا خبره هيڅ ممكنه نه ده چي يوازي تر بې واده ښځو ځانګړى شي او څرګنده ده چي د نيمايي تصور د سلو درو په اړه كېداى شي، د رجم په سزا كي د نيمايي او درېيمې هيڅ امكان نه شته، نو دا ايت هم په دې معامله كي بيخي څرګند دى چي زاني واده ولري او كه نه؟ د قرآن له مخې يې د جرم انتهايي سزا سل درې دي.

ما تر اوسه د قرآن له دې دوو اياتونو څخه د سورت النور د اتم نمبر ايت په اړه بل كوم نظر نه دى ليدلى، مګر د النساء د ايت په اړه زموږ د نظر بر خلاف عموما دا درې دلايل وړاندي كېږي:

يو دا چي د دې ايت په پيل كي د محصنت لفظ د بې واده ښځو په معنا كارول شوى له همدې امله به په نِصْفُ مَا عَلَى الْمُحْصَنَاتِ مِنَ الْعَذَابِ كي هم حتما په هغه معنا اخيستل كېږي.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دويم دا چي په نِصۡفُ مَا عَلَى الۡمُحۡصَنَاتِ کي د المحصنت الف لام د عهدي تعريف لپاره دی او معهود يې هماغه بې واده ښځې دي چي د دې ايت په پيل کي يې يادونه شوې.

دريم دا چي مينځې په نکاح سره محصنې کرزي نو سزا به يې هم د هغو بې واده ښځو نيمايي وي چي پوره محصنې دي، پاتي شوې هغه ښځې چي ازادې هم دي او واده هم لري نو څرنګه چي دوی لومړی د ازادی او بيا د واده په وسيله دوه چنده احصان تر لاسه کوي له همدې امله د محصنو مينځو په مقابل کي دلته هيڅکله له المحصنت څخه هغوی نه شي مرادېدای.

که څه هم د دې دلايلو ضعف دومره څرګند دی چي غالبا به يې پر رد خپل وخت لګول ښه بوختيا نه وي خو څرنګه چي په هغو کي لومړی او دويم دليل د مولانا مودودي په څېر د لوړ نظر څښتن هم په خپل تفسير تفهيم القرآن کي وړاندي کړی ځکه يې نو دلته د نقد په اړه خپل نظر بيانوو.

لومړی دليل:

عموما په عربي ژبه کي د محصنت لفظ په درو معناوو کارېږي، يو واده درلودونکې ښځې، دويم پاک لمنې ښځې او دريم ازادې ښځې.

د لومړی معنا مثال په قرآن او عربي کلام کي موجود دی، الله په سورت النساء کي د محرماتو په بيانولو ويلي دي:

وَالۡمُحۡصَنَاتُ مِنَ النِّسَاءِ إِلاَّ مَا مَلَکَتۡ أَيۡمَانُکُمۡ (۴ : ۲۴)

او محصنات يعني هغه ميرمنې هم درباندي حرامې دي چي د بل په نکاح کي وي مګر دا چي ستاسو ملک يمين شي.

د نابغه ذبياني شعر دی:

شعب العلافيات بين فروجهم والمحصنات عوازب الاطهار



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

" هغوی پر علافي کجاوو سپاره د جنګ په ډګر کي دي او د هغوی د میرمنو طهریې له ملګرتیا بې برخې دی."

دویمه معنا هم په قرآن او عربي کلام ثابته ده، سورت النور کي دي:

إِنَّ الَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ الْغَافِلاَتِ الْمُؤْمِنَاتِ لُعِنُوا فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ (النور ۲۴ : ۲۳)

څوک چي پر پاک لمنو، ناخبرو او مومنو ښځو تور لګوي هغه په دنیا او اخرت دواړو کي ملعون دی او د دوی لپاره ستر عذاب دی.

جریر د فرزدق په غندنه وایي:

تتبع فی الماخور کل مریبة — و لست باهل المحصنات الکرائم

" ته د ګناهونو په مجلسونو کي په هره بد کاره ښځه پسې یې، حقیقت دا دی چي ته د پاک لمنو شریفو ښځو ورنه یې."

دا لفظ په دریمه معنا هم په قرآن کي راغلی، سورت النساء کي دي:

فَإِنْ أَتَيْنَ بِفَاحِشَةٍ فَعَلَيْهِنَّ نِصْفُ مَا عَلَى الْمُحْصَنَاتِ مِنَ الْعَذَابِ (النساء ۴ : ۲۵)

که دوی بد کاري وکړه نو پر دوی د ازادو ښځو نیمایي سزا ده.

دا لفظ په دې ټولو معناوو په عربي ژبه کي کارول شوی دی، مګر بې واده ازادې میرمنې د دې لفظ هیڅ معنا نه ده چي که د کوم ایت په سر کي استعمال شوی وي نو د سیاق د دلالت پر بنسټ به یې په پای کي هم هغه معنا اخیستل کېږي. په دې کي شک نه شته چي د یاد ایت په پیل کي دا لفظ د بې واده ښځو لپاره ځانګړی شوی خو صرف له دې امله چي هلته د محصنات له لفظ سره د ان ینکح فعل استعمال شوی او څرنګه چي نکاح له بې واده ښځې سره کېږي ځکه نو د استعمال ځای په معنا کي یو ډول تخصیص پیدا کړی خو له دې څخه دا نه معلومېږي چي د ایت په وروستی جمله نِصْفُ مَا عَلَى



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

الْمُحْصَنَاتِ کي هم دا تخصيص دوام وکړي، د بيان د اسلوبو له نزاکت سره اشنا هر سړی پوهېږي چي د استعمال په داسي ځايونو کي لفظ کوم خصوصيت پيدا کوي دا تر هماغه محل پوري محدود وي. له هغه ځای ځخه تر بيلېدو وروسته که يې تاسو ور پسي په متصله جمله کي وکاروئ او هغه تخصيص کومه قرينه ونه لري نو حتما به خپل عموم ته ور ګرزئ. د ژبې دا اصول صرف تر عربي نه دي ځانګړي بلکي زموږ په ژبه کي هم شته، موږ وايو: ښځې حق لري چي د دوی په خوښه يې نکاح وشي او د نارينه وو په څېر ښځې هم دا حق لري چي د دوی له اړتيا سره سم د لوړو زده کړو فرصتونه ورته برابر شي. پام وکړئ په لومړۍ جمله کي د ښځو لفظ د نکاح د فعل لپاره د معمول په توګه کارول شوی دی ځکه به نو تر بې واده ښځو ځانګړی وي مګر تر دې وروسته په دويمه جمله کي د نکاح د فعل له عمل څخه د ازاديدو په وجه د بې واده او واده درلودونکو ټولو ښځو ته شامل دی، کېدای شي چي کوم بې سواده د دې جملو د معنا بيانولو پر مهال وو ايي: څرنګه چي په لومړۍ جمله کي دا لفظ د بې واده ښځو لپاره کارول شوی ځکه نو تر دې وروسته د متصلې جملې سياق تقاضا کوي چي له دې څخه بې واده ښځې مراد شي او ممکنه ده له دې الفاظو دا قانون هم استنباط کړي چي بې واده ښځې د زده کړو حق نه لري خو حقيقت دا دی چي د دې جملو دې مفهوم منلو ته به له ژبې سره اشنا هيڅ کس چمتو نه شي، هغه به حتما وو ايي چي د خاص محل پر بنسټ د يو لفظ معنوي تخصيص تل تر هماغه ځايه محدود وي. که هغه لفظ له دې سره متصل وروسته په کومه جمله کي وکارول شي نو په خپل مفهوم کي د تخصيص لپاره نوې قرينې ته اړتيا لري، څرنګه چي په دويمه جمله کي دا ډول قرينه نه شته ځکه نو د ښځو لفظ بې واده او واده درلودونکو ټولو ته عام دی، په همدې سورت النساء کي دي:

| | |
|---|---|
| وَإِنْ خِفْتُمْ أَلاَّ تُقْسِطُواْ فِي الْيَتَامَى فَانكِحُواْ مَا طَابَ لَكُم مِّنَ النِّسَاء | او که تاسو انديښنه لرئ چي د يتيمانو په معامله کي به انصاف ونه کړای شئ نو |



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مَثْنَى وَثُلاَثَ وَرُبَاعَ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلاَّ تَعْدِلُواْ فَوَاحِدَةً أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ ذَلِكَ أَدْنَى أَلاَّ تَعُولُواْ * وَآتُواْ النَّسَاء صَدُقَاتِهِنَّ نِحْلَةً (النساء ۴ : ۳، ۴)

تاسو ته چي كومې ښځې روا دي له هغو څخه دوې–دوې، درې–درې او څلور–څلور په نكاح كړئ خو كه ويره لرئ چي تر منځ به يې انصاف ونه كړاى شئ نو يوه وكړئ او يا د خپلې ولكې مينځه په نكاح كړئ، په دې سره ډېره نژدې ده چي له بې انصافۍ وژغورل شئ او دې ښځو ته د مهر په توګه د دوى ولور وركړئ.

دلته د يوه بيان په سلسله كي دوه ځايه د نساء لفظ كارول شوى او كه څه هم په دواړو ځايونو كي د يتيمانو د مندو لپاره راغلى خو د بې واده او واده درلودو له مخې په يوه معنا نه شي اخيستل كېداى. ځرنګه چي په لومړي ايت كي د محصنات په څېر د انكحوا مفعول راغلى ځكه نو هلته تر بې واده ښځو خاص دى او ځرنګه چي يې په دويم ايت كي يادونه د مهر وركولو له لارښوونې سره شوې له همدې امله اړينه ده چي هلته تر واده درلودونكو ښځو محدود شي.

له دې څخه معلومه شوه چي له وَمَن لَّمْ يَسْتَطِعْ مِنكُمْ طَوْلاً أَن يَنكِحَ الْمُحْصَنَاتِ څخه په نِصْفُ مَا عَلَى الْمُحْصَنَاتِ كي د محصنات د لفظ تخصيص يوه بې معنا خبره ده چي يوازې د ژبې ذوق، لغت پوهنه او عربيت نه بلكي زموږ د ژبې قواعد يې هم له منلو انكار كوي.

دلته دويم دليل ته هم پام وكړئ، د عهدي تعريف يو شكل دا وي چي پر كوم لفظ د تعريف لام داخلېږي هغه د اسم نكره په بڼه له وړاندې په كلام كي ذكر شوى وي، لكه فِيهَا مِصْبَاحٌ الْمِصْبَاحُ فِي زُجَاجَةٍ الزُّجَاجَةُ كَأَنَّهَا كَوْكَبٌ دُرِّيٌّ[29] يعني د المصباح

[29] النور ۲۴ : ۳۵

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."



www.javedahmedghamidi.com www.al-mawrid.org

لفظ لومړی نکره استعمال شوی، کله چي يې دويم ځل يادولو ته اړتيا پيښه شوې نو په الف لام يې معرفه کړی دی او همدا معامله له زجاجة سره هم شوې.

څرګنده ده چي په أَن يَنكِحَ الْمُحْصَنَاتِ کي هم المحصنات په الف لام معرفه استعمال شوی او په نِصْفُ مَا عَلَى الْمُحْصَنَاتِ کي هم، ځکه نو د دې صورت اطلاق دلته ممکن نه دی.

د عهدي تعريف دويم صورت دا وي چي پر کوم لفظ الف لام داخليږي د هغه مصداق د متکلم او مخاطب دواړو په ذهن کي له وړاندي مشخص وي، په قرآن کريم کي دي:

| | |
|---|---|
| يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لاَ تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ (الحجرات ۴۹ : ۲) | اې مومنانو! تاسو خپل اوازونه د نبي تر اوازه لوړوئ. |

دلته له النبی څخه مراد محمد صلی الله عليه وسلم دی او مخاطب ته د متکلم دا هدف يقينا په خپل ذهن کي معلوم دی.

په نِصْفُ مَا عَلَى الْمُحْصَنَاتِ کي د المحصنات الف لام داسي هم نه شي کېدای ځکه که له المحصنات څخه د متکلم مراد بې واده محصناتې وي نو د هغه دا اراده د ده په خپل ذهن کي ده، په هيڅ ډول د مخاطب په ذهن کي مشخصه نه شي بلل کېدای. لکه څرنګه چي مو وړ وويل: د دا ډول الف لام لپاره اړينه ده چي هغه پر کوم لفظ داخل شوی وي د هغه مصداق پريوه مهال د متکلم او مخاطب دواړو په ذهن کي موجود وي. زمخشري ليکي:

| | |
|---|---|
| او تعريف عهد کقولک: ما فَعَلَ الرجلُ و انفقت الدرهم ، لرجل و | او يا الف لام د عهدي تعريف لپاره وي لکه د هغه شخص او درهمو په اړه چي مصداق يې ستا او مخاطب په ذهن کي له |



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

درهـم معهـودين بينـك و بـين مخاطبک. (المفصل، مخ: ۳۲۶) وړاندي مشخص وي، ته وايې: ما فعل الرجل هغه سړي داسي ونه کړل او انفقت الدرهم ما هغه درهم ولګول.

په دې کي شک نه شته چي د عهدي تعريف د دې صورت يو اړخ دا هم وي چي متکلم مخاطب ته له پام کولو پرته صرف د خپل ذهني تشخيص له مخې پر يوه لفظ د تعريف لام داخلوي، خو له عربي ژبې سره اشنا هر سړی پوهېږي چي دا په هغو ځايونو کي روا دی چي متکلم د هغه ذهني مشخص شي رسولو هدف ونه لري لکه د لبيد بن ربيعه په معلقه کي د الحی لفظ:

شاقتک ظعن الحی حين تحملوا    فتنکسوا قطنا تصر خيامها

" ستا د تلوسې اوږ په کجاوه کي د قبيلې کنبېنستونکو بل کړی، کله چي يې د سفر اراده وکړه روان شول او په خپلو هغو کجاوو کي کښېنستل چي لرګي يې تر بوج لاندي ځنګېږي."

او يا د امرؤ القيس په شعر کي د الکثيب لفظ:

و يوما على ظهر الکثيب تعذرت    على .و آلت حلفة لم تحلل

" او يوه ورځ زما لپاره د ريګ پر غونډۍ د هغې ارامول سخت شول او داسي قسم يې وکړ چي پکي د استثنا هيڅ امکان نه وو."

په دې شعرونو کي لبيد او امرؤ القيس په خپل ذهن کي د موجودې ځانګړې قبيلې او غونډۍ د يادولو لپاره د حی او کثيب لفظ په الف لام معرفه کړی، خو د دواړو هدف د حی او کثيب پېژندنه نه ده.

د المحصنات د الف لام په اړه موږ دا خبره هم نه شو کولای، ځکه دا خبره ييخي باوري ده چي په دې ايت کي د لفظ د مفهوم رسول هم د متکلم هدف دی او هم د مخاطب اړتيا، هغه د دې ويلو اراده لري چي د زنا په جرم کي د مينځو سزا څه ده او مخاطب دې ته



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

اړ دی چي وپوهېږي محصناتې څوک دي او سزا يې څه ده؟. مينځو ته چي به کومه نيمه سزا ورکول کېږي هغه به څه وي؟.

د عهدي تعريف پر دې دوو شکلونو سربيره دريېم دا سي صورت چي د دوی پر مراده معنا دلالت وکړي تر دې مهاله په عربي ژبه کي نه دی موندل شوی، له همدې امله د دوی دا نظر چي په المحصنات کي الف لام د عهدي تعريف لپاره دی هيڅ بنسټ نه لري. که دلته څوک پوښتنه وکړي چي نو بيا دا څه ډول الف لام دی نو موږ به ووايو چي دا د جنسي الف لام هغه ډول دی چي د مغني اللبيب ليکوال په دې الفاظو بيان کړی دی:

او لتعريف الماهية. وهي التي لا تخلفها "كل" لا حقيقة ولا مجازا. (مغنی اللبيب د ابن هشام ۱/ ۵۱)

او يا جنسي الف لام د ماهيت د تعريف لپاره راځي، پېژندنه يې دا ده چي د کل لفظ يې نه د حقيقت له مخې ځای نيولای شي او نه د مجاز.

ده يې په مثال کي د قرآن کريم دا ايت وړاندي کړی دی:

وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ (الأنبياء ۲۱ : ۳۰)

او موږ هر ژوندی شی له اوبو جوړ کړی دی.

رضي استرابادي د کافيې په خپله مشهوره شرح کي د دې په توضيح کولو ليکي:

وثاني ماهية الجنس من غير دلالة اللفظ على القلة و الكثرة. بل ذاک احتمال عقلی كما في قوله تعالى: لَئِنْ اَكَلَهُ الذِّئْبُ و لم يكن هناک ذئب معهود و لم يرد استغراق الجنس ايضا. و مثله قولک: ادخل السوق و اشتر اللحم، و کل الخبز.

او د الف لام دويم قسم جنسي ماهيت دی، په دې کي پر ډېروالي او کموالي د لفظ دلالت ته اعتبار نه ورکول کېږي. نوعيت يې يو ډول عقلي احتمال وي لکه د الله دا وينا: لئن اكله الذئب دلته له الذئب څخه هدف نه خاص ليوه دی چي د متکلم او مخاطب په ذهن کي له وړاندي معلوم وي او نه د ليوانو د جنس ټول افراد. په ادخل السوق اشتر اللحم او کل الخبز په څير



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

(۴/۱) جملو کي السوق، اللحم او الخبز يې نور مثالونه دي.

په عربي کلام کي د الف لام د دې ډول ډېر نور مثالونه هم وړاندي کېدای شي خو مونږ بحث اوږدیدو له ویري د امرؤالقیس د معلقې پر دې شعر بسنه کوو:

مسح اذا ما السابحات علی الونی اثرن الغبار بالکدید المرکل

"او زه پر هغه اس د سیل لپاره ځم چي پر له پسې تګ کوي، کله چي د سهار اسان له کمزوري او ناتوانۍ سره – سره پر ځمکه د دوړو په کولو منډې وهي."

د امرؤالقیس په دې شعر کي د السابحات، الونی، الغبار او الکدید ټولو الف لام د جنسي ماهیت لپاره دی.

که د تدبر په نظر وګورو نو د أَن يَنكِحَ الْمُحْصَنَاتِ او نصف ما علی المحصنات کي هم د المحصنات الف لام له دې پرته بل څه نه شي کېدای، مونږ په پوره باور سره ویلای شو چي د ژبې او بیان په اصولو کي د بل نظر لپاره هیڅ امکان نه شته.

نو په نصف ما علی المحصنات کي د المحصنات په اړه د دې ښاغلو دا وینا چي الف لام يې د عهدي تعریف لپاره دی او په دې سره هغو بې واده ازادو ښځو ته اشاره ده چي د ایت په پیل کي يې یادونه شوې ده یوه بې معنا خبره ده چي له هیڅ علم درلودونکي څخه يې هیله نه شي کېدای.

تر دې وروسته دریم دلیل ته پام وکړئ:

دې ښاغلو چي په محصنات کي د الف لام په اړه کوم دلیل وړاندي کړی د هغه تر باطلېدو وروسته که څه هم دا دلیل په خپله له منځه ځي ځکه کله چي ثابته شوه چي د عربیت له مخي په نصف ما علی المحصنات ایت کي د المحصنات لفظ حتما د بې واده او واده درلودونکو دواړه ډوله ازادو ښځو ته شاملېږي نو په مقابل کي يې د نیم، بشپړ او دوه چنده احصان دا منطق به په خپله د قرآن پر څرګند نص د نیوکې په معنا وي خو د یوې



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."
www.javedahmadghamidi.com www.al-mawrid.org

شيبې لپاره دا له ياده وباسئ او هغه منطق ته پام وکړئ. د دې استدلال ټوله وداني چې پر کوم څه بنا شوې هغه داده چې په ياد ايت کې د فاذا احصن الفاظو معنا داده چې کله دوی نکاح وکړي او تر دې وروسته ويل شوي چې مينځې صرف د نکاح احصان تر لاسه کوي او په نکاح سره چې دوی ته کوم احصان حاصلېږي هغه د هغه احصان په پرتله نيمايي دی چې ازادې ميرمنې يې له واده پرته لري ځکه نو بايد د واده درلودونکې ښځې احصان حتما د بې واده ښځو تر احصان دوه چنده وي. دا ټول استدلال پر همدې بنا دی.

خو ايا دا کوم بنسټ هم لري؟ موږ په پوره ډاډ ويلای شو چې هيڅکله نه، ځکه د عربيت له مخې چې خلکو عموما له فاذا احصن څخه کومه معنا فهمولې هغه د النساء په دې ايت کې په هيڅ ډول نه شي مراد بدای، زموږ په نزد دلته د دې الفاظو معنا دا نه ده چې هغوی نکاح وکړي بلکې د پاک لمنۍ خپلولو په معنا استعمال شوي دي او خپل دا دريځ د ژبې او بيان په دلايلو ثابتولای شو او دلته هغه دلايل وړاندې کوو.

د ياد ايت په کومه برخه کې چې د فاذا احصن الفاظ راغلي هغه داده:

فَانكِحُوهُنَّ بِإِذْنِ أَهْلِهِنَّ وَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ مُحْصَنَاتٍ غَيْرَ مُسَافِحَاتٍ وَلاَ مُتَّخِذَاتِ أَخْدَانٍ فَإِذَا أُحْصِنَّ فَإِنْ أَتَيْنَ بِفَاحِشَةٍ فَعَلَيْهِنَّ نِصْفُ مَا عَلَى الْمُحْصَنَاتِ مِنَ الْعَذَابِ (النساء ۴ : ۲۵)

نو له دې مينځو سره د هغوی د مالکانو په اجازه نکاح وکړئ او له دود سره سم يې مهر ورکړئ په داسې حال کې چې هغوی پاک لمنې وي نه ښکاره بدکاري کوي او نه پټې ياراني، کله چې هغوی پاک لمنې شي او تر دې وروسته که بدکاري وکړي نو پر دوی د ازادو ښځو د سزا نيمايي ده.

په دې ايت کې چې د فَإِذَا أُحْصِنَّ الفاظو پر اذا کومه فا داخله شوې د هغې تقاضا داده چې دلته د احصن له فعل څخه هغه مفهوم مراد شي چې په محصنات غير مسافحات کې د محصنات د لفظ دی، د بيلګې په توګه که په عربي کې وويل شي چې اذهب اليه



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

راکبا فـإذا رکبت نو دلته ځرنګه راکبا او رکبت په دوو بیلابیلو معنااو کارېدای شي؟. په دې جمله کې چې له راکبا څخه کومه معنا فهمېږي حتما به د رکبت معنا هم هغه وي، لـه همدې امله پـه فَـإِذَا أُحْصِـنَّ کې د احصن د فعل معنا د حقیقت لـه مخې پـه محصنات غیر مسافحات کې د محصنات د مفهوم له تشخیص سره تړاو لري.

د خپل ځای او موقعیت لـه مخې کـه د محصنات پر لفظ غـور وکـړو نو دوې خبرې معلومېږي: یوه دا چې په فَانکِحُوهُنَّ ، آتُوهُنَّ کې ضمیر له منصوب څخه حال راغلی او لکه ځرنګه چې یې عامل د آتُوا فعل دی همدارنګه فَانکِحُو هم دی.

دویمه دا چې دا یوازې نه دی بلکې د مسافحات د لفظ په مقابل کې راغلی دی.

که لومړۍ خبرې یعنې حال او د هغه عامل ته پام وکړو نو پـه اړه یې د علم هر څښتن پوهېږي چې که د حال عامل د امر فعل وي نو په داسې سیاق کې هغه د شرط معنا لـري، د بیلګې په توګه که موږ ووایو اضـربه مشـدودا بالشـجرة (هغـه پـه داسې حال کې ووهه چې په ونه پورې تړلی وي) نو په دې جمله کې تړل د وهلو لپاره شرط دی او د شرط په اړه دا خبره معلومه ده چې هغه له کوم فعل سره تړاو لري په فعل او یا مفعول کې یې وجود له وړاندې ثابت وي، ګواکې د اضربه مشدودا په مثال کې د وهلو د حکم تقاضا په هغه صورت کې پوره کېږي چې کله یاد شخص په داسې حال کې ووهل شي چې له وړاندې په ونه پورې تړلی او یا د وهلو پر مهال ورپسې وتړل شي، ځکه نو د همدې اصل تقاضا دا ده چې په دا ډول جملو کې حال حتما د خپل عامل فعل له معنا په جلا مفهوم استعمالېږي.

د همدې اصولو په رڼا کې یاد ایت تـه پام وکړئ،ځرنګه چې پـه دې کې د محصنات عامل فعل فانکحوا هم دی له همدې کبله که د بې واده ښځو پـه معنا واخیستل شي نو د ایت معنا به دا وي چې له هغو سره نکاح وکړئ په دې شرط چې بې واده وي او ځرګنده ده چې دا یوه بې مفهومه خبره ده، له همدې امله اړینه ده چې هغـه دلتـه د خپـل عامل فعل لـه



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

معنا ځخه په بيله معنا واخيستل شي يعني په داسي حال کي چي هغوی پاک لمنې وي.[30]
ابو بکر ابن العربي په احکام القرآن کي ليکي:

و قالت طائفة: معنى قوله: محصنات اى بنكاح لا بالزنا و هذا ضعيف جدا لان الله تعالى قد قال قبل ذالك: فانكحوهن باذن اهلهن فكيف يقول بعد ذالك منكوحات فيكون تكرارا في الكلام قبيحا في النظام. (۴۰۱/۱)

او د يوې ډلې نظر دادی چي دلته د محصنات معنا ده: د نکاح په وسيله نه د زنا، زموږ په نزد دا نظر ډېر کمزوری دی ځکه الله تر دې وړاندي ويلي چي له دوی سره د خپلو مالکانو په اجازه نکاح وکړئ، ځرګنده ده چي تر دې وروسته دې وينا ته هيڅ اړتيا نه شته چي له دوی سره په داسي حال کي نکاح وکړئ چي منکوحه وي، په دې سره به د جملې جوړښت سخت خراب شي او په کلام کي به له صرف تکرار پرته بل هيڅ پاتي نه شي.

دويمې خبرې يعني د تقابل اصل ته پام وکړئ نو ځرګنده چي دا د مسافاحات له لفظ سره عيني په هغه ډول راغلی لکه موږ چي وايو: هو عالم ليس بجاهل (هغه عالم دی نه جاهل) له همدې امله د ژبې د دې منل شوي اصل له مخې چي کله د ګډې معنا درلودونکي الفاظ له خپل ضد سره وکارول شي نو مفهوم يې د هغه د ضد له مخې ټاکل کېږي او مشترک نه پاتېږي، دلته د محصنات لفظ په داسي حال کي چي هغوی پاک لمنې ساتل شوې وي په معنا استعمالېدای شي بله معنا ترې نه شي مراديدای. د بيلګي په توګه په عربي ژبه کي جهل يو مشترک لفظ دی چي د ناپوهی په معنا هم کارېږي، د احساساتي کيدو او له جذباتو ځخه د مغلوب کېدو په معنا هم استعمالېږي. په عامو

---

[30] تر دې لفظ وروسته د احصن د راتلو تقاضا داده چي ترجمه يې يوازي په پاک لمنې ونه شي بلکي په پاک لمنو ساتل شويو سره وشي.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."
www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

حالاتو کي يې معنا د سياق او سباق د قراينو له مخې ټاکل کېږي خو هر سړی به و مني چي که له خپل ضد حلم سره استعمال شوی وي نو د ناپوهۍ معنا به ونه لري، د حماسي شاعر عمرو بن احمر الباهلي شعر دی:

ودهم تصاديها الولائد جلة        اذا جهلت اجوافها لم تحلم

" او له موږ سره ډېر لوی ديګونه دي چي مينځې يې پر نغريو کښېنه پورته کوي، کله چي يې نس جهالت کوي نو حوصله نه لري (يعني کله چي وايشېږي نو ژر نه سړېږي)"

وګورئ د حلم په مقابل کي د استعمال له امله دا خبره ييخي څرګنده شوه چي دلته جهل د خوټيدو په معنا استعمال شوی دی نه د ناپوهۍ، که فکر وکړو نو په محصنات کي هم دغه حالت دی، د مسافحات په مقابل کي د راتلو له امله په ده کي هم په داسي حال کي چي هغوی پاک لمنې ساتل شوې وي له معنا پرته د بل څه احتمال پاتي نه شو.

د محصنات د لفظ په اړه تر دې وضاحت وروسته له څه شک پرته ويل کېدای شي چي په ياد ايت کي فاذا احصن په خپله مجهوله صيغه د بيا چي کله هغوی پاک لمنې وساتل شي په معنا راغلی، موږ په پيل کي ويلي چي د جملې جوړښت د محصنات او احصن لفظي اشتراک او پر اذا د فا دخول دا هر څه لازموي چي دلته احصن د محصنات په معنا واخيستل شي، نو چي دلته محصنات په داسي حال کي چي دوی پاک لمنې ساتل شوې وي له دې پرته بله معنا نه شي درلودای نو د عربيت له مخې به د فاذا احصن معنا هم دغه وي. هيڅکله د بيا نکاح کولو معنا نه شي درلودای.

د دې بحث په رڼا کي د ايت هدف دا دی چي د کورنۍ له خونديتوب څخه د محروميت او خپلې نيمګړې روزنې له امله د مينځو د زنا سزا له هغې سزا مستثنا ده چي په سورت النور کي د دې جرم لپاره ټاکل شوې، خو په دوی کي چي کومې مينځې وړاندې خپلو مالکانو او تر دې وروسته خپلو ميړونو پاک لمنې ساتلې وي که هغوی بدکاري وکړي نو د دې نيمايي سزا به دوی ته هم ورکول کېږي.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ثرګنده ده چي د سزا بنسټ د هغوی واده نه بلکي د دوی پاک لمنی ته پاملرنه ده چي که موجوده وه نو دا سزا به پرې نافذېږي او که نه وه موجوده نو د قرآن له مخې نيمايي سزا هم نه شي ورکول کېدای، البته که په دې صورت کي محکمه وغواړي نو د تعزير په توګه تر دې کمه يو ډول سزا ورکولای شي.

په دې دلايلو سره دا حقيقت ييخي روښانه کېږي چي د ياد دليل ودانۍ پر کوم بنسټ درول شوې ده د هغه وجود ثابت نه دی.

(۴)

(لاندي د هغو نيوکو ځوابونه دي چي په دې مسايلو کي زموږ پر ځينو نظرونو مولانا احمد سعيد کاظمي او مولانا ابو شعيب صفدر علي کړې دي، په دې اړه د مولانا ابو شعيب صفدر علي مضامين د الاعلام مجلې له څلورمې تر اتمې ګڼې کي خپاره شوي دي او د مولانا احمد سعيد کاظمي ليکنه د رضوان مجلې د ۱۹۸۲ اکتوبر په ګڼه کي خپره شوې ده.)

## د مولانا احمد سعيد کاظمي نيوکې

لومړنۍ نيوکه:

د نساء په دې ايت: وَمَن لَّمْ يَسْتَطِعْ مِنكُمْ طَوْلاً أَن يَنكِحَ الْمُحْصَنَاتِ کي الف لام د جنسي ماهيت لپاره نه دی بلکي دا الف لام عهد ذهني دی ځکه که دلته الف لام د جنس لپاره وبلل شي نو له محصنات څخه به هغه ټولي ښځې مراد وي چي د احصان صفت ولري، نو به مومنې، ازادې، پاک لمنې او نکاح درلودونکې ټولي د دې ايت په عموم کي داخلې وي ثرګنده ده چي دا يوه باطله معنا ده، له همدې امله د المحصنات الف لام په هيڅ ډول د جنس لپاره نه شي کېدای. دا به په هر حال الف لام عهد ذهني بلل کېږي.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دا نیوکه صرف له دې امله را پیدا شوې چې غالبا مولانا د نحوي پوهانو له هغو اختلافاتو خبر نه دی چې دوی یې د جنسي ماهیت او عهد ذهني اصطلاحاتو په اړه تر خپل منځ لري. د دې فن د بنسټیزو کتابونو له مطالعې ښکاري چې د دنیا د ټولو فنونو په څیر په دې فن کې هم د ځینو مفاهیمو لپاره تر یوه ډېر اصطلاحات کارېږي او د فن یوه ډله ځیني اصطلاحات په یوه معنا اخلي او د بلې ډلې په نزد له هغې په بېخي بېله معنا کارېږي. هر هغه څوک چې د ژوند یو څه برخه یې د دې کتابونو پر لوستو او د هغو د بحثونو پر فهم تیره کړې وي هغه په لږ غور سره د دې اختلافاتو بیلګې وړاندې کولای شي.

په عربي ژبه کې د الف لام معامله هم دغسې ده، متقدمین په عمومي توګه په خپلو کتابونو کې د دې دوه لوی ډولونه عهدي تعریف او جنسي تعریف یادوي، د دوی په لیکنو کې عموما د عهد او جنس د مختلفو صورتونو بیان نه شته، زمخشري د نحوې مشهور کتاب المفصل په ۵۱۴ هجری کې بشپړ کړی، دی په هغه کې لیکي:

فاما لام التعریف فهی اللام الساکنة التی تدخل علی الاسم المنکور فتعرفه تعریف جنس کقولک: اهلک الناس الدینار و الدرهم، و الرجل خیر من المرأة ای هذان الحجران المعروفان من بین سائر الاحجار، و هذا الجنس من الحیوان من بین سائر اجناسه. او تعریف عهد کقولک:

تر کومه ځایه چې د تعریف په لام پورې اړه لري نو دا هغه ساکن لام دی چې پر اسم نکره داخلېږي او یا یې د جنس په توګه معرفي کوي لکه اهلک الناس الدینار و الدرهم او الرجل خیر من المرأة یعني په ټولو معدنیاتو کې دا دوه مشهور معدنیات او د حیواناتو له ټولو اجناسو څخه دا یو جنس. یا د عهدي تعریف په توګه لکه ته چې د هغه چا او هغه درهم په اړه چې مصداق یې ستا او د مخاطب په ذهن کې له وړاندې معلوم وي وایې: ما



www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org
© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ما فعل الرجل، و انفقت الدرهم، لرجل و درهم معهودين بينک و بين مخاطبک. (۳۲۶)

فعل الرجل هغه سړي داسي ونه کړل او انفقت الدرهم ما هغه درهم ولګول.

د دې فن وتلي عالم امام ابن هشام مغنی اللبيب تر دې دوې پيړۍ وروسته ليکلی دی، په دې کتاب کي هم د الف لام بحث د هغه په دوو لويو ډولونو پيل شوی دی خو څرنګه چي ابن هشام د حروفو په مسايلو کي له تفصيله کار اخيستی ځکه نو يوازي د دې دوو ډولونو پر يادولو بسنه نه کوي بلکي د دې اصنافو بيلابيل ډولونه له دلايلو او مثالونو سره بيانوي، د ده په نزد د عهدي تعريف الف لام د لاندينيو درو صورتونو لپاره راځي.

يو دا چي هدف د يو نکره اسم بعينه تکرار وي لکه كَمَا أَرْسَلْنَا إِلَى فِرْعَوْنَ رَسُولاً * فَعَصَى فِرْعَوْنُ الرَّسُولَ [۳۱]

دويم دا چي د اړوند اسم مصداق يې د متکلم په مخکي موجود وي، لکه: جاءنی هذا الرجل.

دريم دا چي مصداق يې د متکلم او يا متکلم و مخاطب دواړو په ذهن کي معلوم وي، لکه: اذهما فی الغار.[۳۲]

د الف لام همدا درې ډولونه دي چي د دې لپاره ځيني نور نحويان د عهد خارجي اصطلاح کاروي، د کافيې شارح جامي، سيد شريف جرجاني او عصام اسفرايني دوی ټول له دې اقسامو څخه په عهد خارجي تعبير کوي. الف لام چي پر کوم لفظ داخليږي د هغه افراد که د متکلم په کلام کي د هغه مخ ته او يا د هغه په ذهن کي خارجي تعين ولري

---

[۳۱] المزمل ۷۳ : ۱۵، ۱۶

[۳۲] التوبه ۹ : ۴۰



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

www.javedahmadghamidi.com www.al-mawrid.org

نو همدا د دې بناغلو په اصطلاح د عهد خارجي الف لام بلل کېږي، عصام اسفرايني ليکي:

و اما ان يشار بِها الى قسم من مفهوم اللفظ معهود بينک و بين مخاطبک يسبق فهمه اليه عند سماع اللفظ فهى لام العهد الخارجي. (حاشيه شرح جامي ۳۵)

که د الف لام په وسيله د لفظ په مفهوم کي دا ډول اشاره وشي چي ستا او د مخاطب په ذهن کي له وړاندي داسي معلوم وي چي په اوريدو يې ذهن د هغه مفهوم ته متوجې کېږي نو دا د نحويانو په اصطلاح د عهد خارجي الف لام دی.

د مغنى اللبيب ليکوال د تعريف عهدي په څير د الف لام جنسي لپاره هم درې قسمونه بيان کړي، دلومړي دوو ډولونو لپاره يې د لاِستغراق الافراد او لاِستغراق خصائص الافراد تعبير غوره کړی، د دريم قسم په اړه وايي:

او لتعريف الماهية، وهى التى لا تخلفها "كل" لا حقيقة و لا مجازا، نحو: و جعلنا من الماء كل شىء حى، وقولک: و الله لا اتزوج النساء، او لا البس الثياب. (۵۱/۱)

يا جنسي الف لام د ماهيت د تعريف لپاره وي او پېژندنه يې داده چي د کل لفظ نه د حقيقت پر بنسټ د هغه ځای نيولای شي نه د مجاز له مخې، د قرآن په دې ايت: و جعلنا من الماء كل شىء حيٍّ کي د الماء او په والله لا اتزوج النساء او لا البس الثياب جملو کي النساء او الثياب د همدې مثالونه دي.

رضي استراباذي ليکي:

والثانى ماهية الجنس من غير دلالة اللفظ على القلة و الكثرة، بل ذاک احتمال عقلى كما فى قوله

او د دې دويم قسم جنسي ماهيت دی، په دې کي پر ډېروالي او لږوالي د لفظ دلالت ته اعتبار نه ورکول کېږي شکل يې يو ډول عقلي احتمال وي، لکه د الله دا وينا چي



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

تعالی: لئن اکله الذئب، و لم یکن هناک ذئب معهود ولم یرد استغراق الجنس ایضا و مثله قولک: ادخل السوق، واشتر اللحم، وکل الخبز. (شرح الرضی علی الکافیه ۱/ ۱۴)

لئن اکله الذئب دلته د الذئب له الف لام څخه هدف نه یو خاص لیوه دی چې د متکلم او یا مخاطب په ذهن کې له وړاندې معلوم وي او نه د جنس لیوه ټول افراد، د ادخل السوق، اشتر اللحم او کل الخبز په څیر جملو کې السوق، اللحم او الخبز یې نور مثالونه دي.

وګورئ د الف لام د هماغه قسم لپاره چې ابن هشام او رضی استر اباذي د جنسي ماهیت اصطلاح غوره کړې د نحویانو د یوې بلې ډلې په نزد د عهد ذهني په نوم پېژندل کېږي، عصام اسفرایني لیکلي:

و اما ان یقصد الیه (ای الجنس) باعتبار فرد ما فهی لام العهد الذهنی کما فی: ادخل السوق. (حاشیه شرح جامي ۳۵)

که الف لام د جنس پر مفهوم د نامشخص فرد له مخې دلالت کوي نو د فن د پوهانو په اصطلاح دا عهد ذهني الف لام دی لکه په ادخل السوق کې د السوق الف لام.

وینو چې د ادخل السوق په مثال کې رضي استر اباذي کوم شی د جنسي ماهیت الف لام بولي اسفرایني د هغه لپاره د عهد ذهني اصطلاح کارولې ده، موږ چې له لتعریف الماهیة څخه تر لا البس الثیاب پورې د ابن هشام د الفاظو کومه برخه وړاندې نقل کړې تر دې وروسته هغه دا دویم نظر او د هغه دلیل هم ذکر کړی دی، دی لیکي:

و بعضهم یقول فی هذه: انها لتعریف العهد فان الاجناس امور معهودة فی الاذهان متمیز بعضها عن بعض و یقسم المعهود الی

او ځینې نحویان د جنسي ماهیت دې الف لام په اړه وایي چې دا د عهدي تعریف لپاره دی ځکه اجناس په حقیقت کې هغه امور دي چې په ذهنونو کې مشخص او له یو بله امتیاز لري. د فن پوهان معهود پر



www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

شخص و جنس. (مغني اللبيب ۱/ ۵۱) دوو ډولونو ويشي يو شخصي معهود او بل جنسي.

له دې بحث څخه معلومه شوه چي د النساء په دې ايت: وَمَن لَّمْ يَسْتَطِعْ مِنكُمْ طَوْلاً أَن يَنكِحَ الْمُحْصَنَاتِ [33] کي د المحصنات لفظ د الف لام په اړه د مولانا صيب رايه زموږ له رايې څخه په هيڅ ډول جلا نه ده، يو مفهوم دی چي د هغه لپاره موږ د ابن هشام او رضي په څېر د جنسي ماهيت تعبير غوره کړی او مولانا د اسفرايني و نورو په پيروي ورته د عهد ذهني اصطلاح کارولې ده.په دې اړه زموږ او د مولانا معامله داسي ده لکه موږ چي کوم شی په اسمان يادوو هغه ته ګار کوي چي دا په حقيقت کي فلک دی، په دې اړه موږ هغه ته صرف دومره وړانديز کولای شو چي دی دي لطفا قاموسونو ته مراجعه وکړي.

پاتي شوه دا خبره چي د جنسي ماهيت الف لام د لفظ د ټولو مفاهيمو يعني ازادو، پاک لمنو، مومنو او نکاح درلودونکو پر شمول دلالت کوي نو دا صرف غلط فهمي ده. په دې کي شک نه شته چي که کوم ځای د المحصنات لفظ يوازې ليکلی وی نو ماهيت به يې حتما د جنس ټولو ډولونو ته شامل وي او په دې صورت کي به له شک پرته د هغه له مفاهيمو يو هم د عموم له دايرې بهر نه وي، خو د ژبې له باوري قوانينو سره سم چي کله دا لفظ د يو کلام برخه ګرزي او د کارېدو د ځای دلالت يې تر ځانګړې معنا خاصوي نو د لغوي معنا اعتبار يې له منځه ځي. د جملو جوړښت او د سياق و سباق رعايت چي يې هره معنا وټاکي په هغه کلام کي به جنس صرف د هغې معنا افرادو ته شمول لري او د فن د پوهانو په اصطلاح به الف لام د هغه جنس پر نا معلوم فرد دلالت کوي. څرنګه چي ابن هشام او د فن نور امامان په دې نزاکتونو خبر دي له همدې کبله يې د الف لام د دې قسم

[33] ۴ : ۲۵



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

لپاره د عهد ذهني پر ځای د جنسي ماهیت اصطلاح غوره کړې ده.

دویمه نیوکه:

د نصف ما علی المحصنات الف لام عهد خارجي دی او هغو محصناتو ته اشاره کوي چي د ایت له پیل په ان ینکح المحصنات الفاظو کي یې یادونه شوې ده.

دلته دي دا خبره څرګنده وي چي که د الف لام عهدي خارجي معهود تر هغه وړاندي د عهد له لام سره ذکر شي نو جایز دی. علامه سید محمود الوسي بغدادي تر فان مع العسر یسراً لاندي د عسر معنا په لوړه، فقرا او بې وزلی کړې ویلي یې دي: **وهو ظاهر فی ان ال فی العسر للعهد و اما التنوین فی یسراً للتفخیم** یعني مخکینی کلام دا ښیي چي په العسر کي الف لام د عهد لپاره دی، تر دې وروسته یې تر ان مع العسر یسرا لاندي ویلي:

**یحتمل ان یکون تکریرا للجملة السابقة ... و یحتمل ان یکون وعدا مستأنفا و ال و التنوین علی ما سبق.** یعني دا احتمال شته چي دا جمله د مخکینۍ لپاره د تاکید په توګه راغلې وي او دا احتمال هم شته چي مستأنفه جمله وي، یعني د تاکید پر ځای پیل کلام وي او د پخوا په څېر د العسر الف لام د عهد او د یسراً تنوین د تفخیم لپاره دی. تر دې وروسته یې ویلي: **احتمال الاستیناف هو الراجح لما علم من فضل التأسیس علی التأکید.** یعني د استیناف احتمال راجح دی ځکه تأسیس پر تاکید فضیلت لري.[۳۴]

له بده مرغه چي د مولانا دا نیوکه هم بالکل بې بنسټه ده، د المحصنات الف لام په

[۳۴] روح المعاني د الوسي ۳۰ / ۱۷۰



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

نِصۡفُ مَا عَلَى الۡمُحۡصَنَاتِ مِنَ الۡعَذَابِ[35] کي په هيڅ ډول عهد خارجي نه شي کېدای، په عربي ژبه کي دا اصل ېيخي قطعي دی چي که په الف لام معرفه شوی اسم دويم ځل له الف لام سره تکرار شي نو له څه دليل پرته لومړی او دويم په جلا- جلا معنا نه شي اخيستل کېدای، که په لومړي کي د عهد خارجي لپاره وبلل شي نو په دويم کي به هم د عهد خارجي لپاره وي او که په لومړي کي الف لام عهد ذهني وي نو په دويم کي يې هم د هغې معنا منل اړين دي مگر دا چي د اشتراک کومه قرينه وجود ولري او که قرينه موجوده وي نو دواړه له يوه بله بيلېږي، ځرګنده ده چي په دې صورت کي به د عهد او معهود تر منځ د تعلق هيڅ امکان نه وي.

لکه څرنګه چي مو په وړاندېنيو بحثونو کي په دلايلو ثابته کړه چي په ياد ايت کي د المحصنات د لفظ الف لام په ان ينکح المحصنات کي هم او په نصف ما علی المحصنات کي هم دواړه ځايه د جنسي ماهيت او يا د اسفرايني و نورو په اصطلاح د عهد ذهني لپاره دی.

مولانا چي د الوسي کوم الفاظ نقل کړي دي، هلته هم هغه دا خبره کوي چي د الم نشرح سورت په فان مع العسر يسراً[36] او تر هغه وروسته په ان مع العسر يسراً[37] کي العسر په الف لام معرفه او د يسر لفظ دواړه ځايه نکره دی، د عربيت له مخې په لومړي ايت: فان مع العسر کي د عسر الف لام درې معناوې درلودای شي:

يو د عهد خارجي معنا، په دې صورت کي به يې اشاره هغو حالاتو ته وي چي مسلمانان پرې اخته وو.

---

[35] النساء ۴ : ۲۵

[36] ۹۴ : ۵

[37] ۹۴ : ۶



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."
www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

دويمه معنا جنسي ماهيت يا عهد ذهني يعني له څه تعين پرته عسر.

درېيمه معنا استغراق يعني هره سختي.

په لومړني صورت کي به د ايت معنا دا وي: بې شکه تاسو چي په کومه سختي کي ياست له هغې سره اساني ده.

په دويم صورت کي به د ايت ترجمه داسي کوو: بې شکه له سختي سره اساني ده.

په درېيم صورت کي به د ايت معنا داسي وي: بې شکه له هرې سختي سره اساني ده.

په دې درېو صورتونو کي چي په لومړني ايت: فَاِنَّ مَعَ الْعُسْرِ کي هر صورت غوره شي لازمه ده چي په دويم ايت کي به عيني هماغه صورت غوره کېږي، يعني که په لومړني ايت کي د العسر الف لام عهد خارجي وبلل شي نو په دويم ايت کي به هم حتما په هماغه معنا کارېږي. که په لومړني ايت کي د جنسي ماهيت لپاره وي نو په دويم ايت کي به هم د جنسي ماهيت الف لام بلل کېږي او که په لومړني ايت کي د استغراق لپاره ومنل شي، نو په دويم ايت کي يې په کومه بله معنا کارول امکان نه لري. کله چي يو اسم دويم ځل په الف لام معرفه ذکر شي نو د ژبې قاعده هماغه ده چي پورته مو ياده کړه، الوسي د لومړني ايت په اړه تر دې وضاحت وروسته چي په هغه کي د العسر الف لام عهد خارجي او د يسر تنوين د تفخيم لپاره دی په دويم ايت کي له همدې قانون سره سم ليکي:

يحتمل ان يكون تكريرا للجملة السابقة لتقرير معناها في النفوس وتمكينها في القلوب كما هو شأن التكرير ويحتمل ان يكون وعدا مستأنفا وال والتنوين على ما سبق. (روح المعاني ۳۰/۱۷۰)

دا دويم ايت تکرار هم کېدای شي چي مفهوم يې په زړه کي ښه ځای ونيسي ځکه په تکرار کي همدا قانون دی او دا هم ممکنه ده چي نوې وعده وبلل شي او د العسر الف لام د پخوا په څېر د عهد خارجي او تنوين يې د تفخيم لپاره دی.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

لـه عربـي ژبـې سـره اشـنا هـر سـړی پـوهېږي چـې د الوسـي د دې الفـاظو چـې: ال و التنوين على ما سبق معنا له دې پرته بل څه نه شي کېدای، دا عيني هماغه خبره ده چې موږ پورته کړې. که په لومړني ايت کې د العسر الف لام د عهد خارجي لپاره وي نو په دويم کې به هم د عهد خارجي لپاره وي او معهود به يې په لومړني ايت کې ياد شوی د العسر لفظ نه بلکې هغه شی وي چې هلته د العسر د الف لام معهود دی. ګواکې د الوسي له تعبير سره سم به د ايت معنا دا وي: بې شکه تاسو چې په کومه سختۍ کې یاست له هغې سره يوه لويه اساني ده، بې شکه تاسو چې په کومه سختۍ کې یاست له هغې سره يوه لويه اساني ده.

همدا خبره زمخشري په دې ډول بيان کړې:

و انما كان العسر واحدا لانه لا يخلو اما ان يكون تعريفه للعهد و هو العسر الذى كانوا فيه فهو هو لان حكمه حكم زيد فى قولك: ان مع زيدٍ مالاً ان مع زيدٍ مالاً. و اما ان يكون للجنس الذى يعلمه كل احد فهو هو ايضاً. (الكشاف ۴/ ۷۷۶)

او عسر به يو وي ځکه چې يا به يې تعريف دوا ړه ځايه د عهد لپاره وي يعنې هغه عسر چې دوی هغه مهال پرې اخته وو نو دويم به عيني هغه لومړنی وي لکه ته چې وايې ان مع زيد مالا ان مع زيد مالا بې شکه له زيد سره مال دی، بې شکه له زيد سره مال دی او يا به دواړه ځايونه د جنس لپاره وي يعنې هغه سختي چې هر سړی پرې پوهېږي نو په دې صورت کې به هم دويم عيني اول وي.

ابو البقاء عکبري په "املاء ما من به الرحمان" کې ليکي:

العسر فى الموضعين واحد لان الالف و اللام توجب تكرير الاول.

عسر په دواړو اياتونو فان مع العسر يسرا او ان مع العسر يسرا کې هماغه يو دی ځکه الف لام د اول تکرار لازمي ګرزوي.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."
www.javedahmadghamdi.com
www.al-mawrid.org

(۲۸۹/۲)

مولانا پوهېدای شي چي د الوسي کوم الفاظ يې د ځان په ملاتړ نقل کړي وو هغه د ده د دريځ په رد او زموږ په تائيد کي پرېکنده حجت دی، په عربي ژبه کي دا ييخي منل شوې قاعده ده چي که په الف لام معرفه اسم په هماغه بڼه تکرار شي نو دويم به عيني اول وي، نو که مولانا په أَن يَنكِحَ الْمُحْصَنَاتِ [38] کي د المحصنات الف لام د عهد ذهني لپاره بولي نو په نصف ما على المحصنات کي به يې هم د عهد ذهني لپاره بولي، په عربي ژبه کي له دې پرته د بل صورت لپاره هيڅ امکان نه شته.

درېيمه نيوکه:

"د محصنات لفظ مشترک ګڼل ناپوهي ده، څرګنده ده چي مشترک لفظ د مختلفو معناوو لپاره په جلا–جلا ډول ټاکل کېږي، لکه د عين لفظ چي د سترګې، چينې او نورو معناوو لپاره په جلا–جلا ډول ټاکل شوی دی مګر د محصنات لفظ داسي نه دی، د هغه مصدر د يوې معنا "المنع" لپاره ټاکل شوی چي څلور ډولونه(اقسام) لري. "

مشترک لفظ هم د اصول الفقهې يوه اصطلاح ده او هم په عربي و نورو ژبو کي صرف د الذى تشترک فيه معان کثيرة په معنا مستعمل يو اسم. مولانا چي کوم تعريف نقل کړی له شک پرته د اصولو په کتابونو کي د همدې تعريف په حدودو کي کارېږي، خو څرنګه چي زموږ ليکنه د ژبنيو بحثونو په اړه وه له همدې امله دا لفظ په خپل عام مفهوم کارول شوی دی. د لويو پوهانو په ليکنه کي يې د دې مفهوم د استعمال مثالونه شته، ابو بکر جصاص په احکام القرآن کي ليکي:

لان الاحصان اسم مشترک يتناول معانى مختلفة. (۲/ ۱۶۴)

ځکه چي احصان يو مشترک اسم دی چي مختلفې معناوې لري.

[38] النساء۴ : ۲۵



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دا خو زموږ لپاره یوه نیکمرغي ده چي مولانا د جاهل په لقب نازولي یو مګر د ابو بکر جصاص په اړه څرګنده نه ده چي نوموړی به یې په اړه څه وایي؟.

څلورمه نیوکه:

" دا خبره بالکل ناسمه او د درک وړ نه ده چي تقتیل په عبرتناکه توګه د وژلو په معنا دی او څرنګه چي رجم هم د عبرتناک قتل یو شکل دی له همدې امله هغه هم په تقتیل کي شامل دی، ځکه تقتیل عبرتناک قتل ته نه ویل کېږي. د تقتیل لفظ له قتل څخه د تفعیل باب مصدر دی او د تفعیل باب خاصه تکثیر دی، ښکاره ده چي د قتل د فعل تکثیر له واسطې پرته نه شي راتلای بلکي د هغه په مفعول کي د تکثیر په واسطه سره را منځ ته کېدای شي یعني د قتل د فعل تکثیر د ډیرو مقتولینو په ضمن کي موجودېدای شي."

د مولانا دا نیوکه د هغه د علمي سویې له مخي سمه ده. له کومه وخته چي سیبویه په خپل کتاب کي دا جمله لیکلې چي: فـأذا اردت كثرة العمل قلت كسّرته [39] نحویان عموما د تفعیل باب د خواصو بحث پر تکثیر ختموي، خو د قرآن کریم او عربي کلام له تتبع څخه ښکاري چي په څه ډول تفعیل د فعل په معنا د تکثیر لپاره راځي همدا ډول د فعل په را منځ ته کولو کي د سختۍ او مبالغې د تعبیر لپاره هم په عربي ژبه کي مستعمل دی. [40]

---

[39] نو کله چي ته غواړې د فعل کثرت بیان کړې نو د کسرته پر ځای د سین په تشدید سره كسّرته وایه. (۴/ ۱۷۵)

[40] د تفعیل دا خاصیت د فن ځینو پوهانو هم بیان کړی دی د بیلګي په توګه د فصول په شرح نوادر الوصول کي دي: و مبالغة و این خاصه در این باب غالب است و سه قسم باشد: اول در نفس فعل و این اصل است نحو صرح خوب ظاهر شد و کرد ... الخ.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

يو عام قاموس مثلا الرائد يا المنجد در واخلئ وګورئ د صرع، خطف، ضرب، لطم، طرح او نورو ډيرو افعالو د تفعيل باب معنا په دې قاموسونو کې د مبالغة صرع يا بالغ في صرعه، صرعه شديدا يا بشدة په الفاظو بيان شوې ده.

د ابو ذؤيب هذلي شعر دی:

الفيت اغلب من اسد المسد حديـ ـد الناب اخذته عفر فتطريح

" ما هغه وموند چې د مسد بيديا تر تيزو څپونکو زمريانو ډېر قوي دی چې نيونه يې عاجزوونکې او بيا په بد ډول چرمووړونکې ده."

په دې کې شاعر د طرح پر ځای د تطريح لفظ د غورځولو او يا چرموړلو د سختۍ لپاره غوره کړی، د شعر مضمون دلته د تکثير معنا نه شي منلای.

حجل بن نضله د خپلې زغرې په ستاينه کې وايي:

تحتي الاغر و فوق جلدي نثرة زغف ترد السيف وهو مفلل

" تر ما لاندې د سپين تندي درلودونکی اس او پر بدن مې د پراخو او پياوړو کړيو زغره ده، توره داسې ګرزوي چې تېره اړخ يې په بد ډول مات شوی وي."

په دې شعر کې هم د فل پر ځای تفليل د مبالغې او شدت ښوونې لپاره راغلی، د زغرې ښيګڼه همدا ده چې توره پر هغې تر ګوزار وروسته بيا د وار کولو وړتيا نه لري.

څرګنده ده چې د دې لپاره د ډيري ماتيدو تعبير په هيڅ ډول مناسب نه شي کېدای، متمم بن نويره د خپلې اوښې په ستاينه کې وايي:

بمجدة عنس كان سراتها فدن تطييف به النبيط مرفّع

" له يوې ګړندۍ چاغې اوښې سره چې ګواکې کومې يې يوه لوړه ماڼۍ ده او پر شاوخوا د نبط قوم خلک را څرخي."

دلته هم د مبالغې لپاره د مرفوع پر ځای مرفّع راغلی دی، د متلمس شعر دی:



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

نعامة، لما صرّع القوم رهطه  تبين فى اثوابه كيف يلبس

"کله چې دښمن د نعامه ډله په سختي سره ووژله نو هغه د څنګه جامو له اغوستلو سره را څرګند شو."

په دې شعر کې چې د کومې ډلې یادونه ده هغه په تورو وژل شوې وه، څرګنده ده چې دا د مبالغې او شدت مضمون دی له همدې کبله ښکاره ده چې دلته تصریع د ډیري وژنې په معنا نه شي کارېدای.

ام قیس وايي:

فرّجته بلسان غیر ملتبس  عند الحفاظ و قلب غیر مزؤد

"تا د ساتنې او دفاع پر وخت په خپله فصیحه ژبه او نه ویریدونکي زړه د هغه هره غوټه په بشپړه ډول پرانیسته."

په دې شعر کې هم مبالغه ده، ځکه نو دلته د تفریج معنا په بشپړه ډول پرانیستلو سره کېدای شي.

د تقتیل لفظ هم همداسي د مبالغة فی القتل یعني په سخت ډول وژلو په معنا کارېدای شي، په قرآن کي دي:

مَلْعُونِينَ أَيْنَمَا ثُقِفُوا أُخِذُوا وَقُتِّلُوا تَقْتِيلاً (الأحزاب ۳۳: ۶۱)  دوی چې هر ځای وي ملعونین به وي، نیول کېږي به او په بد ډول به وژل کېږي.

د سورت الأحزاب د دې ایت سیاق او سباق او د الفاظو سختي په ښکاره وايي چې په دې کي د قتل تشدید د مبالغې او شدت لپاره دی او منصوب مصدر د دې شدت د تاکید لپاره راغلی، دلته په هیڅ ډول قُتِّلُوا د په ډیر کثرت سره به وژل کېږي په معنا نه شي کارېدای، هر د ذوق خاوند احساسوي چې که دا معنا واخیستل شي نو د أَيْنَمَا ثُقِفُوا أُخِذُوا ټول زور به له منځه ولاړ شي.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د امرء القیس په معلقه کې دي:

و ما ذرفت عیناک الا لتضربی     بسهمیک فی اعشار قلب مقتل

"ستا سترګو صرف د دې لپاره اوښکې وبهولې چې ته په خپلو دې دوو غشو د ځپل شوي زړه ټوټې وځپې."

د قلب مقتل معنا ده: اهلک هلاکا و ذلل غایة التذلیل. دا د مبالغې او شدت تعبیر دی، مورد دې لپاره د ځپل شوي زړه ترکیب غوره کړی دی، هر چا ته چې د ژبې او ادب د ذوق لږ برخه ورکړل شوې وي هغه به له څه شک پرته ومني چې په دې شعر کې یې همدا معنا کېدای شي.

د قران کریم او عربي کلام له دې شواهدو په ډاګه کېږي چې که د مایدې په ۳۳ ایت کې که اَن یُقَتَّلُوا د قتل پر ځای له تقتیل څخه مشتق وي نو دا کوم بې ګټې بدلون نه دی، په جوړښت کې زیادت د معنا زیاتولو لپاره دی او د ایت مفهوم دلیل دی چې دا زیاته معنا مبالغه او شدت دی، له همدې کبله دا ترجمه چې په ځمکه کې فساد کوونکی مجرم دې په عبرتناکه توګه ووژل شي د عربیت له مخې بیخي پر ځای دی.

## د مولانا ابو شعیب صفدر علي نیوکې

نوموړي د لغت او نحوې له مسایلو سره اړوند زموږ پر نظرونو صرف دوې نیوکې کړې دي:

د هغه لومړنۍ نیوکه د النساء مُحْصَنَاتٍ غَیْرَ مُسَافِحَاتٍ [41] په ایت کې د محصنات لفظ د معنا په اړه زموږ پر هغه تحقیق ده چې تر دې وړاندې د همدې سلسلې په بحثونو کې تیر شوی دی.

[41] ۴ : ۲۵



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دويمه نيوکه يې د عباده بن صامت په مشهور روايت: **البكر بالبكر جلد مائة و تغريب عام**[42] کي د واو په اړه د استاذ امين احسن اصلاحي پر هغه نظر ده چي د ده په تفسير تدبر قرآن کي داسي بيان شوی دی:

"په همدې رڼا کي که د عباده بن صامت روايت تاويل شي نو هم يو واقعيت درلودلای شي، هغه دا چي هلته د واو موجود حرف يې د جمعې پر ځای د تقسيم په معنا واخيستل شي." (۵ / ۳۷۴)

ده د خپلې دې نيوکې په وضاحت کي ليکلي دي:

"همدا (د عباده بن صامت ياد شوی روايت دی) حديث دی چي په اړه يې ويل کېږي که په هغه کي موجود واو د جمعې پر ځای د تقسيم په معنا واخيستل شي نو خبره واضحه کېږي چي زاني واده ولري او که نه د هغه اصلي سزا په درو وهل دي، البته د محاربې د ايت له مخې حکومت واک لري چي که بې واده زاني د درو په سزا نه ارامېږي نو حکومت دې يې د يوه کال لپاره له وطنه وشړي او که واده درلودونکي زاني د درو په سزا نه قابو کېږي نو حکومت واک لري چي د همدې ايت له مخې يې رجم کړي. مګر څو شيان د دې مخه نيسي چي واو دې د جمعې پر ځای د تقسيم په معنا شي.

۱) د عباده بن صامت په يوه روايت کي واو شته مګر له هغه څخه په بل روايت کي دا الفاظ نقل شوي دي:

| | |
|---|---|
| **الثيب جلد مائة. ثم رجما بالحجارة. و البكر بالبكر جلد مائة ثم نفى سنة.** (احمد، شميره: | واده درلودونکی دې سل درې ووهل شي او بيا دې په ډبرو رجم شي، بې واده دې سل درې ووهي او بيا دې د يوه کال لپاره جلا وطن کړي. |

[42] فتح الباري د ابن حجر ۱۲ / ۱۵۷



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۲۲۶۳۳)

دا روايت ښيي چې په لومړني روايت کې واو د جمعې په معنا دی.

۲) که په دې روايت کې واو د تقسيم په معنا شي نو د حديث معنا به داسې وي: بې واده ته دې د سلو درو يا يو کال جلا وطنۍ سزا ورکړل شي او واده درلودونکي ته دې د سلو درو يا رجم سزا ورکړل شي.

په دې صورت کې به نه يوازې د واده درلودونکي بلکې د بې واده په اړه هم د سورت النور ايت منسوخ بولو." [43]

د مولانا صيب دا نيوکه په حقيقت کې د کلام نه پېژندنې يو ډېر دردوونکی مثال دی، استاذ امام هيڅ ځای دا خبره نه ده کړې چې د عباده بن صامت په روايت کې واو د اختيار لپاره دی، هغه واو د تقسيم په معنا بللی دی، د تقسيم او اختيار الفاظ د اصطلاح له مخې نه د لغت له مخې هم په يوه معنا نه کارېږي، ده چې کومه معنا بيان کړې د هغې لپاره يوازې د تقسيم لفظ نه بلکې د اختيار يا تخيير لفظ کاروي. د هغې معنا له مخې يقينا دا خبره سمه ده چې په حديث سره نه يوازې د واده درلودونکي بلکې بې واده په اړه هم د سورت النور ايت منسوخ شي، مګر لکه څرنګه چې موږ ووېل: د استاذ امام په نزد په البکر بالبکر جلد مائة و تغريب عام کې واو د تخير لپاره نه دی، د هغه په نزد دا د تقسيم واو دی او ده چې يې کومه معنا بيان کړې د ده په الفاظو داده:

"يعني زاني واده ولري او که نه د دواړو اصلي سزا دورې دي خو که کوم بې واده په درو سره نه کنټرولېږي نو که حکومت يې مصلحت وبولي د مايدې د ۳۳ ايت له مخې د جلا وطنۍ سزا هم ورکولای شي، ځکه په دې ايت کې حکومت ته د نفيې (جلا وطنۍ) واک هم سپارل شوی دی، همدا راز د واده درلودونکي اصلي زاني سزا لکه روايت چې

---

[43] د محسن زاني سزا، الأعلام ګڼه: ۸، مخ: ۲۷



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وايي دورې دي خو که کوم څوک په دورو سره نه کنټرولېږي او د ټولنې لپاره يو خطر ګرزېدلی وي نو حکومت د سورت المايدې له مخې هغه ته د تقتيل يعني رجم د سزا ورکولو اختيار لري." (تدبر قرآن ۵ / ۳۷۴)

استاذ امام د همدې مفهوم لپاره د تقسيم لفظ استعمال کړی دی، ابن هشام د عربي ژبې پر حروفو په خپل مشهور کتاب مغنی اللبيب کې د دې اطلاق پر همداسې مفاهيمو کړی دی. مولانا صيب ته له بخښنې سره وايو چې که دی د تقسيم او تخير په توپير هم نه وو خبر نو د ده لپاره غوره داده چې پر دا ډول فني بحثونو ليکنه و نه کړي، زموږ د دې وضاحت په رڼا کې ليدلای شي چې د ده نيوکه يقينا پر خپله ليکل شوې معنا واردېدای شي خو د استاذ امام له نظر سره هيڅ تړاو نه لري.

دلته بايد دا خبره هم څرګنده شي چې استاذ امام د ياد حديث کومه معنا بيان کړې، هغه د عربيت له مخې بيخي پر ځای ده. موږ په پوره اطمنان سره ويلای شو چې واو په عربي ژبه کې په همدې معنا کارېږي، بيلګې يې له قرآن او عربي کلام دواړو څخه وړاندې کېدای شي. د اختصار له امله دلته يوازې د قرآن پر ګواهۍ بسنه کوو. الهي وينا ده:

وَاللاَّتِي تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ فَعِظُوهُنَّ وَاهْجُرُوهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ وَاضْرِبُوهُنَّ (النساء ۴ : ۳۳)

او تاسو چې له کومو ميرمنو څخه د سرغړونې انديښنه لرئ هغوی ته نصيحت وکړئ، د خوب په ځايونو کې يې يوازې پرېږدئ او ويې وهئ.

په دې ايت کې د سرغړوونکو ميرمنو د اصلاح لپاره د درو تدابيرو د غوره کولو لارښوونه شوې ده: يو دا چې هغوی ته نصيحت وشي، دويم دا چې د خوب په ځايونو کې يوازې خوشې شي او دريم دا چې سزا ورکړل شي. دا درې تدبيرونه د واو په حرف بيان شوي دي، له عربيت سره اشنا هر سړی په لږ غور سره پوهېدای شي چې د ايت دلالت پر لاندې دوو شيانو بالکل ښکاره دی:



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۱) دا درې سره تدابیر به پر یوه وخت نه غوره کېږي بلکې لومړی به د نصیحت، ترټنې او ملامتیا په وسیله د هغې د پوهولو هڅه کېږي، که په دې سره اصلاح نه شي نو بې تکلفه خلوت به پرېږدي او که په دې سره هم حالت سم نه شو نو نارینه ښځه ډبولای شي.

۲) لازمه نه ده چې دا درې تدابیر دې غوره شي، یقینا وعظ او نصیحت په هر حال کې ضروري دی خو اړیکې به له هغو ښځو سره غوڅېږي چې وعظ او نصیحت پرې هیڅ اغیز ونه کړي او وهل د هغو لپاره دي چې له دې پرته نه سمېږي.

د تدابیرو دا ویش د نتیجې له مخې دی، یعني که یې یو تدبیر ګټه ونه لري نو دویم دې غوره شي. استاذ امام د عباده بن صامت په یاد روایت کې عیني همدا معنا اخیستې، په عربي ژبه کې عموما له دې معنا څخه د ثم په حرف تعبیر کېږي، د لغتو امام زمخشري د نساء د یاد ایت په تفسیر کې لیکي:

امر بوعظهن اولا ثم هجرانهن فی المضاجع ثم بالضرب ان لم ینجح فیهن الوعظ و الهجران. (الکشاف ۱/ ۵۳۹)

لومړی هغوی ته د نصیحت کولو امر وشو، بیا د اړیکو پرېښودو لارښوونه شوې او که تر دې وروسته نصیحت او د اړیکو پرېښودل دواړه یې اصلاح نه کړای شي نو د هغوی د وهلو اجازه شوې ده.

د کشاف د لیکوال له الفاظو ښکاري چې د دې معنا لپاره تر واو د ثم حرف ډېر څرګند دی، له همدې امله د عباده بن صامت د دې روایت په بله طریقه کې د واو پر ځای ثم استعمال شوی دی. نیو که کوونکي همدغه روایت د خپل دریځ په تائید کې وړاندې کړی دی، د هغه دا جرأت واقعا د شاباسي وړ دی چې کوم شی د ده د رد لپاره قطعي حجت وو دی یې په خپل تائید کې وړاندې کوي. د ده په خدمت کې له دې پرته بل څه وړاندې کېدای شي چې چه خوش چرا نباشد.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

تر دې ځایه مې د استاذ امام نظر تشریح کړ، د دې روایت په اړه زما فکر له ده بیل دی. زما په اند د دې روایت له الفاظو ښکاري چې په دې کي کومې سزاوې بیان شوې دا د هغو بد کارو لپاره دي چې د النساء په پنځلسم او شپاړسم ایت کي یې یادونه شوې ده. د ایت الفاظ ښیي چې دا حکم د دوه ډوله مجرمینو په اړه دی، یو ډول هغه میرمنې چې شپه او ورځ یې زنا دنده وه، دویم ډول هغه نارینه او ښځې چې د دوی ناروا اړیکو د یارۍ او اشنایۍ دایمي بڼه خپله کړې او له بیلابیلو مراحلو په تیریدو د هرې ورځې معمول ګرزېدلې وي. قرآن کریم د دې لپاره د وَاللاَّتِي يَأْتِينَ الْفَاحِشَةَ (هغه ښځې چې بد کاري کوي) او وَالَّلَذَانَ يَأْتِيَانِهَا (هغه نارینه او ښځې چې بد کاري کوي) الفاظ کارولي، د بد کارۍ همدا دوه ډولونه دي چې د دې لپاره قرآن د قرآن په ځینو نورو ایاتونو کي د مسافحات (په څرګنده بد کاري کوونکې) او متخذات اخدان (یارانې کوونکې) تعبیر غوره شوی. له دې الفاظو په څرګند ډول معلومېږي چې دا هغه مجرمین نه دي چې یو وخت له احساساتو څخه په مغلوبیدو زنا کوي او د سورت النور په دې ایت الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا مِئَةَ جَلْدَةٍ [44] کي یې سزا بیان شوې، په زنا روږد دا مجرمین چې عموما د خپلو سردارانو د اسلام منلو او یا دنیوي ګټو له امله په اسلام کي تر داخلېدو وروسته هم خپل فعالیتونه پرې نه ښودل نو د نساء په دې ایت کي یې په اړه لاندینۍ لارښوونې وشوې:

۱) په بد کارۍ روږدې میرمنې دې په کورونو کي تر هغو بندې شي چې یا یې مرګ ټولنه له وجوده پاکه کړي او یا الله د دوی لپاره کوم بل حکم نازل کړي.

۲) د یارانو کوونکې نارینه او ښځې دې وډبول شي که یې ځان اصلاح کړ بیا دې خوشې شي که نه د دوی په اړه دې هم الهي حکم ته انتظار وایستل شي.

---

[44] النور ۲۴ : ۲



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

له دې لار ښوونو معلومېږي چي له لنډ مهالې دورې سره يې تړاو درلود، د عباده بن صامت د ياد روايت مطلب په حقيقت کي همدا دی چي وروسته رسول الله ته د خفي وحې په وسيله وويل شول چي دوی صرف د زنا مجرمين نه دي بلکي د خپلې بد معاشۍ، بې لارۍ او جنسي انحراف له امله په ځمکه کي د فساد مجرمين هم دي. له همدې امله دې په دوی کي هغو مجرمينو ته چي د خپل حالت د نوعيت له مخې د رعايت وړ دي د زنا په جرم د سورت النور د دويم ايت پر بنسټ د سلو دورو او د دوی له شر څخه د ټولنې د ژغورنې لپاره د دوی د بد معاشي په سزا کي د سورت المايدې د ۳۳ ايت پر بنسټ د نفيې يعني جلا وطنۍ سزا ورکړل شي او په دوی کي دي هغو مجرمينو ته چي ورسره رعايت ممکن نه دی د مايدې د همدې ايت له مخې د ان يقتّلوا پر بنسټ رجم شي.

په دې روايت کي له رجم سره د سلو دورو سزا هم بيان شوې ده، خو زموږ په نزد دا يوازي قانوني وضاحت دی په رواياتو ثابته ده چي رسول الله له رجم سره د زنا په جرم هيچا ته د درو سزا نه ده ورکړې، ځکه د مرګ له سزا سره د بلې سزا يو ځای کول د قانوني حکمت خلاف دي. د قانون دا حکمت صرف په اسلامي شريعت کي نه بلکي د نړۍ په هر مهذب قانون کي د پاملرنې وړ دی، د دورو او جرمانې په ټولو سزاوو کي دوو خبرو ته پاملرنه کېږي: يو د ټولنې عبرت او دويمه په راتلونکې کي د مجرم تاديب او خبرداري. ښکاره ده چي د مرګ په صورت کي تاديب او خبرداري ته اړتيا نه شته، له همدې امله چي کله په بېلابېلو جرايمو کي کوم چا ته سزا ورکول کېږي او په هغو کي د کوم جرم سزا مرګ وي نو نوري ټولي سزاوې له منځه ځي.

که د دې بحث په رڼا کي وګورو په روايت کي د سزا ويش د نتيجې له مخې نه دی، د جرمونو له مخې دی يعني که يو څوک له بدماشۍ سره د سزا مجرم هم وي نو د دې روايت له مخې به د دواړو سزاوو مستحق بلل کېږي نو سزاوې به مجرم ته په پام جمع او د جرايمو په اعتبار به ويشل کېږي. زموږ په نزد د عربيت له مخې د واو او ثم حرف دواړه د دې



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مفهوم لپاره بالکل مناسب دي، که مولانا صيب غواړي نو موږ به يې حضور ته بېلګي او شواهد هم وړاندي کړو.

پاتي شو د مولانا صيب لومړنۍ نيوکه چي د محصنات د معنا په اړه يې زموږ پر نظر کړې نو په ځواب کي يې موږ خپل هغه مضمون دلته را اخلو چي د الاعلام په څلورمه ګڼه کي د ده د مضمون محصن زاني سزا تر خپريدو وروسته د همدې مجلې په پنځمه ګڼه کي خپور شوی وو. مضمون دا دی:

زموږ ګران دوست محترم مولانا ابو شعيب صفدر علي صيب چي د محصن زاني سزا تر عنوان لاندي کوم حيرانوونکي څه ليکلي د دې شاباسی هغه خلګ ورکولای شي چي دعربي کلام د اسلوبو په مطالعه کي يې د خپلو تورو ويښتانو تر سپينولو وروسته د ژوند په لومړي ځل د دې ليکنې په وسيله د لغتو او نحوې د فن په اړه د دومره هېښوونکو موندنو د فيض فرصت تر لاسه کړی دی. تاسو د دې خبرې اټکل کولای شئ چي د نومړي محقق په دې تحقيق تر خبريدو وروسته به دې ماهرينو پر خپل محروميت څومره تاسف څرګند کړی وي چي په عربي ژبه کي د تعريف يو داسې لام هم موندل کېږي چي که پر کوم لفظ داخل شي نو په عموم کي يې د لېوني، نا بالغ او مجبور شمول ممنوع ګرزي. ايا دا کومه معمولي خبره ده چي د کومې مسئلې په څېړنه کي شاطبي د خپل کتاب الموافقات په لسګونو صفحې توري کړې زموږ محقق په ډېره بې پروايي صرف د يوې ليکې (او هغه هم حاشيې) په ليکلو د تل لپاره حل کړې ده. د دې عصر خلګ که اوس هم د علم او څېړنې په نړۍ کي د اشخاصو د نه شتون ماتم کوي نو موږ يې له دې پرته بله څه چاره لرو چي د دوی پر عقلونو وير وکړو.

ښاغلي د نوادرو دا مجموعه زما د يوه مضمون په رد کي ليکلې او دی زما يو نژدې ملګری هم دی، له همدې امله د حق پېژندنې غوښتنه دا ده چي زه يې د خپلې هرې نادرې له شاباسي څخه بې برخې نه کړم، مګر في الحال يې يوازي د دوو پر يادونه اکتفا کوم



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ځکه د نوموړي د قلم ټول زور په حقیقت کي د همدې دوو پر لیکنه او تدوین دی. داسي ښکاري چي نور ټول نوادر یې د همدې دوو د جلال او جمال ښودلو لپاره چمتو کړي دي.

۱) زموږ د څېړونکي په وینا یې د مضمون په اول نیمایي کي ځان له هر ډول فکري تعصبونو او ذهني ملاحظاتو پاک ساتلی او پر دې یې بحث کړی دی چي ایا د عربي ژبې اسم صفت محصنات د مینځو لپاره استعمالېدای شي؟. نوموړي د دې مسئلې په تحقیق کي د عربي ژبې ټول قاموسونه لټولي، له لسان العرب، جوهري او صراح څخه یې په خپل مضمون کي اقتباسونه نقل کړي دي. د دې لفظ د مادې په موندلو یې د اصلي معنا لټولو هڅه کړې، د هغه فاعلي او مفعولي استعمالات یې په ګوته کړي. د عربي کلام په استناد یې په جاهلي عربو کي د مینځو او ازادو ښځو ټولنیز توپیرونه واضح کړي، د خوندي او پاک لمنو ښځو د یادونې لپاره یې په عربي ژبه کي د بېلابېلو اسلوبو او الفاظو د کارونې لپاره د قرآن کریم د ډېرو ایاتونو شواهد وړاندې کړي. لنډه دا چي د حقیقت په لټه یې ډېره هڅه کړې، د دې پلټنې او تحقیق په دوران کي چي نوموړي د صرفو او نحوې په فن کي کومې حیرانوونکې موندنې تر لاسه کړې او موږ یې پورته د نمونې په توګه د یوې یادونه وکړه نو حقیقت دا دی چي تر پېړیو به د ماهرینو سرونه ټیټ کړي. د ذوق خاوندان به دا ډول معارف بل کوم ځای ومومي؟ او س که څوک د علم په کوم مجلس کي خوله پرانیزي نو دوستان به یې پر خوله لاس ږدي او د مجلس مشر ته به وایي چي:

عشوه زان لب شیرین شکر باز بیار

مګر د مضمون په دې برخه کي چي کومه خبره تر دې ټولو موندنو ډېر وزن لري هغه د دې ټول تحقیق نتیجه ده، نوموړی د دې ټولو درو تر وهلو وروسته وایي: د عربي کلام او قرآن کریم له لټون څخه همدا ښکاري چي محصنات لفظ په حقیقت کي د مینځو لپاره نه دی استعمال شوی، البته ازهري خبر ورکړی چي که مینځې ازادې شي، یا واده ورسره وشي او یا اسلام ومني نو د هغوی لپاره یې هم استعمال جایز دی.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

نوموړي چې د دې لپاره کوم بیابانونه وهلي موږ یې تفصیل پورته بیان کړ خو د تحقیق دې نتیجې چې څه شي ته د کلاسیک درجه ورکړې هغه دا دی چې ښاغلي محقق د سورت النساء په کوم ایت کې د محصنات لفظ د معنا په ګوته کولو لپاره دا ټولي لوړې او ژورې وهلې هغه پر خپل ځای د دې خبرې قطعي حجت دی چې بې شکه دا لفظ په عربي ژبه کي د مینځو لپاره د مستقل صفت [45] په توګه نه دی استعمال شوی. مګر د ټولو صفتي اسماوو په څېر چې دا پر کومو اوصافو دلالت کوي، که یې مینځې هم په ځان کي پیدا کړي نو د هغوی لپاره هم داسي استعمالېدای شي لکه د ازادو ښځو لپاره. قرآن کریم په دې ایت کي د همدې لپاره کارولی، د لفظ پر استعمال د ایت دا دلالت داسي څرګند دی چې د قرآن کریم یو عام لوستونکی هم له څه تکلیف پرته پرې پوهېږي، خو زموږ پر محقق دې شاباسی وي چې د مضمون لیکنې پر مهال یې دا ایت له سترګو غایب وو. ده یې د معنا په تحقیق کي دا هر څه لیکل، یو ځای یې په ناخبري قلم پر دې خبره هم اعتراف کړی چې دا لفظ دلته د مینځو لپاره کارول شوی خو له دې سره – سره دې غریبانو د دې لفظ د نه جواز په بحث کي هرې درې ته ورتګ خوښ کړی دی صرف دې ایت ته د رجوع زحمت یې نه دی کړی.

څرګنده نه ده چې د ادب کره کتونکي به د دې نه پاملرنې کوم اسباب په ګوته کړي؟ مګر تر کومه ځایه چې په موږ پوري اړه لري نو موږ یې د نوموړي ډېره تقوا ګڼو چې دلته خبره د محصناتو وه، له همدې امله یې پر دې نازکه موکه د سترګو ټیټولو حدودو په مراعاتولو کي هیڅ بې احتیاطي نه ده کړې، هغه ایت دا دی:

وَمَن لَّمۡ يَسۡتَطِعۡ مِنكُمۡ طَوۡلاً أَن يَنكِحَ او څوک چې په تاسو کي له ازادو مېرمنو

---

[45] د مستقل صفت په توګه د نه استعمال او په مطلق ډول د نه استعمال تر منځ توپیر څه دی؟ په دې خبره د پوهېدو هڅه کول د نوموړي له علمي شان سره مناسب نه دي، مګر بیا هم کېدای شي چې زموږ په شان زده کوونکو د زړه تر لاسه کولو لپاره پر دې خبرې د غور کولو زحمت وزغمي.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

الْمُحْصَنَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ فَمِن مِّا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُم مِّن فَتَيَاتِكُمُ الْمُؤْمِنَاتِ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِإِيمَانِكُمْ بَعْضُكُم مِّن بَعْضٍ فَانكِحُوهُنَّ بِإِذْنِ أَهْلِهِنَّ وَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ مُحْصَنَاتٍ غَيْرَ مُسَافِحَاتٍ وَلَا مُتَّخِذَاتِ أَخْدَانٍ (النساء ۴ : ۲۵)

سره د نکاح توان نه لري نو له هغو مومنو مینځو سره دې نکاح وکړي چې ستاسو په ولکه کې دي، الله ستاسو په ایمان ښه خبر دی. تاسو ټول له یوه جنس څخه یاست نو له دې مینځو سره د هغوی د مالکانو په اجازه نکاح وکړئ، له دود سره سم یې مهر ورکړئ په داسې حال کې چې هغوی محصناتې وي نه په ښکاره بد کاري کوي او نه په پټه اشنايي کوونکې وي.

زړه مې غواړي چې د نوموړي په مخ کې دا ایت تلاوت کړم او ترې وپوښتم چې په دې ایت کې محصنات په څرګنده د مینځو لپاره استعمال شوی او تر قرآن پورته نه په دین کې بل کوم شی حجت دی او نه د عربي ژبې په استعمال کې، نو تا ولې د خپل مضمون په دې برخه کې دا ایت له پامه غورزولی دی او د محصنات لفظ د استعمالاتو په ګوته کولو لپاره دې د دې قطعي نص پر بنسټ د استدلال پر ځای دې لالهاندیو ته ترجیح ورکړې؟ مګر له دې وېرې د خبرې کنټرول ته مجبور یو چې دی به په ځواب کې ووایي: تاسو عامیان څه پوهېږئ د فن د استاذانو د تحقیق طریقه څه وي؟ یو وخت راشئ زموږ په وړاندې د شاګردۍ ګونډه ووهئ، بیا به درته ووایو چې د فني طریقې او د هغې عامیانه طریقې تر منځ څه توپیر وي چې تاسو یې د دې کار لپاره غوره کوئ؟.

۲) د مضمون په دویمه نیمایي کې ښاغلي څېړونکي زما هغه نظر رد کړی چې د سورت النساء په یاد ایت کې مې د محصنات لفظ په اړه وړاندې کړی، ما ویلي: دلته د محصنات لفظ د پاک لمنو مېرمنو په معنا کارول شوی، د واده درلودونکو په معنا نه دی استعمال شوی. د خپل دې نظر لپاره چې مې کوم دلایل وړاندې کړي وو په هغو کې یو دلیل دا هم وو چې دلته د محصنات لفظ یوازې نه دی راغلی د مسافحات په مقابل کې



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

استعمال شوی دی او عیني په هغه ډول کارول شوی لکه څرنګه چې موږ وایو: هو عالم لیس بجاهل (دی عالم دی جاهل نه دی) له همدې امله د ژبې د دې منل شوي قانون له مخې چې کله لفظ په دا ډول کومه جمله کې کارېږي نو معنا یې په مقابل کې د کارول شوي ضد لفظ له مخې معلومېږي. له همدې امله دلته د محصنات لفظ له پاک لمنو ښځو پرته بل مفهوم نه لري، ځکه د هغه مقابل لفظ مسافحات د بد کاري کوونکو ښځو په معنا کې قطعي دی او د بد کارۍ ضد په هر حال پاک لمني ده.

څرنګه چې زما دا دلیل د هغو خلګو لپاره هم څرګند وو چې حساس فني بحثونه وړاندې درنېږي له همدې امله نو موږ د مضمون په دې برخه کې نورو دلایلو ته له پام پرته پر همدې خبرې کړې دي.

نو موږ د محقق د مهربانۍ له مخې هغه قاعده چې دا دلیل پرې بنا دی له څه نیوکې او جرحې پرته هماغسې منلې او موږ یې همدا اوس په پورته پرګراف کې وضاحت بیان کړ خو له دې قاعدې څخه چې کومه نتیجه تر لاسه کېږي هغه د ده لپاره د منلو وړ نه وه. له همدې امله یې د ځان بدلولو پر ځای له یوه او بله ځایه ځیني شیان را اخیستي او د مسافحات لفظ د معنا بدلولو ته یې ملا تړلې ده.

نو موږ د فن د پخو ماهرینو په څېر دا ځل هم د خپل څېړنیز سبک بدلون نه دی خوښ کړی، د مینځو لپاره د محصنات د لفظ د موزونیت او نه موزونیت په څېر یې دلته هم لومړی د عربي ژبې په اسماوو کې د مسافحات مقام په ګوته کړی، خپلو لوستونکو ته یې د هغه د اصل او باب خبر ورکړی، د زنا، فاحشه او سفاح د استعمال د ځایونو توپیر یې بیان کړی دی، له لسان العرب او تاج العروس څخه یې د لغت پوهانو یناوې نقل کړې دي. د احمد بن حنبل له مسند څخه یې یو – دوه نه بلکې درې احادیث د استناد په ډول وړاندې کړي او تر دې وروسته یې په ډېر اطمنان سره د خپل تحقیق دا نتیجه اعلان کړې چې دې ټول بحث دا نتیجه ثابته کړه چې د مسافحة لفظ په عربي کې د بد کاري کوونکو



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

په معنا نه بلکي له نکاح پرته تر يو څه موده د يو چا د مېرمنۍ په توګه پاتېدل او بيا وروسته په خپله خوښه د جلا کېدو په معنا استعمالېږي. دا خبره ښخي قطعي ده چي د سورت النساء په ياد ايت کي د محصنات لفظ د مسافحات په مقابل کي د استعمال له امله په نکاح کي د خوندي شويو په معنا دی او د پاک لمنو ښځو په معنا يې اخيستل په هيڅ ډول صحيح نه دي.

د نوموړي د تحقيق دا نتيجه هم د لومړي تحقيق د نتيجې په څېر کوم معمولي شی نه دی، دې نتيجې ته د رسېدو لپاره عيني پر هماغه لاره تللی چي په لومړي سفر کي يې غوره کړې وه. دا ځل يې هم د حقيقت موندنې په تلوسه هغه ټولي ناوې وهلې او ترې تېر شوی دی، مګر هغه کلام يې له پامه غورځولی چي پر دې ځمکه د عربي کلام تر ټولو لوی او مستند ماخذ دی. معلومه نه ده چي د امام احمد بن حنبل په پنډ مسند کي د احاديثو د لټون لپاره به يې څومره خواري کښلې وې خو د حيرانۍ ځای دا دی چي هغه ايت ته يې د سترګو ور اړولو خواري هم نه ده کښلې چي د دې مضمون ليکلو پر مهال يې پر له پسې مخ ته موجود وو او څرنګه چي په هغه کي محصنات د مسافحات په مقابل کي کارول شوی عيني په هماغه ډول مسافحات د متخذات اخدان په مقابل کي کارول شوی دی.

نوموړی له دې ناخبره نه وو چي د دين په څېر د ژبې په معامله کي هم د قرآن کريم تر حجت وروسته د بل شي حجت ته هغه که لسان وي او يا صحاح و مسانيد او جوامع له هيڅ پلوه هيڅ حيثيت نه لري او ده د لفظ د ضد له مخې د معنا ټاکلو هغه اصول هم منلي وو چي په وسيله يې د محصنات د معنا ټاکلو په هڅو بوخت وو. مګر ده فکر ونه کړ او دا ډېره حيرانوونکې ده چي ورپام يې نه شول چي متخذات اخدان په پټه د اشنايي کوونکو په معنا کي قطعي دی نو د النساء په دې ايت مُحْصَنَاتٍ غَيْرَ مُسَافِحَاتٍ وَلاَ مُتَّخِذَاتِ أَخْدَانٍ کي د مسافحات لفظ د هغه په مقابل کي د راتلو له امله په ښکاره د بد کاري کوونکو په معنا کي قطعي دی او کله چي د ياري، اشنايي او په ښکاره د بد کاري



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کوونکې الفاظ د محصنات په مقابل کې راشي لکه په دې ایت کې چې راغلي نو د هماغو اصولو له مخې چې نو موړي منلي هغه به په دې ځای کې پاک لمنو مېرمنو په معنا کې داسې قطعي وي چې بل دلیل ته به اړتیا و نه لري، ګواکي هماغه اسلوب به وي چې جاهلي شاعر ابن مقبل په خپل دې شعر کې غوره کړی دی:

من نسوة شمس، لا مكره عنف ولا فواحش في سر ولا علن

"له پاک لمنو مېرمنو سره چې نه بد مخې دي، نه بد خویه، نه په ښکاره بد کاري کوونکې او نه په پټه."

خو څه وو ایو چې د قرآن دې قطعي نص یو ځل هم زموږ د محقق په تحقیقي ماخذونو کې هیڅ ځای پیدا نه کړای شو، فیا عجبی! خو د دې تعجب څرګندولو څه ګټه؟ دی به د تحقیقي کار له فني نزاکتونو سره زموږ د نا اشنا عامیانو تعجب پر څه وشمېري؟ موږ باید د هغه دې جرأت ته سلام وکړو چې ده د ګوم باور له مخې د قرآن کریم د دې قاطع برهان په وړاندې د لسان، صحاح، مسانیدو او جوامعو په مرسته خپل دلیل وړاندې کړی او په دومره صراحت یې بیان کړی چې د ده په نزد امام اللغت زمخشري هم د الکشاف په دې عبارت کې د محصنات معنا په نکاح کې په خوندي کېدونکو کړې ده:

محصنات: عفائف والاخدان: الاخلاء في السر، كأنه قيل: غير مجاهرات بالسفاح ولا مسرات

محصنات: پاک لمنې ښځې، الاخدان: په پټه اشنایي کوونکې. ګواکي د دې ایت مفهوم دا دی چې نه په ښکاره بد کاري کوونکې او نه په پټه.

له. (۱/۵۳۲)

په هر حال د نو موړي له خپلې وینا سره سم دی له عربي کلام سره ډېره اشنایي نه لري، که نه یو ازې زمخشري نه د حماسې هغه شاعر به هم د خپل کلام په معنا د پوهېدو لپاره د ده شاګردۍ ته مجبور شوي وو چې د اهل لسان کېدو په ګومان یې د ډېرې بد کارۍ د



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

نتايجو لور ته د اشارې کولو لپاره په دې شعر کې د مسافحة لفظ د حرفوي بدکارو ميرمنو لپاره د اسم صفت په توګه کارولی:

تسد فرج القحبة المسافحة مفسدة لابن العجوز الصالحة

موږ نه پوهېږو چې د فني تحقيق ماهرين به زموږ د دوست لومړنۍ نتيجه ډېره کلاسيکه وګڼي او که دا؟، موږ عاميان خو د ده د مضمون له مطالعې دې نتيجې ته رسېږو چې دواړه د ده د غير عادي تقوا معجزې دي، ده له پاک لمنو ميرمنو (محصنات) څخه ستر ګې پټې کړې نو لومړنۍ نتيجه يې تر لاسه کړه او له دې لعنتي اشنايي کوونکو (متخذات اخدان) څخه په اړخ ساتلو يې دويمه نتيجه وموندله او په دې توګه نومړي په خپل مضمون کې صرف د خپلې تقوا په مټ علمي نړۍ ته د داسي بې مثاله نوادرو پر راوړلو بريالی شو.

کله چې زموږ دوست د دې مضمون ليکلو اراده درلوده نو موږ مشوره ورکړې وه چې زموږ د نظر تر خپرېدو وروسته که د حق ثابتولو له احساس څخه په مغلوبيت د دې مسئلې په اړه د فني بحثونو له مطالعې پرته قلم پورته کولو ته مجبور شوی وي نو په ژبه او ادب کې د اجتهاد پورته کولو پرځای دې خپل بحث د متقدمينو د استدلال تر وضاحت پورې محدود وساتي، مګر زموږ د مشورې بر خلاف هغه خپل دا اجتهادات وليکل او د محصن زاني د سزا تر عنوان لاندې يې په الاعلام مجله کې خپاره کړل. د مضمون تر خپرېدو وروسته موږ د دې اجتهادونو په اړه خپل هغه ټول ملحوظات ده ته وړاندې کړل چې يوه برخه يې پورته نقل شوې ده او له ده څخه مو غوښتنه وکړه چې که يې په ځواب کې څه ويل غواړي نو ودې وايي، خو ده اقرار وکړ چې له ده سره يې د ځواب ويلو لپاره څه نه شته. د نومړي د دې اعتراف له امله موږ پر دې لنډه تبصره بسنه کړې ده خو که يیا هم دی له خپل اعتراف څخه رجوع کوي نو يار زنده صحبت باقي بيا به يې ګورو.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

زموږ دوست چې کله دا مضمون لیکی نو د عنوان په لټون کې یې سرګردانه وو، بیا یې زموږ په وړاندیز د دې لپاره د محصن زاني سزا عنوان خوښ کړ. د هغه مضمون لا هم روان دی، که یې د دې لپاره د کوم اغېزناک پای اړتیا احساس کړه او موږ یې د هغه په انتخاب نېکمرغه کړو نو خدمت ته به یې دا شعر وړاندې کړو:

خاطر مسلسل است پریشان چون زلف یار
عیبم مکن که در شب هجران نوشته ام

۱۹۸۲

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

# حدود او تعزيرات ... څو مهم بحثونه

په اسلامي شريعت کي د جرايمو د سزا په اړه چي موږ په خپل کتاب مېزان کي کوم نظر بيان کړی له هغه څخه ښکاري چي دا يوازي پنځه جرمونه [1] دي چي په شريعت کي يې سزا ټاکل شوې ده، له دې پرته د نورو ټولو جرايمو معامله د اسلامي دولت د چارواکو پريکړې ته سپارل شوې، د حدودو او تعزيراتو په اړه شريعت همدومره دی چي موږ يې هلته بيان کړی وو. له دې پرته هيڅ شی شريعت نه دی، مګر په دې اړه د دوديزو افکارو له مخې دا څلور پوښتني کېدای شي:

يوه دا چي ايا په شريعت کي د شراب څښلو اتيا درې سزا نه ده ټاکل شوې؟.

دويمه دا چي ايا په شريعت کي د ارتداد لپاره د قتل سزا نه ده ټاکل شوې؟.

درېيمه دا چي ايا له شريعت پرته په نورو جرايمو کي د واک خاوندان کوم مجرم ته د مرګ سزا هم ورکولای شي؟.

څلورمه دا چي ايا په دې نورو جرايمو کي کوم چا ته د بند سزا ورکول کېدای شي؟.

لاندي به موږ د همدې پوښتنو په اړه خپل نظر په تفصيل سره بيان کړو.

## شراب څښل

د لومړۍ پوښتني ځواب دادی چي د شراب څښلو دا سزا عمر فاروق رضي الله عنه د خپل خلافت پر مهال د يو مسلمان واکمن په توګه د هغوی د نظر د خاوندانو په مشوره ټاکلې ده، د دې سزا تاريخ دادی چي د رسول الله په زمانه کي به څوک په دې جرم ونيول شو هغه به عموما په څپېړو، لغتو، بوټونو، لښتو، درو او نورو وهل کېدی. ابو بکر صديق رضي الله عنه د دې لپاره رسما څلوېښت درې سزا وټاکله او کله چي عمر رضي الله عنه د خپل خلافت پر مهال

---

[1] يعني زنا، قذف، قتل و ټپ، جګړه او غلا.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ولیدل خلگ له دې جرم څخه لاس نه اخلي نو په اتیا درو یې بدله کړه. ابن رشد لیکي:

فعمدة الجمهور تشاور عمر الصحابة لما کثر فی زمانه شرب الخمر، و اشارة علی علیه بان یجعل حد ثمانین قیاسا علی حد الفریة، فانه کما قیل عنه رضی الله عنه اذا شرب سکر و اذا سکر هذی و اذا هذی افتری. (بدایة المجتهد ۲/ ۳۳۲)

په دې اړه د جمهورو مذهب له صحابه کرامو سره د عمر رضی الله عنه پر مشوره بنا دی، دا مشوره هغه وخت وشوه چې کله د ده په زمانه کې خلګو ډېر شراب څښل او علي رضی الله عنه مشوره ورکړه چې د قذف پر حد د قیاس له مخې دې د دې سزا هم اتیا درې شي. ویل کېږي چې د دې په استدلال کې یې وویل: کله چې شراب وڅښي نو بې هوښه کېږي، کله چې بې هوښه شي چټیات وایي او کله چې چټیات وایي نو پر نورو تهمت لګوي.

له دې څخه څرګنده شوه چې دا هیڅکله شریعت نه شي کېدای، پر دې ځمکه تر قیامته یوازې محمد رسول الله دا حق لري چې هغه کوم شی شریعت وګڼي او کله چې د هغه له خوا کوم شی شریعت وبلل شي نو بیا پکې صدیق او فاروق هم هیڅ ډول بدلون نه شي راوستلای، که دا شریعت وای نو نه به ابو بکر صدیق په څلوېښت درې بدلې کړې وې او نه عمر فاروق څلوېښت په اتیا. په دې صورت کې دې یوه هم دا حق نه درلود، له همدې امله دا ښځي باوري ده چې که رسول الله د شراب څښلو مجرمینو ته سزا ورکړې نو د شارع په توګه یې نه ده ورکړې بلکې د مسلمانو واکمن په توګه یې ورکړې او تر ده وروسته خلفاوو هم د دوی لپاره د څلوېښتو او اتیا درو سزا د همدې حیثیت له مخې ټاکلې ده. موږ په پوره ډاډ سره وایو چې دا کوم حد نه بلکې صرف تعزیر دی چې که د مسلمانانو اجتماعي اداره وغواړي ساتلای یې شي او که د خپلو حالاتو له مخې وغواړي پکې بدلون او تغیر راوستلای شي.



www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org
© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

# ارتداد

د دويمې پوښتنې ځواب دادی چې د ارتداد د سزا دا مسئله صرف د يوه حديث په مفهوم د نه پوهېدو له امله را پيدا شوې، هغه حديث بخاري د ابن عباس په روايت دا سي نقل کړی دی:

مـن بـدّل دينـه فـاقتلوه. (شميره: ۳۰۱۷) ځوک چې خپل دين بدل کړي ويې وژنئ.

دا (روايت) زموږ فقهاء په عمومي توګه يو عام حکم ګڼي او د دوی په نزد پر هغو ټولو کسانو پلي کېږي چې د رسول الله له وخته تر قيامته د دې ځمکې پر مخ په کوم ځای کې اسلام پرېږدي او کفر غوره کوي، د دوی په وينا هر هغه مسلمان چې په خپله خوښه کفر غوره کړي د دې حديث له مخې به حتما وژل کېږي. په دې اړه د دوی تر منځ صرف دومره اختلاف دی چې تر قتل وړاندې به د توبې وخت ورکول کېږي او که نه او که ورکول کېږي نو موده يې بايد څومره وي؟. البته د احنافو فقهاوو ښځه ترې مستثنا کړې ده، له دوی پرته نور ټول فقهاء پر دې متفق دي چې په اسلامي شريعت کې د هر مرتد سزا ښځه وي او که نر قتل دی.

مګر د فقهاوو دا نظر د نقد وړ دی، بې شکه د رسول الله دا حکم ثبوت لري خو زموږ په نزد دا کوم عام حکم نه وو بلکې يوازې تر هغو کسانو ځانګړی وو چې ده پرې مستقيما خپل حجت تام کړ او د هغوی لپاره په قرآن کريم کې د مشرکينو اصطلاح کارول شوې ده.

لاندې د خپل نظر تفصيل بيانوو:

پر دې ځمکه هر سړی په دې حقيقت خبر دی چې په دنيا کې انسان د اوسېدو کوم فرصت تر لاسه کړی هغه د کوم حق پر بنسټ نه بلکې صرف د ازموينې لپاره دی، د نړۍ رب چې تر څه وخته غواړي چا ته موکه ورکوي او کله چې د ده له علم سره سم د ازموينې دا موده پوره کېږي نو د مرګ فرشته له اسمانه راځي او هغه له دې ځايه د ده حضور ته



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وړاندې کوي. الله له خپل علم او حکمت سره سم دا موده د عامو انسانانو لپاره د خپلې خوښې په اندازه ټاکي، مګر هغه کسان چې رسول پکې را پاڅېږي او د ده په وسيله مستقيم دعوت ور رسېږي څرنګه چې پر هغوی تر وروستي بريده حجت بشپړېږي له همدې امله که هغوی د حجت تر اتمام وروسته هم ايمان را نه وړي نو د دوی په اړه د الله دا قانون په قرآن کريم کې په پوره صراحت سره بيان شوی چې نور پر ځمکه د ژوند حق له لاسه ورکوي، هغوی دې ځمکې ته د ازموينې لپاره را استول شوي وو او څرنګه چې د رسول تر اتمام حجت وروسته دا ازموينه تر وروستي بريده پوره کېږي ځکه نو په عمومي ډول د الله قانون همدا دی چې تر دې وروسته د ژوند کولو دا حق ترې اخيستل کېږي او د مرګ سزا پرې نافذېږي.

له دې قانون سره سم د رسول پر مستقيمو مخاطبينو د مرګ سزا په داسې توګه نافذېږي چې که رسول او د هغه ملګري د حجت تر بشپړولو وروسته په کوم دار الهجرت کې سياسي اقتدار تر لاسه نه کړای شي نو د الله عذاب د وريځو او توپان په شکل څرګندېږي او د رسول قوم د مرګ په خوب ويدوي. له قرآن کريم څخه ښکاري چې عاديان او ثموديان د نوح، لوط او نورو قومونه په همدې ډول له منځه يو وړل شول خو که د دې بر خلاف رسول په کومه سيمه کې سياسي واک تر لاسه کوی نو د قوم تر مغلوبيت وروسته يې د هر فرد لپاره د مرګ سزا ټاکل کېږي چې رسول او د هغه ملګري يې پرې نافذوي. څرنګه چې له رسول الله سره د دويم شکل عذاب راغی له همدې امله الله امر وکړ چې که په مشرکينو کې څوک د نهم هجري د حج اکبر تر ورځې پيا هم ايمان را نه وړي د هغوی لپاره به په همدې تاريخ د عرفات په ميدان کې اعلان کېږي چې د ذو الحجې له نهمې د محرم تر وروستۍ نېټې وخت لري، که تر دې وروسته هم پر خپل کفر ټينګ شي نو د مرګونې سزا دا قانون به پر دوی هم نافذ شي. الله ويلي:

فَإِذَا انسَلَخَ الْأَشْهُرُ الْحُرُمُ فَاقْتُلُوا کله چې حرامې مياشتې تېرې شي نو دا



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."
www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدتُّمُوهُمْ وَخُذُوهُمْ وَاحْصُرُوهُمْ وَاقْعُدُواْ لَهُمْ كُلَّ مَرْصَدٍ فَإِن تَابُواْ وَأَقَامُواْ الصَّلاَةَ وَآتَوُاْ الزَّكَاةَ فَخَلُّواْ سَبِيلَهُمْ إِنَّ اللّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ (التوبة ۹: ۵)

مشرکین چي هر ځای وموموئ ویې وژنئ، ویې نیسئ، کلابند یې کړئ او هر ځای ورته کمینونه ونیسئ خو که دوی له کفر او شرک څخه توبه وباسي، لمونځ وکړي او زکات ورکړي نو خوشي یې کړئ بې شکه الله غفور او رحیم دی.

د همدې قانون وضاحت رسول الله دا سي کړی دی:

امرت ان اقاتل الناس حتی یشهدوا ان لا اله الا الله و ان محمدا رسول الله و یقیموا الصلاة و یؤتوا الزکاة فاذا فعلوا عصموا منی دمائهم و اموالهم الا بحقها و حسابهم علی الله. (مسلم، شمیره: ۱۲۹)

ما ته امر شوی چي له دې خلکو سره تر هغو وجنګېږم چي د لا اله الا الله او محمد رسول الله شاهدي ورکړي، لمونځ وکړي او زکات ورکړي، کله چي یې داسي وکړل له ما یې خپلې وینې او مالونه خوندي کړل مګر په خپل حق سره، پاتي شو باطني حساب نو هغه د الله مسئولیت دی.

لکه څرنګه چي موږ وویل دا قانون یوازي تر هغو مشرکینو ځانګړی وو چي رسول الله پرې مخامخ حجت پوره کړ، له هغوی پرته نور تر قیامته له بل قوم یا فرد سره هیڅ تړاو نه لري ان هغه اهل کتاب چي د رسول الله په زمانه کي موجود وو قرآن په ښکاره ډول ترې مستثنا کړي دي. په سورت التوبه کي چي کوم ځای د مشرکینو لپاره د قتل دا سزا بیان شوې هلته یې د اهل کتابو په اړه ښکاره ویلي چي که هغوی محکومیت ومني او جزیه ورکړي او د مسلمانانو په دولت کي د یوه ښاري په توګه ژوند کول وغواړي نو هیڅ تېری به نه پرې کېږي. الهي وینا ده:

قَاتِلُواْ الَّذِينَ لاَ يُؤْمِنُونَ بِاللّهِ وَلاَ

له هغو اهل کتابو سره جګړه وکړئ چي نه



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

بِالْيَوْمِ الآخِرِ وَلاَ يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ اللّهُ وَرَسُولُهُ وَلاَ يَدِينُونَ دِينَ الْحَقِّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُواْ الْكِتَابَ حَتَّى يُعْطُواْ الْجِزْيَةَ عَن يَدٍ وَهُمْ صَاغِرُونَ (التوبة ۹ : ۲۹)

پر الله او د اخرت پر ورځ ايمان راوړي، نه هغه څه حراموي چي الله او رسول يې حرام کړي او نه د حق دين پيروي کوي، له دوی سره تر هغو جګړه وکړئ چي په مغلوبېدو جزيه ورکړي او خوار وي.

زموږ په دې بحث سره که د الله دا قانون په پوره توګه واضح کېږي نو د هغه دا لازمي تقاضا هم څرګندېږي چي که په دې مشرکينو کي کوم څوک تر ايمان وروسته بيا کفر غوره کوي نو هغه په حتمي ډول د دې سزا مستحق وو، هغه کسان چي د کفر لپاره يې د مرګ سزا ټاکل شوې وه که هغوی د ايمان په راوړلو خپل لومړني حالت ته ور ګرزي نو لازمه وه چي د مرګ دا سزا هم پرې له څه شک پرته پلې شي، دا هماغه ارتداد دی چي رسول الله يې په اړه ويلي: **من بدل دينه فاقلتوه.**

د رسول الله په دې حکم کي «من» په هماغه ډول د رسول الله د وخت تر مشرکينو ځانګړی دی لکه په امرت ان اقاتل الناس کي چي الناس تر هغوی پوري خاص دی، څرنګه چي د رسول الله د دې وينا اصل په قرآن کريم کي له خپل خصوص سره موجود دی نو بايد فرع يې هم حتما خاص وي.

زموږ د فقهاوو تيروتنه دا ده چي دوی د الناس په څېر په قرآن کي له خپل اصل سره د تړلو او د قران و سنت د خپل منځي ربط له مخې د دې حديث په مطلب د پوهېدو پر ځای هغه عام ګڼلی او د هر مرتد سزا يې مرګ ګڼلې ده او په دې توګه يې د اسلام په حدودو او تعزيراتو کي يوه داسي سزا اضافه کړې چي په اسلامي شريعت کي يې هيڅ وجود ثابت نه دی.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

## د مرګ سزا

د درېیمې پوښتنې ځواب دادی چې د قرآن کریم له مخې د مرګ سزا د نفس او فساد فی الارض له جرم پرته هیچا ته نه شي ورکول کېدای، قرآن وايي (کله چې) بني اسرائیلو ته شریعت ورکړل شو نو پر هغوی هم دا خبره لازمي شوې وه چې:

أَنَّهُ مَن قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي الْأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعًا (المائدة ۵ : ۳۲)

چا چې څوک د بل نفس او په ځمکه کې د فساد له کولو پرته قتل کړ نو ګواکې ټول انسانان يې ووژل.

دا د قرآن کریم څرګند هدایت دی ځکه نو له دې دوو جرمونو پرته هیڅ فرد او حکومت دا حق نه لري چې د یو چا ژوند واخلي.

## د بند سزا

د څلورمې پوښتنې ځواب دادی چې د بند سزا صرف سزا نه ده بلکې یو ډېر بد جرم دی چې انسان د خپل ځان په وړاندې ترسره کړی دی، له همدې امله د مسلمانانو له هیڅ حکومت څخه موږ دا توقع نه لرو چې د خپلو حدودو او تعزیراتو په کوم قانون کې دا سزا هم شامله کړي.

په دې کې شک نه شته چې د دې نړۍ د څرګند انساني تاریخ په هر دور کې زندانونه، کلاوې، برجونه او توري کوټې موجودې وې، تر مسیح ناصري نولس پېړۍ وړاندې د یوه رسول یوسف علیه السلام د زندان کیسه په بایبل او قرآن دواړو کې بیان شوې ده. د اتمې پېړۍ ستر فقیه ابو حنیفه او بیا د دیارلسمې پېړۍ یو وتلی عالم او محقق ابن تیمیه چې څه ډول په زندان کې مړه شول د هغو کیسې هم د تاریخ په پاڼو کې خوندي دي خو تر اتلسمې پېړۍ وړاندې بندیخانې عموما د انتظارګاوو په توګه کارېدې، مجرمینو به تر ډېره د دعوې د څېړنې، مرګ، درو او دا ډول نورو سزاوو د نفاذ لپاره انتظار کاوه. دا تصور چې د جرم په سزا کې یو څوک دوه، څلور، لس او یا پنځلس کاله بندي شي په دې



© "All rights of this book are reserved to the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

تېرو درو پېړیو کې دومره عام شوی چې اوس د ډېرو جرایمو سزا په همدې بڼه ورکول کېږي.

که څه هم په اروپا کې د څورلسمې پېړۍ د پیل پر مهال زندان ته ورته ځینې ادارې لکه فلورنس کاولي ستن موجودې وې، همدارنګه چې د ۱۵۵۷ پر مهال په لندن، ۱۹۹۶ پر مهال په ایمسټرډام، ۱۷۰۴ پر مهال په روم او ۱۷۷۳ پر مهال د بلجیم په لرغوني ښار غنت کې کوم اصلاح ځایونه جوړ شوي وو هلته کم و زیات همدا تصور موجود وو خو عمومي فکر دادی چې د نوي ماډل لومړی زندان د ۱۷۹۰ پر مهال په فلاډلفیا کې د وال نټ اسټریټ په نوم جوړ شو او ورپسې د لوېديځ تهذیب له غلبې سره د نړۍ په هر ګوټ کې هغه زندانونه را منځ ته شول چې نن پکې زندانیان تر کلونو کړېږي او له جرم و سزا څخه نا خبره ماشومان خپل پلرونه د او سپینزو تمبو شا ته ویني او د خپلې ځوانۍ عمر ته رسېږي. دورې د څو شیبو لپاره پر شا وارېږي، لاس صرف په یوه ګوزار غوڅېږي، صلیب د ټول بدن په کړولو له روح سره د هغه اړیکه پرېکوي او د قتل بېلابېلې بڼې د دې دنیا هره معامله د تل لپاره ختموي خو دا هغه سزا ده چې په وسیله یې په انسان کې د هغه پټ اصل شخصیت کلونه په عذاب اخته کېږي، د هغه ناسته – ولاړه، خوراک – څښاک، ویښېدل او بیدېدل ان څارا ګښت د بل په حکم وي، هغه د یوه ګیلاس اوبو، یوې ګولۍ ډوډۍ، پان یوې بېړۍ، سګرېټ یوه دوک لپاره د نورو خولې ته ګوري او ډېر ځله د دې شیانو لپاره د خپل ځان عزت له لاسه ورکوي. هغه د خپلې مور مینې، د پلار شفقت، د اولادونو ګرانښت او د میرمنې الفت ته لېوال وي او د خپل ځان پر هغو غوښتنو هم پښار راوړي چې د نړۍ رب د روژې په روزونکې میاشت کې هم پرې دا ډول بندیز نه دی لګولی، د هغه ژوند په حقیقت کې د لا یموت فیها و لا یحی انځور وي.

پر دې سربېره دا سزا یوازې مجرم ته نه بلکې ټولو متعلقینو ته هم ورکول کېږي، په دې کې ډېر زورېدونکی حالت د هغه د میرمنې لپاره وي چې یې مېړه لس – دوولس کاله



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

زنداني کېږي نو په دې موده کي چي هغه له کومو رواني، ټولنيزو، اقتصادي او اخلاقي ستونزو سره مخ کېږي او صرف د يوه مجرم د ميرمن کېدو له امله ورسره لاس او ګريوان وي د دې اندازه يوازي هغه وفادارې ميرمنې کولای شي چي کوم وخت په دې مصيبت اخته شوې وې او دا حالت د تنکيو ماشومانو هم وي. دوی چي څو کاله پر له پسې خپل پلار د اوسپينزو تمبو شا ته ويني او کوم روحيات خپلوي د دې اټکل هر د عقل څښتن په ډېره اسانۍ کولای شي، د درو سزا، د لاس غوڅول، اعدام او دار يوه پېښه ده چي د مجرم لپاره هره ورځ نه وي خو د دې سزا په نتيجه کي چي د درنو ديوالو شا ته له ترلي پلار سره د هرې ليدنې پر مهال چي د دې ماشومانو په ذهن کي کوم احساس پيدا کېږي له دې سره څرنګه د هغوی په شخصيت کي د توازن پيدا کېدو هيله کېدای شي؟ که هغوی له ټولنې دا پوښتنه وکړي نو يقينا به پر حق وي چي د پلار په شتون کي له هغه څخه د محروميت کومه سزا چي دوی ته ورکړل شوې د دې لپاره بالاخره کوم جواز شته چي د اخلاقياتو د قانون له کتاب څخه د دوی مخ ته وړاندي کېدای شي؟.

او دې ته هم پام وکړئ چي تر تاديب او تنبيه وروسته هره ټولنه همدا غواړي چي مجرم اصلاح شي، د دې لپاره که تر ټولو کوم شی اغېز درلودای شي هغه ښه ملګرتيا ده خو حالت دادی چي د دې سزا په وسيله مجرم د ټولنې، کورنۍ او د خپلوانو د اصلاح له هر دعوت او خير له هر تحريک څخه په بېلېدو کلونه-کلونه د مجرمينو په ملګرتيا کي داسي ساتل کېږي چي که په هغه کي د اصلاح کوم خواهش وو نو د تل لپاره له منځه ځي. په دې ټوله موده کي هغه د جرم په نړۍ کي ژوند کوي، د جرمونو خبرې اوري، هر څه ته د جرم په نظر ګوري او شپه و ورځ د جرم اسباب او عوامل د يوه ژوندي محرک په توګه خپل مخ ته ويني. موږ نه پوهېږو چي د هغه تر خوشي کولو وروسته ټولنه تری څه هيله درلودای شي؟.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دې ته مو هم بايد پام وي چې د درو، لاس غوڅولو او دا ډول نورو طريقو په وسيله تر تاديب او تنبيه وروسته موږ نه شو ويلای چې کوم مجرم به څه وخت د ځان لپاره د خير لاره غوره کړي؟ د ده په ژوند کې دا پيښه هر وخت کېدای شي، د عقل حتمي تقاضا همدا ده چې که هغه دا توفيق تر لاسه کوي نو د هغه لپاره سمدستي د ځان بدلولو او د ټولنې د يوه مسئول فرد په توګه د ژوند کولو فرصتونه هر وخت موجود دي، مګر په ټولو سزاوو کې همدا يوازينۍ سزا ده چې قانون يې وخت ټاکي. حال دا چې د تعين لپاره يې له هغه سره د ټاکنې هيڅ وسيله نه شته.

د دې سزا همدا مفسدات دي چې له امله يې الهي شريعت په کور کې د مجرم د بندي کولو او يا له سيمې څخه د شړلو سزا روا بللې چې که دی وغواړي هلته خپل اهل و عيال هم ورسره بووﻻی شي، مګر د دې شريعت د حدودو او تعزيراتو په قانون کې د کلونو بندي کولو د سزا تصور موجود نه دی.

۱۹۹۳



www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org
© "All rights of this book are reserved by the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

# امرهم شوری بینهم

د قرآن کریم له مخې د اسلامي دولت لپاره د حکومتي نظام بنسټیز قانون أَمْـرُهُمْ شُورَى بَيْـنَهُمْ[1] دی، د قرآن کریم دا کوچنۍ جمله چې د ژبنیو قوانینو لـه مخې پر کوم مفهوم دلالت کوي او له دې څخه چې د سیاسي نظام په اړه کومې لارښوونې تر لاسه کیږي دلته یې بیانوو:

په دې کې لومړی لفظ امر دی چې په عربي ژبه کې په څو معناوو کاریږي، د دا ډول الفاظو په اړه له ژبې او ادب سره اشنایي درلودونکي په دې قانون خبر دي چې هر ځای یې مفهوم د موقع او محل په قراینو ټاکل کیږي. د سورت الشوری په دې ایت کې دا لفظ په کومه معنا استعمال شوی دی؟ د دې تر تشخیص وړاندې به موږ پـه عربي ژبـه کې د هغـه بیلابیلي پېژندل شوې معناوې بیان کړو:

د یزید بن الجهم الهلالي په شعر کې د ترغیب او مشورې پـه معنا استعمال شوی دی:

لقد امرت بالبخل ام محمد فقلت لها: حثی علی البخل احمدا

" ام محمد زه بخل ته تشویق کړم نو ما وویل: کـه بخل تـه څوک تشویقوې نو خپل زوی احمد تشویق کړه."

عمرو بن صبغه الرقاشي بالکل په هماغه معنا کارولی چې موږ ورتـه د خپـل ژوند پـه عامو مسایلو کې د معاملې لفظ کاروو:

الا لیقل من شاء ما شاء انما یلام الفتی فیما استطاع من الامر

---

[1] الشوری ۴۲ : ۳۸



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."
www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

"اوس چي څوک څه وايي و دي وايي، ځوان صرف په هغه معامله کي ملامتېږي چي د ده په وس کي وي."

د ابو صخر الهذلي په شعر کي د حکم او اقتدار په معنا دی:

اما والذی ابکی و اضحک والذی امات و احیا و الذی امره الامر

"نو قسم په هغه ذات چي ژړول او خندول يې وکړل، مرګ و ژوند يې را منځ ته کړل او د ده حکم اصلي حکم دی."

صفيې بنت عبد المطلب هغه داسي استعمال کړی چي له حکم او اقتدار سره يې پکي د ټولنزې ادارې مفهوم هم شامل کړی دی:

الا من مبلغ عنا قریشاً ففیم الامر فینا و الامار

"واورئ قريشو ته به زما دا پيغام څوک ورسوي چي دوی زموږ فضل او شرف نه مني، نو و دي وايي نظام ولي زموږ په لاس کي دی او موږ ولي د مشورې وړ بلل کېږو؟."

په قرآن کريم کي هم دا لفظ په دې ټولو معناوو استعمال شوی او هر ځای يې معنا د سياق او سباق د قراينو له مخې معلومېږي، د سورت الشوری په دې ايت کي د موقع او محل دلالت په ښکاره وايي چي دا د نظام په معنا دی. دا معنا په دې لفظ کي د حکم د مفهوم له پراخولو پيدا شوې ده، کله چي حکم تر ډېرو خلګو تړاو پيدا کوي نو د ځان لپاره حدود تاکي او اصول و ضوابط را منځ ته کوي. په دې وخت کي يې د سياسي اقتدار پر احکامو او ټولنيز نظم دواړو اطلاق کېږي. که غور وکړو نو زموږ په ژبه کي د نظام لفظ د همدې مفهوم د تعبير لپاره کارېږي.

څرنګه چي پر دې سربيره قرآن کريم د غايب ضمير ته له اضافت پرته تر بل صفت نه دی خاص کړی ځکه به نو د نظام هر اړخ پکي شامل بلل کېږي، ښاري ستونزې، ملي او سيمه ييزې چارې، سياسي او ټولنيز احکام، د قانون جوړولو اصول، د واکونو اخيستل



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

او ور سپارل، د واکمن ګوښه کول او ټاکل، د ټولنيز ژوند لپاره د دين تعبير، لنډه دا چې د دولتي نظام ټولي چارې به د دې ايت له بيان شوي قانون سره تړاو لري. د اسلامي دولت هيڅ څانګه به له دې دايرې څخه دباندي او هيڅ برخه به يې له اغيزو خالي نه وي.

تر دې وروسته شورى ده، دا د فعلى پر وزن مصدر دى او د مشورې کولو په معنا دى، په ياد ايت کي دا مصدر د خبر واقع کېدو له امله نور جمله هغه مفهوم نه لري چې په شَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ [2] کي دى، که يې د همدې مفهوم بيان مقصود واى نو غالبا به الفاظ داسي واى: و فى الامر هم يشاورون (او له دوى څخه په چارو کي مشوره اخيستل کېږي) په دې صورت کي اړينه وه چې ټولنه له وړاندي پر امير او مامور ويشل شوې واى، امير به يا د الله له خوا ټاکل کېداى، يا به يې په زور واک تر لاسه کاوه او يا به کوم معصوم امام ټاکلاى.

په هر حال هغه چې له هرې خوا راتلاى او په هرډول يې امارت تر لاسه کولاى صرف په دې مکلف وو چې په ملي چارو کي د کوم نظر تر خپلولو وړاندي له خلګو سره مشوره وکړي، د اجماع او يا اکثريت د رايې د منلو مکلفيت پرې نه شواى لګول کېداى، د رايې د رد او قبول اختيار به له ده سره وو، که ده غوښتي واى نو د يو چا رايه به يې منله او که يې خوښه واى نو له څه مشکل پرته يې ردولاى شواى.

خو د أَمْرُهُمْ شُورَى بَيْنَهُمْ په صورت کي چې د اسلوبو کوم بدلون راغلى د هغو تقاضا دا ده چې په خپله د امير امارت د مشورې په وسيله را منځ ته شوى وي، نظام د شورا له لارې جوړ شوى وي، په مشوره کي د ټولو حقوق يو ډول وي، د مشورې له مخې چې کومه پرېکړه وشي بيرته په مشوره له منځه يو وړل شي، د کوم څه د را منځ ته کولو

---

[2] آل‌عمران ٣ : ١٥٩ (د ټولنيزې ادارې په چارو کي له دوى سره مرسته کوه، بيا چې کله فيصله وکړې نو پر الله توکل وکړه.)



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

لپاره چي مشوره وشي د هر سړي رايه يې د وجود برخه وګرزي، که په اجماع او اتفاق پريکړه ونه شي نو د شخړو د له منځه وړلو لپاره د اکثريت رايه ومنل شي.

د بيلګي په توګه موږ په خپله ژبه کي وايو چي د دې مکان د ملکيت پريکړه به د دې لسو وروڼو په مشوره کېږي، د دې څرګنده معنا داده چي صرف لس وروڼه د فيصلې اختيار لري او په دوی کي د هيڅ يوه رايه پر نورو راحجه نه ده. که هغوی ټول په اجماع يوې نتيجې ته ورسېږي نو ښه تر ښه که نه د دوی د اکثريت رايه به پريکنده وي، خو که دا خبره داسي وشي چي د سرای د پريکړي پر مهال به له دې لسو وروڼو سره مشوره کېږي نو د دې معنا له دې پرته بل څه نه شي کېدای چي د پريکړي واک به له دې لسو وروڼو پرته د بل چا وي، اصل نظر به هغه ورکوي او نظر به يې عملي کېدونکی وي. البته د نظر تر خپلولو وړاندي هغه ته په کار ده چي له دې لسو وروڼو سره هم مشوره وکړي، څرګنده ده چي په دې صورت کي هغه نه د دوی په اجماع مکلف دی او نه د ده لپاره د هغوی د اکثريت پريکړي منل ضروري دي.

څرنګه چي زموږ په نزد د مسلمانانو د ټولنيز نظام اساس أَمْرُهُمْ شُورَىٰ بَيْنَهُمْ دی، له همدې امله به د هغوی چارواکي او مشران او حکومت و امارت په مشوره وي، دوی به د امارت له تر لاسه کولو وروسته هم دا اختيار نه لري چي په ټولنيزو چارو کي د مسلمانانو د اجماع يا اکثريت رايه رد کړي. د تفهيم القرآن ليکوال مولانا ابو الأعلی مودودي صيب د دې ايت په تفسير کي ليکي:

" د امرهم شوری بينهم اصل د خپل نوعيت او فطرت له مخي د پنځو خبرو غوښتنه کوي، لومړی دا چي ملي چارې د کومو خلګو له حقوقو او ګټو سره تړاو لري هغوی به د نظر څرګندولو پوره ازادي لري او دوی به په بشپړه ډول په دې خبر وي چي چارې يې څه ډول پر مخ ځي او د دې پوره حق به هم لري چي که د معاملاتو په مديريت کي تېروتنه، خامي او نيمګړتيا ويني نو نقد پرې وکړای شي، د لاريون حق ولري او که نه اصلاح



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کېږي نو مشران يې رد و بدل کړای شي. د خلګو د خولو په بندولو لاسونو و پښو ته يې د ولچکونو په اچولو او ناخبرو ساتلو د ټولنيزو چارو چلول ځرګنده بې ديني ده چې هيڅوک يې هم د امرهم شوری بينهم د اصولو پيروي نه شي ګڼلای.

دويم دا چې د ټولنيزو چارو مديريت کوم چا ته سپارل کېږي هغه به د خلګو په خوښه ټاکل کېږي او هغوی به په خپله خوښه کي ازاد وي. د زور، ډار، حرص، تمې، پيسو، چل-ول، دسيسو او مکاريو په وسيله تر لاسه شوې خوښي حقيقي رضا نه ده، د يو ملت سم مشر هغه څوک نه شي کېدای چي په هره طريقه د مشرتوب هڅه کوي بلکي هغه دی چي خلګ يې په خپله خوښه او رضا مشر کړي.

دريم دا چي مشر ته د مشورې ورکولو لپاره هم بايد داسي کسان وټاکل شي چي ملت پرې باور کړی وي او ځرګنده خبره ده چي داسي کسان هيځکله په سمه معنا باور درلودونکي نه شي کېدای چي د پشار، پيسو، دروغو او دسيسو په کارولو او يا د خلګو په بې لارې کولو د استازيتوب مقام تر لاسه کړي.

څلورم دا چي مشوره ورکوونکی له خپل علم، ايمان او وجدان سره سمه مشوره ورکړي او د دا ډول نظر ځرګندولو پوره واک ولري، په کوم ځای کي چي دا ډول ازادي نه وي او هلته مشاور د حرص يا وېرې پر بنسټ او يا په فساد کي ښکيلېدو له کبله د خپل علم او ضمير پر خلاف مشوره ورکړي هلته به په حقيقت کي خيانت او غداري وي نه د امرهم شوری بينهم پيروي.

پنځم دا چي د شورا ور کسانو اجماع کومه مشوره ورکړي، يا د دوی د اکثريت ملاتړ ولري نو هغه به منل کېږي ځکه که يو شخص يا يوه ډله د ټولو د خبرې تر اورېدو وروسته د خپلې پرېکړې اختيار ولري نو مشوره بې ارزښته کېږي. الله داسي نه وايي چي د دوی په چارو کي ترې مشوره اخيستل کېږي، بلکي داسي وايي چي چارې يې په خپل منځي مشوره پر مخ ځي. دا لارښوونه صرف د مشورې په اخيستلو نه عملي کېږي بلکي اړينه ده



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."
www.javedahmadghamidi.com www.al-mawrid.org

چي په مشوره کي په اتفاق يا اکثريت سره کومه پرېکړه وشي چارې له هغې سره سمې پر مخ ولاړې شي." (۴/ ۵۰۹)

د قرآن کريم دا اصول په عقل او فطرت هم ثابت دي، د مسلمانانو هيڅ وګړی معصوم نه دی، کېدای شي په علم او تقوا کي هغه تر ټولو ممتاز وي، د امارت او خلافت لپاره وړ کېدای شي او خپل ځان لايق بللای شي خو لکه څرنګه چي صرف دا فضيلت د دې خبرې لپاره کافي نه دی چي هغه د مسلمانانو رايې ته له پام پرته د خلافت د سمبالولو هڅه وکړي همدا رنګه د مسلمانانو په مشوره د امارت څوکۍ ته رسېدل هم دا نه لازموي چي نور دی له هرې خطا خوندي دی او دی دا حق لري چي د خپلې شخصي رايې په مقابل کي د پوهانو د اجماع او يا د هغوی د اکثريت رايه رد کړي. رسول الله دا حق له دې امله درلود چي هغه په حقيقت کي يو معصوم شخصيت او د الله استازی وو مګر د تاريخ او سيرت په کتابونو کي د دې هيڅ بيلګه نه شي موندل کېدای چي ده په کومه چاره کي د مسلمانانو د اهل الرايې د اکثريت تر نظر خپل نظر ته ترجيح ورکړې وي.

امير په هر حال يو فرد وي او د فرد د رايې په مقابل کي هر سړی مني چي د يوې ډلې د رايې د صحت او غوراوي امکانات زيات وي، که امير په حقيقت کي له الله وېرېدونکی شخص وي نو دی بايد خپل نظر ته هماغه حيثيت ورکړي چي د اسلامي فقهې يوه وتلي عالم په خپله دې وينا کي ورکړی دی، ده ويلي: موږ خپل نظر صحيح ګڼو خو په هغې کي د تېروتنې امکان شته، د نورو نظر ناسم ګڼو مګر په هغه کي د صحت امکان منو.

او دا هم يو حقيقت دی چي که مشوره ورکوونکي په دې پوه شي چي ددوی د اتفاقي او يا اکثريت رايې منل ضروري نه دي نو لومړی خو به مشورې ورکولو ته چمتو نه شي او که په خوښي يا نا خوښي چمتو هم شي نو په ډېر مات زړه به مشوره ورکوي، تر بحث لاندي مسئله به هيڅکله تر غور او فکر لاندي و نه نيسي، شورا ته به په مات زړه راځي او په ساړه زړه به له هغه ځايه ستنېږي، دوی به هيڅکله له سياسي نظام او دولتي ادارو سره



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ذهني او فکري تړاو پیدا نه کړي. قاضي ابو بکر جصاص په خپل کتاب احکام القرآن کي د مشورې ورکولو د دې رواني اړخ په تشریح کولو لیکلي دي:

و غیر جائز ان یکون الامر بالمشاورة علی جهة تطییب نفوسهم و رفع اقدارهم و لتقتدی الامة به فی مثله، لانه لو کان معلوما عندهم انهم اذا استفرغوا مجهودهم فی استنباط ما شوورا فیه و صواب الرأی فیما سئلوا عنه ثم لم یکن ذلک معمولا علیه و لا متلقی منه بالقبول بوجه، لم یکن فی ذلک تطییب نفوسهم و لا رفع لاقدارهم، بل فیه ایحاشهم و اعلامهم بان اراء هم غیر مقبولة و لا معمول علیها. فهذا تاویل ساقط لا معنی له، فکیف یسوغ تاویل من تاوله لقتدی به الامة مع علم الامة عند هذا القائل بان هذه المشورة لم تفد شیئا و لم یعمل فیها بشیء اشاروا به. (۲/ ۴۱)

او روا نه ده چي د مشورې کولو دا امر یوازي د صحابه وو د زړه ترلاسه کولو او مقام لوړولو لپاره وي او یا صرف د دې لپاره وي چي په دا ډول چارو کي امت د هغه پیروي وکړي، په داسي حال کي چي که صحابه پوهېدلای دوی د مشورې په چارو کي د خپل زړه او دماغ د ټولو ځواکونو په لګولو کوم نظر ورکړي نو نه به عمل پرې کېږي او نه به یې په کوم ډول درناوی کېږي، نو په دې سره به د هغوی زړه له کومې خوا ترلاسه کېدی او په څه شي به یې عزت زیاتېدی؟ برعکس به ویرېدل او فکر به یې کاوه چي د دوی نظر نه د منلو لپاره دی او نه د عمل لپاره، ځکه نو د مشورتي احکامو دا تاویل بې اعتباره او بې معنا دی او د تاویل دا اړخ چي دا حکم امت ته د رسول الله پر طریقه د تعلیم ورکولو لپاره ورکړل شوی په هیڅ ډول صحت نه شي درلودای، په داسي حال کي چي د ویونکي په نزد به هم دا خبره امت ته معلومه وي چي د دوی مشورې نه ګټه وکړه او نه په کومه معامله کي له هغې سره سم عمل وشو.



© "All rights of this book are reserved by the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دلته کېدای شي ځیني کسان د زکات نه ورکوونکو پر خلاف د ګام اخیستلو او اسامه د لښکر روانېدو په اړه د ابو بکر صدیق تګلاره د دې په رد کي وړاندي کړي، له همدې امله ضروري ده چي د هغې حقیقت هم بیان شي. استاذ امام امین احسن اصلاحي يې په اړه لیکي:

" (د زکات نه ورکوونکو) پر دې پېښه له غور کولو څخه څو حقایق په بشپړ ډول په ډاګه کېږي:

یو دا چي دا د شورا او خلیفه تر منځ کومه معامله نه وه، ابو بکر صدیق رضي الله عنه شورا ته نه وه وړاندي کړې. شورا ته هغه چارې وړاندي کېږي چي له اجتهاد او مصلحتي چارو سره تړاو لري، دا د دین یوه منصوصي مسئله ده. په اسلامي حکومت کي هیڅ داسي ډله د مسلمانو وګړو په توګه د اوسېدو حق نه لري چي بیت المال ته د زکات له ورکړې انکار وکړي. دا په اسلامي قانون کي ترسره شوې پرېکړه ده، له همدې امله د ابو بکر صدیق دنده دا نه وه چي هغه يې شورا ته وړاندي کړې وای بلکي د خلیفه په توګه يې مسئولیت دا وو چي په دې اړه قانون نافذ کړي او ده هم داسي وکړل. د دې مثال داسي دی لکه د اسلامي حکومت په حدودو کي چي کومه ډله قتل او لوټمار پیل کړي، نو د خلیفه لپاره اړینه نه ده چي د هغې ډلې د ځپلو لپاره له شورا اجازه وغواړي بلکي د هغه دنده دا ده چي قرآن د دا ډول جګړه مارو لپاره کوم قانون بیان کړی د هغه د عملي کولو لپاره په بشپړ ډول خپل واکونه وکاروي.

دویم دا چي کومو کسانو د امیر د دې اقدام په اړه شک وښود هغوی د یوه حدیث په فهم کي تېروتي وو، ابو بکر صدیق د هغه حدیث اجمال په یوه بل حدیث سره چي ده له رسول الله اورېدلی وو تشریح کړ او په دې سره هغه خلک ډاډه شول. څرګنده ده چي په هغه زمانه کي د دې خلګو په نزد تر هغه حدیث بل کوم حدیث لوړه درجه درلودای شوای چي راوي يې ابو بکر صدیق وي؟.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

درېیمه دا چي ابو بکر صدیق وویل: که له دې خلګو سره د جګړې لپاره ما کوم څوک ونه موند نو یوازې به ورسره وجنګېږم، دا د شورا د کومې پرېکړې ردول نه دي بلکي دا د هغه مسئولیت سم اظهار او اعلان دی چي د دین د واضحو او قطعي احکامو د تنفیذ او اجرا په اړه د خلیفه په توګه ورته راجع وو. په اسلام کي د الله او د رسول د احکامو نافذولو لپاره د خلیفه اصلي دنده همدا ده چي د پلي کولو په لار کي یې خپله قرباني ورکړي که څه هم بل ملګری ونه لري، دی په مصلحتي او اجتهادي چارو کي د اکثریت په مشورو مکلف دی نه د شریعت په قطعیاتو کي.

همدا راز د اسامه د لښکر معامله داسي وه چي د هغه ټولي تیارۍ د رسول الله په ژوند کي شوي وې، کسان هم ده ټاکلي وو، بیرغونه یې ورتړلي وو ان که د رسول الله ناروغۍ اندېښمنوونکی حالت نه وای خپل کړی نو دا پوځ روانېدی چي په همدې منځ کي رسول الله وفات شو او تر ده وروسته ابو بکر خلیفه وټاکل شو. ده په طبعي ډول تر خلافت وروسته خپله لویه دنده همدا وبلله چي رسول الله په خپل ژوند کي د کوم پوځ تیاریانې کړې وې او ژر تر ژره یې د هغه د روانېدو هیله درلوده هغه خپل هدف ته ولېږي. د رسول د خلیفه په توګه د هغه تر ټولو لوی مسئولیت او په هغه وخت کي د ده لپاره تر ټولو لویه نېکمرغي څه کېدای شي چي د رسول مراد پوره کړي؟. د دې کار لپاره هغه د شورا مشورې ته اړتیا نه درلوده، ځکه د هغه پوځ د لېږلو د پرېکړې په اړه ټولي چارې د رسول الله په وړاندې بلکي د هغه په امر ترسره شوې وې. د رسول د ځای ناستي په توګه د هغه کار د رسول د پرېکړو نافذول وو، نه بدلول. له همدې کبله چي کله خلګو د هغه مهال د ځانګړو حالاتو پر بنسټ د دې پوځ لېږل د مصلحت خلاف وبلل نو ده په ښکاره ټکو وویل چي رسول الله کوم بیرغ تړلی زه یې پرانیستلو ته چمتو نه یم.

په هر حال دا دواړې پېښې په هیڅ ډول د دې خبرې دلیل نه شي کېدای چي خلیفه د شورا د پرېکړې ردولو حق لري، دا که دلیل وي نو د دې خبرې دلیل دی چي د الله او رسول



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د قطعي احکامو د پلي کولو په معامله کي خليفه له شورا څخه د مشورې په تر لاسه کولو مکلف نه دی بلکي د هغه دنده د دوی د احکامو نافذول دي." (اسلامي رياست، مخ: ۴۲)

د أَمْرُهُمْ شُورَىٰ بَيْنَهُمْ له دې قرآني اصولو سره سم په ټولنيز نظم کي د عامو مسلمانانو د ونډې اخيستلو کومه طريقه چي رسول الله او د هغه خلفاوو د خپل تمدن له مخې خپله کړه هغه پر لاندينيو دوو ټکو بنا وه:

لومړی دا چي مسلمانان به د خپلو باوري مشرانو په وسيله په شورا کي ګډون کوي. په بخاري کي دي:

ان رسول الله قال: حين اذن لهم المسلمون فى عتق سبى هوازن: انى لا ادرى من اذن فيكم ممن لم يأذن فارجعوا حتى يرفع الينا عرفاءكم امركم. (شميره: ۷۱۷۶)

کله چي مسلمانانو د رسول الله له لاربنوونې سره سم د هوازن د بنديانو خوشي کولو اجازه ورکړه نو رسول الله وويل: زه نه پوهېږم چي په تاسو کي چا اجازه کړې او چا نه ده کړې؟ تاسو ولاړ شئ خپل مشران را ولېږئ چي ستاسو نظر را ته بيان کړي.

دا بو بکر صديق په اړه دارمي روايت کړی دی:

فان اعياه ان يجد فيه سنة من رسول الله جمع رؤس الناس و اخيارهم فاستشارهم فاذا اجتمع رأيهم على امر قضى به. (شميره: ۱۶۳)

که به يې په کومه معامله کي د رسول الله سنت ونه موند نو د قوم مشران او مخور به يې را غونډول له هغوی سره به يې مشوره کوله، کله چي به هغوی پر کوم څه متفق شول نو له هغه سره سمه به يې پرېکړه کوله.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د رسول الله په وخت کي قبايلي مشرانو دا حيثيت درلود، د اوس او خزرج او قريشو مشران د لفظ په هر مفهوم کي د دې قبايلو باوري کسان وو، له شک پرته هغوی دا منصب د ټولټاکنو په وسيله نه وو ترلاسه کړی او د هغه عصر تمدني حالاتو ته په پام دې ته اړتيا هم نه وه خو له دې سره دا هم يو حقيقت دی چي خلګو د هغوی د ټولنيز مقام او فهم و تجربې له امله په سياسي او اجتماعي چارو کي دوی ته رجوع کوله. د جاهليت په زمانه کي هم هغوی دا باور د قبايلو د خپلواکي خوښې له مخې درلود او تر اسلام راوړلو وروسته يې هم دا حيثيت پر ځای پاتي شو، تر اسلام وړاندي خو يو څوک ويلای شي چي هغوی د جبر او استبداد له وجې مشران وو مګر د اسلام تر راوړلو وروسته دې هيڅ امکان نه درلود. د هغوی ولسونو او عوامو چي هر وخت غوښتي وای د رسول الله په مخ کي يې پر هغوی خپله بې باوري څرګندولای شوای او که دوی داسي کړي وای نو يقينا پر خپل ځای نه شوای پاتېدلای.

رسول الله په خپل وخت کي ټولي مهمې پرېکړې د همدې مشرانو په مشوره وکړې او د راشده خلافت پر مهال هم د حل و عقد د اهل په توګه د هغوی دا مقام پر ځای پاتي وو. د عمر رضي الله عنه په زمانه کي د عراق او شام د ځمکو په اړه د يوې شورا جوړېدو د حال په بيانولو قاضي ابو يوسف ليکي:

قالوا: فاستشر، قال: فاستشار المهاجرين الاولين فاختلفوا. فاما عبد الرحمن بن عوف رضى الله عنه فكان رأيه ان تقسم لهم حقوقهم ورأى عثمان وعلى و طلحة و ابن عمر رضى الله عنهم رأى

دوی وويل: نو ته مشوره وغواړه په دې سره هغه له لومړنيو مهاجرينو سره مشوره وکړه نو د هغوی نظرونه هم مختلف وو. د عبد الرحمن بن عوف نظر دا وو چي د دې خلګو حقوق بايد پر همدوی ووېشل شي، عثمان، علي، طلحه او ابن عمر له عمر رضی الله عنه سره متفق وو. بيا يې له انصارو لس کسان را وغوښتل، پنځه د



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

عمر. فأرسل الی عشرة من الانصار: خمسة من الاوس و خمسة من الخزرج، من كبرائهم و اشرافهم. (كتاب الخراج، مخ: ۲۷)

اوس مشران او پنځه د خزرج.

عمر رضی الله عنه په دې غونډه کې د مشوره کوونکو په وړاندې خپل حیثیت داسې بیان کړ:

انی لم ازعجكم الا لان تشتركوا فی امانتی فيما حملت من اموركم فانی واحد كاحدكم ... و لست اريد ان تتبعوا هذا الذی هوای. (كتاب الخراج، مخ: ۲۷)

ما د دې لپاره تاسو ته زحمت درکړی چې پر ما د چارو کوم امانتي بوج اچول شوی په پورته کولو کې یې را سره مرسته وکړئ، زه ستاسو په څېر یو شخص یم ... او نه غواړم چې په دې معاملاتو کې زما د خواهش پیروي وکړئ.

د دارنګه غونډو جوړولو طریقه دا وه چې لومړی به یوه اعلان کوونکي اعلان کاوه چې الصلاة جامعة یعني خلک دې لمانځه ته را غونډ شي، کله به چې خلک را غونډ بدل نو عمر رضی الله عنه به دوه رکعته لمونځ کاوه بیا به یې لنډه وینا وکړه او پر کوم څه چې به مشوره اخیستل کېده هغه به یې وړاندې کړه. د عراق او شام د ځمکو معامله او د نهاوند د جګړې پر مهال د جګړې ډګر ته په خپله د عمر رضی الله عنه د تګ مسئله په همدې غونډو کې ترسره شوه، همدا ډول د پوځ معاشات، د چارواکو ټاکنه، د دفتر ترتیب، د نورو قومونو لپاره د تجارت ازادي، له هغه سره تړلې د مالیې او نورو معاملې هم په دا ډول مجلسونو کې حل کېدلې. په طبقات ابن سعد، کنز العمال، تاریخ طبري، کتاب الخراج او دا ډول ځینو نورو کتابونو کې یې تفصیلات بیان شوي دي. بلاذري لیکلي چې د ورځینو چارو لپاره د مشرانو او مخورو یو ځانګړی مجلس جوړېده چې غونډه به یې په نبوي مسجد کې ترسره کېده:



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

كان للمهاجرين مجلس فى المسجد فكان عمر يجلس معهم فيه و يحدثهم عما ينتهى اليه من امور الافاق. (فتوح البلدان، مخ: ۴۶۶)

په نبوي مسجد کې د مهاجرينو يوه غونډه کېده عمر رضي الله عنه به هم ورسره وو او دوی ته به يې هغه ټول حالات بيانول چې د هيواد په بيلابيلو ګوښو کې به ده ته رسېدل.

دويمه دا چې په دولت کې به مشرتوب او امامت د موجودو مسلمانانو له بېلابېلو ډلو څخه د هغې ډلې حق وي چې د عامو مسلمانانو د اکثريت ملاتړ ولري، رسول الله تر خپل وفات يو څه وړاندې پرېکړه وکړه چې تر ده وروسته به د حکومت په چارو کې د ده ځای ناستی د انصارو پر ځای قريش وي. ده وويل:

ان هذا الامر فى القريش لا يعاديهم احد الا كبه الله فى النار على وجهه ما اقاموا الدين. (بخاري، شميره: ۷۱۳۹)

د واک چاره به له قريشو سره وي په دې کې چې هر څوک ورسره مخالفت وکړي الله به يې پرمخې په اور کې واچوي، څو چې دوی پر دين ولاړ وي.

پر همدې بنسټ يې انصارو ته لارښوونه وکړه چې قدموا قريشا و لا تقدموها[3] (په دې معامله کې قريش مخ ته کړئ او تر هغوی د مخ ته کېدو هڅه مه کوئ) او د خپلې دې پرېکړې وجه يې دا بيان کړې:

الناس تبع لقريش فى هذا الشان مسلمهم لمسلمهم و كافرهم لكافرهم. (مسلم، شميره: ۷۰۱)

خلک په دې چاره کې د قريشو تابع دي، د عربو مومنان د هغوی د مومنانو پيروان دي او کافران يې د کافرانو.

[3] تلخيص الحبير ۲/ ۶۲



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

په دې توګه رسول الله دا مسئله ییخي څرګنده کړه چي د عربو مسلمانان پر قریشو باور لري، له همدې کبله د قرآن کریم د لارښوونې أَمْرُهُمْ شُورَى بَيْنَهُمْ په رڼا کي د ټولو عربو تر منځ د عام امامت مستحقین له دوی پرته بل څوک نه شي کېدای او د واک لېږدولو دا پریکړه د کوم نژادي تفوق او یا نسلي ترجیح پر بنسټ نه بلکي د دوی د دې حیثیت له امله شوې ده.

د عربي تاریخ مطالعه کوونکي پوهېږي چي تر رسول الله وړاندي په عربو کي سیاسي اقتدار له قریشو سره ووا و د هغوی مشران د عربو مشران بلل کېدل، که څه هم د بدر او احد په جګړو کي د هغوی د مشرانو ډېری کسان ووژل شول خو په مجموعي توګه عربو لا هم پر قریشو باور درلود. په هغو کي چي کومو مشرانو ایمان راووړ ټول یې په مدینه کي را غونډ وو او د دوی ډېری اسلام ته د ښو خدماتو له امله له نورو ممتاز وو. دوی هماغه خلک وو چي د مهاجرینو په اصطلاحي نوم یادېدل او د عامو عربو تر اسلام منلو وروسته د دوی مشرانو په مسلمانانو کي هماغه رسوخ او باور درلود چي د جاهلیت په زمانه کي د قریشو مشرانو او اکابرو درلود. له همدې امله دې حقیقت د خپل اثبات لپاره نه ټولټاکنو ته اړتیا درلوده او نه په دې اړه د کومې شخړې او جنجال امکان وو چي د عربو د عامو مسلمانانو باور په هر حال کي له قریشو سره وو او په عربي ټاپو وزمه کي بلې هیڅ ډلې د هغوی د ننګونې توان نه درلود.

په دې کي شک نه شته چي په مدینه کي د اوس او خزرج د مشرانو سعد بن عباده او سعد بن معاذ په مشرۍ په سیمه ییزه ډول د انصارو اثر او رسوخ منل شوی وو او د خپلو دیني خدمتونو له مخې د قریشو تر مهاجرینو په هیڅ ډول کم نه وو، که هغوی هجرت کړی وو نو انصارو بې شرط و قیده هغوی ته د مرستې او ملاتړ په وړاندیز د دوی هرکلی کړی وو. د بدر او احد او احزاب و حنین په جګړو کي له دوی سره څنګ پر څنګ د اسلام د دښمنانو پر خلاف وجنګېدل، د مواخات په زمانه کي چي یې د انفاق فی سبیل الله کومې



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

بیلګي وړاندي کړې د تاریخ په پاڼو کي یې د بلې بېلګي وړاندي کول اسانه نه دي. که اسلامي دولت تر مدینې محدود وای نو په یقین سره ویل کېدای شوای چي تر رسول الله وروسته به واک دوی ته لېږدول شوی وای خو د مکې تر فتحې وروسته د اسلام پر لور د عامو عربو رجوع په سیاسي حالت کي ستر بدلون راووست او د قریشو د مهاجرینو په وړاندي د انصارو د سیاسي اثر او رسوخ کوم حیثیت پاتي نه شو. مګر له دې سره–سره هم وېره وه چي د قبایلي روا غیرت، فطري میلان، په دیني خدماتو کي د وړاندي کېدو د جذبې او په مدینه کي د خپل اثر، رسوخ او ډلې په اعتماد به هغوی د اقتدار په جنجال کي ښکېل شي او د قریشو د مهاجرینو د دریځ ننګونې لپاره به میدان ته راشي. که خدای مه کړه دا حالت را منځ ته شوی وای نو منافقینو ترې د ګټې اخیستلو هڅه کوله او د هغه وخت تمدني حالاتو ته په پام له جګړې او وینې تویونې پرته د شخړې حل کولو بل هیڅ صورت ممکن نه وو، نو همدې اندیښنې ته په پام رسول الله په راتلونکي کي د دې ممکنه قضیې پریکړه په خپل ژوند کي وکړه او د انصارو د مشر سعد بن عباده په شتون کي یې په خاص ډول انصارو ته وویل: الائمة من قریش[4] (تر ما وروسته به امامت د قریشو وي) له همدې امله چي کله د بنو ساعده په سقیفه کي د انصارو مشرانو د خلافت لپاره د خپل حق ثابتولو په غرض ولوله ناکې ویناوې وکړې نو ابو بکر صدیق رضي الله عنه د رسول الله د دې وینا په یادولو وویل:

| | |
|---|---|
| لقد علمت یا سعد ان رسول الله قال: و انت قاعد، قریش ولاة هذا الامر فبر الناس تبع لبرهم و فاجرهم تبع لفاجرهم. قال فقال | اې سعده! تا ته ښه معلومه ده چي رسول الله ستا په مخ کي وویل: خلافت به د قریشو وي ځکه د عربو نیکان به د هغوی د نیکانو تابع وي او بدان به یې د بدانو. سعد وویل: ته سم وایې، موږ وزیران یوا |

[4] احمد بن حنبل، شمیره: ۱۲۲۴۷، ۱۲۸۳۵



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

لـه سـعد: صـدقت نحـن الـوزراء و انتم الامراء. (احمد بن حنبل، شمیره: ۲۸)

وتاسو امیران.

په یوه بل روایت کي د هغه الفاظ دادي:

لم تعرف العرب هذا الامر الا لهذا الحی مـن قـریش. (احمد بـن حنبـل، شمیره: ۳۹۱)

عـرب د قریشـو لـه قبیلې پرتـه د بل چا لـه مشرۍ سره اشنا نه دي.

د انصارو د مشر سعد بن عباده له لوري د ابو بکر صدیق د دې وینا تر تصدیق وروسته د سقیفه بنو ساعده ګډونوالو ته دا حقیقت څرګند شو چي د بحث او غور په جوش کي پر غلطه لار روان وو، په داسي حال کي چي د دوی د غور مسئله صرف دا وه چي د عامو مسلمانانو د اکثریت پر بنسټ چي کومې ډلې ته واک لېږدول شوی د هغې د مشرتوب لپاره کوم مشروټاکل شي؟ د هغوی په مشرانو کي به څوک غوره کوي چي هغه به د مسلمانانو خلیفه وي او پر دوی به یې اطاعت لازم وي، د واک لېږدولو دا پریکړه د هغوی رسول کړې او د دې بر خلاف د دوی لپاره د بلې لارې غوره کول روا نه دي.

راشده خلافت د همدې فیصلې پر بنسټ را منځ ته شو، کله چي د انصارو مشرانو دا پریکړه ومنله نو عمر فاروق د دې باور پر بنسټ چي د قریشي مهاجرینو مشران به نه یوازې د ده د نظر مخالفت ونه کړي بلکي د سقیفې په حالت کي به حتما د ده اقدام درست وګڼي له همدې امله یې د ابو بکر صدیق خلافت اعلان کړ، وروسته یې پر یوه موکه د خپل اقدام همدا سبب بیان کړ او خلګو ته یې خبرداری ورکړ چي په راتلونکي کي دي څوک په دې اړه د قرآن کریم د حکم أَمْرُهُمْ شُورَى بَيْنَهُمْ پر خلاف د دلیل په توګه د ورندي کولو جرأت نه کوي، ده وویل:



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

فلا یغترن امرؤ ان یقول انما کانت بیعة ابی بکر فلتة و تمت، الا، و انها قد کانت کذلک، و لکن الله وقی شرها و لیس منکم من تقطع الاعناق الیه مثل ابی بکر. من بایع رجلا عن غیر مشورة من المسلمین فلا یبایع هو و لا الذی بایعه تغرة ان یقتلا. (بخاري، شمیره: ۶۸۳۰)

په تاسو کي دي څوک په دې تېر نه وزي چي د ابو بکر بیعت ناڅاپي ترسره شو او خلګو ومانه، په دې کي شک نه شته چي د هغه بیعت همداسي وو خو الله مومنان د هغه له کومې بدې نتیجې وساتل او په یاد ولرئ په تاسو کي اوس داسي څوک نه شته چي د ابو بکر په څېر غاړې ورته ټیټې شي، له همدې کبله که چا د مومنانو له رایې پرته له یو چا سره بیعت وکړ له هغه او بیعت اخیستونکي دواړو سره دي بیعت نه کېږي، ځکه هغوی دواړه ګواکي په خپل دي اقدام سره ځان قتل ته وړاندي کوي.

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

د ابو بکر صدیق رضی الله عنه د مړینې پر مهال د مهاجرینو همدا حیثیت پاتي وو، څرنګه چي د انصارو او عربو بلې کومې ډلې د دوی په وړاندي د اکثریت دعوه نه وه کړې له همدې کبله واک ورسره پاتي وو او د توثیق لپاره یې د عامو مسلمانانو لور ته د رجوع کولو اړتیا نه وه، پر همدې بنسټ عمر رضی الله عنه د مهاجرینو د نوي مشر په توګه وټاکل شو او د هغه ټاکنه د مسلمانانو دوو لویو ډلو د انصارو او مهاجرینو مشرانو ومنله چي په دې توګه له څه شخړې پرته د اسلامي اصولو پر بنسټ واک هغه ته ولېږدول شو. د ابن سعد روایت دی:

ان ابا بکر الصدیق لما استعزبه، دعا عبد الرحمن بن عوف فقال: اخبرنی عن عمر بن الخطاب. فقال عبد الرحمن: ما تسألنی عن امر

د ابو بکر صدیق ناروغي ډېره شوه، د مرګ وخت یې را نژدې شو نو عبد الرحمن بن عوف یې را وغوښت او ورته وې ویل: ما ته د عمر بن الخطاب په اړه و وایه. عبد الرحمن ځواب ورکړ: ته له ما څخه د یوې



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

الا و انت اعلم به منی، فقال ابوبکر: و ان، فقال عبد الرحمن: هو والله، افضل من رأيک فيه، ثم دعا عثمان بن عفان، فقال: اخبرنی عن عمر، فقال: انت اخبرنا به، فقال: علی ذلک يا ابا عبدالله فقال عثمان: اللهم علمی به ان سريرته خير من علانيته و انه ليس فينا مثله. (الطبقات الکبری ۳/ ۱۹۹)

داسي معاملې په اړه رايه غواړې چې ته تر ما ښه پرې پوهېږې. ابو بکر وويل: که څه هم (دا سمه ده خو ته خپل نظر ووايه) عبد الرحمن بن عوف وويل: په الله قسم دی تر هغه څه هم پورته دی چې تا يې په اړه وويل! بيا يې عثمان را وغوښت او هغه ته يې وويل: د عمر په اړه را ته ووايه. عثمان ځواب ورکړ چې ته يې تر موږ ښه پېژنې. ده وويل: اې ابا عبد الله! له دې سره-سره (غواړم ستا نظر معلوم کړم) عثمان وويل: بې شکه زه پوهېږم چې باطن يې تر ظاهر ډېر ښه دی او په موږ کې د ده په څېر بل څوک نه شته.

ابن سعد وايي، ده پر دې دوو سربيره د مهاجرينو او انصارو له ټولو مشرانو څخه مشوره وغوښته:

و شاور معهما سعيد بن زيد ابا الاعور و اسيد بن الحضير و غيرهما من المهاجرين و الانصار فقال اسيد: اللهم، اعلمه الخيرة بعدک، يرضی للرضی و يسخط للسخط، الذی يسر خير من الذی يعلن و لم يل هذا الامر احد اقوی عليه منه. (الطبقات الکبری ۳/ ۱۹۹)

او ده پر دې دوو ښاغلو سربيره له ابو الاعور سعيد بن زيد، اسيد بن الحضيرا و د مهاجرينو او انصارو له نورو مشرانو سره هم مشوره وکړه. اسيد وويل: بې شکه زه هغه تر تا وروسته له ټولو غوره ګڼم، هغه د خوشالۍ پر ځای خوشاله او د خپګان پر ځای خپه وي، باطن يې تر ظاهر غوره دی، د خلافت بوج تر ده بل څوک ښه نه شي پورته کولای.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ابن سعد تر دې وروسته ويلي چې ځينو کسانو د ابو بکر صديق له نظر سره مخالفت هم وکړ، خو ده قناعت ورکړ. بيا يې عثمان ﷺ را وغوښت او ورته ويې ويل:

اکتب: بسم الله الرحمن الرحيم. هذا ما عهد ابو بکر بن ابی قحافة فی اخر عهده بالدنيا خارجا منها و عند اول عهده بالاخرة داخلا فيها حيث يؤمن الکافر و يوقن الفاجر و يصدق الکاذب. انی استخلفت عليکم بعدی عمر بن الخطاب فاسمعوا له و اطيعوا. (الطبقات الکبری ۳/۲۰۰)

وليکه: د رحمان او رحيم الله په نوم، دا د ابو بکر بن ابی قحافه وصيت دی، دا يې هغه مهال کړی چې د نيوي ژوند يې ختميدونکی ووا و ترې روان وو، د اخرت ژوند يې پيليدونکی ووا و ور روان وو، هغه مهال چې کافر ايمان راوړي، فاجر باوري کوي او دروغجن رښتيا وايي. ما عمر بن الخطاب ستاسو خليفه ټاکلی نو د هغه خبره واورئ او اطاعت يې وکړئ.

د هغه دا خط ټاپه شو، د هغه له امر سره سم عثمان ﷺ د عمربن الخطاب او اسيد بن سعيد په ملګرتيا دباندې راووت او خلګو ته يې وويل:

اتبايعون لمن فی هذا الکتاب؟ فقالوا: نعم. (الطبقات الکبری ۳/۲۰۰)

ايا تاسو له هغه چا سره بيعت کوئ چې په دې کتاب کې دی؟. دوی وويل: هو!.

د ابن سعد په روايت کې دي:

فاقروا بذلک جميعا ورضوا به و بايعوا ثم دعا ابو بکر عمر خاليا، فاوصاه بما اوصاه به. (الطبقات الکبری ۳/۲۰۰)

ټولو اقرار وکړ، راضي شول او له عمر ﷺ سره يې بيعت وکړ. بيا ابو بکر عمر يوازې ور وغوښت او څه نصيحت چې يې غوښت هغه يې ورته وکړ.

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کله چي عمر ﷺ زخمي او د مرګ وخت يې را نژدې شو نو هم دا حقيقت پر خپل ځای پاتي وو چي د عامو مسلمانانو د اکثريت اعتماد پر مهاجرينو وو، نو له اسلامي قانون سره سم د مسئلې نوعيت هغه مهال هم دا وو چي د اکثريت ملاتړ درلودونکې ډلې به خپل مشر غوره کاوه. مسئوليت پېژندونکو کسانو له عمر ﷺ غوښتنه وکړه چي: الا تعهد الينا الا تؤمر علينا [5] (ايا ته زموږ لپاره وصيت نه کوې؟ ايا ته زموږ لپاره خليفه نه ټاکې؟) مګر ده دا بو بکر صديق په څېر د شورا له غړيو څخه د مشورې په اخيستلو په خپله د خليفه ټاکلو پر ځای دا چاره د قريشو د مهاجرينو شپږو مشرانو ته وسپارله او هغوی ته يې وويل:

انی قد نظرت لکم فی امر الناس فلم اجد عند الناس شقاقا الا ان يکون فيکم. فان کان شقاق فهو فيکم و انما الامر الی ستة: الی عبد الرحمن و عثمان و علی و الزبير و طلحة و سعد. (الطبقات الکبری ۳/ ۳۴۴)

ما ستاسو پر عمومي مشرتوب غور کړی او دې نتيجې ته رسېدلی يم چي د خلافت په معامله کي خلګ هيڅ اختلاف نه لري مګر دا چي تاسو اختلاف وکړئ، نو که کوم اختلاف وي هغه به ستاسو تر منځ وي ځکه نو دا مسئله تاسو شپږو عبد الرحمن، عثمان، علي، زبير، طلحه او سعد ته سپارل کېږي.

د هغه د دې خبرې مطلب دا وو چي د خلګو په نزد له تاسو پرته بل څوک د امارت وړ نه دی، له همدې کبله که تاسو په خپل منځ کي پر چا اتفاق وکړئ نو هغوی به درسره اختلاف ونه کړي. تردې وروسته يې وويل: قوموا فتشاوروا فأمروا احدکم. [6]

---

[5] الطبقات الکبری د ابن سعد ۳/ ۳۴۳

[6] الطبقات الکبری د ابن سعد ۳/ ۳۴۴



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

(ځئ مشوره وکړئ او له خپل منځ څخه یو امیر کړئ) خو څرنګه چې ویره وه شر خوښوونکي به فتنه جوړه کړي او یا به دوی مشوره له اړتیا پرته ډېره اوږده کړي له همدې امله یې انصارو ته چې د اقلیت له امله د دې مسئلې غړي نه وو هغوی یې پرې ځارونکي کړل. ابن سعد د انس بن مالک په حواله وایي:

ارسل عمر بن الخطاب الی ابی طلحة الانصاری قبیل ان یموت بساعة فقال: یا ابا طلحة، کن فی خمسین من قومک من الانصار مع هؤلاء النفر اصحاب الشوری فانهم فیما احسب سیجتمعون فی بیت احدهم فقم علی ذلک الباب باصحابک فلا تترک احدا یدخل علیهم و لا تترکهم یمضی الیوم الثالث حتی یؤمروا احدهم.

عمر بن الخطاب تر وفات لږ وړاندې ابو طلحه انصاري وروغوښت، هغه راغی نو ورته وېې ویل: ابو طلحه! د خپل قوم انصارو پنځوس کسان درسره واخله، د دوی د مشورې ځای ته ورشه زه فکر کوم دوی به په خپل یوه کور کې را غونډ شي، ته له خپلو ملګرو سره ورشه پر دروازه ودرېږه، مه څوک دننه ورپرېږده او مه هغوی ته د امیر د ټاکلو لپاره تر درو ورځو زیات وخت ورکوه.

(الطبقات الکبری ۳/ ۳۶۴)

عمر رضي الله عنه هغوی ته د انصارو د حل و عقد د خاوندانو په اړه لارښوونه وکړه:

احضروا معکم من شیوخ الانصار و لیس لهم من امرکم شیء.

د انصارو مشران ځان ته را بولئ، خو دوی ستاسو په مشرتوب کې هیڅ برخه نه لري.

(الامامة و السیاسة، ابن قتیبه: ۲۸)

د بخاري او ابن سعد دواړو روایت دادی چې دوی ټول را غونډ شول نو عبد الرحمن بن عوف درو ته د درو په حق کې د تیرېدو مشوره ورکړه، نو زبیر د علي په ګټه او طلحه او



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."
www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

سعد د عثمان او عبد الرحمن په ګټه تر خپل حق تېر شول. بیا هغه علي او عثمان ته وویل چې دوی دي دد ې معاملې فیصله هغه ته وسپاري، هغوی دواړه راضي شول نو ده علي رضي الله عنه ته وویل:

ان لک من القرابة من رسول الله صلی الله علیه وسلم والقدم. و الله علیک لئن استخلفت لتعدلن و لئن استخلف عثمان لتسمعن و لتطیعن. (الطبقات الکبری ۳ / ۳۳۹)

ته په دین کې د وړاندیتوب او له رسول الله سره د خپلوۍ شرافت لرې الله شاهد کړه چې که خلافت تا ته وسپارل شي نو ته به د عدالت کولو ژمنه کوې او که عثمان خلیفه وټاکل شو نو ته به د هغه د خبرې اورېدو او اطاعت چلند خپلوې.

کله چې علي رضي الله عنه اقرار وکړ نو همدا خبره یې عثمان رضي الله عنه ته وکړه، هغه هم راضي شو نو ویې ویل: عثمانه! خپل لاس راکړه. هغه لاس ورکړ نو علي او نورو خلکو ورسره بیعت وکړ.[۷]

د علي رضي الله عنه د ټاکنې په اړه دوه نظره کېدای شي مګر د نظرونو دا اختلاف د کومو بنسټیزو اصولو په اړه نه دي، صرف په دې اړه دي چې ایا د قریشو ټول مشران د هغه د ټاکنې پر مهال را غونډ شول او دی یې د خپلې ازادې خوښې له مخې وټاکه؟ که په دې کې زور زیاتي هم وندۀ درلوده؟. دا بحث زموږ له موضوع سره تړاو نه لري، له همدې کبله که دې ته پام هم ونه شي نو دا حقیقت پر خپل ځای ثابت دی چې د راشده خلافت د واک په ټوله زمانه کې اقتدار په هر حال د اکثریت ملاتړ درلودونکې ډلې یعني د قریشو له مهاجرینو سره وو او د هغوی لویو مشرانو په خپل منځي مشوره د عامه مشرتوب لپاره مختلف کسان ټاکل. دا هم یو حقیقت دی چې د څلورو خلفاوو د انتخاب لپاره جلا – جلا طریقې نه دي غوره شوې بلکې له اصولي پلوه صرف د یوې طریقې پیروي شوې ده،

[۷] بخاري، شمیره: ۳۷۰۰، الطبقات الکبری د ابن سعد ۳ / ۳۳۹



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

هغوی ټول د اکثریتي ډلې له مشرانو وټاکل شول او ټاکنه یې د ټولو ډلو د مشرانو په وسیله وه. توپیر صرف دومره دی چې کله هغوی پر عمر ﷺ متفق شول نو ابو بکر صدیق هغه پریکړه په خپله نافذه کړه، مګر عمر ﷺ د هغوی رایه مختلفو خو په شپږو لویو مشرانو کې محدوده کړه. هغه دا پریکړه په خپله اعلان کړه او له شپږو څخه د یوه د انتخاب مسئولیت یې دوی ته وسپاره.

۱۹۹۰

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

# ناسم تاویل

د قرآن کریم دوه ایاتونه دي چي دا مهال یې ځیني علماء د دین د غلبې لپاره د خپلو هلو -ځلو ماخذ ګڼي او پر همدې بنسټ یې د دین په فرایضو کي د اقامت دین په نوم یوه بله فریضه ور زیاته کړې ده[1] زموږ په اند د دې ایاتونو دا تاویل د عربیت له مخې د نقد وړ او د قرآن کریم د مطلب بېخي خلاف دی، دلته په همدې اړه خپل تحقیق له دلایلو سره یو ځای بیانوو.

لومړی ایت دا دی:

هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَىٰ وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ (الصف ۶۱ : ۹)

دی هغه دی چي خپل رسول یې له هدایت او حق دین سره را ولېږه چي پر ټولو دینونو یې غالب کړي، که څه هم د دې مشرکینو خوښه نه وي.

که پر دې ایت غور وکړئ نو دلته الله د رسول الله په اړه خپل هماغه سنت بیان کړی چي د رسولانو په اړه یې یادونه د یوه قطعي قانون په توګه په قرآن کي ځای پر ځای شوې ده. هغه سنت دا دی چي کله د رسولانو په وسیله پر کوم قوم الهي حجت پوره کېږي نو الله هغوی ته پر دې قوم غلبه ورکوي، کېدا ی شي نبي د خپل قوم په وړاندي ناکام شي[2] مګر رسول په هر حال کي پر خپل قوم بریالی کېږي، دا بریا د هغه په ژوند کي وي او که له نړۍ څخه د هغه تر تګ وروسته یې د ده ملګري او ملاتړي تر لاسه کړي. په سورت المجادله

[1] دا مهال ځیني کسان غواړي همدا مطلب د سورت المدثر د وربّک فکبِّر په ایت هم ثابته کړي خو د دې پوچوالی دومره څرګند دی چي که څوک د عربي ژبې او قرآن له اسلوبو سره لږ اشنایي هم ولري نو د توجو وړ یې نه شي ګڼلای.

[2] یعني د دنیوي بریا له مخې



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کي دي:

إِنَّ الَّذِينَ يُحَادُّونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ أُوْلَئِكَ فِي الأَذَلِّينَ * كَتَبَ اللَّهُ لَأَغْلِبَنَّ أَنَا وَرُسُلِي إِنَّ اللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٌ* (المجادلة ۵۸ : ۲۰، ۲۱)

بې شکه کوم کسان چې د الله او د هغه د رسول مخالفت کوي هغوی به خوار شي، الله ليکلي چې زه او زما رسولان به په هر حالت کي بريالي کېږو بې شکه الله قوي او عزيز دی.

محمد صلی الله عليه وسلم هم د الله رسول وو، نو په قرآن کي د ده په اړه هم دا الهي سنن بيان شوي. د قرآن وينا ده چې د ده ملګرو ته په ښکاره وويل شول چې تاسو به پر خپل قوم يعني مشرکينو حتما بريالي کېږئ، په سورت الفتح کي دي:

وَلَوْ قَاتَلَكُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوَلَّوُا الْأَدْبَارَ ثُمَّ لاَ يَجِدُونَ وَلِيًّا وَلاَ نَصِيراً * سُنَّةَ اللَّهِ الَّتِي قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلُ وَلَن تَجِدَ لِسُنَّةِ اللَّهِ تَبْدِيلاً* (الفتح ۴۸ : ۲۲، ۲۳)

او که دا منکرين (د قريشو کفار) له تاسو سره جنګ وکړي نو حتما به په ماتېدو شا دروا ړوي، بيا به نه کوم بادار لري او نه مرستندوی، دا د الله تاکلی سنت دی چې له وړاندي را روان دی او ته به د الله په دې سنت کي هيڅکله بدلون ونه مومې.

دا سنت په څه ډول پوره شو؟ له قرآن کريم څخه ښکاري چې صحابه کرامو ته له هغوی سره د جګړې امر وشو او دوی ته د هغې جګړې هدف دا وښودل شو چې د عربو مشرکين به يا اسلام مني او يا به له منځه وړل کېږي. په سورت الفتح کي دي:

تُقَاتِلُونَهُمْ أَوْ يُسْلِمُونَ (الفتح ۴۸ : ۱۶)

يا به تاسو له هغوی سره جګړه کوئ او يا به دوی مسلمانېږي.

هغوی ته وويل شول چې له مشرکينو سره تر هغو جګړه وکړي چې د عربو په خاوره کي حق دين برلاسی شي او دوی ته وويل شول چې که هغوی له خپل چلند څخه لاس وانه خلي نو هماغه برخليک به يې وي چې تر دوی وړاندي هغه قومونه ورسره مخ شوي چې



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

رسولان ورغلي او دوی ترې انکار کړی. په سورت الأنفال کي دي:

قُل لِلَّذِينَ كَفَرُواْ إِن يَنتَهُواْ يُغفَرْ لَهُم مَّا قَدْ سَلَفَ وَإِنْ يَعُودُواْ فَقَدْ مَضَتْ سُنَّةُ الأَوَّلِين * وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لاَ تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلّه فَإِنِ انتَهَوْاْ فَإِنَّ اللّهَ بِمَا يَعْمَلُونَ بَصِير* (الأنفال ۸ : ۳۸، ۳۹)

دې کافرانو ته ووایه چي که اوس هم د اسلام له مخالفت څخه را وګرزي نو څه چي یې وړاندي کړي هغه به ورته وبخښل شي او که دوی پخوانی تګلاره تکرار کړه نو زموږ هغه طریقه دي یاده وساتي چي له مخکینیو قومونو سره مو غوره کړې، له دوی سره تر هغو وجنګیږئ چي فتنه پاتي نه شي او (په دې ځمکه کي) دین ټول الله لره شي، نو که دوی منعه شول الله د دوی د ټولو اعمالو لیدونکی دی.

له دوی سره وعده وشوه چي د دې جګړې په نتیجه کي به حتما پر عربي خاوره واک او اقتدار تر لاسه کوي، په سورت النور کي الهي وینا ده:

وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُم فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَى لَهُمْ (النور ۲۴ : ۵۵)

(د رسول ملګرو!) الله وعده کړې چي په تاسو کي کومو کسانو ربښتنی ایمان راوړی او نیک اعمال یې کړي الله به په دې ځمکه کي داسي واک ورکړي لکه تر دې د مخکینیو رسولانو امتونو ته چي یې ورکړی وو او د دوی لپاره به هغه دین پیاوړی کړي چي دوی ته یې خوښ کړی دی.

تاریخ شاهدي ورکوي چي الله دا وعده د رسول الله په ژوند کي پوره کړه او حق دین د عربي خاورې پر ټولو دینونو غالب شو، رسول الله اعلان وکړ چي «لا يجتمع دينان في



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

جزیرة العرب »[3] (په عربي ټاپو وزمه کي له حق دین سره بل دین نه شي یو ځای کېدای) نو د رسولانو په اړه د الله هغه سنت د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په هکله هم پوره شو چي د قران کریم له مخې نه بدلېدونکي دی.

د سورت الصف یاد ایت په حقیقت کي له همدې سنت سره تړاو لري.

که پر ایت غور وکړئ، نو په هغه کي د (لیظهره) د مرفوع ضمیر مرجع د ژبنیو قواعدو له مخې الله او د منصوب ضمیر مرجع الهدی یعني دین الحق دی، څرنګه چي (الدین کله) د (ولو کره المشرکون) معطوف علیه دی او په قرآن کریم کي د المشرکون تعبیر تل د عربي مشرکینو لپاره غوره شوی ځکه نو د عربیت له مخې د (الدین) الف لام حتما د عهد لپاره دی. له همدې امله دلته د ټولو دینونو مطلب د عربي خاورې ټول دینونه دي، د دې تحلیل له مخې به مورږ د ایت معنا داسي کوو:

" دی هغه دی چي خپل رسول یې له هدایت یعني حق دین سره را ولېږه چي دی دا دین (د عربي خاورې) پر ټولو دینونو غالب کړي، که څه هم د مشرکینو خوښه نه وي."

د عربي قواعدو او قرآني بیلګو په رڼا کي د ایت ترجمه هم داسي کېدای شي او د دې ترجمې له مخې څرګنده ده چي دا مهال د دین د غلبې لپاره د یو شخص هڅې له دې ایت سره هیڅ تړاو نه لري، د سورت الصف مخاطبین د رسول الله ملګري دي او موضوع یې د رسول په ملاتړ جهاد ته هڅونه ده. د قرآن له وینا سره سم دا ملاتړ د رسول پر منونکو د هغه ځانګړی حق دی، په دې سورت کي وړاندي د دوو سترو رسولانو په حواله د رسول الله منونکو ته خبر ورکړل شوی چي دوی دي د هغو رسولانو د قوم بني اسرائیلو په څېر د ده په حق کي کوتاهي نه کوي، تر دې وروسته زېری ورکړل شوی چي الله به خپل رسول بریالی کړي بیا یې دوی د دې هدف لپاره جهاد ته هڅولي او غوښتنه یې تري کړې چي د

[3] الموطا، شمیره: ۲۸۱۷



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."
www.javedahmadghamidi.com www.al-mawrid.org

ملاتړ حق دي ادا کړي. په پای کي یې د بني اسرائیلو د وروستي رسول عیسی علیه السلام د حواریونو بېلګه بیان کړې چي د هغوی رسول کله تړې د دې حق د ادا کولو غوښتنه وکړه نو هغوی یې له څه تردد پرته ادا کولو ته ور وړاندي شول چي الله پر خپلو دښمنانو بریالي کړل.

د قرآن کریم په دوو نورو ځایونو کي هم دا ایت په دغسي سیاق کي راغلی دی، دا حکم تر رسول الله او د هغه تر ملګرو ځانګړی دی. له رسول الله وروسته نور تر قیامته څوک دا حق نه لري چي هغه د دې ایت حکم او غوښتنې و لوازم یو څوک د خپل شخصیت یا هڅو سره وتړي.

دویم ایت دا دی:

شَرَعَ لَكُم مِّنَ الدِّينِ مَا وَصَّى بِهِ نُوحًا وَالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ وَمَا وَصَّيْنَا بِهِ إِبْرَاهِيمَ وَمُوسَى وَعِيسَى أَنْ أَقِيمُوا الدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُوا فِيهِ (الشوری ۴۲ : ۱۳)

ده ستاسو لپاره هماغه دین ټاکلی چي د هغه حکم یې نوح ته کړی وو او اوس مو یې تا ته وحي کړې او موږ یې ابراهیم، موسی او عیسی ته لارښوونه کړې وه. له دې ټینګار سره چي دا دین قایم کړئ او تفرقه پکي مه پیدا کوئ.

په دې ایت کي لومړنۍ خبره دا شوې چي محمد صلی الله علیه وسلم نه له کوم نوي دین سره راغلی او نه تر دې وړاندي کوم نبي د خپل بېل مذهب را منځ ته کوونکی وو، بلکي صرف حق دین دی چي ټولو نبیانو ته ورکړل شوی دی. نوح، ابراهیم، موسی او عیسی علیهما السلام همدې دین ته دعوت وکړ او دا مهال محمد صلی الله علیه وسلم له همدې دین سره را لېږل شوی دی. تر دې وروسته ویل شوي چي دې ټولو نبیانو او د هغوی امتیانو ته دا دین له دې هدایت سره ورکړل شوی چي (أَنْ أَقِيمُوا الدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُوا فِيهِ).



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

www.javedahmadghamidi.com www.almawrid.org

د دې هدایت هدف څه دی؟ په هغه د پوهېدو لپاره د ایت پر الفاظو غور وکړئ چې پکې تر ټولو مهم لفظ اقیموا دی، دا د افعال د باب امر دی. د عربې ژبې له مخې که دا مستقیما له کوم مفعول سره تړاو ولري نو په لاندې دوو بڼو کارېږي:

۱) د مادي شیانو لپاره د حقیقت او یا مجاز له مخې

۲) د معنوي حقایقو لپاره

په لومړي شکل کې چې یې د قرآن کریم او عربې کلام د پلټنې له مخې کومې معناوې تر لاسه کېږي هغه دا دي:

۱) سیده کول، یا سیده ساتل. د بیلګې په توګه وایي: اقام الدرء هغه د نیزې کوږوالی لرې کړ، اقام الصف هغه صف سیده کړ. ثعلبه بن عمرو ویلي دي:

اکب علیها کاتب بدواته     یقیم یدیه تارة ویخالف

"یو لیکوال پرې په خپلو وسایلو نقوش جوړول، کله به یې خپل لاسونه سیده کړي وو او کله د دې بر خلاف."

په همدې معنا مجازي اسلوب دا دي: اقیموا صدورکم د خپلو زړونو کږوالی لرې کړئ. یزید بن خذاق وایي:

اقیموا بنی النعمان عنا صدورکم     والا تقیموا کارهین الرؤسا

"د نعمان زامنو! زموږ له خوا د خپلو زړونو کږوالی لرې کړئ، که نه یاد لرئ د خپلو سرونو د کږوالي لرې کولو ته به مجبور شئ."

په سورت الرحمان کې دي:

وَأَقِيمُوا الْوَزْنَ بِالْقِسْطِ وَأَقِيمُوا الْوَزْنَ بِالْقِسْطِ (الرحمن ۵۵ : ۹)     او ترازو له انصاف سره سیده تولوئ.

په أعراف کې دي:



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."
www.javedahmadghamidi.org
www.al-mawrid.org

وَأَقِيمُواْ وُجُوهَكُمْ عِندَ كُلِّ مَسْجِدٍ (الأعراف ۷ : ۲۹) او د هر لمانځه پر مهال خپل مخ (د الله پر لور) سیده کړئ.

په روم کې دي:

فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ الْقَيِّمِ (روم ۳۰ : ۴۳) نو پر مستقیمه لار خپل مخ سیده ساته.

۲) د کوم نرم شي ټینګول، بشامه بن غدیر د خپل اوښ په ستاینه کې وایي:

فاقام هوذلة الرشاء، و ان تخطی یداه یمد بالضبع

"نو هغه د څاه کمزورې رسۍ ټینګه کړه او که یې لاس ناکام شي نو خپل بازوګان به وغوړوي."

۳) د ناست را پورته کول، ولاړول لکه اقام الرجل هغه سړی ولاړ کړ، اقام الدار هغه دېوال ودراوه. په سورت الکهف کې دي:

فَوَجَدَا فِيهَا جِدَارًا يُرِيدُ أَنْ يَنقَضَّ فَأَقَامَهُ (الكهف ۱۸ : ۷۷) په هغه کلي کې یې یو دېوال وموند چې غوښتل یې ونړېږي نو ویې دراوه.

له همدې مفهوم څخه مجازي اسلوب: اقام السوق هغه بازارولګاوه، بازار یې ګرم کړ. د ابن خزیم یو شعر دی:

اقامت غزالة السوق الضراب لاهل العراقین حولا قمیطا

"غزالې د بصریانو او کوفیانو لپاره بشپړ کال د جګړې بازار تود ساتلی وو."

په سورت النساء کې دي:

وَإِذَا كُنتَ فِيهِمْ فَأَقَمْتَ لَهُمُ الصَّلاَةَ (۴ : ۱۰۲) او کله چې ته د دوی په منځ کې یې نو بیا د دوی لپاره لمونځ ودروې.

په سورت الکهف کې دي:



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

فَلاَ نُقِيمُ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَزْنًا (الکهف ۱۸ : ۱۰۵) نو موږ به په قیامت کي دوی ته هیڅ وزن ورنه کړو.

دا لومړنی صورت دی، په دویم صورت کي چي کله همدا درې مفاهیم له معنوي حقایقو سره تړاو پیدا کوي او کومې معناوې تري پیدا کیږي هغه دادي:

۱) د ناست له پورته کولو او ولاړولو څخه ښکارول، رواجول او نافذول لکه: اقم الحق حق څرګند کړه، اقم الحد علیه پر ده حد نافذ کړه.

۲) له سیده کولو او یا سیده ساتلو څخه سمول، یا سم ساتل. په سورت الطلاق کي دي:

وَأَقِيمُوا الشَّهَادَةَ لِلَّهِ (۶۵ : ۲) او (شاهدي ورکوونکو!) دا شاهدي د الله لپاره سموئ.

۳) د یو شي له ټینګولو څخه ثابت، مستقل، خوندي او پر ځای ساتل. د لمانځه په اړه وایي: اقامها الله الله دي برقرار وساتي. په سورت البقرة کي دي:

فَإِنْ خِفْتُمْ أَلاَّ يُقِيمَا حُدُودَ اللّهِ (۲ : ۲۲۹) نو که تاسو وېره درلوده چي دوی به الهي حدود برقرار ونه شي ساتلای.

یعني پر هغو به ونه دریږي، په سورت المایده کي یې ویلي:

قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لَسْتُمْ عَلَى شَيْءٍ حَتَّىَ تُقِيمُواْ التَّوْرَاةَ وَالإِنجِيلَ وَمَا أُنزِلَ إِلَيْكُم مِّن رَّبِّكُمْ (۵ : ۶۸) ووایه اې اهل کتابو! تاسو تر هغو هیڅ بنسټ نه لرئ چي تورات، انجیل او هغه کتاب (په خپل ژوند کي) ثابت نه کړئ چي ستاسو د رب له خوا درته نازل شوی.

یعني پر هغو ونه دریږئ.

همدا اخیري معنا ده چي د قرآن کریم ډېری ژباړونکو ورڅخه په قایم کولو او قایم ساتلو تعبیر کړی دی، یعني په خپل ژوند کي یو شی ثابت، مستقیم، خوندي او پر ځای



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."
www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

ساتل. په بل عبارت هغه د خپل ژوند قانون ګرزول، مولانا سید ابو الأعلی مودودي د (حَتَّىَ تُقِيمُواْ التَّوْرَاةَ وَالإِنجِيلَ)[4] ترجمه داسي کړې: تر څو چي تاسي تورات، انجيل او هغه نور کتابونه قايم نه کړئ او بيا يې د هغه په شرح کي ليکلي:

" د تورات او انجيل له قايمولو څخه مراد په صداقت د هغو پيروي کول او هغه د خپل ژوند قانون ګرزول دي." (تفهيم القرآن ۱/ ۴۸۷)

تر دې تفصيل وروسته تاسو پر ياد ايت غور وکړئ، څرنګه چي په دې کي د اقيموا فعل مفعول يعني الدين يو معنوي شی دی ځکه نو لومړنی صورت ورسره هيڅ تړاو نه شي درلوداى. له همدې امله صرف دويم صورت پاتېږي، په هغه کي لومړنی معنا ظاهرول او نافذول دي. دلته چي تر کومه ځايه له نافذولو سره تعلق لري نو يقينا مرادېداى شواى خو دوه شيان د دې ممانعت کوي، يو دا چي د دې معنا لپاره د ژبنيو قواعدو له مخې اړينه ده چي د بېلګي په توګه د على فلان په صورت کي يې يو لازمي متعلق په جمله کي موجود يا مقدر وي لکه په اقيموا الحدود على الناس کي على الناس خو په ايت کي دا نه موجود دی او نه پکي د مقدر ګڼلو لپاره کومه قرينه موندل کېږي. دويم دا چي دا معنا د اقيموا الدين له معطوف لاتتفرقوا فيه سره هغه مناسبت نه لري چي په يو اعلا کلام کي د معطوف او معطوف عليه د تعلق لپاره اړين دی. همدا حالت د ظاهرولو هم دی، ښېخي ښکاره ده چي له لا تتفرقوا سره يې د مناسبت هيڅ صورت نه شي پيدا کېداى، نو د همدې خنډونو له امله دا معنا په دې ايت کي په هيڅ صورت نه شي مرادېداى.

تر دې وروسته اخيري دوې معناوې پاتېږي يعني دا چي هغه د بالکل سم او په خپل ژوند کي په پوره ډول د ثابت، مستقيم، خوندي او پر ځای ساتلو په معنا واخيستل شي. د

[4] المايده ۵: ۶۸



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دې غوره مثال په قرآن کريم کې د اقامة الصلاة حکم دی. الله ځای پر ځای دا حکم له همدې فعل اقام سره ورکړی او بيا يې په خپله په سورت المعارج کې د هغه معنا داسې بيان کړې ده:

الَّـذِينَ هُـمْ عَلَـى صَـلاَتِهِمْ دَائِمُـونَ هغوی چې پر خپلو لمنځونو دوام کوي. (المعارج ۷۰ : ۲۳)

وَالَّذِينَ هُمْ عَلَى صَـلاَتِهِمْ يُحَـافِظُونَ او هغوی چې د خپلو لمنځونو ساتنه کوي. (المعارج ۷۰ : ۳۴)

يعني پر خپلو لمنځونو قايم وي، هغه بالکل سم، ثابت، مستقل، خوندي او پر ځای ساتي.

تر دې وروسته ايت ته پام وکړئ، په ډېر لږ فکر سره به څرګنده شي چې په دې کې د اقيموا فعل په همدې معنا و استعمال شوی دی. په ايت کې د دې حقيقت تر وضاحت وروسته چې الله تعالی ټولو امتونو ته يو دين ورکړی د کلام د موقعيت تقاضا همدا وه چې دا دين پر خلګو کوم حق لري هغه په هر اړخيزو الفاظو بيان شي ځکه يې نو ويلي: أَنْ أَقِيمُوا الدِّينَ وَلاَ تَتَفَرَّقُوا فِيهِ (دا دين بالکل سم او په خپل ژوند کې پر ځای وساتئ او تفرقه پکې مه کوئ.)

په دين کې د متفرق کېدو معنا داده چې انسان يې په بشپړ ډول د صحيح ساتلو او پر هغه د ټينګېدو پر ځای هلته-دلته واړوي، يوه خبره يې ومني، يوه پرېږدي او بدعتونه پکې پيدا کړي. څرګنده ده دا شی د هغه څه بېخي خلاف دی چې په اقيموا الدين کې بيان شوی. په دې توګه د دې معنا له مخې د معطوف او معطوف عليه تر منځ بشپړ مناسبت پيدا کېږي، دا يوه داسې لارښوونه ده لکه بل ځای چې يې ويلي: وَاعْتَصِمُواْ بِحَبْلِ اللّهِ



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

جَمِیعًا وَلاَ تَفَرَّقُواْ [5] (ټول په ګډه د الله رسۍ ټینګه ونیسئ او تیت-پرک مه کېږئ) د دې هدایت مطلب دا دی چې دا دین د پرېښودو لپاره نه دی ورکړل شوی بلکې ټولو نبیانو او د هغوی امتونو ته له دې لاربښوونې سره ورکړل شوی چې په اخلاص سره یې ومني، په صداقت سره پرې عمل وکړي او په هغه کې د بدعتونو په پیدا کولو یې څېره خرابه نه کړي. ابن عربي د دې ایت په تفسیر کې لیکي:

ای اجعلوه قائما یرید دائما مستمرا محفوظا مستقرا من غیر خلاف فیه و لا اضطراب علیه. (احکام القرآن ۴/ ۱۶۶۷)

یعني هغه تل قایم وساتئ، له قایم څخه مراد دوام، همېشه توب، خوندي توب او پر ځای ساتل دي. داسې چې نه پکې کوم اختلاف وي او نه پکې ګډوډي.

د امام اللغت زمخشري نظر هم دا دی، دی په الکشاف کې لیکي:

والمراد: اقامة دین الاسلام الذی هو توحید الله و طاعته و الایمان برسله وکتبه و بیوم الجزاء و سائر ما یکون الرجل باقامته مسلما. (۴/ ۲۱۵)

او له دې څخه مراد په خپل ژوند کې د اسلام د هغه دین ثابت ساتل دي چې د الله توحید، د هغه اطاعت، د هغه پر رسولانو، کتابونو، د اخرت پر ورځ او ټولو هغو شیانو ایمان راوړل دي چې د هغو په ثابت ساتلو یو څوک مسلمانېږي.

الوسي یې په وضاحت کې لیکلي دي:

والمراد باقامته تعدیل ارکانه و حفظه من ان یقع فیه زیغ و

او د دین له اقامت څخه مراد په سم ډول د هغه د ارکانو ادا کول، پر له پسې له خرابیو څخه ساتنه او پر هغه دوام کول

---

[5] آل عمران ۳ : ۱۰۳



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

المواظبة عليه. (روح المعاني ۲۵ / ۲۱) دي.[٦]

استاد امام امين احسن اصلاحي ليکي:

"له قايم ساتلو څخه مراد دا دی چي کوم څه يې د منلو دي هغه په صداقت و منل شي او کوم څه يې د کولو دي هغه يې په اخلاص او رښتنولی ترسره شي. همدا راز پر خلګو پر له پسي څار موجود وي چي دوی تري غافل او بې لاري نه شي او دې ته هم پوره پاملرنه وشي چي بدعتيان پکي کومه خرابي پيدا نه کړای شي." [٧] (تدبر قرآن ۷ / ۱۵۳)

د دې معنا له مخې څرګنده ده چي دا د دين له فرايضو څخه يو فرض او د هغه له احکامو څخه يو حکم نه دی چي د اقامت دين د فريضې په ګڼلو په ديني فرايضو کي د يو فرض زياتونه وشي، بلکي د ټول دين په اړه يوه اصولي لارښوونه ده. هر هغه شی چي د قرآن او سنت له مخې په الدين کي شامل وي ياد ايت مونږ ته په خپل ژوند کي په بشپړه ول د هغه د پر ځای ساتلو لارښوونه کړې. د دې هدايت تقاضا داده چي په عقايدو او اصولو، لمانځه وروژه، حج و زکات، غوره ټولنيز ژوند، اصلاح و دعوت، قانون و شريعت، جهاد و قتال او نورو ټولو احکامو کي کوم شی د منلو دي هغه و منل شي او کوم څه د کولو دي هغه وشي مګر د دې لپاره نه چي دا ټول او يا په هغوی کي کوم حکم د اقيموا د لفظ په مفهوم کي داخل دی بلکي له دې امله چي دا هر څه د قرآن کريم او رسول الله له لارښوونو سره سم په الدين کي شامل دي او په ياد ايت کي مونږ ته لارښوونه شوې چي مونږ بشپړ دين له هره پلوه په خپل ژوند کي سم پر ځای وساتو او تفرقه پکي را نه ولو. هذا ما عندی و العلم عند الله

۱۹۹۰

---

[٦] دوام کول يعني په خپل ژوند کي يې پر ځای ساتل او پر هغه ټينګېدل.

[٧] يعني هغه له هره پلوه سم او په علم و عمل کي پر ځای وساتل شي.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

# اسلام او تصوف

زموږ د خانقاهي نظام بنسټ چي پر کوم دين اېښود ل شوی د هغه لپاره په موږ کي د تصوف اصطلاح دود ده، دا د هغه دين له اصولو او اساساتو څخه بالکل يو بېل موازي دين دی چي قرآن يې انسان ته بلنه ورکړې. لاندي د اسلام او تصوف په اړه خپل نظر په تفصيل سره بيانوو.

## توحيد

د قرآن له مخې توحيد صرف همدا دی چي يوازي الله اِله وبلل شي، دی د هغو ټولو کاملو صفتونو درلودونکی او له نيمګړتياوو و عيبونو پاک دی چي عقل يې مني او وضاحت يې الله د خپلو رسولانو په وسيله کړی دی. په عربي ژبه کي د اله لفظ د هغه ذات لپاره کارېږي چي د هغه لپاره په يوه نه يوه درجه تر اسبابو او علتونو پورته امر و تصرف ومنل شي، د قرآن کريم په نزد که د هرچا لپاره داسي صفت يا حق ومنل شي چي د دې امر او تصرف پر بنسټ تر لاسه کېدای شي نو په حقيقت کي هغه اله بلل دي، هغه دا ډول امر و تصرف او د هغو حقوق و صفات صرف الله ته ثابتوي، له انسان څخه يې غوښتنه داده چي دی يې هم په خپل ايمان و عمل او طلب و اراده کي صرف الله ته ثابت کړي. د هغه په اصطلاح شرک له همدې څخه د انحراف تعبير دی.

دا هماغه توحيد دی چي د الله دين پرې ولاړ دی، همدا د دې دين ابتدا، همدا يې انتها، همدا يې باطن او ظاهر دی. د الله نبيانو دې ته بلنه کړې، ابراهيم، موسی، يوحنا، مسيح او عربي نبي (پر دوی دي د الله رحمتونه وي) ټولو د همدې شعار ورکړی، ټول الهامي کتابونه له همدې سره نازل شوي، له دې څخه پورته د توحيد داسي بله درجه نه شته چي انسان يې په دې دنيا کي د تر لاسه کولو هڅه وکړي. قرآن له پيله تر پايه د همدې



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

بيان کړی، په سورت الحشر کي دي:

هُوَ اللَّهُ الَّذِي لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ هُوَ الرَّحْمَنُ الرَّحِيمُ * هُوَ اللَّهُ الَّذِي لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الْمَلِكُ الْقُدُّوسُ السَّلاَمُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَيْمِنُ الْعَزِيزُ الْجَبَّارُ الْمُتَكَبِّرُ سُبْحَانَ اللَّهِ عَمَّا يُشْرِكُونَ * هُوَ اللَّهُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ لَهُ الأَسْمَاءُ الْحُسْنَى يُسَبِّحُ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ* (۵۹ : ۲۳، ۲۴)

دی هغه الله دی چي له ده پرته هيڅ اله نه شته، غايب، حاضر او باخبر دی، سراسر رحمت او شفقت يې ابدي دی. دی هغه الله دی چي له ده پرته هيڅ اله نه شته، پاچا، پاک، سراسر سلامتي، امن ورکوونکی، ساتونکی، غالب، د ډېر زور ښښتن، د لويي مالک، الله له هغه څه پاک دی چي دوی يې ورسره شريکوي، همدغه الله نقشه جوړوونکی، پيدا کوونکی، صورت جوړوونکی دی، ټول غوره نومونه د ده دي، هغه څه يې تسبيح وايي چي په اسمانو او ځمکه کي دي، دی پياوړی د ستر حکمت ښښتن دی.

په سورت الاخلاص کي يې بيان داسي شوی دی:

قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ * اللَّهُ الصَّمَدُ * لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ * وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُوًا أَحَدٌ* (۱۱۲ : ۱-۴)

ووايه الله يو دی، د ټولو تکيه پر ده ده، نه پلار دی، نه زوی او نه کوم سيال لري.

په توبه کي دي:

اتَّخَذُواْ أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللّهِ وَالْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ وَمَا أُمِرُواْ إِلاَّ لِيَعْبُدُواْ إِلَـهًا وَاحِدًا لاَّ إِلَـهَ إِلاَّ هُوَ سُبْحَانَهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ (۹ : ۳۱)

دوی خپل علماء او راهبان له الله پرته خپل ارباب وګرزول او مسيح بن مريم هم، په داسي حال کي چي دوی ته صرف همدا امر شوی وو چي دوی د يوه اله عبادت وکړي، له ده پرته هيڅ اله نه شته، دی له هغه څه



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

پاک دی چي دوی یې ورسره شریکوي.

د صوفیانو په دین کي دا د توحید لومړۍ درجه ده او دوی یې د عامو خلګو توحید ګڼي، د دوی په اند دا د توحید په مضمون کي تر یوې مقدمې زیات ارزښت نه لري. د دوی په اند د توحید تر ټولو لوړه درجه دا ده چي یوازي الله موجود وبلل شي او له هغه پرته بل وجود په حقیقت کي موجود نه دی، د نړۍ ټول موجودات محسوس وي او که معقول هغه د الله له وجود څخه اخیستل شوي او صرف اعتبارات دي، د هغوی لپاره په خارج کي د الله له وجود پرته بل وجود نه شته، د الهي ذات د پلوشو دویم نوم نړۍ ده. دا د وجود له مخې بیرته خدای دی، که څه هم د شخصیتونو له مخې خدای نه شي بلل کېدای. د هغو ماهیت نیستي ده، که یې وجود ومنل شي نو دا به په وجود کي شرک وي، په لا موجود الا الله سره د همدې نفي کېږي.

جاروب "لا" بیار که این شرک فی الوجود

با گرد فرش و سینه بایوان برابر ست

د منازل لیکوال[1] لیکي:

التوحید علی ثلاثة اوجه، الوجه الاوّل: توحید العامة، و هو الذی یصح بالشواهد، و الوجه الثانی:

د توحید درې درجې دي، لومړۍ درجه د عوامو توحید دی. دا هغه توحید دی چي صحت یې پر دلایلو ولاړ دی،[2] دویمه درجه د خواصو توحید دی چي په حقایقو[3] ثابتېږي. د توحید درېیمه درجه هغه ده

[1] منازل السائرین د علم تصوف مهم ماخذ دی چي شیخ الاسلام ابو اسماعیل عبدالله بن محمد بن علي الانصاري الهروي لیکلی دی. د خراسان شیخ او په خپل وخت کي د حنبلیانو له مشرانو څخه وو، په ۴۸۱ ھ. کي ومړ.

[2] یعني هغه دلایل چي د عقل، فطرت او الهي وحې په شاهدۍ ثابت دي.

[3] یعني د مکاشفې، مشاهدې او نور هغه حقایق چي ده یې تر همدې عنوان لاندي په منازل السائرین کي یادونه کړې وه.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

توحيد الخاصة وهو الذي يثبت بالحقائق، والوجه الثالث: توحيد قائم بالقدم وهو توحيد خاصة الخاصة. فاما التوحيد الاول فهو شهادة ان لا اله الا الله وحده لا شريک له . الاحد الصمد الذي لم يلد و لم يولد، ولم يکن له کفوا احد. (۴۷)

چې په قديم ذات پورې قايمه[۴] ده، دا د اخص الخواص توحيد دی. تر کومه ځايه چې د عوامو په توحيد پورې تړاو لري نو هغه صرف دا دی چې شاهدي ورکړي له الله پرته بل اله نشته صرف همدی اله دی، هيڅ شريک نه لري، يو دی، د ټولو تکيه پر ده ده، نه پلار دی، نه زوی او نه کوم سيال لري.

دی د خپل هغه توحيد په تشريح کې چې د قايم بالقدم په الفاظو يې بيان کړی ليکي:

انه اسقاط الحدث و اثبات القدم. (۴۷)

دا د حادث نفې او د قديم اثبات دی.[۵]

همدا خبره امام غزالي[۶] کړې ده، دی وايي:

والرابعة: ان لا يری فی الوجود الا واحداً وهی مشاهدة الصديقين و

د توحيد وروستۍ درجه دا ده چې بنده يوازې د الله ذات موجود وګڼي، دا د صديقينو مشاهده ده او صوفيان يې فنا

---

[۴] يعني څرنګه چې په دې مرتبه کې د بنده وجود ثابت نه وي له همدې امله چې دی د کوم چا توحيد بيانوي په حقيقت کې خپل توحيد بيانوي، توحيد يوازې له الله سره قايم پاتې کېږي. په دې مرتبه کې د الله له ذات پرته د بل چا د وجود اثبات د دوی په نزد د الحاد په معنا دی، د منازل ليکوال وايي:

توحيده اياه توحيده ـ ونعت من ينعته لاحد

د هغه توحيد په حقيقت کې د خپل توحيد بيانول دي، که بل څوک د هغه توحيد بيان کړي نو دا الحاد دی.

[۵] يعني د دې خبرې اقرار چې صرف الله موجود دی.

[۶] ابو حامد محمد بن محمد الغزالي چې د حجة الاسلام په لقب پېژندل شوی، د ۴۵۰ هـ پر مهال د طوس په طابران سيمه کې وزېږېد، په علوم التصوف کې احياء علوم الدين يې مشهور کتاب دی. په ۵۰۵ هـ کې ومړ.



www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org
© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

تسميه الصوفية الفنآء فى التوحيد، لانه من حيث لا يرى الا واحدا فلا يرى نفسه ايضاً و اذا لم ير نفسه لكونه مستغرقاً بالتوحيد، كان فانيا عن نفسه فى توحيده بمعنى انه فنى عن رؤية نفسه و الخلق.
(احياء علوم الدين ۴/ ۲۴۵)

فى التوحيد بولي. وجه يې داده چې په دې مرتبه کې بنده يوازې له يوه وجود پرته بل څه نهويني، ان ځان هم ورته نه ښکارې او کله چې دی په توحيد کې د دې استغراق له امله خپل ځان نه ويني نو په دې توحيد کې يې ذات فنا کېږي، يعني په دې مرتبه کې د هغه نفس او مخلوق دواړه د ده د سترګو په وړاندې له منځه ځي.

ابن عربي په خپلو کتابونو په ځانګړې ډول فصوص او فتوحات[7] کې د همدې عقيدې شرح او سپيناوی کړی دی، د ده په نزد عارف هماغه دی چې د الله او نړۍ وجود د حقيقت له مخې بېل – بېل ونه ګڼي بلکې څه شي ته چې له څه شي څخه چې په څه شي کې د څه شي په وسيله ګوري ټول د همدې اعتبار له مخې د الله ذات وګڼي.[8]

په فص هوديه کې دي:

فمن رأى الحق منه فيه بعينه فذلک العارف، ومن رأى الحق منه فيه بعين نفسه فذلک غير العارف، و من لم ير الحق منه و لا

نو چا چې حق په حق سره په حق کې د حق په سترګو وليد هماغه عارف دی او چا چې حق په حق سره په حق کې وليد خو په خپلو سترګو يې وليد هغه عارف نه دی او چا چې حق په حق سره په حق کې ونه ليد او په دې انتظار پاتې شو چې په خپلو سترګو

[7] فصوص الحکم او فتوحات مکيه د شيخ محی الدين ابن عربي تر ټولو مهم اثار دي، صوفيان يې شيخ اکبر بولي. د ۵۶۰ هـ پر مهال د اندلس په مرسيه ښار کې وزېږېد او د ۶۳۸ هـ پر مهال په دمشق کې مړ شو.
[8] يعني پر دې اعتراف وکړي چې ليدنه، ليدونکی او ليدل شوی يو دي.



www.javedahmedghamidi.org
www.al-mawrid.org
© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

فيه و انتظر ان يراه بعين نفسه فهو الجاهل المحجوب. (فصوص الحكم ۱۱۳)

به يې ووينې[9] نو هغه د حق له مشاهدې څخه محروم او صرف جاهل دی.

دی ليکي:

فلم يبق الا الحق لم يبق کائن فما ثم موصول و ما ثم بائن[10]

" وجود صرف يو حقيقت دی ځکه نو د الله له ذات پرته بل څه نه شته، نه کوم څه ګډ شوي، نه جلا شوي دي. دلته صرف يو ذات دی چې عين وجود دی."

په فص ادريسيه کې دي:

فالامر الخالق المخلوق، و الامر المخلوق الخالق، کل ذلک من عين واحدة، لا بل هو العين الواحدة، وهو العيون الکثيرة. (فصوص الحکم ۷۸)

که څه هم مخلوق ظاهرا له خالق څخه بېل دی خو د حقيقت له مخې خالق مخلوق او مخلوق خالق دی، دا هر څه يو حقيقت نه بلکې هماغه يوازينی حقيقت په ټولو حقايقو کې څرګند شوی دی.[11]

شيخ احمد سرهندي[12] صرف د ممکناتو په ماهيت کې له ابن عربي سره اختلاف کړی دی، د ابن عربي په نزد هغه اسماء او صفات دي چې د علم په مرتبه کې يې امتياز موندلی

---

[9] يعني په دې نظر وو چې د خالق او مخلوق ترمنځ د حقيقت له مخې توپير شته.

[10] فصوص الحکم، فص اسماعيليه ۹۳

[11] دی ليکي: الله د ابراهيم زوی د يوې لويې قربانۍ په بدل کې خلاص کړ، د پسه په شکل هماغه شوک ظاهر شو چې د انسان يعني ابراهيم او د هغه د زوی په بڼه ظاهر شوی وو، نه! بلکې د زوی له حکم سره هماغه ظاهر شو چې د پلار عين وو يعني الله. (فص ادريسيه ۷۸)

[12] شيخ احمد بدر الدين ابو البرکات فاروقي سرهندي د شيخ مجدد او مجدد الف ثاني په لقبونو مشهور دی، په ۹۷۱ هجري کې وزېږېد. د هغه د افکارو غوره بيانوونکی د ده مکتوبات دي، په ۱۰۳۴ کې له دې نړۍ رخصت شو.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

او شیخ یې نیستي ګڼي چي په الهي علم کي یې تشخیص موندلی او د وهم و حس په مرتبه کي ثابت دي. پاتي شوه د هغو د وجود مسئله نو په دې هکله د ده نظر هماغه دی چي پورته بیان شو. دی لیکي:

ممکن را وجود ثابت کردن و خیر و کمال باو داشتن فی الحقیقت شرک کردن است او را در ملک و ملک حق جل سلطانه. (مکتوبات ۲/ مکتوب ۱)

د ممکن لپاره وجود ثابتول او له هغه سره د خیر و کمال تړل په حقیقت کي د الله په مِلک او مُلک کي شرک دی.

د خپل همدې اختلاف پر بنسټ یې د شهودي توحید نظریه وړاندي کړې، دی وایي: څرنګه چي نړۍ د وهم په مرتبه کي په هر حال ثابته ده نو ځکه باید یوازي د شهود نفې وشي. د ده په اند سالک په دې مرتبه کي له الله پرته بل څه نهویني له همدې کبله په دې وخت کي د هغه توحید دا دی چي یوازي الله مشهود وګڼي. په مکتوبات کي دي:

توحید شهودي یک دیدن است یعني مشهود سالک جز یک نباشد. (مکتوبات ۱/ مکتوب ۴۳)

شهودي توحید دا دی چي صرف د الله ذات ولیدل شي یعني د سالک مشهود د هغه له ذات پرته بل څه نه وي.

دا یوازي د تعبیر توپیر دی، صوفیانو چي په دې اړه د قرآن کریم له هغې نیغې لارې څخه تر انحراف وروسته چي په هغې کي د ممکن لپاره نه د وجود اثبات شرک دی او نه صرف الله موجود یا مشهود ګڼل د توحید یوه مرتبه ده کومه لاره غوره کړې دا ټول د هماغې احوال او مراتب دي.

شاه اسماعیل د دې حقیقت په وضاحت کي چي دا د حقیقت له مخې صرف د تعبیر توپیر دی په خپل کتاب عبقات [13] کي لیکي:

[13] د علم تصوف بې جوړې اثر عبقات د شاه ولی الله د لمسي شاه محمد اسماعیل تصنیف دی، دی په ۱۱۹۳ هـ کي وزېږېد، د سید احمد بریلوي په مشری یې د دعوت او جهاد ستر غورځنګ را منځ ته کړ او د ۱۲۴۶ هـ پر مهال د بلاکوټ په سیمه کي د سیکانو پر خلاف د یوې جګړې پر مهال ووژل شو.

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org
© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

اتفق اهل الکشف و الوجدان وارباب الشهود والعرفان مویدین بالبراهین العقلیة والاشارات النقلیة علی ان القیوم للکثرات الکونیة واحد شخصی. (اشاره ۱/، عبقه ۲۰)

هغه ټول کسان چي د کشف، وجدان او شهود و عرفان له نعمت څخه برخمن شوي[۱۴] هغوی پر دې متفق دي چي د ټولو مخلوقاتو لپاره ما به التعین[۱۵] یو مشخص وجود دی[۱۶] او د عقلي دلایلو و قرآن و حدیث په اشارو د دوی د دې خبرې تائید کېږي.

دی وایي:

و لیس بینهم وبین الشهودیة الظلیة اختلاف عند التحقیق، الا فی العبارات الناشئة من تغایر مقاماتهم و اختلاف انحاء وصولهم الی اللاهوت. (اشاره ۱/ عبقه ۲۰)

که په غور سره وکتل شي نو د دوی (وجودیه ورائیه وو)[۱۷] او شهودي ظلیه وو[۱۸] تر منځ له دې پرته بل اختلاف نه شته چي دوی د خپلو مرتبو د توپیر او تر لاهوته[۱۹] د مختلفو لارو د رسېدو له وجې د خپل مراد د وضاحت لپاره له یوه بل څخه لږ جلا اسلوب غوره کړي دي.

په خپله د عبقات لیکوال د خپل دې توحید مراتب داسي بیان کړي دي:

---

[۱۴] یعني صوفیان

[۱۵] یعني په څه شي سره چي یو شی موجودېږي لکه له او سپینې څخه توره، چاړه او نور.

[۱۶] یعني الهي ذات د انبساط په درجه کي، دا د الهي ذات هماغه مرتبه ده چي ابن عربي یې ظاهر الوجود بولي. د ده په نزد الهي ذات په دې مرتبه کي له نړۍ سره هغه نسبت لري لکه او سپینه چي یې له جوړېدونکي تورې سره لري. دا په اسماوو کي پنځمه مرتبه ده.

[۱۷] یعني د توحیدي وجود منونکو

[۱۸] یعني د توحیدي شهودي د منونکو

[۱۹] صوفیان د لاهوت لفظ د الهي ذات لپاره کاروي، د عبقات لیکوال لیکي: قد جرت عادتهم بان یسموا ذات الفاطر باللاهوت. (اشاره ۱، عبقه ۱۷)



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

التفطن بالوحدة القيومية للكثرة الكونية و استقلالها بالتحقيق و المبدئة للاثار و اضمحلال الكثرة تحتها و تبعيتها فى الوجود يقينا و اطمئناناً علماً او عيناً او حقاً يسمى بتوحيد ظاهر الوجود. (اشاره ۱، عبقه ۱۴)

که سړی په حقیقت کي په دې خبره پوه شي هغه نو که د علم اليقين په درجه کي وي يا د عين اليقين په درجه کي او يا حق اليقين په درجه کي چي د ټولو مخلوقاتو لپاره ما به التعين يو دی، استقلال په حقيقت کي هغه لري، د اثارو مبدا هغه دی، د هغه په وړاندي کثرت هيڅ نه دی، د وجود په اعتبار د ده تابع دی نو همدې ته توحيد ظاهر الوجود ويل کېږي.

په همدې اشاره کي دي:

فلا يزال العارف يسير فى الله حتى ينكشف الوحدة الجامعة لشتات الاسماء وهذا يسمى بتوحيد باطن الوجود. (اشاره ۱، عبقه ۳۶)

نو د عارف دا سير فى الله[20] تر هغو جاري وي چي دی هغه وحدت مومي چي د ټولو اسماوو لپاره هر اړخيز وحدت دی او دا توحيد باطن الوجود دی.[21]

صرف دا خبره نه ده بلکي قرآن چي انسان کوم توحيد ته بولي دا د هغه په نزد يو داسي واضح حقيقت دی چي د نړۍ رب په خپلو کتابونو کي بيان کړی دی، نبيانو يې پېژندنه وړاندي کړې، زړونو درک کړی، ژبو يې شاهدي ورکړې، ټولو فرشتو او پوهانو يې ګواهي ورکړې او اوريدونکو و پوهېدونکو ته يې هيڅ اړخ د خفا په پرده کي نه دی. قرآني وينا ده:

---

[20] سير فى الله سالک ته د الهي ذات د هغې مرتبې انکشاف دی چي دوی ورته د باطن الوجود اصطلاح کاروي.

[21] د دوی په اصطلاح د الهي ذات د اسماوو په مراتبو کي د ربيمه مرتبه چي واحديت، تنزل علمي او علم عقلي هم بلل کېږي.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

شَهِدَ اللّهُ أَنَّهُ لاَ إِلَـهَ إِلاَّ هُوَ وَالْمَلاَئِكَةُ وَأُوْلُواْ الْعِلْمِ قَآئِمَاً بِالْقِسْطِ لاَ إِلَـهَ إِلاَّ هُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ(آل عمران ۳ : ۱۸)

الله، د هغه فرشتو او د علم خاوندانو شاهدي ورکړې چي له ده پرته هيڅ اله نه شته، هغه د عدل ساتونکی دی، له ده پرته هيڅ اله نه شته، دی پر ټولو غالب، د ستر حکمت څښتن دی.

د الله ټول نبيان په نړۍ کي د همدې د عامولو او د هغه لورته د انسانانو د بلنې لپاره راغلل او هغه ذات يې د تبليغ مکلفيت ورو سپاره چي هيڅوک تر خپل وس زيات نه مکلف کوي، دوی ته يې وويل: که په دې کي کوتاهي وشوه نو دا به عيني د رسالت د هغه فرض په ادا کولو کي کوتاهي وي چي د هغه د ادا کولو لپاره يې دوی خپل استازي ټاکلي. الهي وينا ده:

يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ وَإِن لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ (المائدة ۵ : ۶۷)

اې رسوله! تاسو ته چي ستاسو د رب له خوا څه نازل شوي هغه په بشپړ ډول ورسوه او که دې داسي ونه کړل نو (داسي به وانګيرل شي چي) تاسو د هغه هيڅ پيغام ونه رساوه.

د صوفيانو په دين کي چي کله سالک د هغه توحيد په اسرارو خبرېږي چي پورته بيان شول نو الفاظ يې له تعبير څخه بې وسه او ژبه يې له تعريف و تبليغ څخه عاجزېږي.[22] په منازل کي دي:

فان ذالک التوحيد تزيده العبارة خفاء و الصفة نفورا و البسط

نو چي کله دا توحيد څرګند کړې نور پټېږي، که يې وضاحت وکړې نو نور لرې کېږي او که يې پرانيزې نور پېچلی کېږي.

[22] که بيا هم کله دا اسرار پر ژبه راځي نو د خانقاوو په فضا کي د انا الحق (زه حق يم)، سبحاني ما اعظم شاني (زه پاک يم، زما شان څومره ستر دی) او ما فی جبتی الا الله (زما په چپنه کي له الله پرته بل هيڅ شی نه شته) او ازونه زمزمه کېږي.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

صعوبة. (۴۸)

هغه وايي:

والاح منه لائحا الی اسرار طائفة من صفوته واخرسهم عن نعته واعجزهم عن بثه. (۴۷)

او دا توحيد د الله خوا د هغه د غوره شويو بندګانو د يوې ډلې په اسرارو کي څرګند شو او ده هغوی د دې له بيانه بې وسه او له خپرولو عاجز کړل.

غزالي ليکلي:

فاعلم ان هذه غاية علوم المكاشفات واسرار هذا العلم لا يجوز ان تسطر فی کتاب. فقد قال العارفون: افشاء سر الربوبية كفر. (احياء علوم الدين ۴/ ۲۴۶)

نو بايد پوه شو چي د کشفي علومو اصل هدف همدا توحيد دی او د دې علم اسرار په کوم کتاب کي نه شي ليکل کېدای ځکه د عارفانو وينا ده چي د ربوبيت د راز خپرول کفر دی.

د توحيد په اړه همدا نظر د اپنشدونو د شارح شري شنکر اچاريه، شري رام نوج اچاريه، حکيم فلوطين او اسپنوزا هم دی. د لوېديځ په فيلسوفانو کي لايينز، فاختي، هيګل، شوپن هاور او بريډلي هم له دې اغيزمن دي.

په دوی کي شري شنکر، فلوطين او اسپنوزا وجوديان او رام نوج اچاريه شهودي دی. شري کرشن په ګيتا کي هم د دې تعليم ورکړی، اپنشد، برهم سوتر، ګيتا او فصوص الحکم په دې دين کي هغه مقام لري چي د انبياوو په دين کي يې تورات، زبور، انجيل او قرآن لري.

پر همدې بنسټ که وکتل شي نو د الهي هدايت يعني اسلام په وړاندي تصوف هغه نړۍ واله ګمراهي ده چي د نړۍ تر ټولو ذهين خلک يې اغيزمن کړي دي.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

## نبوت

د قرآن له مخې نبوت پر محمد عربي پای ته رسېدلی دی، د دې معنا داده چې نور نه د چا لپاره وحې، الهام او د غیب مشاهده ممکنه ده او نه پر دې بنسټ څوک عصمت او حفاظت تر لاسه کولای شي. د ختم نبوت دا معنا رسول الله په خپله په ډاګه کړې، ده ویلي:

لم یبق من النبوة الا المبشرات قالوا وما المبشرات؟. قال الرؤیا الصالحة. (بخاري، شمیره: ۶۹۹۰)

له نبوت څخه صرف مبشرات پاتي دي، دوی وویل: مبشرات څه دي؟. رسول الله وویل: ښه خوبونه.[۲۳]

د صوفیانو په دین کي دا هر څه اوس هم تر لاسه کېدای شي، د دوی په اند اوس هم وحي راځي، فرښتې را کښته کېږي، د غیب نړۍ لیدل کېږي او د دوی مشران الهي هدایت اوس هم له هغه ځایه تر لاسه کوي چي جبریل ور څخه تر لاسه کاوه او یو وخت د الله نبیانو ترې تر لاسه کړی وو. غزالي وایي:

من اول الطریقة تبتدئ المکاشفات یشاهدون الملائکة و ارواح الانبیاء و یسمعون منهم اصواتاً و یقتبسون منهم فوائد. (المنقذ من الضلال ۵۰)

د دې لارې لارویان د مکاشفو او مشاهدو نعمت په پیل کي تر لاسه کوي ان د ویښتیا په حالت کي د انبیاوو ارواح او فرښتې ویني، د هغوی اوازونه اوري او استفاده ترې کوي.

د دوی د مشرانو الهام د هغوی د عصمت له کبله د قرآن کریم په څېر د باطل له شبهې پاک او تر هر شک پورته دی، د عبقات لیکوال د همداسي یوه شخصیت په اړه چي د ده په اند په وهبیه مقاماتو کي لومړي مقام[۲۴] ته رسېدلی، لیکي:

---

[۲۳] د دې مضمون روایات په مسلم، ابوداود، نسایي، ترمذي، موطا، مسند احمد بن حنبل او د احادیثو په نورو کتابونو کي هم شته.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

فهو وجيه معصوم صاحب ذوق حكيم. ثم ان ما يقتضي تربية الله اياه ان يلقي عليه علوما نافعة في قيامه بمنصبه فهذا الالقاء يسمى تفهيما. و ان ما يقتضي تيقظ روحه و عصمته الا يختلط بعلوم شيء مغاير لما تلقاه من الغيب. و لذالك كانت الحكمة كلها حقا لا ياتيه الباطل من بين يديه و لا من خلفه. و لما كان التفهيم من اعلى اقسامها فلا بعد ان يسمى بالوحي الباطن. (اشاره ۴، عبقه ۱۱)

دا شخصيت د لوړې مرتبې څښتن، معصوم، د ذوق خاوند او حكيم وي، د الهي روزنې له مخې هغه علوم ورکول کېږي چې د دې مسئوليت د پوره کولو لپاره ورته ګټور وي. دې القا ته تفهيم هم ويل کېږي، د هغه د عصمت او روحي بيدارۍ يوه تقاضا دا هم وي چې ده له غيب څخه څه موندلي په هغه کي بل شی ګډ نه وي، همدا وجه ده چي د ده حکمت په بشپړه ډول حق وي چي باطل ورته نه د مخ له خوا لار موندای شي او نه د شا له خوا او څرنګه چي تفهيم د هغه تر ټولو لوی حکمت دی له همدې کبله که په باطني وحې ور څخه تعبير وشي نو بې ځايه به نه وي.

د دوی په اند که دا شخصيت ظاهرا د کوم نبي مقلد ښکاري نو صرف له دې امله چي له غيب څخه يې د تائيد امر ورته کېږي، که نه حقيقت دا دی چي دوی د الهي هدايت او غيبي علومو د موندنې لپاره کوم نبي يا فرشتې ته اړتيا نه لري. دی وايي:

فالحكيم لوجاهته وعصمته وكونه

نو د دې شخصيت معامله د هغه د لوړ مقام او عصمت پر بنسټ او له دې امله

[24] دا د دوی په نزد د سابقينو له مرتبو څخه دريمه مرتبه ده. متقدمينو د صديقيت په نامه يادوله، د شيخ احمد سرهندي په اصطلاح دا ولايت عليا دی. شاه ولی الله دهلوي ور څخه په قرب وجود او حکمت تعبير کوي. تر دې وړاندي د تحديث مقام دی، د دوی په اند د دې درلودونکی او نبي د يوې نوعې دوه صنفونه دي، د دوی تر منځ هماغه توپير دی چي د بيلګي په توګه د يوحنا، مسيح او محمد عربي تر منځ دی.
(اشاره ۴، عبقه ۱۱، ۱۲)



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."
www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

باسطا لحظيرة القدس، شانه شان الملأ الاعلى، يتلقى العلوم من حيث يتلقون، لا يقلد احدا في علومه، اللهم الا ان يسمى موافقته لصاحب الشرع تقليدا لكونه مامورا من الغيب بموافقته وتأئيده. (اشاره ۴، عبقه ۱۱)

چي د سپېڅلي نړۍ پلوشې له ده خپرېږي عيني هماغه وي چي د اسماني فرشتو دي، دی خپل علوم له هغه ځايه تر لاسه کوي چي هغوی يې تر لاسه کوي او په دې چاره کي د کوم چا مقلد نه وي. البته ځرنګه چي د غيب له خوا ورته د شريعت د نبي د تائيد او موافقې امر کېږي له همدې امله که کوم څوک دا تائيد او موافقت د نبي تقليد بولي نو بللای يې شي.

کله چي دا شخصيت په ځمکه کي موجود وي نو هغه څه حق دي چي دی يې وايي او د ده له وجود څخه صادرېږي، د قرآن او حديث حجت هم د ده په وړاندي د هغه د خپل حجت تابع وي. دی وايي:

و ان الحق يدور معه حيث دار و ذلك لعصمته و التحاقه بالملأ الاعلى، فليس الحق الا ما سطح من صدره، فالحق تابع له لا متبوع. (اشاره ۴، عبقه ۱۱)

په کوم ځای کي چي دا شخصيت ګرزي حق هم ورسره وي ځکه دا شخصيت له لوړ عالَم سره تعلق لري او معصوم وي، نو هغه څه حق دي چي د ده له سينې را وزي، حق د ده تابع وي، دی د حق تابع نه وي.

غالبا د عوارف[25] ليکوال د تصوفو د يوه همدا سي مقام درلودونکي شيخ په اړه ليکلي:

---

[25] عوارف المعارف د شيخ ابو حفص عمر بن محمد شهاب الدين سهروردي ليکنه ده چي د شيخ عبد القاهر بن عبدالله سهروردي وراره او په بغداد کي د صوفيانو شيخ وو، د ۵۳۹ هـ پر مهال په سهرورد کي وزيږيد او د ۶۳۲ هـ پر مهال ومړ.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

فالشیخ للمریدین امین الالهام کما ان جبریل امین الوحی. فکما لا یخون جبریل فی الوحی، لا یخون الشیخ فی الالهام. وکما ان رسول الله صلی الله علیه وسلم لا ینطق عن الهوی فالشیخ مقتد برسول الله صلی الله علیه وسلم ظاهرا و باطنا لا یتکلم بهوی النفس. (۴۰۴)

نو شیخ د خپلو مریدانو لپاره هماغسې د الهام امین دی لکه جبریل چې د وحې امین دی، نو لکه څرنګه چې جبریل په وحې کې هیڅ خیانت نه کوي همداسې شیخ په الهام کې خیانت نه کوي او څرنګه چې نبي صلی الله علیه وسلم له خپله ځانه څه نه وایي همداسې شیخ هم په ظاهر و باطن کې د رسول الله پیروي کوي، دی هم د خپل نفس په غوښتنه څه نه وایي.

هغوی دعوه کوي چې د رسول الله په څېر د دوی ځیني اکابرین هم اسمان ته ولاړل، تجلیات یې ولیدل او هلته یې د رسول الله په څېر د الهي خطاب برخه ومونده. د قوت القلوب[۲۶] لیکوال د بایزید بسطامي[۲۷] په اړه لیکي چې ده په خپله وویل:

ادخلنی فی الفلک الاسفل فدورنی فی الملکوت السفلی فارانی الارضین وما تحتها الی الثری. ثم ادخلنی فی

الله زه لاندیني فلک ته بوتلم او لاندیني ملکوت یې را باندې ولیدل، همدا راز ما ته تولې ځمکې او اخیري پوړ را ولیدل شو، بیا لوړ فلک ته بوتلل شوم او بیا ما

---

[۲۶] قوت القلوب فی معاملة المحبوب د علم تصوف تر ټولو مستند کتاب دی چې غزالي ور څخه په خپل کتاب احیاء علوم الدین کې په لسګونو صفحې نقل کړې او شیخ عبد القادر جیلاني هم په فتوح الغیب کې ور څخه استفاده کړې ده. د ابو طالب محمد بن علي الحارثي المکي لیکنه ده، دی په مکه کې وزیږید او د ۳۸۶ هـ پر مهال په بغداد کې ومړ.

[۲۷] ابو یزید طیفور البسطامي د دریمې هجري پیړۍ له مشرانو صوفیانو څخه دی، د سبحاني ما اعظم شاني (زه پاک یم، زما شان څومره ستر دی) او تالله ان لوائی اعظم من لواء محمد (قسم په خدای! زما بیرغ د محمد تر بیرغ لوی دی) په څېر خرافات همده ویلي. د ۲۶۱ هـ پر مهال د خراسان په بسطام ښار کې مړ شو.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

الفلک العلوی فطوف بی فی السماوات وارانی ما فیها من الجنان الی العرش ثم اوقفنی بین یدیه فقال لی: سلنی ای شیء رأیت حتی اهبه لک. (۲/۷۰)

ته اسمانونه او په هغو کې د جنت له باغونو تر لوړه عرشه هر څه را وښودل شول. تر دې وروسته يې زه خپل مخ ته ودرولم او ويې ويل: څه چې دې ليدلي وي غواړه در به يې کړم.

دوی په دې باور دي چې د يو کامل انسان په توګه رسول الله په هره زمانه کې د دوی د مشرانو په بڼه څرګندېږي، عبد الکريم الجيلي[28] ليکلي:

ان الانسان الکامل هو القطب الذی تدور علیه افلاک الوجود من اوله الی اخره وهو واحد منذ کان الوجود الی ابد الابدین، ثم له تنوع فی ملابس ویظهر فی کنائس فیسمی به باعتبار لباس، ولا یسمی به باعتبار لباس اخر. فاسمه الاصلی الذی هو له محمد و کنیته ابو القاسم ووصفه عبد الله و لقبه شمس الدین، ثم له باعتبار ملابس اخری اسامی وله فی کل

کامل انسان هغه محور دی چې پر هغه له اوله تر اخيره د وجود ټول افلاک را تاوېږي او له کومه وخته چې وجود را پيل شوی له هغه وخته تر ابده يو دی، بېلابېل شکلونه لري او د يهودو او نصاراوو په عبادت ځايونو کې هم څرګندېږي. د يوه شکل له مخې پرې يو نوم ايښودل کېږي او د بل شکل له مخې پرې هغه نوم نه ښودل کېږي، اصلي نوم يې محمد دی، کنيه يې ابو القاسم، وصف يې عبد الله او لقب يې شمس الدين دی، د نورو شکلونو له مخې يې نور نومونه دي او په هره زمانه کې چې کوم شکل خپلوي له هغه سره سم يو نوم لري. ما د خپل شيخ شرف الدين اسماعيل

[28] عبد الکريم قطب الدين الجيلي يو لوی صوفي دی، الانسان الکامل فی معرفة الاواخر و الاوائل يې مشهور اثر دی، په بغداد کې وزېږيد او د ۸۳۲ هـ پر مهال وفات شو.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

زمان اسم ما یلیق بلباسه فی ذلک الزمان. فقد اجتمعت به صلی الله علیه وسلم وهو فی صورة شیخی شرف الدین اسماعیل الجبرتی وکنت اعلم انه النبی صلی الله علیه وسلم وکنت اعلم انه الشیخ. (ورقه ۱۴۶)[29]

الجبرتي په بڼه داسي ولید چي زه پوهېدم دا نبي صلی الله علیه وسلم دی او په دې هم پوه وم چي زما شیخ دی.

هغوی په ډاګه وایي چي د ختم نبوت معنا صرف همدا ده چي نور به څوک د تشریع منصب ونه لري، د نبوت مقام او کمالات همدا اسي پاتي دي او اوس هم تر لاسه کېدای شي. په فتوحات[30] کي دي:

فان النبوة التی انقطعت بوجود رسول الله صلی الله علیه وسلم انما هی نبوة التشریع لا مقامها. فلا شرع یکون ناسخا لشرعه صلی الله علیه وسلم ولا یزید فی حکمه شرعا اخر. و هذا معنی قوله صلی الله علیه وسلم: ان الرسالة و النبوة قد انقطعت فلا رسول

نو پر نبي صلی الله علیه وسلم چي کوم نبوت پای ته رسېدلی هغه صرف تشریعي نبوت دی، د نبوت مقام لا هم پاتي دی له همدې امله خبره صرف دومره ده چي اوس به کوم نوی شریعت نه د رسول الله شریعت منسوخوي او نه به کوم نوی قانون د هغه پر قانون زیاتونه کوي، د رسول الله دا وینا چي نبوت او رسالت ختم شوي څکه به نو تر ما وروسته کوم رسول او نبي نه وي په حقیقت کي د همدې مدعا بیان دی، د ده د وینا مطلب همدا دی چي تر ما وروسته به

[29] قلمي نسخه، د پنجاب پوهنتون کتابتون لاهور
[30] فتوحات مکیه د ابن عربي



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

www.javedahmadghamidi.com www.al-mawrid.org

بعدی و لا نبی: ای لا نبی بعدی یکون علی شرع مخالفا لشرعی، بل اذا کان یکون تحت حکم شریعتی. (۶/۳)

بل کوم داسي نبي نه وي چي شريعت يې زما د شريعت خلاف وي، بلکي هر وخت چي وي زما د شريعت پيروي به کوي.

شيخ احمد سرهندي ليکي:

باید دانست که منصب نبوت ختم بر خاتم الرسل شده است علیه و علی آله الصلوات و التسلیمات، اما از کمالات آن منصب بطریق تبعیت متابعان اورا نصیب کامل است. (مکتوبات ۱، مکتوب ۲۶۰)

باید پوه شو چي له شک پرته د نبوت منصب پر خاتم النبیین پای ته ورسېد، مګر د ده پیروان د هغه د اتباعو په توګه د دې منصب کمالات لا هم په بشپړه ول تر لاسه کولای شي.

تر دې وروسته هغوی نور وړاندي ځي او په نبوي حريم کي د سوري تر کولو وروسته د يزدان بکمند اورای همت مردانه د مستي شعار په ورکولو د لامکان رازونو ته داخلېږي، دا چي هغه مهال د دوی د علم او تصرف حالت څه وي قشيري[31] ليکي:

کان یری جملة الکون یضیء بنور کان له حتی لم یخف من الکون علیه شیء. وکان یری جمیع الکون من السماء و الارض رویة عیان ولکن بقلبه. (ترتیب السلوک ۶۷)

د دې لارې سالک دا ټوله نړۍ په خپل نور روښانهويني ان هيڅ شی يې له نظره پټ نه وي، له ځمکې تر اسمانه ټول کاينات د خپلو سترګو په وړاندي ويني، هو! د زړه د سترګو په وړاندي.

په الانسان الکامل کي دي:

فکل واحد من الافراد والاقطاب له

له دې افرادوا و اقطابو څخه هر يو د

[31] ابو القاسم عبد الکریم بن هوازن القشیري له لويو صوفيانو دی، د ۳۷۶ هـ پر مهال د نیشاپور په استوا کلي کي وزېږيد. الرسالة القشيرية يې مشهور اثر دی او په ۴۶۵ هـ کي مړ شو.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

التصرف فی جمیع المملکة الوجودیة و یعلم کل واحد منهم ما اختلج فی اللیل و النهار فضلا عن لغات الطیور. و قد قال الشبلی رحمه الله تعالی: لو دبت نملة سوداء علی صخرة صماء فی لیلة ظلما و لم اسمعها لقلت: انی مخدوع او ممکور بی. (ورقه ۱۳۶ ب)

وجود په دې ټول مملکت کې تصرف لري، د مرغانو خبرې خو څه چې په شپه او ورځ کې څه پېښېږي په هغو هم خبر وي. شبلي ویلي: که په توره شپه کې یو تور مېږی پر کومه سخته ډبره روان وي او زه یې اواز وانه ورم نو له شک پرته وایم چې زه تېر ایستل شوی یم او یا مې دوکه خوړلې.

ابن عربي لیکلي دي:

وهم من العلم بحیث اذا رای احدهم اثر وطأة شخص فی الارض علم انها وطأة سعید او شقی. (فتوحات مکیه ۳ / ۱۳)

د هغوی د علم حالت دا وي چې که په دوی کې څوک د کوم چا د قدم نښې وویني نو ورته ښکاري چې هغه له دوزخیانو دی او که له جنتیانو؟.

دی وایي:

... حتی یهتف بک، و انت لا تراه ویمشی علی الماء و فی الهواء و یصیر کالهیولی قابلا للتشکیل و الصور کالعالم الروحانی. مثل جبریل علیه السلام الذی کان ینزل تارة علی صورة دحیة و قد تجلی له صلی

ان تر دې چې ته یې اواز اورې خو درته ښکاري نه، پر اوبو روان وي، په هوا کې الوزي او د هیولی په څېر د هر شکل غوره کولو او په هره بڼه د بدلیدو وړتیا لري. لکه څرنګه چې موږ د روحاني عالم په اړه پوهېږو چې د مثال په توګه جبریل به د دحیه په بڼه هم راتلی او د رسول الله په وړاندې داسې هم راغلی چې ټول افق یې



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

الله علیه وسلم و قد سد الافاق و له ست مائة جناح. (مواقع النجوم ۶۵)

نیولی وو او ده ولیدل چي شپږ سوه وزر لري.

د الله په پاچاهي کي په داسي ډول شریکان کېږي چي هره شیبه په لوح محفوظ کي د تقدیر لیکنې ویني، د زړه په خیالونو پوهېږي، د دې نړۍ سهار او ماښام سمبالوي، په واک کي يې وي او د تصرفاتو په نړۍ کي د الله وسیله وي. ابن عربي لیکي:

من الصوفية من لا یزال عاکفا علی اللوح. (مواقع النجوم ۲۲)

ځیني صوفیان داسي هم دي چي نظرونه يې تل پر لوح محفوظ ښخ وي.

دی وایي:

العارف هو الذی ینطق عن سرک و انت ساکت. (مواقع النجوم ۲۶)

عارف په حقیقت کي هغه دی چي له څه ویلو پرته ستا د زړه خبره درته وکړي.

هغوی له خپلو غیب پوهانو[32] څخه يې د اوتادو په اړه لیکلي:

[32] صوفیان په دې عقیده دي چي پر ځمکه تل د الله د ځانګړو بندګانو یوه ډله وي چي د دې نړۍ ټولي چارې پر مخ بیایي، د ځمکې او اسمان هر شی د دوی د خوښې تابع او د شپې او ورځې دا لړۍ د هغوی د احکامو پابنده وي. څرنګه چي د الله دا بندګان په دې توګه د عامو خلکو له نظرونو غایب وي له همدې امله غیب پوهان، اولیاء مکتوم یا رجال الغیب بلل کېږي. قطب د دوی امام وي چي قطب الارشاد، غوث او قایم الزمان يې هم بولي، د هغه تر لاس لاندي دوه وزیران وي چي امام بلل کېږي، تر هغوی وروسته د اوتادو درجه ده چي د ځینو په اند څلور او د ځینو په اند اووه دي، د ابن عربي وینا ده: ده له هغوی څخه له یوه سره چي نوم يې ابن جعدون وو د فاس په ښار کي لیدلي هم دي. په خپله د ابن عربي دعوه ده چي دی د قطب درجې ته رسېدلی وو. د هندوستان په صوفیانو کي شیخ احمد سرهندي هم دعوه کوي چي ده ته د رسول الله له لوري د قطب الارشاد درجه ورکړل شوه. د ابن عربي په اند تر ټولو وروستۍ درجه د ختم ده چي پر دې د امت د اولیاوو ټول منصبونه پای ته رسېږي، دی د ځان لپاره د دې منصب دعوه هم کوي. د ابدالو، نقیبانو، نجیبانو او نورو منصبونه تر دې لاندي دي. که څوک په دې اړه تفصیلات غواړي نو د ابن عربي په فتوحات



www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org
© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

الواحد منهم يحفظ الله المشرق وولايته فيه، و الاخر المغرب، و الاخر الجنوب و الاخر الشمال، و التقسيم من الكعبة، وهؤلاء قد يعبر عنهم بالجبال لقوله تعالى: أَلَمْ نَجْعَلِ الْأَرْضَ مِهَادًا * وَالْجِبَالَ أَوْتَادًا* فانه بالجبال سكن ميد الارض، كذلك حكم هؤلاء فى العالم حكم الجبال فى الارض. (فتوحات مكيه ۳ / ۱۲)

له هغوی څخه الله د یوه په وسیله ختیځ ساتي او همالته يې واکمني ده، پاتي نور يې د لوېديځ، جنوب او شمال پر ساتنه ګومارل شوي دي. د اطرافو تعين له بيت الله څخه کېږي، همدا هغه کسان دي چې د دې الهي وينا: أَلَمْ نَجْعَلِ الْأَرْضَ مِهَادًا * وَالْجِبَالَ أَوْتَادًا*[33] پر بنا کله-کله جبال يعني غرونه هم بلل کېږي، وجه يې داده چې غرونه ځمکه له لوېدو ساتي او دوی هم داسې دي، دوی د ځمکې د غرونو په څېر دا نړۍ را ټينګه کړې ده.

شاه ولی الله دهلوي[34] د خپل ځان په اړه ليکي:

رأيتنى فى المنام قائم الزمان، اعنى بذلك ان الله اذا اراد شيئا من نظام الخير جعلنى كالجارحة لاتمام مراده. (فيوض الحرمين، مشاهده ۴۴)

ما خوب وليد چې د قايم الزمان دنده را ته سپارل شوې ده، له دې څخه مې مراد دادی چې کله الله په خپل خيريه نظام کې د کوم کار اراده وکړي نو د خپل کار د پوره کولو لپاره به ما وسيله کړي.

---

مکيه، د ابو طالب مکي په قوت القلوب، د علي هجويري په کشف المحجوب او د الجيلي په الانسان الکامل کي يې ليدلای شي.

[33] النبأ ۷۸ : ۶، ۷ (ايا موږ ځمکه ځانګو او غرونه مېخونه ونه ګرزول؟)

[34] احمد بن عبد الرحيم شاه ولی الله فاروقي دهلوي د حجة الله البالغة، التفهيمات الالهية، ازالة الخفا او الانصاف ليکوال، ستر صوفي مفکر او عالم دی. په ۱۱۱۴ هـ کي وزېږيد او د ۱۱۷۶ پر مهال په ډيلي کي ومړ.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

همدا هغه مقام دی چي له تر لاسه کولو وروسته يې دوی وايي: **معاشر الانبياء اوتيتم اللقب و اوتينا ما لم تؤتوا** [35] اې د انبياوو ډلې تاسو ته يوازې د نبي لقب درکړل شو او موږ ته هغه څه راکړل شوي چي تاسو ترې بې برخې یاست.

## قيامت

قرآن چي له کوم دين سره نازل شوی د هغه خلاصه داده چي له انسان څخه د هغه د خالق اصلي غوښتنه د هغه عبادت دی، ده ويلي:

| | |
|---|---|
| وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ (الذاريات ۵۱ : ۵۶) | او پېريانان و انسانان مي صرف د دې لپاره پيدا کړي چي زما عبادت وکړي. |

قرآن په دې چاره کي ښيځي څرګندوي چي الله خپل رسولان په همدې حقيقت د انسان د خبرولو لپاره را لېږلي وو، په سورت النحل کي دي:

| | |
|---|---|
| وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولاً أَنِ اعْبُدُواْ اللّهَ وَاجْتَنِبُواْ الطَّاغُوتَ (۱۶ : ۳۶) | او موږ هر امت ته يو رسول له دې دعوت سره ور لېږلی چي د الله عبادت وکړئ او له طاغوته ځان وساتئ. |

په دې سره چي د انسان او د هغه د خالق تر منځ کوم تړاو پيدا کېږي هغه د عبد او معبود تړاو دی. په دې نړۍ کي د انسان د ټولو هڅو هدف دادی چي د خپل رب عبادت حق په هغه ډول ادا کړي چي په دنيا او اخرت کي د هغه رضا تر لاسه کړي.

څرنګه چي د صوفيانو په دين کي د دې بر خلاف انسان د الهي ذات د يوه تشخص نوم دی او څرنګه چي د همدې تشخص پر بنسټ هغه له عالم لاهوت څخه دې عالم ناسوت ته راغلی ځکه نو له ده څخه چي په حقيقت کي کوم شی غوښتل کېږي هغه د خپل دې حقيقت پېژندنه او د هغه لور ته د رجوع هڅه ده، پر همدې اساس چي په دې دين کي له

[35] فتوحات مکيه د ابن عربي ۳ / ۱۳۶ عن امام العصر عبد القادر



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."
www.javedahmadghamidi.com www.al-mawrid.org

الهي ذات سره د انسان کوم تړاو را منځ ته کېږي هغه د عاشق او معشوق تړاو دی. هغه خپل اصل حقیقت یعني الهي ذات معشوق ګرزوي، د هغه په بیلتون کي کرېږي، ژاړي، فریاد کوي او بیا د کوم مرشد په لارښوونه لومړی د دې حقیقت معرفت تر لاسه کوي او بیا د جمعې مقام ته په ځان رسولو له خپل معشوق سره وصل کېږي. د منازل لیکوال په خپل کتاب کي دا جمع غایة مقامات السالکین بولي او د هغه په ستاینه کي وایي:

الجمع: ما اسقط التفرقة وقطع الاشارة و شخص عن الماء و الطين بعد صحة التمكين و البراءة من التلوين و الخلاص من شهود الثنوية و التنافى من احساس الاعتلال و التنافى من شهود شهودها. (منازل السائرين ۴۶)

جمع هغه مقام دی چي د خالق او مخلوق تر منځ د حقیقت له مخې تفرقه ختمه کړي، اشاره[۳۶] له منځه یوسي او اوبه و ګل داسي رحلت وکړي چي حادث له پوره صحت سره د تل لپاره ختم او قدیم ثابت شي[۳۷] او د دې محوې و اثبات تر منځ د تردد له هر صورت څخه برأت حاصل شي[۳۸]، د دوه والي له شهود څخه نجات ومومي، د علت او معلول احساس فنا شي ان پر دې ټولو شیانو د اطلاع موندنې اطلاع هم پاتي نه شي.

د مثنوي په پیل کي همدا خبره ده چي رومي په خپلو تلپاتو اشعارو کي داسي بیان کړې:

---

[۳۶] مطلب دا چي دوه والی داسي له منځه یوسي چي نه اشاره کوونکی پاتي شي او نه هغه څوک چي اشاره ورته کېږي.

[۳۷] دلته د تمکین لفظ کارول شوی، دا د علم تصوف یوه اصطلاح ده او معنا یې هماغه ده چي موږ په خپله ترجمه کي بیان کړې.

[۳۸] په اصل کي د تلوین لفظ کارول شوی، دا هم یوه اصطلاح ده او په علم تصوف کي د سالک د هغه حالت لپاره کارېږي چي د حادث د اثبات او محوې تر منځ متردد وي.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

بشنو از نی چون حکایت می کند وز جدائی ها شکایت می کند
کز نیستان تا مرا ببریده اند در نفیرم مرد وزن نالیده اند
سینه خواهم شرحه شرحه از فراق تا بگویم شرح درد اشتیاق
هر کسی کو دور ماند از اصل خویش باز جوید روزگار وصل خویش

مرگ او قیامت د دې درجو درلودونکو لپاره د همدا رجوع او وصال دی، له همدې امله چې په دې یاد کې کومه غونډه جوړوي هغې ته عرس یعني د نکاح غونډه ویل کېږي، د تصوف ټوله شاعري د همدې عشق بیان دی او له دې څخه پر یوه وخت عام کسان د انګورو د شرابو خوند اخلي او عارف ترې د عرفاني شرابو خوند مومي:

ما در پیاله عکس رخ یار دیده ایم
ای بی خبر زلذت شرب مدام ما

## شریعت

قرآن چې موږ ته کوم دین راکړی د هغه په اړه یې دا هم په پوره وضاحت سره ویلي چې د رسول الله په وسیله بشپړ شو او نور پکې د کومې زیاتونې یا کمبوت امکان نه شته، یوازې دا نه ده بلکې قرآن دا هم ویلي چې د دین بشپړېدو په شکل نعمت هم پوره شوی. له همدې امله د عوامو او خواصو هغه ټولې مرتبې چې په دین کې مطلوب دي د دوی ټولو لپاره ټول هدایات په همدې کې دي، له دې څخه دباندې د هیچا لپاره هیڅ هدایت نه شته. الهي وینا ده:

الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلَامَ دِينًا (المائدة ٥ : ٣)

نن مې ستاسو دین درته پوره کړ او (په دې توګه) مې خپل نعمت درباندې بشپړ کړ او ستاسو لپاره مې اسلام د دین په توګه خوښ کړ.

پر همدې بنسټ به رسول الله په خپلو ویناوو کې ویل:



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

فان خير الحديث كتاب الله و خير الهدى هدى محمد و شر الامور محدثاتها و كل بدعة ضلالة. (مسلم، شميره: ۲۰۰۵)

غوره كتاب د الله كتاب دى او غوره هدايت د محمد هدايت دى او تر ټولو بدې خبرې هغه دي چي په دې دين كي نوې پيدا شي او دا ډول هره خبره ګمراهي ده.

د صوفيانو په دين كي د الله هغه ټول هدايات چي په قرآن او سنت كي بيان شوي په حقيقت كي د خلګو د اصلاح لپاره يو عمومي قانون دى چي كه له دې څخه بالاخره څه تر لاسه كېداى شي نو هغه دادي چي خلګ د يوه بل له ظلمه او اخرت له عذابه نجات تر لاسه كړي. پاتي شوه تر دې وړاندې د خواصو او اخص الخواص د فنا و بقا د مراتبو او پوره تمكين ته د رسېدو طريقه نو دا هدايت نه د دې لپاره راغلى او نه بايد څوك دا ډول شى پكي وپلټي.

شاه ولى الله دهلوي په خپل كتاب التفات القدس كي ليكي:

و علت غائيه ان اخلاص از تظالم در دنيا و مبتلا شدن بعذاب قبر و روز حشر است، نه وصول بفنا و بقاى هر لطيفه و حصول مرتبه بقاى مطلق و تمكين تام. هر كلامى ازان خلاصه بشر عليه افضل الصلوات و التسليمات كه بتورسد محمل آن فى الحقيقت همان قدر است. مقاصد و مصالح اوامر و نواهى آن حضرت نشناخته است كسى كه بر مراتب ديگر حمل مى كند.

او ددې (شريعت) هدف دادى چي خلګ په دنيا كي د يوه بل له ظلمه او (تر مرګ وروسته) د قبر او بيا را پورته كېدو له عذابه خوندي شي، د هرې لطيفې بقا او فنا ته رسېدل او د مطلقې بقا او تام تمكين د مرتبې تر لاسه كولو ته پكي پام نه دى شوى، تاسو ته چي د رسول الله هر كلام رسېدلى د هغه هدف په حقيقت كي همدومره دى، ده چي كوم احكام بيان كړي او له كوم څه يې منع كړې هغه چا يې مقاصد او مصالح نه دي پېژندلي چي پر



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

نورو مراتبو يې حملوي.[39]

خو د فنا او بقا دا لطايف او تام تمکين له کومه تر لاسه شول؟ شاه ولی الله په همدې کتاب کي وايي چي دا علم تر ټولو وړاندي د دې ډلې سرلاري جنيد بغدادي را منځ ته کړ او هغه يې له قرآن و سنت څخه نه بلکي له رسول الله څخه په مستقيم ډول تر لاسه کړی دی. لکه څرنګه چي د بېلګي په توګه ختګی له لمر څخه د خپلې ودې او تکميل لپاره فيض تر لاسه کوي په داسي حال کي چي نه ختګی پوهېږي چي د ده تکميل تر لمر پوري تړلی او نه لمر پوهېږي چي له ده څخه لرې د ده په وسيله پر ځمکه يو ختګی د خپل تکميل پړاو ونه وهي. دی وايي:

به همين اسلوب نفوس کليه که مبدء فيض ايشان را برای مصلحت کليه بزمين فرود آورده است، نفوس ناقصه را مکمل مي سازند. و اين جا هيچ پيغامی و کلامی در ميان نمی باشد. آری اذکيا نفسو بوجهی از وجوه اين منت را مي شناسند و آن معنی حاصل بر ان می شود که از کلمات و اقوال آن برزخ بر سبيل اعتبار و اشاره استنباط آن اسرار کنند. (۱۴)

همدا طريقه ده[40] په دې سره د فيض د مبدا له خوا د کلي مصلحت لپاره پر ځمکه نازل شوي نفوس کليه د نيمګړو خلګو تکميل کوي او په دې ځای کي د هغوی تر منځ کوم پيغام او کلام نه وي. هو! ځيرک طبيعتونه په يو نه يو ډول دا لورينه پېژني او د دوی لپاره يې نتيجه دا وي چي د دې برزخ (رسول الله) له اقوالو او کلمو څخه د فرض او اشارې په توګه دوی هغه اسرار تر لاسه کوي.

دا د الطاف القدس د ليکوال اسلوب دی، دا مهال صوفيان په دې معامله کي خپل مطلب عموما په دې ډول بيانوي چي د دين اخيري هدف احسان دی. په قرآن او سنت کي يې د تر لاسه کولو هيڅ طريقه نه ده بيان شوې، د رسول الله په زمانه کي د هغه په ملګرتيا

[39] يعني له هغوی څخه د فنا او بقا د لطايفو، تام تمکين او نورو د استنباط هڅه کوي.

[40] يعني هغه طريقه چي پورته د ختګي او لمر په مثال کي بيان شوه.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

تر لاسه کېده خو ځرنګه چي تر ده وروسته يې خلګو ته تر لاسه کول ګران شول نو دا د تصوف خاوندان وو چي په خپل اجتهاد يې د دې طريقې وموندلې او بالاخره يې د يوه فن په شکل ترتيب کړې. دوی وايي: موږ له همدې شي څخه د طريقت په اصطلاح تعبير کوو.

رشيد احمد ګنګوهي[41] وايي:

"د رسول الله د روحاني قوت دا حالت وو چي تر ټولو ستر کافر به د لا اله الا الله په ويلو د احسان مرتبه تر لاسه کوله، د دې يوه بېلګه دا ده چي صحابي وويل: موږ به ځارا ګښت ته ځرنګه تيرېږو او ځرنګه به د الله په وړاندې لوځېږو؟ دا انتها ده او دوی مجاهدو او رياضت ته اړتيا نه درلوده، صحابه کرامو د رسول الله په وسيله دا قوت درلود خو تر رسول الله کم وو. تابعينو هم درلود مګر تر صحابه وو کم وو چي په تبع تابعينو کي نور ډېر کم شو او د جبران لپاره يې بزرګانو مجاهده او رياضت را منځ ته کړل." [42] (ارواح ثلاثه: ۲۹۷)

د همدې فکر پر بنسټ د اورادو، وظيفو، څلويښتيو او مراقبو يو بشپړ شريعت دی[43] چي تر الهي شريعت وړاندې او له قرآن و سنت څخه بهر بلکي د هغو د مقاصدو بالکل خلاف يې دې صوفيانو د طريقت په نوم د دودولو هڅه کړې ده او دوی يې په هکله په ځرګنده وايي چي دا علم په څه ډول زموږ له مشايخو څخه په تراو پيدا کولو تر لاسه کېدای شي په هغه ډول يې نور د خلګو لپاره په بله طريقه تر لاسه کول اسان نه دي.

---

[41] د ديوبندي ډلې وتلی عالم او د تصوف شيخ چي د هندوستان په يوه کلي ګنګو کي ښخ دی. د ۱۳۲۳ هـ په جمادی الثاني کي ومړ.

[42] په نورو ټکو کواکي هدف دا دی چي د الله له لوري د دين له بشپړېدو او نعمت له پوره کولو سره-سره د قرآن او سنت په هدايت کي يو څه نيمګړتيا پاتي وه او دوی د مهربانۍ له مخې په خپلو اجتهادونو پوره کړې ده.

[43] د بيلګي په توګه د تفصيل لپاره يې وګورئ د شاه ولی الله دهلوي القول الجميل في بيان سواء السبيل



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

خبره صرف دومره نه ده بلکي د غوره اخلاقو يعني صبر، شکر، صدق، سرښندنې، رضا، حيا، تواضع، توکل، ځان سپارنې او نوري کومې درجې چي په دې دين کي بيانېږي که د هغه له مخې د الله رسول او صحابه وو ته وګورو نو هم په ډېره سخته لومړۍ يا دويمې درجې ته رسېدلي ښکاري، ښخي په ډاګه ده چي تر دې وړاندې د اخص الخواص درجې ته يې ځانونه ونه شواى رسولاى. د تصوف په مرکزي کتابونو د بيلګې په توګه د ابو طالب مکي په قوت القلوب، د ابو اسماعيل هروي په منازل السائرين او د غزالي په احياء علوم الدين کي يوه لويه برخه همدې بحثونو ته ځانګړې شوې ده. د دې کتابونو له مطالعې څخه هر شخص اټکل کولاى شي چي په دې معامله کي الله د خپل دين له مخې کوم اخيري مقامات ټاکلي د صوفيانو هدف واقعاً تر هغو ډېر وړاندي دی.

دا څو بنسټيزې خبرې دي، زموږ دا ليکنه پر دې موضوع د کوم تفصيلي بحث لپاره نه ده خو له دې څو خبرو په بشپړډول ښکاري چي تصوف په واقعيت کي يو موازي دين دی چي په دې امت کي يې د الهي دين د روح او حقيقت په نوم د دودولو هڅه شوې.

اللهم ارنا الحق حقا و ارزقنا اتباعه
و ارنا الباطل باطلا و ارزقنا اجتنابه

۱۹۹۳



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

# د بیعت د پلویانو حضور ته

(۱)

په اسلامي تاریخ کي د سمعې او اطاعت بیعت یوازي د واک د خاوندانو لپاره ثابت دی، د قرآن کریم له مخې دا یوازي د مسلمانانو چارواکي دي چي تر الله او رسول وروسته یې له خلکو څخه د سمعې او اطاعت مطالبه کولای شي، له همدې کبله دا بیخي باوري ده چي که تر رسول الله وروسته هم د سمعې او اطاعت بیعت کېدلای شي نو له دوی سره کېدای شي. په دې کي شک نه شته چي د اطاعت د ژمنې کولو دا طریقه د رسول الله له وخته را پاتي ده، که څه هم دی د خپل رسالت له مخې هم د اطاعت وړ وو خو څرنګه چي دا بیعت له سیاسي امارت سره تعلق لري له همدې امله ده په ام القری مکه کي نه له چا څخه بیعت واخیست او نه یې پر دې بنسټ د اسلامي انقلاب لپاره کومه ډله را منځ ته کړه او نه یې د دعوت په مرحله کي له خپلو پیروانو څخه کوم وخت دا سي غوښتنه وکړه. د یثرب خلکو هغه ته د واکمن په توګه د مدینې پر لور بلنه ورکړه نو ده هم ترې بیعت وغوښت چي په اسلامي تاریخ کي د بیعت عقبه په نوم مشهور دی او تر رسول الله وروسته د هغه ځای ناستي یا خلفاوو له خلکو واخیست، د تاریخ او سېرت په روایاتو خبر هیڅ کس له دې څخه انکار نه شي کولای.

هیڅا له دومره خبرې سره اختلاف نه درلود خو ډاکټر اسرار احمد صیب ویلي چي که د مسلمانانو حکومت اسلامي نه وي نو د دې حکومت د اسلامي کولو په هڅو بوخته ډله به هم له امیر سره بیعت کوي، له بده مرغه چي د هغه دا خبره په هیڅ ډول منل کېدای نه شي. د قرآن او حدیث په اړه په یقین سره ویل کېدای شي چي هلته د دې لپاره هیڅ نص موجود نه دی او له نص پرته هیڅوک هم د دې ځمکي پر مخ د یو شي د دین ګڼلو حق نه



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

شي درلودای.

دی وایي: بیعت ته د خلګو په را بللو یې د یوه سنت د ژوندي کولو نېکمرغي تر لاسه کړې ده، دا عیني هماغه ډول خبره ده لکه یو څوک چې د جونګړې په جوړولو زموږ په ښارکي په درو د زانیانو د وهلو او غلو د لاسونو پرې کولو چاره پیل کړي او په کوڅه و بازارکي د اعلان په کولو ګرزي-را ګرزي چې الله ده ته د خپلو دوو فرضونو د ژوندي کولو سعادت ورکړی دی. زموږ فکر دا وو چې غالبا به دا مهال داسي خلګ نه وي مګر ښکاري چې لا هم په نړۍ کي ځیني داسي خلګ شته.

که د ډاکټر صیب په اند د سمعې او اطاعت بیعت سنت وي[1] نو لکه څرنګه چې موږ وویل د زاني او غله د سزا په څېر یې باید حکم له واکمنو سره تړاو ولري، د دا ډول شیانو په اړه زموږ مسئولیت دا دی چې د واک خاوندان په هغو عمل کولو ته وهڅوو. ډاکټر صیب ته هم په کار ده چې د خپلو احساساتو بې اختیاره شوق یو څه کنټرول کړي، دی د سمعې او اطاعت له بیعت پرته هم ډېري نېکمرغۍ تر لاسه کولای شي. غوره ده چې پر هغو بسنه وکړي.

(۲)

موږ چې د سمعې او اطاعت د بیعت په اړه د ډاکټر اسرار احمد صیب پر دریځ کوم نقد لیکلی وو د هغه په اړه د ده د ورور ښاغلي اقتدار احمد صیب تبصره د میثاق د نومبر په ۸۷ ګڼه کي خپره شوه، ده چې په خپل مضمون کي د چټیاتو او استدلال کوم ښکلی امتزاج را منځ ته کړی په دې سره حق لري چې باید د مبارکۍ ډالۍ ورکړل شي، څرګنده نه ده چې د اسلامي انقلاب دا بیرغ پورته کوونکی به په دې هیواد کي د محمدي عربي صلی الله علیه وسلم د دین پر نافذولو کوم وخت بریالی شي او که نه؟ خو که دی تر یوه

---

[1] په داسي حال کي چې دا هیڅکله سنت نه دی، د سنت اطلاق یوازي پر هغو شیانو کېږي چې رسول الله د دین په توګه خپل امت ته پرېښي وي.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

بریده د غوره اخلاقو پر خپلولو بریالی شوی وای نو یقینا به یې بر خلیک هغه نه وو چې د کلونو تر هڅو وروسته د دوی لپاره پر دیوال لیکل شوی. غالبا ده په خپل دې مضمون کې د طنز لیکلو هڅه کړې ده، ممکن دی به خبر نه وي چې د ادب په ژانرونو کې تر ټولو ستونزمن ژانر یې همدا دی. د هغه د نزاکتونو ساتنه د هر چا لپاره شونې نه ده، په دې کې هره شیبه د «هشدار که ره بر سر تیغ است قدم را» معامله وي، که دی په دې عصر کې د یو څه لیکلو تلوسه لري نو موږ به یې حضور ته په سل ادبه دا عرض وړاندې کړو چې د دې لپاره دې داسې اسلوب غوره کړي چې له دعوت سره یې مناسب وي، خو د ده له سپکاوي په سترګو پټولو چې په دې مضمون کې څومره استدلال موجود دی د لته یې ځواب وړاندې کوو.

د سمعې او اطاعت د بیعت په اړه مو لیکلي وو چې دا بیعت په اسلامي تاریخ کې صرف د واک د خاوندانو لپاره ثابت دی، رسول الله یې له خلکو هغه مهال مطالبه وکړه چې له ام القری څخه په هجرت کولو د خپلې سیمې د واک سمبالولو بلنه ورکړل شوه. ده د اسلامي انقلاب لپاره نه د دې بیعت پر بنسټ کومه ډله را منځ ته کړه او نه یې د دعوت په مرحله کې له خپلو پیروانو څخه کوم وخت د دې غوښتنه وکړه.

د دې په ځواب کې خو هغه زموږ دا خبره ټکي په ټکي منلې چې له نبوت وروسته رسول الله تر پوره دیارلسو کلونو کله په عربي خاوره کې د دین دعوت وکړ ځینو کسانو د دې دعوت په منلو د هغه ملګرتیا وکړه، ده د خپلو ملګرو د ښوونې، روزنې او نفسي سپیڅلتیا کار پیل کړ، دې خلکو د مکې د قریشو ظلمونه وزغمل، حبشې ته یې هجرت وکړ او د هر ظلم په وړاندې یې وازې د صبر، ثبات او استقامت له ازموینې سره مخ شول. د دې ټولو پړاوونو پر مهال ده هیڅکله له خپلو دې ملګرو څخه د سمعې او اطاعت د بیعت غوښتنه ونه کړه، خو څرنګه چې له دې هر څه سره ــ سره هغه نه غوښتل دا حقیقت ومنې چې د ګوند جوړولو دا مسنون بنسټ یوازې د ده له ځانه جوړه شوې افسانه ده ځکه یې نو



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د هغه د یوې توجیه وړاندې کولو هڅه کړې. دی لیکي:

"پاتې شوه دا خبره چې تر دې وړاندې رسول الله هیڅکله له خپلو پیروانو څخه د سمعې او اطاعت بیعت نه وو اخیستی نو د دې سبب په شعوري یا غیر شعوري ډول له هغه حقیقت څخه سترګې پټول دي چې تر کومه وخته د رسول الله ډله صرف تر مکې محدوده وه او هلته رسول الله په خپله وجود درلود نو رسمي بیعت ته هیڅ اړتیا نه وه، دا اړتیا له دې امله پیښه شوه چې خبره د یثرب تر او سېدونکو رسیدلې وه چې له رسول الله سره یې مستقیما او د پر له پسې اجتماعي رابطې وس نه درلود."

د ده دا توجیه لږ په ژور نظر وارزوئ!

لومړی خبره خو داده چې کله رسول الله په دې مرحله کې له خلکو څخه بیعت وانه خیست نو ده ته څرنګه څورلس پیړۍ وروسته دا راز څرګند شو چې د اسلامي انقلاب لپاره د ګوند جوړولو بنسټ په حقیقت کې همدا د سمعې او اطاعت بیعت دی؟ خو څرنګه چې رسول الله په ام القری کې په خپله موجود وو له همدې کبله یې پر دې مهال له خلګو څخه د هغه غوښتنه ونه کړه، ایا دا خبره رسول الله په خپله کړې ده؟ که په دین کې کوم شی ثابتېدای شي نو تر قرآن کریم وروسته د رسول الله په وینا ثابتېدای شي، که رسول الله د دعوت په مرحله کې دا بیعت نه وي اخیستی او په دې مرحله کې یې د ثبوت لپاره تاسو د هغه یوه وینا هم د احادیثو له ذخیرې نه شئ وړاندې کولای نو د هغه د دې وینا ماخذ څه دی؟ ده خو لا هم د وحې او الهام دعوه نه ده کړې چې صرف د ده په بیان یې دا خبره ومنل شي؟.

دویمه خبره داده چې دی بیعت د اسلامي دعوت لپاره د ګوند جوړولو مسنون بنسټ بولي، تر دې وخته خو موږ ته همدا معلومه وه چې د رسول الله په عمل او سنت بللو یو کار مسنون ګرزي، ایا اوس د دوی د تحقیق په نتیجه کې دا و منل شي چې سنت له دې پرته هم ثابتیږي؟ که څوک زموږ په سیمه کې هره ورځ سهار لس بجې خلګ د لمانځه لپاره مسجد



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ته را وبولي، بیا دوه رکعته لمونځ ورکړي او تر دې وروسته اعلان وکړي چې د الله په مرسته یې د نفسي تزکیې د دې مسنونې طریقې ژوندي کولو سعادت تر لاسه کړی نو ایا د دې دا خبره په صرف د دې دلیل پر بنسټ منل کېږي چې رسول الله په خپله د صحابه کرامو تر منځ موجود وو؟ له همدې امله د ده په زمانه کې د سهار او ماپښین تر منځ کوم لمانځه ته اړتیا نه وه، خو د نفس د تزکیې مسنونه طریقه په هر حال همدا ده.

دریمه خبره دا ده چې په کوم ځای کې رسول الله په خپله موجود وي او هلته د بیعت اړتیا نه وي نو لکه څرنګه چې د احادیثو په ګڼو روایاتو ثابته ده مدینې ته تر راتلو وروسته یې له ټولو انصارو او مهاجرینو دا بیعت ولي واخیست؟.

څلورمه خبره دا ده چې د یثرب له اوسېدونکو تر بیعت اخیستلو وړاندې د دوس قبیلې سردار طفیل بن عمرو د بني غفار قبیلې یو غړی ابو ذر، د بنو سلیم عمرو بن عبسه، د یمن ابو موسی اشعري، د بنو ضمره جعال بن سراقه، د بني کنانه عبدالله او عبد الرحمن او د بني خزاعه بریده بن الحصیب هم له نورو سیمو مکې ته راغلل، اسلام یې راووړ او خپلو سیمو ته ستانه شول. همدارنګه د نبوت په شپږم کال له حبشې څخه نژدې د شلو عیسایانو یو پلاوی د حالت د تحقیق لپاره مکې ته راغی او د اسلام تر راوړلو وروسته وطن ته ستانه شول خو له دې سره - سره چې رسول الله په دې سیمو کې په خپله وجود نه درلود او هغوی له ده سره مستقیمه او پر له پسې رابطه نه شوای ساتلای ده ولي ترې د بیعت غوښتنه ونه کړه؟.

پنځمه خبره دا ده چې ډاکټر اسرار احمد صیب خو هم په دې هیواد کې په خپله موجود دی، دلته چې کومو کسانو ورسره بیعت کړی هغوی له برتانیې او فرانسې نه دي راغلي په دوی کې ډېری یې د همدې لاهور اوسېدونکي دي نو بیا د دې توجیه پر بنسټ له دې ټولو خلکو د بیعت غوښتنه د کوم دلیل پر اساس کوي؟.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

موږ دلته د دې توجیه یوازې څو اړخونو ته اشاره کړې، که نه حقیقت دا دی چې د هغه د دې نادر تحقیق د شاباسي لپاره د احادیثو او سیرت په ذخیره کې لا هم ډېر څه پاتې دي.

تر دې وروسته یې د عقبه د بیعت په اړه زموږ د نظر په رد کې لیکلي دي:

" دی فکر کوي چې د یثرب اوسېدونکو له ام القری څخه د رسول الله په هجرت کولو د خپلې سیمې د واک سپارلو دعوت ورکړی وو او پر همدې بنسټ رسول الله د سمعې او طاعت د بیعت او هجرت و جهاد غوښتنه کړې وه، په داسې حال کې دا هغه خبره ده چې په ټولو افسانو کې یې ذکر نه وو. زموږ د تاریخ هره شېبه نن هم د رسول الله د مخ په څېر روښانه ده، رسول الله چې د عقبه د دویم بیعت په نتیجه کې یثرب ته هجرت کړی وو نو هغه هیڅکله د واک تر لاسه کولو او یا حکومت جوړولو لپاره نه وو (دا بېله خبره ده چې په نتیجه کې یې الله د همدې لپاره لار هواره کړه) ده د یثرب له اوسېدونکو څخه یوازې د دې خبرې ژمنه اخیستې وه چې رسول الله په خپلو دعوتي فعالیتونو کې د مکې د کفارو له لوري له کوم تېري سره مخ دی د هغه په مقابل کې به ده ته پناه، ساتنه او مرسته ورکول کېږي. د یثرب اوسېدونکي د همدې مرستې د وعدې له امله انصار بلل شوي وو، له همدې امله رسول الله پر دې مهال په یثرب کې خپل کوم ځای ناستی او یا والي ونه ټاکه، بلکې د یثرب له اوسېدونکو څخه یې دوولس نقیبان وټاکل او په تر دې وړاندې مرحله کې مصعب بن عمیر هم د رسول الله د والي او یا استازي په توګه نه بلکې د یوه داعي او ښوونکي په توګه مبشت وو، پر دې سربېره که د عقبه د دویم بیعت الفاظ مخې ته کېښودل شي نو سړی به یې د حکومت بیعت نه بلکې د تنظیم بیعت وي."

دلته تاسو د عقبه د بیعت دا ټوله «افسانه» هم واورئ!

ابن سعد او نورو مورخینو لیکلي چې د نبوت په یوولسم کال د حج په زمانه کې رسول الله له خپل عادت سره سم له عربي قبایلو سره د لیدنې لپاره له مکې څخه منی ته ولاړ، هلته یې عقبه ته څېرمه د خزرج قبیلې له یوې ډلې سره ولیدل. ده ورته د اسلام



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دعوت وړاندې کړ، هغوی په پوره ډاډ سره د ده دعوت واورېد او ويې مانه. هغو ټولو خلکو چې شمېر يې په ځينو رواياتو کې شپږ او په ځينو کې اته ښودل شوی دی پر ده ايمان راووړ، ده تر دې وروسته هغوی ته وويل: ايا تاسو به زما ملاتړ وکړئ چې زه د خپل رب پيغام ورسوم؟. د دې ملاتړ معنا څه وه؟ د يثرب د اوسېدونکو له خولې يې واورئ. دوی وويل:

نحـــن مجتهــدون لله ولرســوله. نحن، فاعلم، اعداء متباغضون، و انما كانت وقعة بعاث عام الاول، يوم من ايامنا اقتتلنا فيه. فان تقدم، و نحن كذا، لا يكون لنا عليك اجتماع. فدعنا حتى نرجع الى عشائرنا. لعل الله يصلح ذات بيننا، وموعدك الموسم العام المقبل. (ابن سعد، الطبقات الكبرى ١/ ١٤٨)

موږ د الله او د هغه د رسول په خاطر په دې کار کې د پوره ځواک لګولو ته چمتو يو، خو موږ دا مهال غواړو تا ته دا ووايو چې په خپل منځي دښمني اخته يو، همدا تېر کال زموږ تر منځ د بعاث جګړه وشوه که ته په دې حالت کې راشې نو ستا پر مشرتوب به اتفاق ونه کړای شو. ته سمدستي موږ ته د خپل قوم پر لور د تلو اجازه راکړه هيله ده چې الله به زموږ خپل منځي اړيکې سمې کړي، موږ له تا سره ژمنه کوو چې راتلونکی کال به همدلته درسره وينو.

په دې روايت کې چې د لا يكون لنا عليك اجتماع (موږ به ستا پر مشرتوب اتفاق ونه کړای شو) کوم الفاظ کارول شوي، له دې څخه دا خبره ښکاري په ډاګه ده چې بې شکه د ملاتړ په دې معنا د دې زمانې سېرت څېړونکي ونه پوهېدل خو د يثرب اوسېدونکي يې په مراد فهمولو کې له هيڅ ستونزې سره مخ نه شول. يثرب ته په ستنېدو هغوی د دې هدف د تر لاسه کولو لپاره هڅې پيل کړې، دويم کال (تر نبوت دوولس کاله وروسته) د هغوی دوولسو کسانو د همدې عقبه په سيمه کې له رسول الله سره وليدل. په دې کې پنځه کسان



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

هماغه وو چي تېر کال یې اسلام منلی وو، په پاتي شپږو کسانو کي پنځه د خزرج او دوه د اوس وو. که څه هم د دې کسانو د هڅو په نتیجه کي د اسلام دعوت د اوس او خزرج په ټولو کورنیو کي خپور شوی وو خو څرنګه چي د دې قبایلو مشرانو لا هم ایمان نه وو راوړی او د یثرب سیاسي اقتدار لا هم له دوی سره وو ځکه نو رسول الله پر دې مهال هم د سمعې او اطاعت بیعت ترې وانه خیست، بلکي صرف د اسلام بیعت یې ترې واخیست چي زموږ په تاریخ کي د بیعت نساء په نوم مشهور دی. کله چي دا کسان مدینې ته ستنېدل نو رسول الله ورسره مصعب بن عمیر ولېږه، دې کسانو د هغه په مشرتوب په ډېره بیړه په مدینه کي د اسلام په خپرولو پیل وکړ، راتلونکی کال (تر نبوت دیارلس کاله وروسته) د حج د زماني تر راتلو د اوس او خزرج مشران او لویان په اسلام کي داخل شول او په دې توګه د یثرب سیاسي ځواک په واقعي ډول رسول الله ته ولېږدېد. تر دې وروسته د هغوی اویا کسان د حج پر مهال د رسول الله حضور ته راغلل او د هغه پر لاس یې د اسلام په تاریخ کي په لومړي ځل د سمعې، طاعت او جهاد بیعت وکړ لکه پورته چي وویل شول رسول الله دا بیعت له هغو خلګو هم وانه خیست چي په لومړي ځل د عقبه په سیمه کي مسلمانان شول، دویم ځل یې هم ور څخه د دې بیعت غوښتنه ونه کړه. په داسي حال کي چي نه په خپله ورسره وو او نه یې ورسره مستقیمه او پر له پسې تنظیمي رابطه ساتلای شوای، رسول الله له دوی څخه د سمعې او طاعت بیعت هغه وخت واخیست چي د یثرب د واک درلودونکو قبایلو مشرانو پر ده ایمان راوور او دوی خپلې سیمې ته د امام او واکمن په توګه له دې شعور سره د مدینې پر لور د ورتلو بلنه ورکړه چي د بیعت پر مهال اسعد بن زراره وویل:

"اې د یثرب اوسېدونکو ودرېږئ موږ د خپلو اوښانو په را ځغلولو هغه ته د دې لپاره راغلي یو چي دا د الله رسول دی او نن له ځان سره د هغه د بوولو معنا له دې پرته بله هیڅ نه ده چي موږ د ټولو عربو دښمني پر غاړه اخلو، د دې په نتیجه کي به ستاسو ماشومان



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ووژل شي او توري به مو په وينو سرې شي. له همدې کبله که دا هر څه منلای شئ نو لمن يې ونيسئ، يقينا ستاسو اجر ستاسو د رب پر ذمه دی." (البدایه و النهایه ۳۵۹)

مولانا سيد ابو الاعلی مودودي صيب په خپل کتاب سيرت سرور عالم کې د بیعت عقبه د اهميت تر عنوان لاندې ليکي:

"دا د اسلام په تاريخ کي يوه انقلابي مرحله وه چي الله په خپل فضل چمتو کړه او رسول الله د لاس په غزولو را ونيوله، د يثرب او سېدونکو هغه ته يوازي د پناه غوښتونکي په توګه پناه نه ده ورکړې بلکي د خدای د ځای ناستي او خپل امام و واکمن په توګه يې ور وغوښت او د اسلام پيروان يې صرف د دې لپاره ور ونه بلل چي هغوی په پردی ځمکه کي يوازي د مهاجرينو په توګه ځای ومومي بلکي هدف دا وو چي د عربو په بېلابېلو قبايلو او سيمو کي کوم مسلمانان تيت پرک دي هغوی په يثرب کي په را ټولېدو او د يثرب له مسلمانانو سره په يو ځای کېدو يوه منظمه اسلامي ټولنه جوړه کړي. په دې توګه يثرب په حقيقت کي خپل ځان ورته د مدينة الاسلام په توګه وړاندي کړ او رسول الله يې په منلو په لومړي ځل په عربو کي دار الاسلام جوړ کړ." (۲/ ۷۰۶)

دا هماغه بيعت دی چي د ی يې په اړه وايي: رسول الله هيڅکله د واک تر لاسه کولو او يا حکومت جوړولو لپاره نه وو تللی، البته د دې په نتيجه کي معلومه نه ده چي څرنګه الله د هغه د حکومت لپاره لار هواره کړه.

پاتي شوه دا خبره چي په دې وخت کي ولي رسول الله د مديني لپاره کوم والي ونه ټاکه؟ نو د دې علت دا دی چي له دې بيعت سره ده په خپله يثرب ته د تلو پريکړه وکړه، ام القری د ده د حکومت مرکز نه وو چي له هغه ځايه يې د مديني لپاره والي ټاکلای وای. تر دې لږو زيات دري مياشتې وروسته رسول الله د يثرب د واک اخيستنې لپاره له مکې څخه وخوځېد خو پر دې مهال چي ده کوم دوولس مشران ټاکلي وو هغوی يوازي د دعوت مشران نه وو، د سيرت النبي د ليکوال مولانا شبلي په ټکو د قبايلو مشران هم وو. همدا



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وجه ده چي په دې بيعت کي ده د مدينې له انصارو څخه په هر حال کي پر سمع او طاعت له ټينګېدو سره د دې خبرې ژمنه هم واخيسته چي «وان لا ننازع الامر اهله» يعني او موږ به د حکومت په چاره کي د حکومت له اهل سره شخړه نه کوو.

د عقبه د بيعت په دې الفاظو خو د علم هر خاوند خبر دی، موږ نه پوهېږو له دې پرته هغه کوم الفاظ دي چي که مخ ته کېښودل شي نو عنوان به يې د ده له تحقيق سره سم د حکومت بيعت نه بلکي د تنظيم بيعت وي؟.

موږ ليکلي وو چي د دې بيعت په اړه د رسول الله په عمل سره بالاخره څه ثابتېدای شي هغه دا دي چي که د مومنانو کومه ډله د ځمکې په يوه برخه کي واک تر لاسه کړي نو د هغې ډلي له غړو څخه د سمعې او طاعت بيعت اخيستلای شي، تر دې مرحلې وړاندې دا ډول بيعت يو بدعت دی چي د رسول الله په سپېڅلي سېرت کي يې هيڅ ثبوت نه شي موندل کېدای.

دی د دې په ځواب کي ليکي:

" د دې بدعت تر ټولو لومړنی ترسره کوونکی خو د رسول الله لمسی حسين رضی الله عنه وو چي د ځمکې په کومه سيمه کي يې د اقتدار له تر لاسه کولو پرته له کوفيانو څخه د بيعت اخيستلو لپاره هغوی ته خپل استازی ور ولېږه."

د هغه پر دې ځواب فکر وکړئ، د علم او استدلال په نړۍ کي ممکن تر دې بل په زړه پوري شی پيدا نه شي. غالبا د ده فکر دا دی چي حسين رضی الله عنه هم د ده د ورور په څېر لومړی د يزيد په حکومت کي د درس قرآن حلقې جوړي کړې او بيا يې د سمعې او طاعت پر بنسټ د خپلې يوې ډلي بنسټ کېښود او وروسته يې خپل د اکا زوی مسلم بن عقيل په کوفه کي د خپلې حلقې د غړو د تنظيم لپاره ور ولېږه چي هغه لومړی د مسلم اسدي او بيا د هاني بن عروه په کور کي خپل دفتر را منځ ته کړ او په ښکاره يې په دې ډله کي د خلګو د شمول اعلان پيل کړ. موږ به د ده حضور ته په پوره ادب سره وړانديز وکړو



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

چې مسلم بن عقیل د کوفې له خلګو څخه د یزید د حکومت پر خلاف د وسلوال بغاوت لپاره بیعت اخیستی وو، حسین رضی الله عنه هم له حجاز څخه د همدې هدف لپاره کوفې ته روان شوی وو. بغاوت څه شی دی؟ د دې لپاره دې دی کوم قاموس ته رجوع وکړي، هغه ته به معلومه شي چې د بغاوت معنا داده چې د ځمکې په کومه سیمه کې له وړاندې کوم واک موجود وي د هغه له اطاعت څخه په لاس اخیستلو یو څوک د خپل اقتدار لپاره را پاڅېږي، د کوفې اوسیدونکو د حسین رضی الله عنه له نماینده مسلم بن عقیل سره د همدې بغاوت لپاره بیعت کړی وو. دا بېله خبره ده چې د هغوی دا هڅه د ځینو لاملونو له امله ناکامه شوه، مګر حقیقت دادی چې که حکومت د دې بغاوت پر ټکولو نه وای بریالی شوی نو حسین رضی الله عنه به د یوه امام او واکمن په توګه کوفې ته داخل شوی وو. د هغه له خوا د واک په سمبالولو به د یزید والي ګوښه کېدی او که د یزید پوځ له دباندې برید کړی وای نو ده به د خپل دې سلطنت د رسمي مشر په توګه ورسره جګړه کوله. د مسلم بن عقیل په لاس له حسین رضی الله عنه سره شوی بیعت د دعوت او روزنې په مرحله کې نه بلکې د حکومت جوړولو په مرحله کې وو، له دې بحثه قطع نظر چې د حسین رضی الله عنه له خوا د بغاوت کولو ګام پر ځای وو او که نه؟ د معاملې د دې نوعیت له مخې د هغه بیعت په هیڅ ډول بدعت نه شي بلل کېدای.

څرنګه چې زموږ د مشر ډاکټر اسرار احمد صیب د ورور په وینا د مومنانو سیاسي اقتدار صرف په هغه ځمکه کې موجود ګڼل کېږي چې هلته په واقعي ډول د الله حکومت را منځ ته شي او څرنګه چې په پاکستان کې لا هم دا حالت نه دی پیدا شوی له همدې امله که دی هم په کوم ښار کې خپل واک تر لاسه کړی وي او د هغه ښار اوسیدونکو هم د اوسني حکومت پر خلاف د بغاوت د بیرغ پورته کولو دعوت ورکړی وي او ده یې د دې دعوت منلو پریکړه کړې وي نو په پوره شوق دې د سمعې او طاعت د بیعت اخیستلو لپاره هلته خپل استازی ور ولېږي. په دې حالت کې به موږ حتما د ده پر عقل او پوهه ویر وکړو خو د



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ده بیعت به هیڅکله بدعت ونه ګڼو.

(۳)

دنبوي سیرت په حواله چې ډاکټر اسرار احمد صیب د لاریون په وسیله د انقلاب کومه نظریه له تېرو لسو - پنځلسو کالو څخه په خپلو مجلو، مهالنیو او د پیروانو په غونډو کې په پوره تفصیل سره وړاندې کوي موږ باید د نوای وقت له ورځپاڼې مننه وکړو چې په لومړي ځل یې په ملي سطح ډاکټر صیب ته د بحث او مباحثې لپاره د هغې د وړاندې کولو فرصت ورکړ او په دې توګه یې زموږ زده کوونکو لپاره هم دا فرصت پیدا کړ چې د خپل ملت پوهانو او د ډاکټر صیب د بیعت هغو پلویانو ته د دې نظریې ناسموالی څرګند کړو چې د نبوي انقلاب په منلو یې د دې لپاره ډاکټر صیب ته خپل ځانونه وړاندې کړي دي. موږ باور لرو چې که د الله د دې ساده بندګانو ذهن هم د خپل امیر المؤمنین په څېر د انقلاب پر دې نظریه د ډبرې په څېر سخت شوی نه وي نو دوی به یې یقینا د یو حق پیغام په توګه واوري.

په دې معامله کې به موږ د ډاکټر صیب حضور ته هم د دې وړاندیز کولو جرأت وکړو چې که څه هم په دا ډول څېړنو کې د ده د الهام سرچینه عموما خپل دماغ وي مګر اوس یې د مجبوریت له مخې د دلیل لاره غوره کړې، نو د لږ وخت لپاره دې په همدې میدان کې په تم کېدو زموږ دا وړاندیزونه هم واوري. سمه ده چې د ده دماغ قاطع حجت دی مګر دومره خبره خو به دی هم مني چې:

گاهی گاهی غلط آهنگ بھی هوتاهی سروش

د ډاکټر صیب وینا ده چې الله په خپله ځانګړې پېرزوینه د اسلامي انقلاب کومه تګلاره پر ده لورولې د هغې ماخذ د رسول الله سپېڅلی سېرت دی، دی وایي: د هغه ژورو ته په کښته کېدو یې دا مهال دا نه موندل کېدونکې مرغلرې ترلاسه کړې دي او اوس غواړي چې نړی وال هم له دې بې سارې موندنې سره اشنا کړي:



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

بیا که جان تو سوزم زحرف شوق انگیز

دی د دې تګلارې تفصیل په داسې ډول وړاندې کوي چې رسول الله د خدای پرځمکه کوم انقلاب رااووست په هغه کې یې لومړی خلکو ته د خپلې نظریې پر لور دعوت ورکړ، بیا چې کوم کسان له دې دعوت څخه اغیزمن شول د هغوی ښوونې، روزنې او تزکیې ته یې توجو وکړه، تر دې وروسته هغوی د هر ظلم او تېري په مقابل کې د مطلق صبر او بالاخره هجرت تر مرحلې تېر شول او کله چې هغوی له دې ټول بهیر څخه په بریا را ووتل نو هغوی ته یې د باطل نظام پر خلاف د خپلې زمانې له حالاتو سره سم د جهاد و قتال امر وکړ او په دې توګه یې دا بدلون رااووست.

دی وایي د دې هڅو په اړه د رسول الله سنت همدا دی چې د سمعې او طاعت پر بنسټ یوه داسې ډله را منځ ته شي چې پکې د امیر پریکړه حتمي حجت وي، غړي یې د هغه د سترګو اشاره حکم وګڼي او کله چې هغه وغواړي په خپل ټول توان سره په دې هڅو کې د قربانۍ لپاره چمتو شي.

هغه پر دې ټینګار کوي چې د اسلامي انقلاب د هڅو لپاره خپله دا تګلاره یې له نبوي طریقې سره سمه چمتو کړې، هو! له خپل اجتهادي بصیرت سره پکې دومره ترمیم غواړي چې د دې مهال حالاتو ته په پام باید په وروستۍ مرحله کې د جهاد و قتال پر ځای (سره له دې چې د دې وار هم راتلای شي) د لاریونونو او نه مرستې پر تحریک تکیه وشي.

هغه دا خبره بالکل نه پټوي چې د ده دا انقلاب که هر وخت راځي نو د ځواک په وسیله به راځي، د ده له باور سره سم په دې کې د ده په خپلو الفاظو زور د اصل حیثیت لري، دی په ښکاره وایي چې تر خپل مشرتوب لاندې د خدایي پوځیانو کومه ډله تیاروي هغوی چې په کومه ورځ ضروري ځواک ترلاسه کړي له هغو سره یو ځای به ډګر ته کښته شي او د ملت اکثریت به چې د ده په وینا چې ډېری یې خاموش وي د ده ملګرتیا کوي او که نه نو که



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

خدای وغوښتل د همدې ډلې په وسیله به دا انقلاب راولي:

چون پخته شوی خود را بر سلطنت جم زن

د ده په اند د دې ټولو ماخذ نبوي سیرت دی، موږ دا مهال نه غواړو پر دې بحث وکړو د رسول په توګه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم کوم انقلاب راووست هغه د قرآن او سنت له مخې د دې تګلارې ماخذ هم کېدای شي او که نه؟ د یوې شیبې لپاره منو چې کېدلای شي، خو تر دې وروسته دا پوښتنه پیدا کېږي چې ایا د ډاکټر صیب د استدلال دا ماخذ پر خپل ځای ثابت هم دی؟ موږ په پوره مسئولیت سره د خپل ملت پوهان په دې حقیقت خبروو چې ډاکټر صیب د کوم سیرت په حواله له تیرو لسو پنځلسو کالو را هیسې د انقلاب دا داستان هر ځای اوروي د هغه په اړه د تاریخ دا شاهدي بېخي د نه ردیدو وړ ده چې په هغه کې دا هیڅ هم نه دي شوي. که ډاکټر صیب دا هرڅه یو ځای د خپل دماغ په نهال خانه کې موندلي وي او د خپل زړه په صحیفه کې یې لوستي وي نو بېله خبره ده. خو تر کومه ځایه چې د قرآن کریم په ایاتونو، د فقهې او حدیث په ذخیره او د تاریخ و سیرت په کتابونو پورې اړه لري په هغو کې دا هیڅ شی وجود نه لري، د رسول الله سیرت د تاریخ کومه ورکه پاڼه نه ده، د هغه د حالاتو داستان بېخي خوندي او هر اړخ یې د ځلانده سهار په څېر روښانه دی. موږ له څه وېرې او شک پرته د کاغذ پر مخ دا شاهدي ثبتوو چې رسول الله یقینا یو انقلاب راووست او د نړۍ وال تاریخ تر ټولو حیرانوونکی انقلاب یې را منځ ته کړ خو د دې لپاره یې د هغو پر مهال نه د سمعې او طاعت د بیعت پر بنسټ کوم تنظیم جوړ کړ او نه یې له خپلو ملګرو څخه د دې غوښتنه وکړه. په دې کې شک نه شته چې هغوی زده کړه هم وکړه او تزکیه یې هم تر لاسه کړه، مګر نه د دې انقلاب د را منځ ته کولو لپاره کوم وخت د ډلې په توګه میدان ته کښته شول، نه یې د دې لپاره توره پورته کړه او نه یې د جهاد و قتال په څېر کوم ګام واخیست. بې شکه انقلاب را منځ ته شو چې رسول او د هغه څو ملګرو را منځ ته کړ خو باور وکړئ چې د ټوپک او تورې په وسیله نه بلکې



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

یوازي او یوازي د دعوت په وسیله، تاریخ شاهدي ورکوي چي د دې انقلاب په هڅو کي د کوم یرغلیز اقدام لپاره تېغ او تبر یوه لور ته ان چا د رسول الله په لاس کي هیڅ وخت کومه چاره او ډنډه هم ونه لیده. د دې لپاره د هڅو پیل هم په دعوت سره وشو او پای یې هم په دعوت سره، په دې کي تر دعوت ها خوا بل هیڅ ګام وانه خیستل شو. صرف همدا مرحله لري او د دعوت په دې مرحله کي دا هڅې خپل هدف ته ورسیدې، باور وکړئ چي د نړۍ وال تاریخ په دې هېښوونکي انقلاب کي د وینې یو څاڅکی هم ونه بهېد، دا د الله پر ځمکه یوازي او یوازي د دعوت په وسیله را منځ ته شو.

کېدای شي زموږ لوستونکي به مو دې بیان ته حیران شي، خو هغوی دې د لږ شیبې لپاره تم شي. موږ یې ټول تفصیل مخ ته ږدو.

د دې انقلاب تاریخ دا دی چي رسول الله تر ټولو وړاندي د هغه دعوت په ام القری مکه کي خپل قوم ته وړاندي کړ، کم و زیات تر لسو کالو دا دعوت له هره اړخه د هغه قوم ته وړاندي شو چي له شک پرته ځینو کسانو ومانه او د دې لپاره یې د خپل قوم هر ډول ظلم هم برداشت کړ، خو قوم یې په مجموعي ډول د دې دعوت منلو ته چمتو نه شو ان تر دې چي الهي حجت پوره شو او رسول الله ته یې امر وکړ چي نور دا دعوت د خپل قوم د واک له دایرې دباندي نورو قبایلو ته وړاندي کړه. د همدې الهي حکم پر بنسټ ده د حج پر مهال په منی کي دا دعوت د عربو بېلابېلو قبایلو ته وړاندي کړ، تاریخ وایي چي ټولو انکار وکړ مګر د یثرب څو کسان را وړاندي شول او په بشپړ ورین تندي یې ومانه چي شمیر یې په ځینو روایاتو کي شپږ او په ځینو کي اته ښودل شوی، تر دې وروسته ده له هغوی وپوښتل: ایا تاسو به زما ملاتړ وکړئ؟ دوی یې په ځواب کي وویل:

| | |
|---|---|
| نحن مجتهدون لله ولرسوله. | موږ د الله او د هغه د رسول په خاطر په دې |
| نحن، فاعلم، اعداء متباغضون، و | کار کي د پوره ځواک لګولو ته چمتو یو، |
| | خو موږ دا مهال غواړو تا ته دا وو ایو چي |



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

انما کانت وقعة بعاث عام الاول، یوم من ایامنا اقتتلنا فیه. فان تقدم، و نحن کذا، لا یکون لنا علیک اجتماع. فدعنا حتی نرجع الی عشائرنا، لعل الله یصلح ذات بیننا، وموعدک الموسم العام المقبل. (ابن سعد، الطبقات الکبری ۱/ ۱۴۸)

په خپل منځي دښمني اخته يو، همدا تېر کال زموږ تر منځ د بعاث جګړه وشوه که ته په دې حالت کې راشې نو ستا پر مشرتوب به اتفاق ونه کړای شو. ته سمدستي موږ ته د خپل قوم پر لور د تلو اجازه راکړه هیله ده چې الله به زموږ خپل منځي اړيکې سمې کړي، موږ له تا سره ژمنه کوو چې راتلونکی کال به همدلته درسره وينو.

یثرب ته په رسېدو يې د دې لپاره هڅې پيل کړې، په دويم کال يعني تر نبوت دوولس کاله وروسته د هغوی دوولسو کسانو له رسول الله سره د عقبه په سیمه کې ولیدل، په دې کې پنځه کسان هماغه وو چې تېر کال يې اسلام منلی وو. په پاتي اوو کسانو کې پنځه يې د خزرج او دوه يې د اوس قبيلو وو، له دې معلومه شوه چې که څه هم د اسلام دعوت د دوی ټولو کورونو ته رسېدلی وو خو د پريکړې او ځواک خاوندانو يې لا هم ايمان نه وو راوړی. کله چې هغوی مدينې ته ستنېدل نو رسول الله خپل يو صحابي مصعب بن عمير ورسره ملګری کړ، هغوی د ده په لارښوونه په ډېره بيړه په يثرب کې د اسلام په خپرولو پيل وکړ. راتلونکی کال يعني د نبوت پر ديارلسم کال د حج د وخت تر راتلو د اوس او خزرج مشران او لويان مسلمانان شول او په دې توګه له څه يرغليز ګام پرته صرف او صرف د دعوت په وسيله د يثرب سياسي ځواک د رسول الله لاس ته ولوېد. د اسلامي تاريخ لومړنی دار الاسلام را منځ ته او انقلاب راغی، رسول الله د يوه واکمن په توګه د هماغه عقبه په سيمه کې د يثرب له اوسېدونکو د سمعې او طاعت بيعت واخيست او تر دې کم و زيات درې مياشتې وروسته د يثرب د واک سمبالولو لپاره له مکې څخه وخوځېد. مولانا



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

سید ابو الاعلی مودودي صیب په خپل کتاب سیرت سرور عالم کي د عقبه بیعت د اهمیت تر عنوان لاندي لیکي:

"دا د اسلام په تاریخ کي یوه انقلابي مرحله وه چي الله په خپل فضل چمتو کړه او رسول الله د لاس په غزولو را ونیوله، د یثرب اوسېدونکو هغه ته یوازي د پناه غوښتونکي په توګه پناه نه ده ورکړې بلکي د خدای د ځای ناستي او خپل امام و واکمن په توګه یې ور وغوښت او د اسلام پیروان یې صرف د دې لپاره ور ونه بلل چي هغوی په پردی ځمکه کي یوازي د مهاجرینو په توګه ځای ومومي بلکي هدف دا وو چي د عربو په بېلابېلو قبایلو او سیمو کي کوم مسلمانان تیت پرک دي هغوی په یثرب کي په را ټولېدو او د یثرب له مسلمانانو سره په یو ځای کېدو یوه منظمه اسلامي ټولنه جوړه کړي. په دې توګه یثرب په حقیقت کي خپل ځان ورته د مدینة الاسلام په توګه وړاندي کړ او رسول الله یې په منلو په لومړي ځل په عربو کي دار الاسلام جوړ کړ." (۲/ ۷۰۶)

د تاریخ دا حیرانوونکی انقلاب په همدې ډول را منځ ته شو، د دې لپاره کومه ډله نه ده جوړه شوې، کوم لاریون نه دی شوی، کومه ډنډه نه ده پورته شوې او کومه توره نه ده چلیدلې یوازي دعوت وړاندي شوی، په دې سره د خلکو زړه او دماغ خپل شوی، د هغوی د واک او ځواک خاوندانو په ورین تندي د هغه په وړاندي سر ټیټ کړی او د خدای پر ځمکه یوې نوې نړۍ له خپل مخ څخه پرده پورته کړې.

مدیني ته په رسېدو رسول الله د دې دولت قانون تصویب کړ چي په تاریخ کي د مدینې د میثاق په نوم مشهور دی. په هغه کې رسول الله یهودان تر خپل قیادت لاندي د یوه معاهد اقلیت په توګه د دې نوي دولت د ښاریانو په توګه ومنل، هغوی او مسلمانان له سیاسي پلوه یو وبلل شول، د دیت، قصاص او سولي و جګړې قانون یې ترتیب کړ او دا ماده په پوره عظمت سره پکي ثبت شوه چي د خدای شریعت ستر قانون دی، له همدې امله



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

به د ټولو شخړو پر مهال په دې دولت کې نور پرېکنده حیثیت الله او د هغه رسول لري. ده ولیکل:

وانکم مهما اختلفتم فیه من شیء فان مرده الی الله عزوجل والی محمد صلی الله علیه وسلم. (السیرة النبویة د ابن هشام ۲ / ۱۱۱)

او کله چې ستاسو په کوم شي کې اختلاف شي نو د پرېکړې لپاره به الله او د هغه رسول ته رجوع کوئ.

همدا د مدینې میثاق دی چې تر دې وروسته یو رسمي حکومت را منځ ته شو او رسول الله د دې حکومت د مشر په توګه د سیاست، اقتصاد، ټولنې، حدودو او تعزیراتو او جهاد و قتال په اړه د ټو کلونو پر مهال په دې دولت کې د اسلام قانون په بشپړه ډول پلي کړ.

د مکې تر فتحې ډېر وړاندې پکې د نکاح، میراث، اخیستلو و را نیولو، کرکیلې، شفعې، سود او قمار د حرمت و نورو اصول نافذ شول، د سولې و جګړې اسلامي قانون جاري شو، د شورا بنسټ کېښودل شو، پر مجرمینو الهي حدود تطبیق شول، د انسانانو تر منځ د توپیرونو، جبر، استبداد او ظلم ریښې غوڅې شوې، د عدل و انصاف ټولو لوړو افکارو د حقیقت جامه واغوسته، خلکو په خپلو لاسونو لمس کړل او په سترګو یې ولیدل. دا هر څه وشول او په دې توګه د رسول الله را منځ ته شوی انقلاب له خپلو ټولو نتایجو سره را منځ ته شو. همدا د دې انقلاب تاریخ دی، بیا - بیا یې وګورئ، دا په قرآن کې بیان شوی، د احادیثو او سنتو په زېرمو کې موجود دی، تاریخ لیکونکو لیکلی، د فقهې او اصولو په کتابونو او د قرآن په تفسیرونو کې لوستل کېدای شي، هره پاڼه یې واړوئ، تاسو به و منئ چې تر کومه ځایه په قتال پورې تړاو لري هغه هیڅکله د دې د راوستلو لپاره نه دی ترسره شوی. د دې انقلاب تر راتلو وروسته شوی، د کوم اسلامي تنظیم او د هغه د امیر تر مشرتوب لاندې نه بلکې د یوه رسمي حکومت له لوري ترسره شو



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."
www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

چي واكمن يې پر خپلو ښاريانو له هره پلوه بشپړ سياسي واک درلود، مكې او د عربي ټاپو وزمې تر وروستيو ساحلونو پوري د دې انقلاب د پراخولو لپاره شوى، دې توپير ته ښه پام وكړئ، د انقلاب د را منځ ته كولو لپاره نه بلكي د دې انقلاب تر را تلو وروسته د يوه رسمي حكومت تر مشرۍ لاندي د هغه د پراخولو لپاره شوى.

كه په موږ كي څوک په ځان كي د دې اهليتويني نو نن يې هم د راوستلو هڅې كولاى شي، خو طريقه يې دا نه ده چي د انقلاب يو داعي د خپلې ډلې په جوړولو د زور او قوت له لارې هغه پر امت مسلطه كړي. د دې لپاره كه د رسول په سيرت كي كومه لارښوونه مونږ ته په لاس راځي نو هغه همدا ده چي مسلمانان بايد يوازې او يوازې د دعوت په وسيله د خپلې ازادې خوښې له لارې ملګري او د دوى په رايه او مشوره لومړى په دې امت كي راوستل شي او كه بيا اړتيا وه نو د جهاد او قتال په وسيله دا امت د خپلو مشرانو تر مشرۍ لاندي عيني په هغه ډول ټولي نړۍ ته د هغه د پراختيا لپاره ووزي لكه څرنګه چي تر رسول الله وروسته صحابه كرام د خلفاء راشدينو په مشرۍ د روم او ايران د واک سيمو ته ولاړل او د هغوى پر پولو په درېدو يې ويلي وو: يا اسلام راوړئ، يا جزيه وركړئ او يا د جګړې لپاره چمتو شئ.[٢]

همدا د دې انقلاب تاريخ دى چي پر بنسټ يې په اسلامي قانون كي دا ماده ليكل شوې چي د جهاد او قتال لپاره حكومت شرط دى او دا د اسلامي فقهې منل شوى قانون دى، د فقه السنه ليكوال ليكي:

و النـــوع الثالــث مــن الفـــروض د كفايي فرايضو دريېم قسم هغه دى چي د

---

[٢] د دې مضمون ليكلو پر مهال زما نظر همدا وو، خو وروسته تحقيقاتو څرګنده كړه چي دا جهاد د قرآن د اتمام حجت له قانون سره تړلى دى او د رسول الله تر زمانې خاص وو ځكه نو تر رسول الله او صحابه كرامو وروسته نور تر قيامته هيڅوک دا حق نه لري چي اسلام راوړئ، يا جزيه وركړئ او يا جګړې ته چمتو شئ، له دعوت سره د نړۍ پر ملتونو بريد وكړي.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

الکفائیة ما یشترط فیه الحاکم مثل: الجهاد و اقامة الحدود. (فقه السنة د سید سابق ۳/ ۳۰)

واکمن شتون پکي شرط دی لکه جهاد او د حدودو پلي کول.

لکه څرنګه چي د شریعت له مخې څوک له اقتدار او حکومت پرته کوم زاني په درو نه شي وهلای او د غله لاس نه شي غوڅولای همدارنګه د جهاد او قتال لپاره هم ګام نه شي اخیستلای، دا ډول هر اقدام په شریعت کي جرم دی، د الله هیڅ رسول له اقتدار پرته هیڅکله جهاد نه دی کړی. قرآن په دې هکله ښځي څرګند دی چي الله دوی ته هغه مهال د دې اجازه ورکړې چي د هجرت په کولو یې په خپلوا که سیمه کي ځان ته ډله جوړه کړې او پر دې ډله د زور په وسیله خپل اقتدار را منځ ته کړ. د الله رسولان په دې معامله کي دومره محتاط پاتي شوي چي تر کومه وخته یې ځواک نه دی تر لاسه کړی پر ژبه یې د قتال نوم هم نه دی اخیستی، د قرآن هغه سورتونه وګورئ چي په ام القری کي نازل شوي، هغه له دې حکمه ښځي تش دي او دا حقیقت د موسی و عیسی علیهما السلام له سیرت څخه هم معلومېږي. د اسلام په نزد دا یو خندوونکی تصور دی چي د واک کوم نظام پر خپلو خلګو د الهي حدودو د نافذولو او د جرم په صورت کي مجرم ته د سزا ورکولو اختیار نه لري هغه ته د قتال اجازه ورکړل شي. قاضي ابو بکر بن العربي د سورت الحج د ۴۰ ایت په شرح کي لیکي:

قال علمائنا رحمهم الله: کان رسول الله صلی الله علیه وسلم قبل بیعة العقبة لم یؤذن له فی الحرب و لم تحل له الدماء. (احکام القرآن ۳/ ۱۲۹۷)

زموږ علماوو ویلي چي رسول الله ته د عقبه تر بیعت وړاندي نه د جګړې اجازه ورکړل شوې وه او نه ورته د وینو بهول روا وو.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

لکه وړاندي چي مو وویل دا د عقبه هغه بیعت دی چي په دې سره په عربي ټاپو وزمه کي د اسلام د اقتدار دوره پیل شوه، دا د انقلاب او تر انقلاب وروسته د هغه د پراختیا نبوي تګلاره ده. له دې څخه هر سړی اټکل کولای شي چي ډاکټر صیب له تېرو لسو پنځلسو کلونو دې ملت ته د سمعې او طاعت د بیعت، د پوره پوځي نظم و ضبط درلودونکي تنظیم، د ډنډې ځواک او جهاد و قتال کومې افسانې اوروي هغه له حقیقت سره څومره تړاو لري؟:

ببین تفاوت راه از کجاست تا به کجا

د اسلامي انقلاب د دې بیرغ پورته کوونکو ستونزه دا ده چي نه یې دې ملت ته له سم تعبیر سره دین وړاندي کړای شو، نه یې د نوي جاهلیت د را منځ ته کړېو ستونزو واضح حل وړاندي کړ، نه یې د ملایت له تعصب څخه پورته صرف د قرآن او سنت پر بنسټ د شریعت د درک کولو زمینه چمتو کړه، نه په سیاست، اقتصاد، ټولنیزو چارو، ښوونه او روزنه او حدودو و تعزیراتو په مسایلو کي پر ذهنونو د حق دین د برلاسي پر قایمولو بریالي شول. له همدې کبله یې په نتیجه کي ملت د مشرۍ له منلو انکار کړی دی، ځکه نو اوس د اړو-دوړ، لاریون او جهاد و قتال په وسیله د انقلاب راوستلو فلسفه له نبوي سیرت څخه تر لاسه کوي.

موږ دا فلسفه د دین او شریعت له مخي په بشپړ ډول ناسمه او د هیواد و ملت لپاره سخته زیانمنه ګڼو، زموږ په اند د اسلامي امت په حق کي دا خبره د هغوی د رب له لوري د تل لپاره پټبیل شوې چي د هغوی له خوښي پرته هیڅوک پرې مسلط کېدای نه شي ځکه نو که دا ډول هر انقلاب د پوځي واک له لارې راشي او یا د مذهبي ډلو له خېټې را وزېږي په هر حال کي یو ناروا تولد دی. په اسلامي شریعت کي یې تر قیامته د جواز لپاره هیڅ شونتیا نه شي پیدا کېدای. د عمر فاروق رضي الله عنه وینا ده:

من بایع رجلا عن غیر مشورة من چا چي د مسلمانانو له مشورې پرته د



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

المسلمین فلا یبایع هو و لا الذی بایعه تغرة ان یقتلا. (بخاري، شمیره: ۶۸۳۰)

هغوی د واکمن په توګه له کوم چا سره بیعت وکړ، دی او هغه څوک به چې بیعت ورسره شوی دواړه په خپل دې اقدام سره ځان قتل ته وسپاري.

ډاکټر صیب وایي چې د عوامو اکثریت هیڅکله نه بدلیږي، موږ د ده حضور ته د دې وړاندیز کولو جرأت کوو چې د نبوي دعوت مستند تاریخ د هغه دا دعوه په پوره زور سره ردوي. د رسول الله په اړه مو پورته څرګنده کړه چې د اوس او خزرج د اکثریت له لوري د هغه د منلو په نتیجه کي د یثرب دار الاسلام را منځ ته شو، د موسی علیه السلام په اړه قرآن ځای پر ځای ویلي چې د هغه ټول قوم نه یوازې دا چې پر ده ایمان راووړ بلکي د ده په مشرتوب یې له مصر څخه داسي هجرت وکړ چې یو ماشوم یې هم شاته پاتي نه شو، د یونس علیه السلام په اړه هم د قرآن کریم تصریح ده چې د ماهي له خېټي تر را وتلو وروسته هغه په پوره خواخوږۍ او زړه سوي سره د حق د اواز پورته کولو لپاره را پاڅېد نو ټول قوم یې دعوت ومانه، د تورات په یونا صحیفه کي دي چې ټولو خلکو د ټاټ جامې واغوستې او د توبې لپاره له ښاره بهر ووتل:

"نو د نینوا اوسېدونکو پر خدای ایمان راووړ، د روژې اعلان یې وکړ، ادنی او اعلی ټولو د ټاټ جامې واغوستې، دا خبره د نینوا پاچا ته ورسېده، له خپله تخته را پاڅېد، شاهي لباس یې وغورځاوه، د ټاټ جامې یې واغوستې، پر ایرو کښېنوست، پاچا او د هغه د دولت د غړو له خوا په نینوا کي د دې خبرې اعلان وشو چې هیڅ انسان او د حیواناتو رمه یا ګله دې نه څه خوري او نه څه څښي، انسانان او حیوانات دې د ټاټ جامې واغوندي، د خدای په حضور کي دې ژړا او فریاد وکړي، هر سړی دې له خپل بد چلند او خپل ظلم څخه لاس واخلي." (۳/۵-۸)



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دا مسئله خو سپینه شوه مګر کېدای شي چي ډاکټر صیب د سیرت په پېچلتیاوو کي د خپلي انقلابي فلسفې لپاره د ځای په نه موندلو د پاڅون مسئله مطرح کړي، نو د هغه حضور ته د وړاندي ساتنې په توګه دا څو ملاحظات هم وړاندي کوو.

لومړی ملاحظه دا ده چي که دی دې لور ته راشي نو بیا به د سیرت بحث نه بلکي د شریعت بحث وي، د رسول الله د سیرت په اړه خو دا شی وضاحت ته اړتیا نه لري چي په هغه کي د پاڅون په نوم په هیڅ ډول کوم شی نه شي موندل کېدای. په دې صورت کي که هغه کومه نمونه تر لاسه کوي نو د رسول الله له سیرت څخه نه د حسین، عبدالله بن زبیر، زید بن علي او دا ډول هغو نورو مشرانو له کړنو څخه به یې تر لاسه کوي چي د دې امت په لومړي عصر کي یې د امویانو پر خلاف کړې دي. موږ پر دې اعتراض نه لرو، دی دې په مینه دې لور ته راشي خو تر راتګ وړاندي دي حتما پر دې فکر وکړي چي د ده لپاره به یې لازمي نتیجه دا وي چي بیا به دی د خپلي انقلابي فلسفې لپاره د انقلاب د نبوي تګلارې له تعبیر څخه بې برخې شي؟ تر دې وروسته به ده ته د زیدي، یا ابن زبیري او یا حسیني تګلارې تعبیر ورپاتي شي.

دویمه ملاحظه دا ده چي که خبره له سیرت څخه شریعت ته رسېږي نو دی به دا حقیقت هم مني چي د اسلامي شریعت له مخې پاڅون هیڅکله نه واجبېږي، واجب څه چي هیڅکله مستحب کېدای هم نه شي. په دې اړه چي بالاخره څه ویل کېدای شي هغه دا دي چي شریعت په ځینو حالاتو کي جایز بللی، مګر په دې کي به ډاکټر صیب له دې ستونزې سره مخ شي چي دی د اقامت دین د فریضې کوم لوازم بیانوي د هغو لپاره به هیڅ ځای پیدا نه کړای شي او په دې توګه چي ده د کلونو په خوارۍ د دیني فرایضو د تصور کومه هراړخیزه ودانۍ جوړه کړې او له وړاندي یې ستنې لړزېدلې دي هغه به د دې ستنې په را لوېدو له خاورو سره خاورې شي.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دریمه ملاحظه داده چي په دې صورت کي به د پاڅون هغه درې لازمي شرطونه هم مني چي د شریعت غوښتنه ده یعني اول دا چي واکمن په ښکاره کفر وکړي، دویم دا چي د هغه حکومت یو ظالم حکومت وي چي نه د مسلمانانو په رایه راغلی وي او نه یې د هغوی په رایه د چا لپاره بدلول ممکن وي، دریم دا چي د پاڅون مشري باید هغه څوک وکړي چي په اړه یې دا خبره له پوره اطمنان سره کېدای شي چي د قوم واضح اکثریت له ده سره دی او د مخکیني حکومت په مقابل کي د ده مشرتوب منلو ته ښځي چمتو دي.

خو که زموږ ډاکټر صیب د پاڅون دا شرایط مني نو په نتیجه کي به یې دی په لومړي سر کي له دې ستونزې سره مخ وي چي اوس به د واکمنو په فکر او عمل کي د هغوی څرګند کفر ثابتوي، په دې کي شک نه شته چي دی د حوصلې څښتن دی. کېدای شي دا هم وکړي مګر موږ په پوره باور سره وایو چي په دې ملت کي به د ده د فتوا حالت له هغه څه هم مختلف نه وي چي څو ورځې وړاندې د اغلې بینظیر بوټو پر خلاف د مولانا عبد الستار نیازي صاحب فتوا ورسره مخ شوه.

دویمه ستونزه به دا وي چي دی به د مسلمانانو په رایه را منځ ته شوی او سنی ولسواک حکومت په یوه ظالم حکومت بدلوي، مګر د قضا او قدر معامله داسي ده چي د ډاکټر صیب په خوښه خو په هیڅ حال کي بدلېدای نه شي. دی به په دې معامله کي له دې پرته بله چاره ونه لري چي د خپلو ټولو هڅو په ورټولولو په خاموشي سره د فطرت له لوري د دې هیلې پوره کیدو ته په انتظار پاتي شي.

دریمه ستونزه به دا وي چي د قوم د اکثریت د ملګرتیا هماغه تقاضا چي له دې څخه د ځان ساتني لپاره ده د دې پاڅون په لمن کي پناه اخیستې وه په بشپړه ډول دلته هم د ده مخ ته ودرېږي.

لنډه دا چي که مجنون له دوه ډوله عذاب سره مخ وو نو زموږ ډاکټر صیب به یې په نتیجه کي له درې چنده عذاب سره مخ شي.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

خبره اوږدېږي له همدې امله مو دلته د پاڅون د شرایطو ماخذ بیان نه کړ، موږ دا هیله نه لرو چي ډاکټر صیب به یې وننګوي خو که دا سي کوي نو بې غمه شئ موږ به ان شاء الله په دې اړه هم ورته په همدې پاڼو کي له هره پلوه د قران او حدیث هر اړخیز حجت وړاندي کړو.

هغه د خپل دې مضمون په پای کي ویلي چي که تاسو زما دا انقلابي مسئله نه منئ نو یو متبادل حل وړاندي کړئ، راځئ دا ګین دی او دا ډنډه. ده ویلي هغه ته د پوره پوهي په رڼا کي څرګنده شوې چي صرف همدا لاره ده، موږ وایو بې شکه ځای همدا دی، د نبوي انقلاب تګلاره مو په بشپړ ډول ستاسو مخ ته وړاندي کړه چي د دعوت تګلاره ده، په دې کي وګورئ دعوت یې پیل او دعوت یې پای دی. که تاسو حوصله لرئ نو را پورته شئ، د خپلې انقلابي فلسفې له تېروتنو را ووزئ، د اسلام ځلانده څېره له خپل بشپړ اجتهادي عظمت سره خلګو ته وړاندي کړئ، هغوی ته له لادینیت او ملایت دواړو څخه د نجات پیغام ورکړئ، په ظلم او استحصال کي ښکېل دا قوم د اسلام د عدالت او انصاف پر لور را وبولئ او د خدای لپاره د سمعې و طاعت د بیعت حق تر لاسه کولو او نور کوم دېوالونه چي مو پر ځان را ګرزولي هغه ونړوئ، که د دې ملت ذهین افراد د بیعت پر لور را بولئ نو هغه بیعت ته یې را وبولئ چي رسول الله په مکه کي د خپل قوم مشران او مخور ورته را بللي وو. ده ویلي:

فایکم یبایعنی علی ان یکون اخی و صاحبی. (احمد، شمیره: ۱۳۷۱)

په تاسو کي څوک له ما سره دا بیعت کوي چي په دې کار کي به مي ورور او ملګری وي.

موږ تاسو ته ډاډ درکوو چي تر دې وروسته به ټول ستاسي وروڼه او ستاسي ملګري یو او یوازي موږ نه هغه ټول خلګ به هم یو ځل بیا اوږه په اوږه درسره ودرېږي چي د سمعې او طاعت او حکم له سختیو تښتېدلي دي. تاسو د حق اعلان وکړئ، که یې ملت



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ونه مني نو پر تاسو يې هیڅ مسئولیت نه شته، تاسو به ان شاء الله په سپین مخ خپل رب ته ورشئ. محترم ډاکټر صیب! لرې نه ده چې کله تاسو د سمعې او طاعت او حاکمیت پر ځای د مینې او وروروولۍ په فضا کي ودرېږئ، له خپلو ملګرو سره دا اعلان وکړئ نو زموږ ملت به هم د تباه د جامو په اغوستلو هغه ډول توبې ته را ووزي لکه څرنګه چې د یونس علیه السلام قوم د هغه د اعلان په نتیجه کي را اوتلي وو. و ما ذالک علی الله بعزیز

په اخیر کي به له دې پر ته څه ووایم:

ترې دعاهی که هو تیري ارزو پوري
مرې دعاهی ترې ارزو بدل جایي

(۴)

د اسلام لومړنی دولت په یثرب او شاوخوا اطرافو کي را منځ ته شو، د دې بنسټ دعقبه په بیعت کي کېښودل شو. رسول الله صلی الله علیه وسلم تر هجرت وروسته د هغه د مشرۍ په تر لاسه کولو د دې لپاره یو قانون ترتیب کړ، د تاریخ او سیرت څېړونکو دې ته د میثاق مدینه نوم ورکړی دی. دا د انساني تاریخ لومړنی لیکلی قانون دی چې په دې دولت کي یې تر عملي کولو وروسته د یوه رسمي حکومتي قانون حیثیت خپل کړ او د هغه د پیاوړتیا و پراختیا لپاره یې د رسول الله په مشرۍ د مسلمانانو په پر له پسې پنځه یا شپږ کلنو هڅو کي پولې له یوه لوري تر نجد، له دویمه لوري د شام تر پولو، له درییمې خوا د بحر احمر تر ساحله او له څلورمه لوري د ام القری مکې څنډو ته ورسیدې. په دې دولت کي د تمدن، سیاست، اقتصاد، ټولنیزو چارو، حدودو او تعزیراتو او جهاد و قتال په اړه وروستی الهي شریعت نازل شو. د مکې تر فتحې ډېر وړاندې پکي دا شریعت د دې دولت مشر او واکمن محمد رسول الله په تدریج سره نافذ کړ او په دې توګه هغه الهي انقلاب پر ځمکه را منځ ته شو چې عیسی علیه السلام د خدای پاچاهي ګڼلې او په دې زمانه کي ورڅخه خلک په اسلامي انقلاب تعبیر کوي.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دا یو منل شوی حقیقت دی چې په تاریخ کې په همداسې باورې ډول ثابت دی لکه د راشده خلافت، امویانو، عباسیانو او رومي امپراتورۍ وجود چې د نړۍ په تاریخ کې ثابت دی. په اسلامي امت کې هیڅ عالم هم په دې اړه هیڅکله د نظر اختلاف نه دی درلودلی، ان له نن څخه څو اونۍ وړاندې ډاکټر صیب اسرار احمد هم اختلاف نه درلود. د ده په خپل کتاب منهج انقلاب نبوي کې د مشهور ختیځ پوه منټګمري واټ پر دې نیوکه د تبصرې په کولو چې د مدینې محمد د مکې له محمده بیل دی لیکي:

" خو په مدینه کې نقشه څه بل ډول ښکاري، هلته د رسول الله په لاس کې توره ده، د پوځ مشر او جنرال دی، د مدینې د دولت مشري کوي، د قاضي القضات دنده ترسره کوي او تړونونه کوي. ګواکې په مدینه کې محمد صلی الله علیه وسلم د یوه مدبر سیاست پوه په توګه لیدل کېږي." (۱۱۸)

په دې اړه تر څو جملو وروسته وایي:

" هلته خلګو ته رسول الله د یوه مدبر سیاست پوه، هیوادني مشر او یوه جنرال د رول ترسره کوونکی ښکاري." (۱۱۹)

تر دې لږ وړاندې یې د سورت الحج د ۴۱ ایت د دې الفاظو الذین ان مکنهم فی الارض (که موږ هغوی ته په ځمکه کې واک او اقتدار ورکړو) ژباړه کړې او د هغې په شرح کې لیکي:

" له دې ایت څخه دا خبره ښکاري چې په مدینه کې رسول الله او صحابه کرامو ته په ځمکه کې کوم واک ورکول کېدونکی وو او په هغه کې کومه پراخي را منځ ته کېده نو دا ایت ګواکې د حزب الله او اسلامي انقلاب د منشور (Manifesto) حیثیت لري." (۱۲۶)

بیا په همدې کتاب کې یو بل ځای وایي:



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

" د هجرت په نتیجه کي مدینې ته تر راتلو وروسته رسول الله سمدستي درې کارونه وکړل، لومړی کار د اقامة الصلات لپاره د نبوي مسجد جوړول چي صرف مسجد نه وو بلکي د اسلامي انقلابي حکومت لپاره یې د مرکز، حکومتي دفتر او روزنځای مقام هم درلود." (۲۳۲)

دا په همدې کچه منل شوی حقیقت دی، مګر پر ډاکټر صیب دي افرین وي چي د هغه د انقلابي فلسفې په رد کي مو هغه دې لور ته متوجې کړنو د هغه په رڼا کي پر خپلې دې فلسفې د بیا نظر کولو پر ځای دی پوښتنه کوي چي کوم حکومت؟، څه ډول حکومت؟. د همدې حکومت نفې کولو لپاره له خپل ګومان سره سم ځیني هغه دلایل راوړي چي ده په خپل مضمون کي وړاندي کړي دي.

هغه دومره بې ذهنیته نه دی چي د دې دلایلو په حقیقت نه درلودلو به نه پوهېږي او تر کومه ځایه چي موږ پوهېږو دومره ژر هېروونکی هم نه دی چي په خپل کتاب کي چاپ کړې دا لیکنه یې هېره کړې وې، مګر له دې سره - سره چي یې په کوم ټینګار سره دا حقیقت رد کړی او د هغه لپاره یې دلایل وړاندي کړي په دې سره مي زړه غواړي چي د ده حضور ته دا عرض وړاندي کړم:

این کار از تو اید و مردان چنین کنند

څرنګه چي زموږ په اند دا حقیقت د دین او شریعت په فهم کي بې ساری ارزښت لري او له هغه څخه انکار د دین د تعبیرپه معامله کي انسان ډېرو خطرناکو نتایجو ته رسولای شي له همدې امله چي اوس ډاکټر صیب پر هره لار هم ولاړ شي او کومې ناوې ته کښته شي موږ قلم را پورته کړی او ان شاء الله تر هغه وروسته به یې بیرته ږدو چي د دې ملت پوهانو ته له هره پلوه د هغه د انقلابي نظریې حقیقت تشریح کړو.

مګر وړاندي تر دې چي پر اصلي مسئله بحث ته ور وړاندي شو د دوو خبرو سپیناوی اړین دی:



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

یوه دا چي ډاکټر صیب له موږ څخه ګیله کړې چي موږ د ده د خبرې تر پوره کېدو وړاندي پر ده نیوکه پیل کړې نو حقیقت دادی چي دی عارفانه تجاهل کوي، دی ډېر ښه پوهېږي چي خپله انقلابي فلسفه په لومړي ځل خلګو ته نه وړاندي کوي، له تېرو لسو – پنځلسو کلونو را هیسي یې څو ځله په خپلو لیکنو او ویناوو کي بیان کړې او په خپلو مجلو و مهالنیو کي یې خپره کړې ده بلکي د منهج انقلاب نبوي په نوم یې پر دې موضوع بشپړ کتاب خپور کړی دی ځکه نو زموږ لپاره د هغه دا خبره هیڅکله نیمګړې نه ده بلکي له هره پلوه پوره ده او موږ یې له پوره اورېدو وروسته نقدوو.

دویمه دا چي زموږ په لیکنه کي د هجرت او خاموش اکثریت په اړه واقعاً د ډاکټر صیب دریځ دومره لنډ بیان شوی چي ناسم فهم ترې پیدا کېدای شي خو څرنګه چي دا د بحث پر مسئله اثر نه کوي له همدې امله په دې معامله کي د ډاکټر صیب وضاحت په ورین تندي منو او خپلو لوستونکو ته موږ په پیل کي خبر ورکړی چي د ډاکټر صیب په اند هجرت حتما د نبوي انقلاب یوه مرحله ده خو په اوسني وخت کي یې هغه نه ممکنه بولي او نه په خپلو انقلابي هڅو کي د هغه کومه اراده لري. همدا راز د خاموش اکثریت په اړه هم د ده دریځ په ډېرو صحیحو الفاظو دادی چي څه وخت دی د خپلو سرښندونکو په ملاتړ له باطل نظام سره د ټکر لپاره میدان ته کښته شي نو دی پوره ډاډه دی چي د عوامو دا اکثریت به د خاموشۍ نیمې رضا پر اصولو د ده د دې ګام ملاتړ وکړي.

د دې دوو خبرو تر وضاحت وروسته نو موږ وړاندي ځو او د ډاکټر صیب د دلایلو تر ارزونې وړاندي هغو حقایقو ته یوه کتنه کوو چي پر بنسټ یې په یثرب کي د حکومت را منځ ته کېدو دا قضیه د علم او تحقیق په نړۍ کي د یوه نه ردېدونکي تاریخي حقیقت په توګه تل ثابته پاتي شوې.

تر ټولو وړاندي قرآن ته پام وکړئ، ډاکټر صیب ویلي چي په قرآن کي هیڅ ځای د دولت او حکومت او دې ته ورته الفاظ نه دي راغلي. زموږ په اند دی په قرآن کي همدا



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دوه الفاظ او غالبا د هغو اردو مترادفات لټوي، که نه ترکومه ځایه چي په قرآن پوري اړه لري په هغه کي نه یوازي دا چي ځای پر ځای د هغه حکومت یادونه شته چي د مکې تر فتحې وروسته په ټوله عربي ټاپو وزمه کي را منځ ته شوی بلکي په ښکاره ټکو د هغه حکومت یادونه هم شته چي تر هجرت وروسته په یثرب کي را منځ ته شو. په دې کي شک نه شته چي د دولت او حکومت الفاظ هم په اصل کي عربي دي، مګر له دې سره دا هم حقیقت دی چي د قرآن په ژبه کي دا په هغه معنا نه کارېږي په کومه معنا چي اوس زموږ په ژبه کي ویل کېږي. د دې لپاره په قرآن کي د امر، حکم، استخلاف، تمکین او سلطان الفاظ کارول شوي. دا وخت د مکې فتح او تر هغه وروسته حالت د بحث موضوع نه ده، خو تر هجرت وروسته چي په یثرب او شاوخوا سیمو کي کوم حکومت را منځ ته شو د هغه په اړه یې په سورت بني اسرائیل کي ویلي:

وَقُل رَّبِّ أَدْخِلْنِي مُدْخَلَ صِدْقٍ وَأَخْرِجْنِي مُخْرَجَ صِدْقٍ وَاجْعَل لِّي مِن لَّدُنكَ سُلْطَانًا نَّصِيرًا * وَقُلْ جَاءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ إِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوقًا* (۱۷ : ۸۰، ۸۱)

اې رسوله! دعا کوه چي ما په عزت داخل کړه او په عزت مي وباسه او ما ته له خپله لوري یو سلطان نصیر را کړه او اعلان وکړه چي حق راغی او باطل له منځه ولاړ، بې شکه باطل له منځه تلونکی دی.

د خپلو اسلوبو له مخې دا ظاهرا یوه دعا ده چي د الله په امر د رسول پر ژبه جاري شوې، مګر د قرآن کریم له ذوق سره بلد سړی پوهېږي چي د و قل جاء الحق په عطف سره یې دا خبره ښېخي څرګنده کړې چي دا په حقیقت کي یو ستر زېری دی چي د هجرت پر مهال رسول او د هغه ملګرو ته ورکړل شوی او د رسول په توګه یې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د هڅو هغه ټول مراحل ښېخي مشخص کړي چي دی په ژوند کي ورسره مخ کېدونکی وو.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

که دا زېرې تحلیل کړو په دې کې چې الله ترو تلو د ننوتلو په تقدیم سره کومه خبره واضحه کړې هغه داده چې که څه هم هجرت اسانه کار نه دی خو ته ډاډه اوسه موږ به ستا تر وتلو وړاندې د داخلېدو انتظام وکړو.

دویمه خبره یې دا کړې چې له ام القری مکې څخه ستا وتل او خپل دار الهجرت ته داخلېدل به دې په ډېر عزت، درناوې، پوره ځواک او پیاوړتیا سره وي.

درېیمه خبره یې دا کړې چې ته به هلته د انصارو په څېر سلطان نصیر هم تر لاسه کړې، په دې سره به د خپل قوم پر خلاف ستا هڅې د ګام اخیستلو مرحلې ته داخلې شي.

څلورمه خبره یې دا کړې چې د دې سلطان نصیر په وسیله به ته کومه مرسته تر لاسه کوې د هغه لازمي نتیجه به دا وي چې له دې خاورې به باطل په بشپړه توګه له منځه ولاړ شي او په عربي خاوره کې به حق دین په بشپړ عظمت سره قایم شي.

دې ټولو خبرو ته په پام او س د سلطان نصیر پر الفاظو غور وکړئ، ښکاره ده چې دلته د سلطان لفظ د اقتدار او حکومت په معنا استعمال شوی دی، خو دا کوم حکومت دی؟. ایا هغه چې رسول الله د مکې تر فتحې وروسته په ټوله عربي ټاپو وزمه کې تر لاسه کړ او یا هغه چې تر هجرت وروسته د رسول الله په مشرۍ په یثرب او شاوخوا سیمو کې را منځ ته شو؟. په دې دعا کې د هجرت وړاندوینه او د حق د غلبې د زېرې تر منځ د هغه یادونه او له دې سره د من لدنک الفاظ که څه هم په دې کې پرېکنده وو چې دا هغه حکومت نه شي کېدای چې د حق تر غلبې وروسته په ټوله عربي ټاپو وزمه کې را منځ ته شو او یقینا هغه حکومت دی چې له څه یرغلیز اقدام پرته صرف د الله په لورینه او په خاص ډول د هغه له خوا د ده رسول ته ورکړل شو مګر له دې سره د نصیر یعنې مرستندوی د صفت په زیاتولو ګواکې قرآن د ګوتې په پورته کولو ویلې چې له شک پرته دا هماغه د یثرب حکومت دی چې په مرسته یې لومړی حق په مکه او بیا وروسته په ټوله عربي ټاپو وزمه کې غالب او قایم شو.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د یثرب هغه خلګ چي د عقبه د بیعت پر مهال یې له نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره یې د رسول په توګه د هغه په اړه د دې الهي پریکړي په تنفیذ کي چي پر عربي ټاپو وزمه به حق دین غالبیږي د مرستې ژمنه کړې وه قرآن هغوی انصار وبلل او د مرستې لپاره یې د نصرت لفظ غوره کړ او په نتیجه کي چي یې د کوم سلطان یعني حکومت تر لاسه کړ د هغه لپاره یې د سلطان نصیر د تعبیر په غوره کولو دا خبره ییخي سپینه کړې چي دا هماغه حکومت دی چي په مرسته یې ده د الله همدا پروګرام پوره کړ. د قرآن کریم دا الفاظ چي ما ته له خپله لوري سلطان نصیر راکړه دا حقیقت په وروستی کچه ثابتوي چي دا د یثرب حکومت دی او د هغه تر را منځ ته کېدو وروسته له یوې خوا د دولت او حکومت په اړه د الهي شریعت نزول پیل شو او له بلې خوا د عربي ټاپو وزمې تر وروستیو ځنډو د دې حکومت د پراختیا لپاره د جګړې اجازه ورکړل شوه. د دې حکومت همدا ځانګړتیا ده چي پر بنسټ یې دا صرف سلطان نه بلکي سلطان نصیر وبلل شو او د هغه دا نصرت د یوه نه ردېدونکي حقیقت په توګه د تاریخ په پاڼو کي د تل لپاره ثبت شو. وګورئ په اردو ژبه کي د قرآن کریم لومړني ژباړونکي شاه عبد القادر د دې زېري ژباړه داسي کړې چي ما ته له خپلې خوا یو مرستندوی حکومت راکړه او بیا یې د دې په شرح کي په پوره وضاحت سره لیکلي:

"یعني له دې ښاره مي په عزت سره وباسه او په بل ښار کي مي په عزت سره ځای پر ځای کړه، الله په مدینه کي مېشت کړ او د هغه ځای خلګ یې ور وسپارل چي د دین مرسته یې وکړه." (موضح القرآن ۴۷۹)

که څه هم د قرآن کریم تر دې ځرګند نص وروسته بل دلیل ته اړتیا نه وه خو د اتمام حجت لپاره موږ نور وړاندي ځو او د مدعا ثابتولو لپاره نبوي سېرت ته رجوع کوو.

د رسول الله د سیرت پر موضوع چي د دې امت په علمي زېرمو کي کوم شی د یوه نه ردېدونکي سند په توګه دا حکومت ثابتوي هغه د مدینې میثاق دی، دا میثاق ابن هشام،



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ابن کثیر او ابو عبید قاسم بن سلام په ترتیب سره په خپلو کتابونو السیرة النبویة، البدایة و النهایة او کتاب الاموال کي ټکي په ټکي نقل کړی دی. د هغه ځیني اقتباسات په سنن ابی داود، مسند احمد بن حنبل، تاریخ طبري، لسان العرب او طبقات ابن سعد کي هم نقل شوي، د اوس مهال څېړونکو چي هغه په څه ډول ترتیب کړی له هغه سره سم یې **۵۲** مادې درلودې، لومړنۍ درویشت مادې یې د مهاجرینو او انصارو په اړه او پاتي د مدینې د یهودي قبایلو د حقوقو او دندو په اړه بحث کوي، دا سند چي هر سړی صرف د دین او شریعت د درک او حقایقو په وړاندي د سر ټیټولو په اراده ولولي هغه ته به دا حقیقت څرګند شي چي دا د حدیبیې د تړون په څېر د دوو ډلو یا دوو قومونو تر منځ د امن کوم تړون نه بلکي د هرې مادې له مخې د ولس او واکمن پر حقوقو او دندو مشتمل یو رسمي قانون دی چي دا امت یې د لومړني نړۍ وال لیکل شوي قانون په توګه له ډېر ویاړ سره د نړۍ مخ ته وړاندي کولای شي.

د ټولو قانوني لاسوندونو په څېر په دې کي هم صرف هغه مسایل تر بحث لاندي نیول شوي چي د هیوادنیو چارو اساس بلل کېدای شي او د اساسي قانون ماهرین پوهېږي چي دا شیان په بنسټیز ډول پنځه وي:

اول: د حکومت ډول

دویم: د دولت په اداره کي د حاکمیت او اطاعت مراجع

دریم: سوله، جګړه او بهرنۍ چارې

څلورم: د ښاریانو حقوق او مسئولیتونه

پنځم: د جرم او سزا پر مهال د محکمې او مرافعې واکونه

که دا لاسوند له پیله تر پایه ولوستل شي، د هغه ټولي مادې د همدې پنځو شیانو تفصیل دی. هغه موږ ته وایي چي د دې قانون له مخې را منځ ته شوی حکومت یو مرکزي حکومت دی، د هغه سیمه د خپلو ښاریانو لپاره امن او له هغه سره تړلي ټول ښاریان له



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

www.javedahmadghamidi.com www.al-mawrid.org

سیاسي پلوه یو امت، د حقوقو او دندو له مخې بېخي برابر او په خپلو دیني چارو کې په بشپړه توګه ازاد دي. د هغه مجرم د ټولو مجرم دی او د قصاص و دیت چارې پکې د یوه قانون او دستور له مخې ټاکل کېږي، د هغه جګړه د هر ښاري جګړه او سوله یې د هر ښاري سوله ده. د هغه هېڅ او سېدونکی له هیواده د باندې د هغه له هېڅ د ښمن سره مستقیما کومه معامله نه شي کولای او په دې کې د الله او رسول امر ستر قانون دی. له همدې امله په سیاسي چارو کې د دې دولت د وګړو لپاره د اطاعت اخیري حیثیت همدوی لري.

په هغه کې لیکل شوي:

وان یهود بنی عوف امة مع المؤمنین، للیهود دینهم وللمسلمین دینهم، موالیهم و انفسهم، الا من ظلم واثم، فانه لا یوتغ الا نفسه و اهل بیته.

وانه من اعتبط مؤمنا قتلا عن بینة فانه قود به الا ان یرضی ولی المقتول، و ان المؤمنین علیه کافة، ولا یحل لهم الا قیام علیه.

وان یثرب حرام جوفها لاهل هذه الصحیفة.

وان بینهم النصر علی من دهم

له دې قانون سره سم یهود په سیاسي توګه له مسلمانانو سره یو امت بلل کېږي، پاتې شوه د دین معامله نو یهود به پر خپل دین وي او مسلمانان او د هغوی موالي به پر خپل دین، البته که په دوی کې څوک ظلم یا د تړون مخالفت وکړي نو هغه به حتما خپل ځان او کورنۍ د هلاکت کندې ته واچوي او څوک چې په ناحقه کوم مسلمان ووژني، ثبوت یې هم وموندل شي نو قصاص به ترې اخیستل کېږي مګر دا چې د مقتول وارثین په بل شکل راضي شي. ټول مومنان به یې د عملي کولو لپاره را پورته کېږي او د دې لپاره به له دې پرته بل هېڅ صورت جایز نه وي.

د یثرب ځمکه به د دې غرونو تر منځ د دې قانون منونکو لپاره یو حرم وي چې



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

يثرب.

وانه لا تجار قريش ولا من نصرها.

وان سلم المؤمنين واحدة، لا يسالم مؤمن دون مؤمن فی قتال فی سبيل الله الا علی سواء وعدل بينهم.

واذا دعوا الی صلح يصالحونه ويلبسونه فانهم يصالحونه ويلبسونه وانهم اذا دعوا الی مثل ذالک فانه لهم علی المؤمنين الا من حارب فی الدين.

وانه لا يخرج منهم احد الا باذن محمد صلی الله عليه وسلم.

وانكم مهما اختلفتم فيه من شیء، فان مرده الی الله عز وجل و الی محمد صلی الله عليه وسلم.

(السيرة النبوية د ابن هشام ۲/ ۱۱۱)

هیڅوک به یې تقدس تر پښو نه شي لاندي کولای.

که څوک پر یثرب حمله وکړي نو تر دې قانون لاندي پر ژوند کوونکو لازمه ده چي د یوه بل مرسته وکړي.

نه به قریشو ته پناه ورکول کېږي او نه هغه چا ته چي له دوی سره مرسته کوي.

د مومنانو سوله به یوه وي، که د الله په لار کي جګړه کېږي نو هیڅ مومن به د بل مسلمان په خوشي کولو تر هغه وخته له دښمن سره سوله نه کوي چي ټول پکي برابر نه وي.

که یهودو ته د سولي دعوت ورکول شي نو دوی به یې مني او په دې کي به ونډه لري، همدا رنګه که دوی سولي ته بلنه وکړي نو مسلمانان به یې قبلوي مګر دا چي معامله د کومې دیني جګړې وي.

د محمد رسول الله له اجازې پرته به هیڅوک هیڅ وخت د کوم پوځي ګام اخیستلو اجازه نه لري.

که د کوم شي په اړه اختلاف پیدا شي نو د پریکړي لپاره به الله او د هغه رسول محمد صلی الله علیه وسلم ته رجوع کېږي.

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

همدا د مدینې میثاق دی[3] که یې له اساسي قانون سره اشنا کوم ځوک ولولي هغه دا ویلای شي چې تر دې وروسته هم د مدینې د دولت وجود شکمن دی او یو ځوک د دې ویلو حق درلودای شي چې مدینه لا هم دار الاسلام نه بلکې صرف دار السلام وه؟ او د دې میثاق په اړه دا خبره موږ په لومړي ځل نه ده کړې، حقیقت دا دی چې د دې امت ټول څېړونکي دې ته همدا حیثیت ورکوي، د تاریخ او سېرت وتلي عالم ډاکټر محمد حمید الله چې په نبوي عهد کې د سیاسي نظام په نوم پر دې موضوع خپل کوم کتاب ترتیب کړی په هغه کې یې یو بشپړ باب دې سند ته ځانګړی کړی دی او د نړۍ د لومړني لیکل شوي قانون عنوان یې ورکړی دی او هغه یې په نبوي عهد کې د هیواد د اساسي قانون د ژباړې تر عنوان لاندې نقل کړی او په دې اړه یې لیکلي دي:

"مدینې منورې ته د هجرت تر کولو وروسته رسول الله په لومړي کال یوه لیکنه ترتیب کړه چې پکې د واکمن او ولس حقوق، مسئولیتونه او نوري سملاسي اړتیاوې په تفصیل ذکر شوې دي." (۷۶)

"خو د یوه واقعي حکومت بنسټ تر هجرت وروسته کېښودل شو، رسول الله مدینې ته په هجرت کولو سمدستي خپل قضایي حقوق او مسئولیتونه مشخص کړل او له نېکه مرغه دا په زړه پوري او مهم لاسوند په هماغه ډول او الفاظو تر موږ پورې را رسېدلی دی چې د اسلامي ممکلت تر ټولو لومړنی دستور او اساسي قانون بلل کېدای شي." (۱۵۳)

"دا تاریخي کارنامه په هغه لاسوند کې ثبت شوه چې د قبایلو اړو-دوړ یې د تل لپاره ختم کړ او د یوې پراخې ادارې بنسټ یې کېښود، په دې سند کې رسول الله د ځان لپاره قضایي، تشریعي، پوځي او لوړ تنفیذي اختیارات خوندي کړل." (۸۳)

د اسلامـي نړۍ وتلي عالـم او څېړونکي امام ابو زهره پر نبوي سېرت د خپل کتاب

---

[3] یعني د هغه بنسټیزې مادې دي، موږ دلته ټول میثاق نه دی نقل کړی.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

خاتم النبیین په دویم جلد کې د هجرت یادونه د اسلامي حکومت د جوړښت له عنوان څخه پیل کړې او په هغه کې چې یې کوم ځای د مدینې د تړون یا میثاق مادې نقل کړې هلته یې دا لاسوند داسې را پېژندلی دی:

و جعل ما یسری علی المؤمنین فی شعوبهم وقبائلهم یسری علی الیهود وغیرهم علی ان یکون لهم ما للمؤمنین وعلیهم ما علیهم. لا یضارون فی دینهم ولا یعتدی علیهم فی اعتقادهم. وعلی ان تکون الریاسة الکبری للنبی صلی الله تعالی علیه وسلم. (۵۶۲)

او رسول الله په دې دستور کې پر یهودو او نورو نا مسلمانو هماغه قانون پلی کړ چې پر مسلمانانو د دوی په قومونو او قبایلو کې پلی وو، په دې ډول چې د دوی حقوق او مسئولیتونه به د مسلمانانو په څېر وي، د دین او عقیدې په معامله کې به هیڅ تېری نه پرې کېږي، حکومت او واک به د رسول الله وي.

همدا راز الرحیق المختوم چې د رابطه عالم اسلامي په نړیواله سیرت لیکنه کې د اسلامي نړۍ د وتلو علماوو له پریکړې سره سم د لومړۍ جایزې وړ بلل شوی د هغه لیکوال مولانا صفي الرحمان مبارکپوري په خپل دې کتاب کې د هغه دستور لنډیز بیان کړی او په دې اړه یې له خپل بشپړ صراحت سره لیکلي دي:

"د دې تړون په را منځ ته کېدو سره مدینه او شاوخوا سیمې یې تر یوه مرکزي حکومت لاندې شوې چې مدینه یې پلازمینه وه، مشري یې رسول الله کوله چې کلمه یې نافذه، غالبه واکمني یې د مسلمانانو وه او په دې توګه مدینه په واقعي ډول د اسلام پلازمینه شوه." (۲۶۴)

همدا د دې دستور په اړه د تاریخ او سیرت د څېړونکو نظریات دي، موږ نه پوهېږو چې که د ډاکټر صیب له وینا سره سم دا هر څه د حکومت په اړه مجازي اسلوب وي نو د



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

حقیقت بیانولو اسلوب څه ډول وي؟ په هر حال دې ته له پام پرته موږ غواړو ډاکټر صیب ته ووایو چې خبره دلته نه ختمېږي، بلکي د سیرت په زیرمو کې تر دې وړاندې او تر دې هم پریکنده د دې دولت د یوه وګړي بیان دی چې دا حکومت یې په خپل مخ کې پر جوړېدو او دا انقلاب یې د خپلو سترګو په وړاندې پر راتلو لیدلی، د تاریخ او سیرت په کتابونو کې د هغه دا وینا د روایت بالمعنی په طریقه نه بلکي د هغه په خپلو الفاظو نقل شوې او په زړه پوري خبره دا ده چې په دې کې نه یوازې هغه د دې انقلاب خبر ورکړی بلکي د دې لپاره یې په عربي ژبه کې د اظهار دین بالکل هماغه تعبیر غوره کړی چې ډاکټر اسرار احمد صیب یې په قرآن کریم کې د اسلامي حکومت او اسلامي انقلاب لپاره یو قطعي نص بولي او د خپلې شپې و ورځې ډېره برخه خلګو ته د همدې معنا په ور ښودلو لګوي.

د مدینې د دولت دا وګړی د رسول الله یو صحابي ابو قیس صرمه بن ابی انس یو انصاري شاعر دی، د ابن اسحاق وینا ده چې رسول الله تر هجرت وروسته مدینې ته راغی نو دی نبوي حضور ته حاضر شو، اسلام یې راووړ او د ده په اړه یې دا قصیده ولیکله. د ابو قیس صرمه ﷺ دا قصیده د ابن اسحاق په روایت ابن هشام په خپل السیرة النبوي او ابن جریر طبري په خپل تاریخ الامم و الملوک کې نقل کړې. حافظ ابن حجر د هغه د ژوند لیک په بیانولو په الاصابة فی تمییز الصحابه کې د ابن عیینه په حواله لیکلي چې د امت وتلي عالم عبد الله بن عباس د تاریخ د یوه ماخذ په توګه د هغه ډېر اهمیت ته په پام په پوره عزم سره ابو قیس صرمه ته ورغی او دا قصیده یې ور څخه تر لاسه کړه. که ډاکټر صیب لا هم ټینګار کوي چې د رسول الله انقلاب د مکې تر فتحې وروسته را منځ ته شوی وو نو د دې قصیدې په رڼا کې دې وګوري چې دی څه وایي او د ده بر خلاف د هغه انقلاب عیني شاهد او د رسول الله یو صحابي په دې اړه څه وایي؟، د هغه وینا ده:

ثوی فی قریش بضعة عشرة حجة    یذکر لو یلقی صدیقا مواتیا



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

"ده تر لسو کالو یو څه زیاته موده په قریشو کي له دې هیلې سره خلګو ته نصیحت کاوه چي (د دوی په مشرانو او لویانو کي به) کوم ملګری او مرستندوی پیدا کړي."

ویعرض فی اهل المواسم نفسه فلم یری من یؤوی ولم یری داعیاً

"د حج پر مهال به یې له خلګو سره لیدل خو نه یې پناه ورکوونکی وموند او نه داسي څوک چي له ده سره د حق دعوت ته ملا وتړي."

فلما اتانا اظهر الله دینه فاصبح مسرورا بطیبة راضیاً

"خو کله چي تر دې وروسته موږ ته راغی نو الله دلته خپل دین ته غلبه ورکړه ځکه نو د طیبې په دې کلي کي له هره پلوه خوښ او خوشاله شو."

دا د ابو قیس صرمه رضی الله عنه اشعار دي، که وګورئ نو هغه په پوره صراحت سره وايي چي کله دی موږ ته راغی نو د طیبه په دې کلي کي اظهر الله دینه یعني الله خپل دین غالب کړ.

په دې کي شک نه شته چي د دې انقلاب تر یوه عیني شاهد او د رسول تر یوه صحابي وروسته به نور د بل چا نظر د دې خبرې په قوت کي زیادت رانه وړي خو د حجت پوره کولو لپاره دا خبره هم واورئ چي په مخکینیو او وروستنیو کي د تاریخ او سیرت علماء او څېړونکي هم د ابو قیس صرمه په څېر صرف د حکومت نه په دې حکومت کي د حق دین د غلبې یادونه کم و زیات په همدې الفاظو او همدې وضاحت سره کوي. د اسلامي تاریخ د لومړي سیرت لیکونکي، د دې فن د امام او سیرت د مرکزي کتاب المغازي لیکوال ابن اسحاق په دې اړه لیکي:

فلما اطمأنت برسول الله صلی الله علیه وسلم داره واظهر الله بها دینه، وسره بما جمع الیه من

کله چي رسول الله په خپل دار الهجرت کي پوره ډاډه شو او الله هلته خپل دین غالب کړ، د ده په مشرۍ یې مهاجرین او انصار را غونډ کړل او دی له دې کلي راضي شو



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

المهاجرين و الانصار من اهل ولايته. قال ابو قيس صرمة بن ابي نس اخو بني عدي بن النجار.

نو د بني عدي بن النجار يوه كس ابو قيس صرمه بن ابى انس د ده په اړه يو شعر وو ايه.

(السيرة النبوية د ابن هشام ۲ / ۱۱۶)

دا د لومړي عصر خبره وه، زموږ په زمانه كي د اسلامي نړۍ وتلي عالم او مفكر مولانا سيد ابو الاعلى مودودي صيب تر هجرت وروسته او د مكې له فتحې وړاندي د مديني په دولت كي وخت پر وخت د دې انقلاب حالت په خپل مشهور تصنيف تفهيم القرآن كي داسي بيانوي:

" مديني ته په رسېدو اسلامي دعوت يوه نوي پړاو ته داخل شوى وو، په مدينه كي خو معامله يوازي د دين د اصولو تر تبليغ او د دين منونكو تر اخلاقي روزنې محدوده وه مگر كله چي تر هجرت وروسته د بېلابېلو عربي قبايلو هغه كسان چي اسلام يې منلى وو له هره لوري را ټول او په يوه ځاى كي پر را غونډېدو شول او د انصارو په مرسته د يوه وړوكي اسلامي دولت بنسټ كېښودل شو نو الله هم د تمدن، ټولنې، قانون او سياست په اړه د اصولي هدايات و په وركړه شروع وكړه او ويې ويل چي د اسلام پر بنسټ به د ژوند دا نوى نظام څه ډول جوړېږي؟." (۱ / ۴۷)

" يا هغه وخت وو چي د احد د جگړې وير د مسلمانانو لپاره د مديني نژدې چاپېريال هم له خطرونو ډک كړى وو، يا اوس هغه وخت را ورسېد چي په عربو كي اسلام د يوه نه ماتېدونكي ځواک په توگه ځرگند شو او اسلامي دولت له يوه لوري تر نجد، له دويمه لوري د شام تر پولو، له درييمې خوا د سره سمندرگي تر ساحله او له څلورمې خوا د مكې تر څنډو خپور شو." (۱ / ۴۳۵)

" بيا په همدې څو كلونو كي له اسلامي اصولو او نظر سره سم مسلمانانو خپل يو بېل تهذيب را منځ ته كړى وو چي د ژوند په ټولو تفصيلاتو كي يې له نورو بېل خپل



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."
www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

امتیازي شان درلود. نور مسلمانان په اخلاقو، ټولنه، تمدن او هر څه کي له نا مسلمانو بېخي بېل وو، په ټولو اسلامي سیمو کي د مسجدونو او په جماعت د لمانځه نظم را منځ ته شوی وو، په هر کلي او قبیله کي امام ټاکل شوی وو، تر ډېره بریده د اسلام د اداري او نظامي قوانینو تفصیل ترتیب شوی وو او د خپلو محکمو له لوري نافذېدل. د راکړې – ورکړې او خرید وفروخت زړې معاملې بندي او نوې اصلاح شوې طریقې رواج شوې وې، د وراثت رسمي قانون جوړ شوی وو، د نکاح و طلاق د قوانینو، شرعي پردې، اجازې اخیستلو د احکامو او زنا و قذف د سزاوو په پلي کېدو د مسلمانانو ټولنیز ژوند یو نوی رنګ خپل کړی وو، د مسلمانانو ناستې – ولاړې، خبرو – اترو، خوراک – څښاک، شکل او د ناستې – پاستې طریقو ځان ته یوه بېله بڼه خپله کړې وه. د اسلامي ژوند تر داسي بشپړ شکل غوره کولو وروسته نا مسلمان د نړۍ له دې اړخه بېخي ناهیلي وو چي کومو خلکو خپل یو بېل تمدن خپل کړی دوی به کوم وخت پکي ځای پیدا کړي." (۴۳۵/۱)

همدا د سېرت حقایق دي، که خبره د دلیل او برهان وای نو همدلته ختمېدله مګر شخړه له هغو کسانو سره ده چي د لمر پر وجود دلایل وایي او د منل شویو خبرو پر نه منلو ټینګار کوي، له همدې امله به تر دې وروسته په اسلامي فقه کي د دې حکومت بنسټونه بیان کړو.

په اسلامي شریعت خبر هر عالم پوهېږي چي په دې کي د جمعې، زکات، فی، قتال او د حدودو جاري کولو دا پنځه احکام داسي دي چي د دې لپاره د سلطان یعني د اقتدار او واک د خاوند وجود د یو لازمي شرط حیثیت لري. درې امامان د جمعې په اړه دا شرط نه بیانوي مګر په اسلامي تاریخ کي د فقهې او اجتهاد ستر امام ابو حنیفه نعمان بن ثابت نه یوازي دا شرط لازم ګڼي بلکي له دې سره د جمعې په شرایطو کي د یوه بل شرط مصر جامع تعریف په داسي ډول کوي چي دا هغه کلی دی چي هلته د امیر المؤمنین په



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

استازیتوب د هغه یو نماینده له پوره اختیاراتو سره موجود وي. له همدې امله دا بیخي منل شوې ده چې د جمعې د لمانځه خطبه او د هغه امامت په اسلامي شریعت کې د حکومت د مشر او د هغه د چارواکو حق دی، له مسلمانانو څخه یوازې حکومت په زور زکات اخیستلای شي او دا صرف هغه قوت او هغه اقدام دی چې که یې په نتیجه کې کومه سیمه ونیول شي نو اموال به یې فی او غنیمت بلل کېږي، قتال د هماغه د پریکړې او حکم په وسیله ترسره کېږي او د خدای پر ځمکه د حدودو د نافذولو حق هم یوازې هغه لري.

خو له دې سره دا هم منل شوې او هیڅوک ترې انکار نه شي کولای چې د شریعت دا پنځم حکم د مکې تر فتحې ډېر وړاندې په مدینه او د هغې په اطرافو کې نافذ شوی وو، دا بیخي باوري ده چې د جمعې لمونځ د عقبه تر بیعت وروسته د رسول الله په امر په یثرب کې جاري شو، د جهاد او قتال اقدامات د هجرت په لومړني کال په مدینه کې پیل شوي وو. کله چې د هجرت د څلورم کال په ربیع الاول کې بنو نضیر محاصره شول نو مالونه یې فی وبلل شول، د زکات ټولولو نظام د پنځم او شپږم کلونو تر منځ را منځ ته شو او د همدې کلونو تر منځ چې د زنا، قذف، غلا او فساد جوړوونکو کوم مجرمین د قانون منګولو ته وسپارل شول پر هغوی یې الهي حدود جاري کړل.

دا دواړه بیخي منل شوي دي، له همدې امله یې باید نتیجه هم بیخي منل شوې وي او حقیقت دا دی چې د دې امت په هر دور کې بیخي منل شوې ده چې د فقهې او اجتهاد امامان کوم وخت دا احکام په خپله اصطلاح موکول الی السلطان بولي او دا وایي چې هر عالم کله په قرآن کې له دا ډول احکامو سره ترلې ایاتونه اوري له څه شک پرته پوهېږي چې د دې مخاطب د مسلمانانو مشران او چارواکي دي نو دا ګواکې د هغوی له لورې د دې خبرې اعلان دی چې د عقبه تر بیعت وروسته او د مکې له فتحې وړاندې په مدینه کې د یوه داسې حکومت وجود د دوی په اند یو داسې منل شوی حقیقت دی چې په اړه یې دوه



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

نظره نه شي کېدای. ابو بکر جصاص په خپل کتاب احکام القرآن کي لیکي:

وقد علم من قرع سمعه هذا الخطاب من اهل العلم ان المخاطبين بذالک هم الائمة دون عامة الناس فکان تقدیره: فلیقطع الائمة والحکام ایدیهما و لیجلدهما الائمة والحکام. (۳/ ۲۸۳)

له علماوو چي هر څوک دا خطاب اوري سمدستي پوهېږي چي مخاطبین یې عام مسلمانان نه بلکي د دوی مشران او چارواکي دي، نو د مثال په توګه د کلام تقدیر داسي کېږي چي باید امیران او چارواکي د هغوی لاسونه غوڅ کړي او هغوی په درو ووهي.

د مدینې د دولت په اړه همدا قرآني، د نبوي سېرت او اسلامي فقهې حقایق دي، همدا مخ ته کښېږدئ او تر دې وروسته راشئ هغه دلایل و ارزوئ چي دې هر څه ته له پام پرته د تاریخ د دې منل شوي حقیقت د تردید لپاره ډاکټر صیب په خپل مضمون کي وړاندي کړي دي.

د هغه لومړی دلیل دا دی چي د درېیم هجري کال په شوال کي د احد د جګړې پر مهال عبدالله بن ابی له خپلو درو سوو ملګرو سره عیني د جګړې له ډګره ستون شو، همدا راز په شپږمه هجري کي د مدینې او شاوخوا ځینو سیمو کسان له دې ویرې د ده په ملتیا عمرې ته ونه وتل چي د هغوی په اند ګواکي په دې سفر کي دی او ملګري یې د مرګ خولې ته ور تلل، مګر ده هیڅ سزا ورنه کړه. په داسي حال کي چي که هغه مهال په مدینه کي کوم رسمي حکومت موجود وای نو عبدالله بن ابی او د هغه ملګري به یې په نظامي محکمه کي درولي وو او هغو کسانو ته به یې هم حتما یوه سزا ورکړې وه چي په دې سفر کي شا ته پاتي شول ځکه نو دا صرف یوه مغالطه ده چي تر هجرت وروسته په مدینه کي حکومت را منځ ته شوی وو او رسول الله د همدې حکومت مشر او واکمن وو. نه پوهېږو په دې



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."
www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

مغالطه ځيني کسان څرنګه اخته شوي دي؟. تاسو دې دليل ته پام وکړئ، په دې سره به نور د هغه خدمت ته څه وړاندي کړای شو؟ ممکن هغه په دې نه پوهېږي چي د عامه اعلان پر مهال په جهاد او قتال کي له ګډون څخه تېښته يقينا د اخروي نتايجو له مخې يو لوی جرم دی او له کوم مسلمان څخه دا توقع نه شي کېدای چي په هيڅ حالت کي به دا کار ترسره کړي، مګر په اسلام کي پر دې هيڅ حد نه دی ټاکل شوی چي رسول الله يې د مدينې په دولت کي د واکمن په توګه په پلي کولو مکلف وای او کله چي نافذ نه شو نو د دې دولت وجود نه ثابتېږي. غالبا دا به د ده لپاره انکشاف وي مګر علماء پوهېږي چي پر دې کوم حد څه چي په اسلامي شريعت کي له سره د سزا لازمي ونکی جرم يا د قانون په ژبه د حکومت له لوري د ګام اخيستلو جرم (Cognizable) نه دی چي په دې سره کوم چا ته سزا ورکړای شي. له همدې کبله که ځيني کسان د کومې غزا پر مهال په جګړه کي نه وي شامل شوي او يا يې په عمره کي له ده سره ګډون نه وي کړی نو د نړۍ حکومتونه چي څه غواړي و دي کړي، د اسلام د حدودو او تعزيراتو په قانون کي د دې لپاره هيڅ ګنجايش نه وو چي رسول الله کومه سزا ورکړې وای. دا د ډاکټر صيب غلط فهمي ده چي د تبوک د غزا پر مهال د هلال بن اميه، مراره بن ربيع او کعب بن مالک پر غفلت له هغوی سره مقاطعه کومه قانوني سزا بولي چي د جرم په ځواب کي د حکومت د مشر له لوري پرې نافذه شوه. دی دي د سورت التوبې ۱۰۶ او ۱۱۸ اياتونه ولولي، قرآن په دې هکله بېخي واضح دی چي د دې درو کسانو قضيه د اسمان محکمې ته وړاندي شوه، پريکړه يې هم له هغه ځايه راغله. دا سزا هغوی ته الله ورکړه، رسول الله د اسلامي حکومت د مشر په توګه نه بلکي د خدای د پيغمبر په توګه پرې نافذه کړه. د هغوی د خوشي کولو پريکړه هم له هماغې محکمې راغله او دوی ته زيری ورکړل شو چي توبه يې منل شوې او نور به په اخرت کي د دې جرم سزا نه ورکول کېږي. رسول الله په دې داسي مکلف وو لکه د حديبيې د سولي پر مهال چي د قريشو د شرايطو په منلو مکلف وو، کعب بن مالک وايي چي ما



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کله له رسول الله څخه وپوښتل ایا دا بخښنه ستا له خوا ده او که د الله له خوا؟ نو ده وویل: د الله له خوا.[۴]

د سورت التوبې دا ایاتونه د همدې الهي پریکړې بیان دی:

وَعَلَى الثَّلاَثَةِ الَّذِينَ خُلِّفُواْ حَتَّى إِذَا ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ أَنفُسُهُمْ وَظَنُّواْ أَن لاَّ مَلْجَأَ مِنَ اللّهِ إِلاَّ إِلَيْهِ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ لِيَتُوبُواْ إِنَّ اللّهَ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ (۹ : ۱۱۸)

او الله هغه درې هم وبخښل چې معامله یې ځنډول شوې وه، ان تر دې چې ځمکه له خپلې پراختیا سره پرې تنګه شوه، ځانونه پرې درانه شول او هغوی وپوهېدل چې بې له خدایه هیڅ خوا ته د تېښتې ځای نه شته نو الله پر دوی پېرزوینه وکړه چې توبه وباسي، بې شکه الله ډېر توبه قبلوونکی او ډېر مهربان دی.

مګر بیا هم په دې کې شک نه شته چې د احد د غزا پر مهال عبد الله بن ابی او د هغه ملګري عیني د جګړې له ډګره را ستانه شوي وو له همدې کبله که رسول الله غوښتي وای نو سزا یې ورکولای شوای، مګر قرآن مورږ ته وایي چې د ټولنیز نظم ګټو ته په پام او پر دې منافقینو د حجت پوره کولو په غرض رسول الله ته د الله له خوا دا امر شوی وو چې په دې چاره کې دې هم د عفوې او بخښنې رویه خپله شي، دوی ته دې استغفار وغواړي او د دولت و حکومت په چاره کې دې د پخوا په څېر دوی ته د مشورې وندې ورکړل شي. په سورت آل عمران کې دي چې الله د دوی په اړه وویل:

فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللّهِ لِنتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لاَنفَضُّواْ مِنْ حَوْلِكَ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ

دا د الله مهرباني ده چې ته دوی ته نرم یې، که ته بد خویه او سخت زړی وای نو دوی به له تا تللي وو ځکه نو اوس هم دوی ته بخښنه کوه، د دوی لپاره مغفرت غواړه او د

---

[۴] تفسیر قرآن العظیم د ابن کثیر ۲ / ۳۹۸



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وَشَاوِرْهُمْ فِي الأَمْرِ (۳/ ۱۵۹) تولنیز نظم په معامله کي له دوی مشوره اخله.

استاذ امام امین احسن اصلاحي د دې ایت په تفسیر کي لیکي:

"د عامو افرادو په څېر د اقتدار او سیاست د خاوندانو لپاره هم غوره چلند د نرمۍ او سترګو پټولو چلند دی. په دې سره په افرادو کي نېک ګوماني او اعتماد پیدا کېږي او په اجتماعي نظم کي د وحدت، قوت او پیاوړتیا برکتونه څرګندېږي، سختي او شدت د هغه په فطرت کي نه بلکي په عوارضو کي ده، لکه څرنګه چي د صحت لپاره اصل شی غذا ده مګر کله–کله د کوم مریض د علاج لپاره دوا ته هم اړتیا پیښېږي، همدا راز په تولنیز نظم کي اصل شی نرمي ده، سختي کله–کله د اړتیا له مخې غوره کېږي." (تدبر قرآن ۲/ ۲۱۰)

له دې څخه په ډاګه شوه چي دا یو داسي ډول بې وسي نه وه چي دی پر هغوی برلاسی نه وو له همدې امله یې له دې پرته بله چاره نه درلوده، بلکي دا سترګې پټول او بخښنه وه، د دې لپاره یې کوله چي هغه مهال د دین، شریعت، دولت او حکومت د مصلحت تقاضا دا وه چي رسول الله د دوی په اړه همدا تګلاره خپله کړي.

د ده دویم دلیل دا دی چي د عبدالله بن ابی له ټولو شرارتونو او زورونو سره–سره چي پر عائشې رضی الله عنها د تور لګولو په معامله کي د ده د فتنې له امله ان رسول الله مجبور شو چي وو ایي څوک به د دې سړي د بریدونو په وړاندې زما عزت وژغوري؟، زما پر کورنۍ د تور په لګولو یې په زورونه کي تر حد تېری کړی، خو په دې حالت کي هم ده ونه شوای کولای چي د هغه پر خلاف کوم اقدام وکړای شي نو دا بیا کوم حکومت دی او ایا کوم واکمن داسي کېدای شي چي د خپل تر ټولو بد مخالف په وړاندې دومره بې وسه شي؟.

زموږ په اند دا غالبا د مزاج د ټیټوالي مسئله ده چي ډاکټر صیب حکومت او نرمي دواړه یو ځای نه شي لیدای، د ده په اند په هر حال کي د دې دواړو یو ځای کېدل د



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

نقیضینو اجتماع ده. د ده په دې دلیلونو کې چې هر ځای وګورئ دی پر همدې ټینګار کوي چې که حکومت موجود وي نو د بخښنې، عفوې او نرمۍ امکان نه شي پاتېدای او که نرمي او عفوه وي نو په هیڅ حال کې حکومت نه شي منل کېدای. د عبدالله بن ابی د زورونو او شرارتونو په ځواب کې رسول الله ولې د صبر لاره خپله کړه او هغه ته یې هیڅ سزا ورنه کړه؟ دا یو حقیقت دی چې د هغه د حالاتو تر مطالعې وروسته د سیاسي چارو په حساسیتونو خبر هر سړی دې نتیجې ته رسېږي چې له تفرقې او انتشار څخه مسلمانانو د ټولنې او مدني دولت د ساتنې لپاره له حکومت او واک درلودلو سره-سره د حکمت لاره همدا وه چې د هغه پر خلاف له هر ډول اقدام څخه ډډه وشي.

د دې اندازه له دې څخه کېدای شي چې پر ام المؤمنین عائشې د تور لګولو په معامله کې د یوه مجلس کیسه چې په خپله دې روایت کړې په هغه کې دا وایي: کله چې رسول الله وویل: اې خلکو! څوک به د هغه سړي د بریدونو په مقابل کې زما عزت خوندي کړي چې زما پر کورنۍ یې د تورونو په لګولو ما ته په ضرر رسونه کې تر حد تېرې کړې نو سعد بن معاذ ولاړ شو ویې ویل: اې د الله رسوله! که هغه زموږ د قبیلې سړی وي نو موږ به یې سر غوڅ کړو او که زموږ له ورونو خزرجیانو څخه وي نو ته امر وکړه موږ به یې پلی کړو. د دې په اورېدو د خزرج قبیلې مشر سعد بن عباده ولاړ شو او ویې ویل: ته دروغ وایې، ته یې هیڅکله نه شې وژلای یوازې د دې لپاره د وژلو نوم اخلې چې هغه خزرجي دی، که ستا سو له قبیلې وای نو هیڅکله به دې دا خبره نه وه کړې. د دې په ځواب کې اسید بن حضیر وویل: ته منافق یې له همدې امله د منافقانو ملاتړ کوې. په دې سره په مسجد کې اړو-دوړ را منځ ته شو او نژدې وه چې اوس او خزرج په خپل منځي جګړه اخته شي، خو رسول الله هغوی ارام کړل او له منبره را کښته شو. [5]

---

[5] بخاري، شمیره: ۴۱۴۱، ۴۷۵۰، احمد، شمیره: ۲۵۴۹۹



© "All rights of this book are reserved by the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دا د عبدالله بن ابی سیاسي دریځ او د هغه پر خلاف د کوم ګام د اخیستلو پایلې او عواقب وو؟ هر سړی اټکل کولای شي چې که رسول الله پر دې مهال خاموشي غوره کړې نو دا د اختیار او اقتدار نه درلودلو مجبوري نه وه بلکې په یوه قبایلي ټولنه کې د شته حکومت د مشر زغم، تدبر، مصلحت پالنه او حکمت وو چې ده له احساساتو څخه په مغلوبېدو د هغه پر خلاف د کوم ګام اخیستلو د پرېکړې پر ځای د سترګو پټولو او نرمۍ چلند خپل کړ. کله چې د بنو مصطلق له غزا څخه د را ستنېدو پر مهال هغه د خپل زوی په لاسونو سپک شو نو د هغه په اړه یې د خپل چلند همدا مصلحت بیان کړ او عمر فاروق رضی الله عنه ته یې وویل: عمره! څه فکر کوې کوم وخت چې تا د ده د مرګ اجازه غوښته که دې هغه مهال وژلی وای نو پر ده به ډېرې پېرې درېدلې وې خو که یې نن د وژلو امر ورته وکړم نو وژلای یې شې.[6]

محترم ډاکټر صیب په دې سره د مدني دولت نه شتون ثابتوي، خو د یوه جید دیني عالم دې تګلارې ته وګورئ چې د اسلامي دولت لپاره کوم اصول ترې اخلي؟ مولانا سید ابو الاعلی مودودي صیب په خپل تفسیر تفهیم القرآن کې لیکي:

" په دې سره دوې مهمې شرعي مسلې روښانه کېږي یوه دا چې ابن ابی کومه تګلاره غوره کړې وه نو که څوک په اسلامي ملت کې په اوسېدو دا ډول تګلاره خپله کړي نو هغه د قتل وړ دی، دویمه دا چې صرف د قانون له مخې د یو چا د مرګ لیاقت دا نه لازموي چې هغه دې حتما ووژل شي. تر دا سې کومې پرېکړې وړاندې باید وکتل شي چې ایا د هغه وژنه خو به د بلې کومې سترې فتنې سبب نه ګرزي؟، حالاتو ته له کتلو پرته د قانون ړوند استعمال ځیني وختونه د هغه هدف بالکل خلاف نتایج پیدا کوي د څه لپاره چې قانون کارول کېږي. که د کوم منافق او مفسد انسان تر شا د پام وړ سیاسي ځواک موجود وي نو

---

[6] تفسیر قرآن العظیم د ابن کثیر ۴/ ۳۷۲



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."
www.javedahmedghamidi.com www.al-mawrid.org

هغه ته د سزا تر ورکولو د نورو فتنو د پیدا کولو تر فرصت غوره داده چي د حکمت او تدبر له مخې د ده هغه سیاسي ځواک له منځه یو وړل شي چي په وسیله یې دی فساد جوړوي. د همدې مصلحت له مخې رسول الله صلی الله علیه وسلم عبد الله بن ابی ته هغه مهال سزا ورنه کړه چي د ده د سزا وس یې درلود بلکي له هغه سره یې پر له پسې د نرمۍ چلند کاوه ان تر دې چي په دوو-درو کالو کي دننه د مدینې د منافقینو زور د تل لپاره ختم شو." (۵/ ۵۱۴، ۵۱۵)

د هغه دریېیم دلیل دادی چي رسول الله د بدر تر غزا وړاندي په بېلابېلو سریو او غزاوو کي له انصارو هیڅ کار وانه خیست او د بدر د غزا پر مهال هم په خپله د انصارو له لوري د مرستې وړاندیز ته په تمه وو خو مهاجرینو په دې ټولو عملیاتو کي ونډه واخیسته او ده ورسره کړل. له همدې امله که دا کوم حکومت وای نو د مهاجرینو او انصارو تر منځ به هیڅکله دا ډول توپیر نه وای شوی او له هر چا څخه به په بشپړه توګه یو ډول خدمت اخیستل شوی وای.

که ډاکټر صیب اجازه راکړي نو موږ له هغه څخه د دې پوښتنې کولو جرأت کوو چي دا عمومي قانون د سیاست پوهنې په کوم کتاب کي لیکل شوی چي د پوځي خدمتونو په چاره کي به هیڅ حکومت د خپلو وګړو تر منځ هیڅ ډول توپیر نه کوي او که په کوم ځای کي دا توپیر وي نو د حکومت وجود نه ثابتېږي؟.

حقیقت دادی چي د هغه دعوه بېخي بې بنسټه ده، د نورو حکومتونو پر چارو خو به موږ وروسته هم بحث وکړو خو تر کومه ځایه چي په اسلامي حکومت پوري تړاو لري د هغه په اړه هر سړی پوهېږي چي هغه د کوم شریعت پر اساس را منځ ته کېږي څرنګه چي په هغه کي جهاد او قتال یو اجتماعي مسئولیت نه یو مذهبي فریضه هم ده له همدې امله د دې حکومت نا مسلمان وګړي پر همدې اساس له پوځي خدمتونو مستثنا دي. د هیواد د دفاع لپاره خو کېدای شي چي یو وخت خپل خدمات وړاندي کړي او هغه یې ومني خو که



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

جهاد تر دفاع هاخوا د حق د غلبې لپاره وي نو ځرګنده ده چي يوه نا مسلمان ته د ګډون بلنه نه شي ورکول کېداى. پر دې سربېره معامله يوازې د نا مسلمانو نه ده، د تبوک د غزا پر مهال خو ډاکټر صيب هم مني چي اسلامي حکومت جوړ وو مګر هر عالم پوهېږي چي کومو منافقينو په دې کي ګډون ونه کړ که څه هم د قانون له مخې هغوى د دې دولت مسلمان وګړي وو مګر قرآن امر وکړ چي هغوى به نور په راتلونکي کي هيڅ جګړې ته نه ځي. الهي وينا ده:

فَاسْتَأْذَنُوكَ لِلْخُرُوجِ فَقُلْ لَّن تَخْرُجُواْ مَعِيَ أَبَدًا وَلَن تُقَاتِلُواْ مَعِيَ عَدُوًّا إِنَّكُمْ رَضِيتُم بِالْقُعُودِ أَوَّلَ مَرَّةٍ فَاقْعُدُواْ مَعَ الْخَالِفِينَ (التوبة ۹: ۸۳)

بيا به دوى له تا جهاد ته د تلو اجازه وغواړي نو ورته ووايه چي نور هيڅکله نه له ما سره تلاى شئ او نه زما په ملګرتيا له دښمن سره جنګېداى شئ، تاسو وړاندي ناسته خوښه کړه نو اوس هم له کښېنستونکو سره کښېنئ.

نو که الله د مدينې انصارو ته هم د خپلې نوې مسلمانۍ له امله په ايمان او اسلام کي تر اړينې روزنې وړاندي د قتال اجازه نه وي ورکړې نو دا د دين او شريعت د فهم کومه غوره بېلګه نه ده چي په دې سره د مدينې د دولت وجود نفې شي. که ډاکټر صيب پر سم اړخ فکر کړى واى نو دا حقيقت به ورته ځرګند شوى وو چي په دې سره د ده دريځ نه بلکي د تشريعي حکمت دا اصول ثابتېږي چي د حکومت تر جوړښت وروسته هم بايد د ټولنې بېلابېلو طبقو ته د ديني مسئوليت بوج د دوى له حالاتو سره سم وسپارل شي. الله د جهاد او قتال په اړه خپل شريعت له همدې حکمت سره نازل کړى دى، له همدې امله د مدني دولت ټولو ښاريانو ته د قتال امر تر هجرت کم و زيات يو نيم کال وروسته د دويم هجري په رجب يا شعبان کي ورکړل شو چي د قرآن کريم د سورت البقرې په ۱۹۰ ايت کي راغلى. تر دې وړاندي چي د سورت الحج په ۳۹ او ۴۰ اياتونو کي د قتال کومه اجازه وشوه که هغه ته وګورئ په ښکاره يې ويلي چي دا صرف تر هغو مهاجرينو ځانګړى دى چي له خپلو



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کورونو شړل شوي دي. ښکاره ده په دې حالت کي رسول الله د دې اجازه نه درلوده چي هغه مهال يې د مدينې انصار کومې سريې ته لېږلي او يا يې غزا ته بوولي واى، الهي وينا ده:

أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا وَإِنَّ اللَّهَ عَلَى نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ * الَّذِينَ أُخْرِجُوا مِن دِيَارِهِمْ بِغَيْرِ حَقٍّ إِلاَّ أَن يَقُولُوا رَبُّنَا اللَّهُ (الحج ۲۲ : ۳۹، ۴۰)

له کومو کسانو سره چي جګړه شوې هغوى ته د جګړې اجازه ورکړل شوې ځکه پر دوى ظلم شوى او يقيناً الله د دوى پر مرسته پوره قادر دى، هغه چي په نا حقه له خپلو کورونو شړل شوي يوازي له دې امله چي ويل يې: الله زموږ رب دى.

د ده څلورم دليل دادى چي په مدينه کي په خپله له قرآنه ښکاري چي يهودو خپلې محکمې درلودې او خلګو ته د دې اجازه وه چي که وغواړي خپلې دعوې رسول الله ته وړاندي کړي او که يې خوښه وي نو د يهودو محکمو ته دي ولاړ شي. الله رسول الله ته هم د هغوى د دعوو منلو او نه منلو اجازه ورکړې وه، نو ايا په دې حالت کي دا منل کېداى شي چي هغه يو رسمي حکومت وو او ايا يو حکومت داسي هم کېداى شي چي په هغه کي ښاريان دا ډول واکونه ولري او په خپله د حکومت مشر ته د دې اجازه ورکړل شوې وي چي که يې خوښه وي د دوى دعوې دي واوري که نه انکار دي وکړي؟.

ډاکټر صيب زموږ مشر دى، که بې ادبي نه وي نو د ده حضور ته به عرض وکړو چي ايا په دې دليل سره د ده دريځ ثابتېږي؟ البته دا خبره پرې ثابته شوه چي د وخت په تيريدو سره له اسلامي شريعت او د هغه له علومو او معارفو څخه د ده نا اشنايي ډېره شوې ده، په دې کي هيڅ کمی نه دى راغلى. هغه ممکن په دې نه وي خبر چي د شريعت له مخې د اسلامي حکومت نامسلمانو وګړو ته په هر ځاى او هره زمانه کي دا حق ورکول کېداى شي چي دوى د خپلو ديني او شخصي چارو د دعوو په اړه په خپلو هڅو خپلې محکمې جوړولاى شي او دا قانون منل کېداى شي چي که د دې محکمو په شتون کي هغوى خپله



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دعوه مسلمانو مشرانو او چارواکو ته وړاندي کړي نو هغوی له خپل دریغ سره سم د دې دعوې د منلو او نه منلو د پریکړي اختیار لري. سید سابق په فقه السنه کي لیکي:

اما ما یتصل بالشعائر الدینیة من عقائد و عبادات و ما یتصل بالاسری من زواج و طلاق فلهم فیها الحریة المطلقة تبعا للقاعدة الفقهیة المقررة: اترکوهم و ما یدینون و ان تحاکموا الینا فلنا ان نحکم لهم بمقتضی الاسلام او نرفض ذالک. (۳/ ۶۵)

پاتي شول هغه معاملات چي د عقایدو او عباداتو په څېر له دیني شعایرو او یا د نکاح و طلاق په څېر له کورنیو مسایلو سره تړاو لري نو په دې کي به هغوی پوره ازاد وي. د دې بنسټ د اسلامي فقهې دا تاکل شوی قانون دی چي په دیني معاملاتو کي به هیڅ ډول لاسوهنه نه کېږي خو که دوی کومه دعوه موږ ته راوړي نو موږ حق لرو چي که وغواړو له خپل شریعت سره سمه یې پریکړه وکړو او که وغواړو نو ویې نه منو.

دا یو ثابت تاریخي حقیقت دی چي یوازي د رسول الله په زمانه کي نه تر هغه وروسته هم مسلمانانو د خپلې واکمنۍ پر مهال د خپلو نامسلمانو ولسونو لپاره عموما همدا تګلاره غوره کړې وه چي تفصیلات یې د تاریخ په مرکزي کتابونو کي لیدلای شئ او دا معامله یوازي تر اهل کتابو ځانګړې نه ده، د محمد بن قاسم په اړه ټول تاریخ لیکونکي متفق دي چي هغه د سیند او ملتان تر نیولو وروسته په رسمي ډول د هندوانو محکمو ته اجازه ورکړه، د ترکانو په اړه هم څرګنده ده چي دوی په خپله پاچاهي کي روسانو او یونانیانو ته دا مراعت ورکړی وو. ډاکټر محمد حمید الله د خپل کتاب نبوي دور کي د واکمنۍ نظام په یوه مضمون د قرآن د واکمنۍ تصور کي لیکي:

" د رسول الله دا تګلاره وروسته یو رسمي قانون شو چي د نا مسلمانو ولسونو او مستأمینونو شخصي قانون به له دوی سره اړوند وي او د دې لپاره به ځانګړې محکمې



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

جوړېږي. د راشده خلافت پر مهال دې شي ځانګړې پر مختګ کړی وو او د دې ملي محکمو لپاره به چارواکي هم له ملت څخه ټاکل کېدل." (۱۵۶)

په دې ضمن کې ده د کلیسا د تاریخ او جغرافیې له یوه فرانسوي قاموس څخه د کارالف سسکي یو اقتباس نقل کړی چې په هغه کې دی وایي:

" د مسلمانانو تر ټولو مهم نوښت چې یعقوبي عیسایانو یې د زړه له تله هرکلی وکړ دا وو چې د هر مذهب پیروان دي یو خپلواک وحدت وبلل شي او د هغه مذهب د روحاني مشرانو یوه لوی شمیر ته دي په دنیوي او قضایي چارو کې واکونه ورکړل شي." (۱۵۷)

پاتې شوه دا خبره چې د مدینې په دولت کې مسلمانانو هم د یهودو محکمو ته د خپلو دعوو وړلو اختیار درلود نو دا د ډاکټر صیب غلط فهمي ده، په دې کې شک نه شته چې په لومړي سر کې ځینو منافقینو دا جرم ترسره کړ مګر قرآن په ښکاره وویل چې دا منافقت دی او سره له دې چې هغه مهال په دې چاره کې رسول ته د اعراض لاړ ښوونه شوې مګر ده ته باید معلومه وي چې له دې تحاکم الی الطاغوت سره هغوی مسلمان نه شي پاتېدای. د قرآن کریم تر دې څرګند هدایت وروسته ښکاره ده چې د دې دولت هیڅ مسلمان وګړي دا حرکت نه شوای کولای، د سورت النساء له ۵۹ – ۶۵ ایاتونه د همدې معاملې په تفصیل کې نازل شوي دي. هغه وګورئ، د هغو په اخیر کې الله وایي:

وَمَا أَرْسَلْنَا مِن رَّسُولٍ إِلاَّ لِيُطَاعَ بِإِذْنِ اللّهِ وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذ ظَّلَمُواْ أَنفُسَهُمْ جَآؤُوكَ فَاسْتَغْفَرُواْ اللّهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُولُ لَوَجَدُواْ اللّهَ تَوَّابًا رَّحِيمًا * فَلاَ وَرَبِّكَ لاَ يُؤْمِنُونَ حَتَّىَ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لاَ يَجِدُواْ فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا

او موږ هر رسول صرف د همدې لپاره لېږلی چې د الله په امر یې اطاعت وشي او کله چې دوی پر خپلو ځانونو دا ظلم وکړ که هغه وخت تا ته راغلي وای، له الله یې معافي غوښتې وای او رسول هم دوی ته د عفوې غوښتنه کړې وای نو یقینا الله به یې ډېر توبه قبلوونکی پوره مهربان موندلی وای، نو اې رسوله! داسې نه ده، ستا په


© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا* (النساء ۴: ۶۴، ۶۵)

رب قسم دوی تر هغو هیڅکله مومنان نه شي کېدای چي په خپلو اختلافونو کي تا منځګړی ونه مني او ته چي کوم هم پرېکړه وکړې د هغې په اړه په زړونو کي له څه تنګي احساسولو پرته ورته تسلیم نه شي.

د دې دلیل حقیقت همدا دی، مګر لرې نه ده چي زموږ ډاکټر صیب به اوس دا وایي چي که د خلفاء راشدینو، امویانو، عباسیانو او عثمانیانو په واکمنۍ کي هم د نا مسلمانو دا ډول محکمې موجودې وې نو هغه هم په حقیقت کي کوم حکومتونه نه وو بلکي د خپل وخت انقلابي ډلې وې چي څرګنده نه ده نړۍ وال یې څه ډول حکومتونه، دولتونه او سلطنتونه ګڼي او په دې توګه د ډاکټر صیب په الفاظو د تاریخي حقایقو مخ اوړي.

همدا د ډاکټر صیب د دلایلو ټول کاینات دي چي ده د یوه داسي حقیقت د تردید لپاره وړاندي کړي چي زموږ له پورتنیو تفصیلاتو سره سم یې شاهدي قرآن کریم، نبوي سیرت او د فقهې و اجتهاد امامان په پوره صراحت سره ورکوي او د هغه په اړه له بشپړ ډاډ سره ویل کېدای شي چي د دې امت په تاریخ کي هیڅ داسي عالم هم نه شته چي کوم وخت دي له دې څخه انکار کړی وي بلکي د دې بالکل بر خلاف چي د تفسیر، احادیثو، فقهې، تاریخ او سیرت په اړه په اسلامي اثارو کي یې کوم ځای یادونه کېږي د یوه داسي حقیقت په توګه یادېږي چي هیڅکله یکي جنجال نه دی شوی.

په هر حال همدا یې دلایل دي چي موږ د دین او شریعت له نظره د هغو بشپړه تفصیلي ارزونه وړاندي کړه، دلته تر یو څه حده د دولت او حکومت په اړه د خپلو شاوخوا حقایقو په رڼا کي هم وګورئ چي د ډاکټر صیب دا دلایل څومره وزن لري؟.

خپل ګاونډ ته وګورئ چي وایي د افغانستان دا حکومت د پېښور د تړون په نتیجه



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کي را منځ ته شو او تر پروفیسر صبغت الله مجددي وروسته یې اوس مشر پروفیسر برهان الدین رباني دی، د هغه په اړه هر سړی پوهېږي چي اوس مهال په خپله پلا زمینه کي هم د خپل امر پر پوره اجرا وس نه لري، له کابل څخه د بهر وتلو لپاره هم په میاشتو د حزب اسلامي د مشر ګلبدین حکمتیار اجازې ته اړ وي. په خپل واک کي شاملې ډېري سیمې یې لا هم د ځایي قومندانانو تر امر لاندي دي، تر اوسه یې د ټول هیواد په کچه خپلې پوځي، پولیسي، قضایي، قانون جوړوونکې او دا ډول نوري اداري جوړې نه کړای شوې. بنسټ یې پر یوه تړون ولاړ دی او لا یې هم د ځان لپاره د کوم رسمي نظام پریکړه نه ده کړې خو له دې سره – سره وینو چي ټوله نړۍ یې د یوه رسمي حکومت په توګه مني، کله چي یې مشر زموږ هیواد ته په سفر راځي نو د خپلو تشریفاتي قوانینو له مخې هغه ته د هیواد د مشر په توګه قرارداد ونه ورکوو، په نړۍ والو غونډو او ادارو کي یې استازي د یوه رسمي حکومت د استازو په څېر ګډون کوي او سفیران یې په نورو هیوادونو کي د یوه رسمي حکومت د استازي په توګه منل کېږي. لنډه دا چي هر ځای او له هره پلوه یو حکومت ګڼل کېږي او په ټوله نړۍ کي هیڅوک هم دا مهال د هغه له دې حیثیت څخه انکار نه کوي.

تر دې وروسته وینو چي کله په دویمه نړۍ واله جګړه کي جاپان ماتي وخوړله نو د هغه پر خلاف د فتح موندونکو له لوري پرې دا بندیز ولګول شو چي د ځان لپاره هیڅ ډول پوځ نه شي ساتلای، تر ۱۸۸۶ پوري په کوچنۍ وچه کي د کمپنۍ حکومت له سمندر څخه هاخوا د خپل کوم هندوستاني عسکر د لیږلو واک نه درلود، په برتانوي هند کي موږ ټول د بوپال، حیدر اباد او بهاولپور په دولتونو خبر یو، هغه مهال دا ډول په لسګونو دولتونه موجود وو خو په نړۍ والو اړیکو او د سولې و جګړې په چارو کي ازادي یوه لویه خبره ده، هغوی په خپلو کورنیو چارو کي هم په واقعي توګه تر کومه ازاد وو په دې هر سړی پوهېږي؟. په خپله زموږ په هیواد کي د ازاد کشمیر حکومت دا مهال په همدې



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ډول موجود دی، مګر ایا یو چا کوم وخت دا خبره کړې چې په دې حالت کې هغه حکومت نه شي بلل کېدای؟.

همدا راز وینو چې د پاکستان دولت د ۱۹۴۷ اګست له څورلسمې څخه د یوه رسمي حکومت په توګه موجود دی، د هغه په اړه دا راته معلومه ده چې د هغه د واک په دایره کې دننه پر سلګونو میله غزېدلې قبایلي سیمه د هغه اداره هلته د سیمه ییزو مشرانو په وسیله خپل واکونه کاروي، ان د هغه ځای پر اوسیدونکو یې د سترې محکمې حکم نه تطبیقېږي، که کوم مجرم د یو چا په وژلو یا د یو چا کور ته په ورا وښتلو کومه ښځه یا نارینه وتښتوي او هلته ولاړ شي نو په عامه طریقه نه شي نیول کېدای. د دې سیمې دا حیثیت زموږ په قانون کې په پوره صراحت سره منل شوی دی خو له دې سره–سره د پاکستان حکومت په هر حال حکومت دی او د هغه د دې حیثیت په اړه هیچا هیڅکله هم شک نه دی کړی.

باید پام وکړئ چې جي ایم سید د همدې حکومت یو وګړی دی، هغه په ښکاره د پاکستاني دولت د ماتولو پلانونه جوړوي او اعلانوي یې، د هغه ارادې له هیچا پټې نه دي، د ده ویناوې صرف خبرې نه دي، د لیکنو په بڼه چاپ شوې دي، هر سړی به ومني چې دا د هغه یو ستر جرم دی او په غبرګون کې یې دولت سخته سزا ورکولای شي مګر وینو چې د دې هیواد حکومتونو یې په اړه څه ډول د سترګو پټولو او نرمۍ چلند خپل کړی دی او هیڅوک نه وایي چې د دې په نتیجه کې نور د پاکستان دولت یو رسمي حکومت نه دی؟.

دا ټول د اوسني دور حقایق دي، لږ فکر وکړئ ډاکټر صیب چې د مدني دولت د نفې لپاره کوم منطق را منځ ته کړی که یو څوک له هغه څخه په استفادې دا حقایق د خلکو مخ ته کښېږدي او تر دې وروسته هغوی ته ووایي چې ایا تاسو دا حکومت ګڼئ، ایا یو حکومت داسې او داسې هم وي ځکه نو په خلاصو غوږونو واورئ چې څوک دا حکومت



www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org
© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

بولي هغه په خام خیال اخته او د تاریخي حقایقو مخ بدلوي. نو فکر وکړئ خلک به د هغه په اړه څه وایي؟ مګر پر ډاکټر صیب دي شاباس وي چي د همدې کار په کولو یې اعلان کړی چي د خپل دریځ پر خلاف یې د هر چا له بارودو بوس جوړ کړي دي.

خبره اوږده شوه زموږ دا مضمون به یې وس ونه لري، که نه د نړی تر ټولو سترو سلطنتونو چي له خپل جوړښت څخه تر پیاوړتیا کوم مراحل وهلي، کومې لوړې او ژورې یې لیدلې او تر پیاوړتیا وروسته یې هم د خپلو مصلحتونو له مخې په خپل نظام کي کومو استثناوو ته پر ځای ورکولو مجبور شوي موږ به یې دلته ټول تاریخ بیان کړی وای، خو زموږ په اند د هدف د اثبات لپاره همدا څو بیلګي کافي دي. د دې په رڼا کي وګورئ چي ډاکټر صیب د کوم اهرام د ړنګولو لپاره څه ډول کاڼي را اخیستي دي؟زموږ په اند د دین او شریعت پیچلتیاوو ته په کښنته کېدو د هغه مطالعه او درک خو یو سخت کار دی له دې دلایلو څرګنده شوه چي د شپې او ورځې د انقلابي بوختیاوو له امله او س د ده لپاره د خپلو شاوخوا حقایقو لیدل او تر څه ځنډه پر هغو غور کول هم غالبا شوني نه دي.

په هر حال تر دې وروسته هغه وړاندي تللی، د دین د غلبې لپاره یې د جهاد و قتال په اړه زموږ له مضمون څخه یو پرګراف اخیستی دی، له دې څخه یې هغه جمله چي زموږ د هدف وضاحت یې کولای شوای په پوره دیانت سره ترې بیله کړې، هغه یې په خپل مضمون کي نقل کړې او بیا یې ویلي دي چي وګورئ په دې کي چي تا څه ویلي په دې سره د چا چي زور وي د هغه خبرې تعریض پر خپله پرتا در ګرزي او ستا دا دریځ باطلېږي چي د اسلامي انقلاب تګلاره صرف او صرف دعوت دی.

د ډاکټر صیب ستونزه داده چي که کوم څوک پر ده تنقید وکړي نو د هغه په نتیجه کي چي دی د غبرګون په کوم کیفیت اخته کېږي په هغه کي د تنقید کوونکي د موقف تر لوستلو، درک او د ځان و هغه تر منځ د اختلاف و اتفاق تر سم تشخیص وروسته د هغه لپاره یو څه ویل ممکن نه وي.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د ده همدا عذر دی چې هغه ته په پام موږ د وسلوال جهاد په اړه خپل نظر له پوره وضاحت سره یو ځل بیا بیانوو چې زموږ د مضمون له دې پرګراف څخه هغه کوم مطلب اخیستی هر چا ته یې حقیقت څرګند شي.

زموږ د تحقیق پر بنسټ د قرآن له مخې وسلوال جهاد په دوو صورتونو کې کېدای شي:

۱) د ظلم او تېري پر خلاف

۲) د حجت تر اتمام وروسته د حق د منکرینو پر خلاف

په دې کې اوس مهال پر لومړني صورت بحث نه کوو، پاتې شو دویم صورت نو د جهاد پر عامو شرطونو سربېره چې خاص د دې جهاد لپاره په قرآن کوم دوه لازمي شرایط ثابت دي دلته هغه هم واورئ:

لومړی شرط دا دی چې دا یوازې د کافرانو پر خلاف کېدای شي، د مسلمانانو د کومې ډلې، حکومت، هیواد او ریاست پر خلاف د دې جهاد هیڅ امکان نه شته نو ډاکټر صیب چې د پاکستان په کومه سیمه کې تر انقلاب وروسته د دې جهاد یادونه کوي، نه یوازې هغه بلکې د اسلامي شریعت له مخې د پاکستان ټول دولت هم هیڅکله دا حق نه لري چې د دې جهاد په وسیله خپل کوم انقلاب د بیلګې په توګه پر ترکیه، ایران، افغانستان، عراق او یا شام وتپي.

دویم شرط دا دی چې د کافرانو پر خلاف هم مسلمانان د دې جهاد حق هغه وخت لري چې پر نبوي طریقه د خلافت نظام په دې امت کې د ټول امت په سطح پر پښو ودروي او په دې توګه د قرآن کریم په اصطلاح دا امت د امت مسلمه، خیر امت او امت وسط وګرزي او د نړۍ د نورو ټولو قومونو لپاره د خدای پر ځمکه د حق دین شاهدان شي.[7]

---

[7] د دې مضمون د لیکنې پر مهال زما نظر همدا وو خو وروسته تحقیق څرګنده کړه چې دا دنده یوازې تر صحابه کرامو ځانګړې وه، تر هغوی له وروستنیو خلګو سره نه کوم تړاو لري او نه پر دې مرتب کېدونکې د



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

همدا د دې جهاد په اړه زموږ نظر دی، تر دې وروسته زموږ هغه لیکنه چې ډاکټر صیب په خپل مضمون کې نقل کړې له خپل پوره سیاق و سباق سره او د دې په رڼا کې ولولئ بیا پریکړه وکړئ چې ایا د چا چې ډنډه وي د هغه امر تعریض د اسلامي امت د انقلاب په اړه زموږ پر دې نظر راګرزي او په امت کې د دعوت په وسیله د انقلاب راوستلو په اړه زموږ دریځ باطلیږي او د ډاکټر صیب له تعبیر سره سم ایا څوک واقعا پر خپل سر دا اجازه لري چې د پاکستان په کوم کلي کې صرف او صرف د دعوت په وسیله د انقلاب په راوستلو یې لومړی ټول پاکستان او بیا ټولې نړۍ ته د پراخولو لپاره جهاد او قتال اعلان کړي؟، موږ لیکلي:

"که په موږ کې څوک په ځان کې د دې اهلیت ویني نو نن یې هم د راوستلو هڅې کولای شي، خو طریقه یې دا نه ده چې د انقلاب یو داعي د خپلې ډلې په جوړولو د زور او قوت له لارې هغه پر امت مسلطه کړي. د دې لپاره که د رسول په سیرت کې کومه لارښوونه موندل کیږي نو هغه همدا ده چې مسلمانان باید یوازې او یوازې د دعوت په وسیله د خپلې ازادې خوښې له لارې ملګري او د دوی په رایه او مشوره لومړی په دې امت کې راوستل شي او که بیا اړتیا وه نو د جهاد او قتال په وسیله دا امت د خپلو مشرانو تر مشرۍ لاندې عیني په هغه ډول ټولې نړۍ ته د هغه د پراختیا لپاره ووزي لکه څرنګه چې تر رسول الله وروسته صحابه کرام د خلفاء راشدینو په مشرۍ د روم او ایران د واک سیمو ته ولاړل او د هغوی پر پولو په دریدو یې ویلي وو: یا اسلام راوړئ، یا جزیه ورکړئ او یا د جګړې لپاره چمتو شئ."

تر دې وروسته ده زموږ او خپل فکر تر منځ ځیني مشابهتونه بیان کړي، دې ته له پام پرته چې په دې مشابهت کې هم د مخالفت لس صورتونه پټ دي، موږ وایو چې پر ځای

---

جهاد و قتال احکام له بل چا سره پیوند پیدا کولای شي. له همدې کبله تر هغوی وروسته نور تر قیامته د مسلمانانو لپاره د وسلوال جهاد صرف یو شکل پاتېږي، یعنې د ظلم او تیري پر خلاف جهاد.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

خبره دي کړې مګر هیله داده چي لطفا په تربحث لاندي مسله کي هم د مطابقت کوم شکل پیدا کړئ!.

ځکه هلته خو حالت دادی چي تاسو پر دې خبره کلک ولاړ یاست چي که اسلامي انقلاب هر وخت راځي د سمعې و طاعت د بیعت او واورئ عمل وکړئ له اصولو سره سم به د حکومت په وړاندي د منظمو سربښندونکو د ټکر په وسیله راځي او موږ پوره اطمنان لرو چي ستاسو په څېر علماوو او مفکرینو لپاره د هغه یوازینۍ لاره داده چي د خپل قوم په ذهنیتونو کي د اسلام په اړه د یوه فکري انقلاب د راوستلو هڅې وکړئ او له دې سره صرف او صرف د دعوت په وسېله هڅه وکړئ د هغوی چاروا کي هغو تغیراتو ته چمتو کړئ چي د دوی په اند باید د دې هیواد د سیاست، اقتصاد، ټولنیزو چارو، ښوونې او روزنې او حدودو و تعزیراتو په نظام کي له اسلامي فکر سره سم وي.

همدا د دې معاملې په اړه زموږ نظر دی خو بیا هم وګورئ چي ډاکټر صیب یې د کومو فدایانو په وسیله راوستل غواړي هغه څوک دي؟ ده په خپلو ځینو تازه لیکنو کي ویلي دي چي په مسلمانانو کي یو جماعة المسلمین او یو حزب الله وي، له جماعة المسلمین څخه یې عام مسلمانان مراد دي او حزب الله د ده په اند د اسلامي انقلاب لپاره د هڅه کوونکو فدایانو هغه ډله ده چي د انقلاب د یوه داعي په امر د خپل هر څه قربانولو ته چمتو وي. د هغه په اړه وایي چي په دوی کي باید حتما څلور ځانګړتیاوې وي، ده لیکلي:

"لومړی دا چي هغه ډله باید بېخي نوې وي چي په ټولنه کي له مخکي موجودو مدني، سیاسي، اقتصادي تنظیمونو او ادارو سره هیڅ تړاو ونه لري. دویمه دا چي باید هیڅ ویره ورسره نه وي او د دوی ترمنځ په ټولنه کي له وړاندي د موجودو مرتبو او درجو د فرق او توپیر هیڅ عکس پکي موجود نه وي، بلکي د دوی په لیکو کي د پورته، کښته او یا وړاندي و مخته ټول انحصار له خپل هدف سره د کار کوونکو د بې کچې عشق او



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

سربښندنې و قربانۍ له زیادت او کمبوت سره تړاو ولري. دریېمه دا چې د هغوی په کار کوونکو او اړوندو کسانو کې باید دا کیفیت په پوره سختۍ موجود وي چې د زړه مینه یې ورو –ورو یوازې د خپل هدف د شریکانو تر کړۍ محدود شي، که څه هم هغوی بیخي پردي وي او د انقلاب دښمنان خپل شخصي دښمنان وګڼي، که څه هم هغوی یې ډېر نژدې خپلوان انپلار، زوی او یا ورور وي. څلورمه او وروستۍ خبره مګر بې ارزښته نه بلکې تر ټولو مهمه هغه یې داده چې د انقلابي ډلې نظم او ډسپلین باید د پوځ د دوډیز شکل یعنې وا ورئ او وکړئ په ډول وي، که نه کېدای شي چې په کومه مرحله کې د نظم مخالفت هر څه په اوبو لاهو کړي." (ندای خلافت ۱ / ۳۷)

حقیقت دادی چې د ډاکټر صیب د نورو افسانو په څېر د هغه دا تازه څرګندونې هم بالکل بې بنسټه دي، باید د هغو په اړه هم دا څو خبرې تشریح شي:

اول دا چې قرآن د حزب الله تعبیر د رسول الله په زمانه کې د موجودو منافقینو په وړاندې د رښتنو مومنانو لپاره غوره کړی دی، دا تعبیر په قرآن کې دوه ځایه راغلی دی یو د سورت المایدې په ۵۶ او دویم د سورت المجادلې په ۲۲ ایت کې. مایده او مجادله دواړه مدني سورتونه دي او د انقلاب د هغو په زمانه کې نه د هغه تر راتلو ډېر وروسته یې د پراختیا په زمانه کې نازل شوي دي، نو ځکه ښکاره ده چې په دې کې له حزب الله څخه مراد هیڅکله د انقلابي ډلې سرتېري نه شي کېدای.

دویمه دا چې د رسول الله په زمانه کې هم دا تعبیر له الله سره د رښتنې وفادارۍ پر بنسټ د مومنانو لپاره مناسب وو او تر ده وروسته به هم یقینا پر همدې بنسټ د هغوی لپاره مناسب وي. له الله او رسول سره له وفادارۍ پرته نور تر قیامته د مومنانو مرتبې پر بل معیار نه شي ټاکل کېدای، نو ځکه باید هر مسلمان ډاډمن وي چې که له الله او رسول سره د وفا پر ژمنه ټینګ، د هغوی په جماعت یعنې اسلامي امت کې شامل، د هغو د دین او د هغه د اړتیاوو لپاره د سربښندنې او قربانۍ په جذبه مست، د هغوی د دښمنانو



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دښمن، د هغوی د هر حکم په معامله کې د واورئ او عمل وکړئ د هدایت پلي کوونکی او د دوی له لارښوونو سره سم د مسلمانانو له ټولنیز نظم سره بشپړ تړلی وي نو یقینا په حزب الله کې شامل دی. د قرآن او حدیث له مخې هغه هیڅکله دې ته اړتیا نه لري چې لازما د نبوت له دعوې پرته د ځان لپاره د نبوت د حقوقو یوه خاصوونکې داعي الی الحق سرتېری او د هغه په ډله کې شامل شي، د خپلې سربښندنې جذبه او قرباني هغه ته وبخښي، د هغه له هغو سره د اختلاف مجرم خپل مسلمان مور و پلار، زامن، ورونه او خوندې خپل شخصي دښمنان وبولي او خپل فکر، شخصیت، د نفس عزت ټول د واورئ او عمل وکړئ پر اصولو د را منځ ته شوې کومې مذهبي مافیا د امیر المؤمنین په پښو کې قربان کړي.

دربیم دا چې ډاکټر صیب د خپل دې وهمي تخلیق حزب الله لپاره د فدایانو کومه اصطلاح بیا –بیا کاروي دا د قرآن و حدیث بلکې په دې امت کې د دعوت او عزیمت د بشپړ تاریخ لپاره یو بېخي نا اشنا شی دی، پوهان پوهېږي چې زموږ په تاریخ کې که دا اصطلاح په لومړي ځل کارول شوې نو د مرګونې کلا د واکمن او باطني ډلې د شیخ الجبال حسن بن صباح د پیروانو هغو سربښندونکو ته کارول شوې چې له رازونو ډک خنجر به یې هر پاچا، وزیر او عالم ته له دې لارښوونې سره ور رسېدی چې که د شیخ الجبال خبره ونه مني نو له څه شک پرته به ووژل شي.

له دې څخه اټکل کېدای شي چې د واورئ او عمل وکړئ او خپل پلار، زامن، ورونه او خوندې خپل دښمنان وبولئ پر اصولو ولاړ حزب الله چې ډاکټر صیب یې له قرآن او نبوي سیرت څخه د را ایستلو هڅه کوي په حقیقت کې د هغه ماخذ چیري دی؟ او که خدای مه کړه که کوم وخت د اقدام مرحلې ته ننوتل نو د مرګ له کندې یې څه را وتلای شي؟ د ډاکټر صیب له خوا چې د دې فدایانو لپاره کوم نوی فرمان صادر شوی هغه دادی:



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

" په جماعة المسلمین کي شامل ټول مسلمانان دي له شریعت سره سم د حقوقو په ادا کولو د زړه خپله اصلي مینه او تعلق یوازي د هغو خلګو تر دایرې محدود کړي چي عملا د اسلامي انقلاب لپاره هڅې کوي او د دې لپاره ځاني او مالي قرباني ورکوي، له دې پرته به نه په حزب الله کي شمول وکړای شي او نه به د اسلامي انقلاب تر ستونزمنو مرحلو د تیریدو امکان پیدا شي." (ندای خلافت ۱/ ۳۷)

د خپل مضمون په پای کي هغه د سمعې او طاعت د بیعت په اړه موږ ته پر خپل دریځ د غور کولو دعوت راکړی، له نن څخه پنځه کاله وړاندي غالبا په ۱۹۸۷ کي مو د هغه د دې بیعت په اړه لیکلي وو چي دا صرف یوه افسانه ده. رسول الله د انقلابي هڅو لپاره له خپلو ملګرو څخه داسي هیڅ بیعت نه دی اخیستی، په اسلامي تاریخ کي دا بیعت یوازي د چارواکو لپاره ثابت دی.

رسول الله په خپل ژوند کي د دې بیعت غوښتنه په لومړي ځل د یثرب له اوسېدونکو وکړه او دا هغه مهال وو چي دوی له ام القری څخه د هجرت په کولو هغه ته د خپلې سیمې د واک اخیستلو دعوت ورکړ. د دې په ځواب کي هغه ځیني داسي دلایل وړاندي کړل لکه د مدینې د دولت په اړه چي مو همدا اوس پرې بحث وکړ، بیا مو په خپل یوه مضمون کي هغه ته ځواب ورکړنو ده ولیکل چي دی نور پر دې موضوع زیات بحث نه غواړي له همدې امله خبره پای ته ورسېده خو ښکاري چي تر دې وروسته هغه خاموش نه دی ناست بلکي پر له پسې د کوم دلیل په لټه دی. د همدې هڅو په نتیجه کي یې اوس یو برهان قاطع تر لاسه کړی دی، لږ غور وکړئ هغه وایي چي تاسو باید زموږ له دې بیعت څخه حتما په ویره کي نه شئ ځکه چي:

" لږ تر لږه ستاسو پر لاس هم یوه بشري فرد دا بیعت کړی، زموږ هدف ستاسو محترمه میرمن ده چي د فالصلحت قنتت له قرآني نص سره سم په معروف کي ستاسو په



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

اطاعت مکلفه ده، دا بیله خبره ده چي تاسو په دلیل یا درخواست هغه قانع کړئ." (ندای خلافت ۱ / ۴۰)

پر ډاکټر صیب دي شاباس وي، ده په دې مسئله کي زموږ او ځان تر منځ اختلاف په ډېر بلاغت سره تشریح کړی دی. دا حقیقت دی چي موږ له تیرو لسو کالو هغه ته دا وړاندیز کوو چي که د اسلامي انقلاب د هڅو لپاره کوم تنظیم جوړېږي نو د هغه د مشر او غړیو تر منځ باید د ورونو په څېر اړیکې وي او دی پر دې ټینګار کوي چي دی به ترې ماینې جوړوي.

ډاکټر صیب دي لږ فکر وکړي چي دا یې څه ډول خبره کړې؟ زما میرمن که شرعا زما د سمعې او طاعت په چلند خپلو مکلفه ده نو علت یې دا دی چي زه یې میړه یم او الله امر کړی چي د خپلو میړونو اطاعت وکړئ. فالصلحت قنتت قرآني نص دی.

که ډاکټر صیب د دین له ماخذ څخه دا ډول کوم نص د انقلابي هڅو کوونکې ډلې د مشر لپاره وړاندې کوي نو زموږ سلام دی، تر دې وروسته به یوه خبره ونه کړو خو که نص د میړه، پلار، الله و رسول او چارواکو لپاره وي نو په دې سره به څرنګه د هغه لپاره د سمعې و طاعت حق ثابتېږي؟.

په داسي حال کي چي حقیقت بالکل د دې بر خلاف دا دی چي کوم وخت رسول هم د دې کار لپاره د بیعت غوښتنه وکړه نو لکه څرنګه چي موږ وړاندې په خپل مضمون کي لیکلي د سمعې او طاعت د بیعت نه د ورورولۍ د بیعت غوښتنه یې وکړه او که یې په دې اړه خپل قوم ته څه ویلي نو دا یې ویلي:

فایکم یبایعنی علی ان یکون اخی و صاحبی. (احمد، شمیره: ۱۳۷۱)

نو په تاسو کي څوک له ما سره دا بیعت کوي چي په دې کار کي به زما ورور او ملګری وي.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

په هر حال د هغه دا برهان په واقعیت کي برهان قاطع دی، په دې کي څه شک دی چي د استدلال دا ډول، دا صغری و کبری او حد اوسط زموږ په څېر غریبانو ته له کومه په لاس ورځي؟ د حق پالنې غوښتنه همدا ده چي نور قلم له دې اقرار سره کېښنودل شي چي د کوم چا حوصلې لوړې وي دا د هغوی کار دی.

۱۹۹۳



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

# د منهاج القرآن د مسئولينو حضور ته

(۱)

د پروفيسر طاهر القادري صيب د ديني فکر په اړه مي له وړاندي هم ښه ګومان نه درلود خو د ۱۹۸۸ نومبر يوولسمې د ماښام پر مهال چي کله ګران ملګري ډاکټر منير احمد صيب په غوښتنه مي د سورت الضحی په اړه د هغه د وينا يو څه برخه له ټلويزون څخه واوريده نو حقيقت دا دی چي تر يو څه ځنډه مي باور نه کېده چي دا په رښتيا هم پروفيسر طاهر القادري صيب دی او زه يې دا مهال خبرې اورم.

ما ته معلومه نه ده چي تر دې وړاندي به يې څېلو اوريدونکو ته د دې سورت د معانيوو او مطالبو په اړه کوم جالب او نادر تحقيقات وړاندي کړي وي، ما چي کله ټلويزن چالان کړ نو د دې سورت پر (ووجدک ضالا فهدی) ايت بحث روان وو، ده يې ژباړه داسي وکړه: اې محبوبه! هغه ته پيدا کړې نو ستا په وسيله يې ګمراهانو ته هدايت وکړ. زه په پوره باور سره ويلای شم چي که کوم څوک له عربي ژبې سره لږ هم اشنا وي هغه د دې ايت دا ترجمه نه شي کولای، که د دې ژبې نوی ډول په منهاج القرآن کي توليد شوی وي او يا پروفيسر صيب ته مستقيما له اسمان څخه الهام شوی وي نو بيله خبره ده، خو د هغې عربي په اړه چي موږ پرې خبر يو په هغې قرآن نازل شوی، په هغې د عربو او عجمو تر ټولو فصيح شخصيت انسانانو ته خپل پيغام رسولی، په هغې زهير، امرء القيس، لبيد او اعشی شاعري کړې او د سيبويه، فرا، زمخشری او ابن هشام په څېر عربي پوهانو يې قوانين وضع کړي، د هغې په اړه په پوره مسئوليت دا خبره کېدای شي چي د دې ترجمې ته پکي هيڅ امکان نه شته. ده له وجد سره د ضالا تعلق له منځه وړی او د هدی مخکيني مفعول يې بللی دی، د ضالا تنکير او وحدت دواړه يې له پامه غورځولي دي، حقيقت



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دادی چي له عربي ژبې او د هغې له اسلوبو سره اشنا هیڅ شخص داسي څه نه شي کولای.
د سورت الضحی دا ایت په خپل مراد کي بیخي څرګند دی، ښکاره ترجمه یې داده چي اې رسوله! ایا ستا رب ته د لارې په لټه پیدا نه کړې، نو لارې یې در ونه ښوده؟ څرنګه چي دا جمله پر الم یجدک یتیما فاوی معطوفه ده له همدې امله چي پکي د استفهام او نفې کوم اسلوب غوره شوي هغه به دلته هم اغېز لري، په دې ایت کي وجد د افعال قلوبو په څېر دوو مفعولونو ته تعدی کړې ځکه نو په دې ایت کي ضالا د ژبې له هیڅ قاعدې سره سم هم د هدی فعل مفعول نه شي بلل کېدای.
که پروفیسر القادري صیب نه غواړي دا ومني چي رسول الله هم یو وخت د لارې په لټه وو او الله هغه ته لار وروښوده نو پر خپل دې نظر دې ټینګ شي خو هغه ته باید څرګنده وي چي دا نظریې د قرآن د صریحو نصوصو بالکل خلاف دی، په دې کي شک نه شته چي رسول هیڅکله په کومه ګمراهي نه دی اخته شوی. هغه یقینا پر هغه فطرت پاتي وو چي الله پرې پنځولی وو مګر دا فطرت چي کوم عقاید ثابتوي د هغو په ټولو لوازمو او غوښتنو د پوهېدو لپاره ده هم حتما الهي وحې ته اړتیا درلوده، دا هماغه اړتیا ده چي په اړه یې تر دې په وروستني ایت کي ویلي: او ایا ستا رب ته محتاج ونه موندې نو غني یې کړې؟ د دې سورت په اخیري ایت کي د همدې غنا دا حق بیان شوی چي (واما بنعمة ربک فحدث) یعني او د خپل رب نعمتونه بیان کړه، معنا لکه څرنګه چي ستا رب پر تا له څه لګښت پرته د هدایت لورینه کړې ته یې هم په سخاوت سره خپور کړه او هر مجلس ته یې ورسوه. تر نبوت وړاندې د رسول الله دا حالت نه ضلالت وو او نه هدایت بلل کېدای شي، د دې لپاره غوره تعبیر د لارې لټون دی. په عربي ژبه کي د ضال لفظ په دې معنا هم استعمالېږي، له همدې امله د کلام موقعیت ته په پام یې همدا سمه ترجمه ده.
څرګنده نه ده چي د قرآن کریم په ژباړه کي د اې محبوب د خطاب طرز څرنګه زغمل کېدای شي؟ الله چي په دې خطاب کي رسول الله ته په هر ځای کي خطاب کړی نو د نبوت



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

او رسالت د منصب له مخې یې ورته خطاب کړی دی لکه یا ایها النبی او یا ایها الرسول او یا یې د خطاب پر مهال د ده حالت ته په پام د خطاب ډېر په زړه پوري ادبي اسلوب غوره کړي لکه یا ایها المزمل او یا ایها المدثر. هر د ذوق خاوند اټکل کولای شي چې د قرآن کریم د دې خطابي اصولو په مقابل کې د اې محبوب طریقه څومره ټیټه او بې باوره ده؟، د نا مناسب ګڼلو لپاره یې صرف همدا کافي ده چې په خپله الله د رسول الله لپاره د پوره پاملرنې پر مهال هم په خپل کتاب کې دا اسلوب نه دی غوره کړی.

موږ ته وروسته ځینو دوستانو وویل چې پروفیسر صیب د سورت الضحی د دې ایت همداسې دوې نورې ترجمې هم وړاندې کړې او هغه یې هم د خپلې دې ترجمې په څېر صحیح وبللې، که دا په حقیقت کې سمه وي نو موږ به په ډېرې بخښنې عرض وکړو چې قرآن کریم کومه معما نه ده چې هر ایت یې د دوو یا درو متضادو معناوو درلودونکی وبلل شي. دا پر ځمکه د الهي نظام او د حق و باطل تر منځ د یوه باوري معیار په توګه نازل شوی، هر ایت یې له خپل سیاق و سباق سره تړلی او پر خپل مفهوم یو واضح حجت دی، په دې کې شک نه شته چې د لغت له مخې هر لفظ لس معناګانې درلودای شي او په نحو کې یو ترکیب په لسو طریقو بیانېدلای شي خو له لفظه چې کله جمله جوړه شي، جمله د کلام برخه وګرزي او د هغه لپاره یو سیاق او سباق را منځ ته شي نو په هغه کې تر یوې معنا د زیاتو مفهومونو ګنجایش نه پاتېږي. په تېره بیا که دا لفظ او ترکیب د داسې کلام برخه وګرزي چې وینا وال یې د دې نړۍ رب دی او د ده له خپلې وینا سره سم په څرګنده عربي نازل شوی، ده په خپله د حق او باطل لپاره فرقان بللی او د هغه د رښتنولۍ دلیل یې دا ښودلی چې تاسو پکې هیڅکله تضاد یا تناقض نه شئ موندلای نو د هغه په اړه دا تصور هم نه شي کېدای چې په کوم ځای کې به یې تر یوه د زیاتو مفاهیمو احتمال پاتې وي. که د یو چا عربي خامه وي، ټیټ ادبي ذوق ولري او یا د سیاق و سباق رعایت ته له پام پرته هڅه کوي جلا – جلا د قرآن د هر ایت مدعا درک کړي نو امکان لري، خو دا کار د عربیت



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

يو جيد عالم او د قرآن له ذوق درلودونكي شارح څخه نه شي صادرېداى، دا هيڅ پوهه نه ده چي تاسو د كوم ايت دوې، درې او يا تر دې زياتې معناوې بيان كړئ بلكي په حقيقت كي علم دا دى چي تاسو د ټولو احتمالاتو په ردولو د ژبې او بيان له باور وړ دلايلو سره ثابته كړئ چي دا ايت په كوم سياق او سباق كي راغلى په دې كي همدا يو مفهوم ممكن دى. د دې لپاره چي د الله دا كتاب په واقعي ډول د يو ميزان په توګه د امت مخ ته وړاندي شي او په دې توګه د اختلاف او افتراق پر ځاى د امت لپاره د شخړو له منځه وړونكى او د فكرو عمل د يووالي ذريعه وګرزي.

كېداى شي زموږ دا نقد به پر پروفيسر صيب او د هغه پر ځينو پلويانو دروند تمام شي مګر حق په هر حال حق دى او د هغه د ملاتړ غوښتنه داده چي د ملامتوونكو ملامتې ته له پام پرته په ډاګه شي، په موږ كي به هر يو يوه ورځ هغې محكمې ته وړاندي كېږي چي هلته به زموږ د وجود باطن تر ظاهر ډېر برېنډ وي او په خپله زموږ وجود به يې له ټولو انكار وكړي. زموږ ژبه به په هغه ورځ هم معنا او مفهوم ته د لفظونو جامه ور واغوستلاى شي خو هغه ورځ به دا جامه د كومې معنا ټولو له صلاحيت څخه بې برخې وي، په دې ورځ به مو لاسونه او پښې هم د وجود برخه وي خو زموږ د هر امر د عملي كولو وس به نه لري، حقيقت به تر اخيري كچې بې پردې شي او په دې ورځ به يې په موږ كي هيڅوك د هيڅ تاويل او توجيه په پردو كي پټ نه كړاى شي. وړاندي تر دې چي موږ د ډېري بې وسۍ او انتهايي عجز له دې حالت سره مخ شو غوره داده چي موږ صرف او صرف د حق غوره كولو پريكړه وكړو. وما توفيقنا الا بالله

(٢)

موږ چي د سورت الضحى د وَوَجَدَكَ ضَالاًّ فَهَدَى[١] ايت په اړه د پروفيسر طاهر

---

[١] ٧ : ٩٣



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

القادري صیب پر نظر د اشراق د جنوري په ګڼه کي کوم نقد کړی وو په ځواب کي یې د منهاج القرآن مسئولینو په خپله مجله کي یو مفصل مضمون خپور کړی دی. که څه هم دا مضمون د تبصرې وړ نه وو خو څرنګه چي د بې علمۍ په دې زمانه کي دا ډول بې معنا خبرې هم ځیني وختونه د سمې خبرې په فهم کي خنډ ګرزي له همدې امله دلته د دې مضمون یوه لنډه ارزونه وړاندي کوو چي لږ تر لږه په دې اړه د حق کوم زده کوونکي ته عذر پاتي نه شي.

پروفیسر صیب پر ټلویزون د قرآن په یوه درس کي د یاد ایت ترجمه داسي کړې وه چي اې محبوبه! ته خپل رب پیدا کړې نو ستا په وسیله یې ګمراهانو ته هدایت وکړ، موږ پر دې ترجمه نیوکه وکړه چي دا د عربیت له مخې بالکل ناسمه بلکي د قرآن کریم په مراد کي له تحریف سره برابره ده. د منهاج القرآن مسئولینو یې په دفاع کي خپل نظر وړاندي کړی.

هغوی وایي چي تاسو پر کومه ترجمه نیوکه کوئ دا یوازي د پروفیسر صیب ترجمه نه ده د دې امت لویو مفسرینو لکه امام قرطبي، امام ابو حیان اندلسي، امام اسماعیل حقي او امام المحدثین قاضي عیاض هم د دې ایت همدا ترجمه کړې بلکي د امام رازي د تفسیر خو خلاصه همدا ده او ستاسو د خبرونې لپاره وایو چي دا ترجمه د فرا په څېر د نحوي امام ملاتړ هم لري. له همدې امله باید تاسو دا خبره ومنئ چي زموږ پروفیسر صیب په مطالعه او علم و فن کي کومه پوهه لري تاسو یې ګرځ ته هم نه شئ رسېدلای.

زه باید ومنم چي د منهاج القرآن مسئولینو په خپله دې لیکنه کي د مطالعې او علم و فن کومه څرګندونه کړې زما لپاره د هغو د لارې ګرځ ته رسېدنه هم ممکنه نه ده مګر زما په اند د لارې له دې ګرځ څخه ها خوا هم ځیني پړاوونه شته چي که دوی اجازه راکړي د لږ وخت لپاره هلته په تم کېدو به زموږ په څېر زده کوونکو ته هم د دوی له دې مطالعې او علم و فن څخه لږ تر لږه یو څه شاباسی راکړای شي.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

تر ټولو وړاندې امام رازي درواخلئ، د منهاج القرآن مسئولینو چې د هغه له تفسیر څخه په خپل مضمون کې کومه جمله نقل کړې د هغې په اړه په زړه پورې خبره داده چې د بحث له موضوع سره یې هیڅ تعلق نه شته، موږ چې د پروفیسر صیب ترجمه له کومې وجې ناسمه بللې وه هغه دا وه چې ده د سورت الضحی په دې ایت کې وجد چې په ښکاره دلته د علم په معنا دی د صادف په معنا اخیستی لومړی یې هغه له دویم مفعول څخه بې برخې کړی او بیا یې د هغه دویم مفعول چې د عربیت له ذوق سره اشنا هیڅ کس یې د وجد له دویم مفعول پرته د بل څه بللو تصور هم نه شي کولای له څه تردد پرته د هدی مقدم مفعول بللی دی. د امام رازي د تفسیر په دې جمله کې په دې اړه هیڅ خبره نه ده شوې، په هغه کي وجد د علم په معنا اخیستل شوی او دوو مفعولونو ته متعدي بلل شوی، په هغه کي ضالا د وجد دویم مفعول دی او د عربي ژبې له قانون سره سم د هدی مفعول محذوف بلل شوی دی. په دې تفسیر کي چي دا جمله د عربي ژبې پر کوم قانون ولاړه ده هغه دادی چي په اعلی کلام کي ځیني وختونه د کوم قوم سردار مخاطب کېږي خو له هغه څخه یې په حقیقت کي مراد هغه قوم وي، دا داسي اسلوب دي لکه موږ چي وایو: د دې مسلې په اړه لا هم د اسلام اباد یا ډیلي غبرګون نه دی څرګند شوی او له دې څخه مو مراد د پاکستان دولت یا د هند حکومت وي او په دې وسیله مو ډېر ځله د دې او یا هغه ځای ټول ملت مراد وي. یا مثلا موږ وایو چي د احرارو استازي به زموږ په پارلمان کي کمزوري وبلل شي او له دې څخه مو مراد د هغوی نماینده ګان نه بلکي په عامو خلکو کي د تائید او ملاتړ له مخې د دې ډلې کمزوري وي. دا خبره د علم نحوې په ژبه داسي هم ادا کېږي چي دلته یو مضاف د دلالت د قرینې پر بنسټ حذف شوی یعني وجدک قوما ضالا یا رهطک ضالا.

امام رازي لیکي:

انـه قـد یخاطـب السـید ویکـون — د ایت تفسیر داسي هم شوی چي ځیني وختونه د قوم سردار مخاطب کېږي او



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

المراد قومه فقوله: ووجدک ضالا ای وجد قومک ضلالا. (التفسير الكبير ۳۱ / ۲۱۶)

مراد يې ټول قوم وي: نو ته يې بې لارې پيدا کړې څخه اصل مراد دا دی چې ده ستا قوم بې لارې پيدا کړ.

که د ايت دا تفسير غوره شي نو د کلام د جوړښت له مخې به لومړی دلته ضالا تر يوه شخصه اړوند بلل کېږي، بيا به ترې ټول قوم مرادېږي خو د پروفيسر صيب په ترجمه کې هغه مستقيما د جمعې په معنا اخيستل شوی او په دې توګه د هغه تنکير او وحدت دواړه له پامه غورځول شوي دي.

د ياد ايت همدا تفسير د امام قرطبي، امام اسماعيل حقي او ابو حيان اندلسي په هغو جملو کې هم بيان شوی چې د منهاج القرآن اداري مسئولينو وړاندې کړی، د نحوې امام فرا چې د کوم څه ملاتړ کړی دی هغه د پروفيسر صيب ترجمه نه بلکې هماغه تفسير دی چې صرف رازي، حقي، قرطبي او ابو حيان نه له هغوی پرته ځينو نورو مفسرينو هم په خپلو تفسيرونو کې نقل کړی دی.

موږ دا مهال پر دې بحث نه کوو چې د وجدک ضالا فهدی دا تفسير سم دی او که ناسم؟ او د ژبې پر کومو اسلوبو چې هغه بنا شوی دلته يې اطلاق ممکن دی که نه؟ د سورت نظم يې مني او که نه؟ او له کوم قباحت څخه د ځان ساتنې لپاره چې دا تفسير شوی له دې لارې په واقعيت کې هغه قباحت لرې کېږي او که نه؟ موږ چې دلته د کومې خبرې وضاحت غواړو هغه دا ده چې دا تفسير د پروفيسر صيب له ترجمې سره هيڅ تړاو نه لري، د هغه ترجمه داده چې ستا رب ته پيدا کړې او د دې تفسير معنا داده چې ستا رب ستا قوم بې لارې پيدا کړ يا يې ته د ګمراهانو په منځ کې پيدا کړې نو که د منهاج القرآن مسئولين دا دواړې يو بولي او هغه تفسير د دې ترجمې په تائيد کې وړاندې کوي نو موږ نه پوهېږو چې د علم او فن پر دې درک بايد هغوی ته شاباسي ورکړل شي او که د دې حضراتو پر ديني جرأت وير وشي؟.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د رازي، قرطبي، فرا او ابو حیان په شېر د نحوي او تفسیر د امامانو په خولو کي د خپلې خبرې په وراچولو چي دې ښاغلو په علم و فن کي خپل کوم مهارت ښودلی د هغه یوه په زړه پوري نمونه د امام رازي په اړه د دوی دا دعوه ده چي د هغه د تفسیر خلاصه همدا ده. دا دعوه یې غالبا په دې فکر کړې چي په دې تیر دور کي او س هغه خلګ چیري دي چي د امام رازي تفسیر ته رجوع کولای شي او په دې توګه د دې دعوې په حقیقت تر خبریدو وروسته د دوی مشرتوب ننګولای شي.

نوموړي امام د یاد ایت په تفسیر کي له خپلې تګلارې سره سم لومړی د تفسیر له امامانو څخه د سدي، کلبي او مجاهد نظرونه نقل کړي، بیا یې د دلایلو په بیانولو ویلي چي جمهورو علماوو دا نظر نه دی منلی. ورپسې یې د دې ایت په اړه د جمهورو نظرونه له یو ترتیب سره راغونډ کړي، ټول یې شل قولونه دي او په هغو کي یو قول دا هم دی چي د منهاج القرآن مسئولینو په خپل مضمون کي نقل کړی دی. رازي دې وینا ته ترجیح نه ده ورکړې، په بیان کي یې تر ټولو قولونو وړاندي نه دی راوړی، د سورت په نورو ایاتونو کي یې له هیڅ پلوه هم د هغه حواله نه ده ورکړې بلکي د الم یجدک یتیما په اړه چي یې د خپل بحث په اخیر کي کوم ځای د سورت نظم واضح کړی هلته یې د دې پر ځای یو بل قول غوره کړی دی. دا له اقوالو څخه یو قول او له نظرونو څخه یو نظر دی چي نوموړي امام له څه تبصرې پرته په خپل تفسیر کي نقل کړی دی، تر دې وروسته د منهاج القرآن د مسئولینو د دې دعوې په اړه چي د امام رازي د تفسیر خلاصه همدا ده له دې پرته څه ویل کېدای شي چي:

انکار از تو اید و مردان چنین کنند

په هر حال له دې بحث څخه په ډاګه شوه چي په رازي، قرطبي، ابو حیان، اسماعیل حقي او فرا کي هیچا هم د یاد ایت هغه معنا نه ده کړې چي موږ پرې نیوکه کړې وه. د منهاج القرآن مسئولینو چي د دې امامانو په حواله څه وړاندي کړي دي هغه ټول له یاد



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

بحث سره تعلق نه لري او غالبا د دې لپاره وړاندې شوې دې چې له دیني علومو سره نا اشنا خپل ساده پلویان په دې باوري کړي چې د پروفیسر صیب پر کومه ترجمه فلاني کس اعتراض کړی هغه د پام وړ مه ګڼئ، دا ترجمه د ابو حیان او فرا په څېر د نحوې د امامانو او قرطبي و اسماعیل حقي په څېر د لویو مفسرینو تائید لري او د امام رازي تفسیر خو خلاصه همدا ده. له همدې امله بالاخره هغه څرنګه نا سمه بلل کېدای شي؟. ډېر افسوس دا هماغه خلک دي چې له خپل فکر سره سم دا مهال زموږ مسلمانانو د رهبرۍ دنده ترسره کوي.

دا خو د تفسیر او نحوې د هغو امامانو معامله شوه چې دوی حواله ورکړې وه، تر دې وروسته یوازې د قاضي عیاض الشفا پاتېږي چې دوی بناغلي یې په خپل تائید کې وړاندې کولای شي خو ایا د الشفا هغه عبارت چې دوی حواله ورکړې وه په واقعیت کې دا مقام لري چې پر بنسټ یې په قرآن کې تحریف و منل شي؟. موږ به په ډېر ادب سره دا جرأت وکړو چې که د پروفیسر طاهر القادري صیب د ترجمې ماخذ همدا وي نو دا بیا د یوه عیب په څېر د پټولو شی دی، په یوه غونډه کې بیان به یې د پروفیسر صیب لپاره د درناوي سبب نه شي.

د پروفیسر صیب په اړه موږ دا فکر نه شو درلودای چې هغه د اصلي عربي پر اصولو، د قرآن کریم د خپلو بیلګو او د هغه د نظم په رڼا کې د قرآن د ترجمې او تفسیر اهلیت لري خو د هغه په اړه مو په هر حال دا نېک ګومان درلود چې دی به څه وایي د متقدمینو د محکمې رایې پر بنسټ به یې وایي، مګر څرنګه چې اوس د منهاج القرآن مسئولینو د دې امت له علمي زیرمې څخه د هغه د ترجمې یوازینی ماخذ د الشفا د دې عباراتو په بڼه وړاندې کړی نو حقیقت دا دی چې په دې سره ډېر نا هیلي شوو. د قرآن د کوم شارح لپاره دا هیڅ د ویاړ خبره نه ده چې چې هغه د شپې د لرګي ټولوونکي په څېر کله زړې علمي ذخیرې ته ورځي نو په تیاره کې ورځي او بیا چې له لرګو او مارانو څخه هر څه په لاس ورشي را په



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

شا يې کړي. د الشفا کوم کتاب ته چي دوی حواله ورکړې دا کوم د تفسير کتاب نه دی، موضوع يې د نحوې او اعراب بحثونه هم نه دي، پر مومنانو د رسول الله د حقوقو په اړه يو کتاب دی د هغه د ليکوال کمال دادی چي د سپيڅلي سيرت په اړه د کوم بې ډوله استنباط او بې بنسټه روايت لټون وي په اړه يې له څه شک پرته ويل کېدای شي چي په دې کتاب کي به و موندل شي. ده د خپلې ترجمې د تائيد لپاره دا کتاب غوره کړی او په هغه کي چي يې کوم قول ته حواله ورکړې د هغه حالت همدا دی چي په خپله ليکوال په قيل ذکر کړی، د دې معنا داده چي دا د يوه ناڅرګند شخص رايه ده چي په اړه يې ويل کېدای نه شي هغه څوک وو او دا معنا يې له کومه بيان کړې ده؟. په خپله د الشفا شارحين ځانونه د دې قول له دفاع بې وسه ګڼي. په دې اړه د علامه خفاجي چي دوی يې له شرحې څخه د دې لپاره يوه جمله را نقل کړې چي لوستونکو ته باور ورکړي هغه له دې قول سره لږ اختلاف درلود، په دې اړه د ده پوره عبارت داسي دی:

هذا القول لا يساعده اعراب و لا يصحبه صواب فالاولى تركه لما فيه من تقديم المنصوب على عامله و الفاء العاطفة لا الزائدة كما فى قوله تعالى: وربک فکبر مع وجود عامل مقدم ملاصق وهو ما لا تجوزه النحاة. (نسيم الرياض ۱/ ۲۱۱)

دا هغه قول دی چي نه يې د ايت اعراب تائيد کوي او نه صحيح بلل کېدای شي، غوره داده چي پرېښودل شوی وای وجه يې داده چي په دې کي منصوب د هغه پر عامل او د وربک فکبر په څېر پر يوه زايده فا نه بلکي د عطف پر فا مقدم بلل شوی او په داسي حال کي مقدم ګڼل شوی چي د وجد په صورت کي له هغه سره ښخي پيوست يو عامل په دې جمله کي له وړاندي موجود دی او دا هغه شی دی چي نحويان يې جايز نه ګڼي.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

حقیقت دا دی چي د الشفا پر دې قول د خپل استدلال د تهولي ودانۍ په درولو د منهاج القرآن مسئولینو د خپل مشر چندان خدمت نه دی کړی بلکي د هغه په اړه یې ثابته کړې چي د ده د مطالعې او علم و فن ټول کمال همدا دی چي هر ځای کوم بې بنسټه الفاظ ووینی له څه رنګ او روغن سره یې د هغو ساده پلویانو مخ ته وړاندي شي چي خواران نه په دې پوهېږي چي ویونکی څه وایي او له کومه یې وایي؟. صرف په دې خبر دي چي دا د الله له خوا مامور شوی هغه شخصیت دی چي دا مهال رسول الله د خلګو د هدایت لپاره په خپله ټاکلی.

د خپلې خبرې په تائید کي د هر څه تر تیریدو وروسته د علم او فن دې خاوندانو د امام حسن هغه قرأت هم وړاندي کړی چي د حقیقت له مخې مورږ د دوی د مضمون تر بیا – بیا لوستو وروسته هم د هغه له درک څخه عاجزه وو چي دې ښاغلو بالاخره د کوم مقصد لپاره وړاندي کړی، مورږ چي د پروفیسر صیب پر کومه ترجمه نیوکه کړې وه هغې د قرآن کریم له دې ایت ووجدک ضالا فهدی سره تړاو درلود. دا وجدک ضال فهدی بیا څه شی دی؟ مورږ له دې څخه د خدای پناه غواړو چي د قرآن مجید کوم ایت یې وګڼو، دوی په خپله لیکلي دا یو شاذ قرأت دی او په دې سره قرآن نه ثابتېږي. خیر هر څه چي وي وي به مګر دوی وایي چي دا د وجدک ضالا فهدی تفسیر دی، د دې معنا دا شوه چي ګواکي زمورږ د نیوکې په ځواب کي هغوی را ته وایي تاسو د قرآن په دې ایت کي پر معنوي تحریف ویر کوئ، درځئ د امام حسن په حواله درته ثابتوو چي که د رسول عشق وي نو هغه ترجمه څه شی ده چي تاسو پرې نیوکه کوئ، د دې هدف لپاره خو د قرآن په الفاظو کي هم تغیر او تبدیل کېدای شي او له ضالا څخه یې ضالٌ هم جوړېدای شي.

دا د قرآني تفسیر په اړه د هغو ښاغلو مسلک دی چي په خپل قلم یې واضح کړی دی، مورږ غواړو د هیواد پوهان دې ته متوجې کړو چي دا هماغه علم او فن دی چي د الله له خوا امر شوي دا اشخاص یې له دعوت سره را پاڅېدلي دي. اوس باید هر سړی له دوی



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وپوښتي چي د قرآن په الفاظو کي د تغير او بدلون په راوستلو که د هغه تفسير روا وي نو بيا دا بحثونه او جنجالونه د څه لپاره؟ خلګو ته په ښکاره وواياست چي که دوی د قرآن کوم ايت د خپل هدف خلاف ومومي په هغه کي دي له څه مشکل پرته مفعول په فاعل او فاعل په مفعول واړوي يوه نوې معنا دي را پيدا کړي، بلکي صرف دا نه هغوی که غواړي نفې دي په اثبات او اثبات دي په نفې بدل کړي، منعې ته دي د امر او امر ته دي د منعې رنګ ورکړي، که ضالا په ضال بدلېدای شي نو په لم تحرم امهاتکم د حرمت عليکم امهاتکم په بدلولو کي اخير څه خنډ دی؟ او په انما يخشى الله من عباده العلماء کي خو ډېر دوه زړه توب ته هم اړتيا نه شته، هغوی چي هر وخت وغواړي مرفوع يې په منصوب او منصوب يې په مرفوع بدلولای شي او داسي ترجمه کولای شي چي الله پاچا خو بس له خپلو مولويانو وېرېږي. که امام حسن دا حق درلود نو دا امت يې ولي نه لري؟ که هغه ضالا په ضال بدلولای شوای نو د قرآن کريم په نورو ځايونو کي يې موږ ولي نه شو کولای؟ او بيا شيعه ګانو څه ګناه کړې چي هغوی کله وايي: د قرآن فلانی او فلانی ايت چي اهل بيتو په څه ډول تلاوت کړی په هغه کي د علي خلافت او د صديق و فاروق غندنه په ډاګه بيان شوې، په دې سره موږ ولي په قرآن کي د هغوی د لاسوهنې جرم ثابتوو؟ که موږ د قرطبي په روايت له ضالا څخه ضال جوړولای شو نو دوی هم د خپلو دې روايتونو په اړه له پوره ډاډ سره ويلای شي چي:

اين گناهيست که در شهر شما نيز کنند

په هر حال موږ غواړو دلته خپل دا دريځ بيخي واضح کړو چي د امام حسن لور ته د دا ډول کوم قرأت منسوبول يو ډېر بد جرم دی چي بايد هر سړی ترې له خدايه پناه وغواړي.

دا په واقعيت کي د دې امت يوه لويه بد مرغي ده چي د عثمان رضى الله عنه له لوري د دا ډول ټولو قرأتونو له باطلولو سره-سره د اهل تشيع او باطنيانو دا راز رواياتو زموږ تفسيري کتابونو ته لار موندلې او تر دې لويه بد مرغي دا ده چي زموږ په زمانه کي د علم



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

او فن خاوندان د خپلو بزرګانو پر تيروتنو د پردې اچولو پر ځای د اچتهيات په خپلو ليکنو کي چاپوي او په شلمه پيړۍ کي د الله پر کتاب د خلګو پاتي ايمان هم له خطر سره مخ کوي.

دوی چي په خپل مضمون کي په دې قرأت کوم حقايق ثابت کړي موږ به دوی ته عرض وکړو چي په دې سره کوم ځای هغه حقايق ثابتېږي هلته دا حقايق هم په بشپړ ډول ثابتېږي چي وړاندي مو بيان کړل، نو دوی دي په خپل فهرست کي دې ته هم ځای ورکړي چي که زموږ په څېر کوم زده کوونکی پر دوی نيوکه وکړي نو دوی به د حقايقو د لا مفصل فهرست په وړاندي کولو پر هغه خپل حجت پوره کړای شي.

هغوی د خپل مضمون په پيل کي موږ ته خبر راکړی وو چي د پروفيسر صيب د ترجمې تر غلط بللو وړاندي که تاسو د تفسير او اصول تفسير په اړه د ده هغه ليکچر اوريدلی وای چي موږ ته يې راکړی نو د رته څرګنده شوې به وه چي تاسو پر کوم شخصيت د نيوکې جرأت کړی د هغه علمي سويه څومره لوړه ده؟. زموږ په اند د هغه د ليکچرونو دومره برخه مو اوس اوريدلې چي که اړتيا پېښه شي د قرآن تفسير داسي هم کېدای شي چي مفعول يې په فاعل بدل شي، د هغه د لوړ علمي او فني شان د منلو لپاره همدا ډېره ده. که تر دې وروسته هم موږ انکار کوو نو دا مو کم فهمي ده، ده په هر حال خپله مرتبه ثابته کړې ده.

په خپل دې مضمون کي يې د پروفيسر صيب له ليکچرونو څخه د ګټې اخيستلو له دعوت سره زموږ په څېر زده کوونکو ته د علم نحوې د را ښودلو يو څه هڅه هم کړې، دوی وايي: د يو څه وخت لپاره له موږ سره شاګردان شئ، موږ به تا ته در وښيو چي په عربي ژبه کي تل مفعول تر خپل فاعل وروسته نه راځي ډېر ځله تر هغه وړاندي هم وي او وجد يوازي د علم په معنا نه وي د صادف په معنا هم راځي او کله چي په دې معنا وکارول شي نو بيا يوه مفعول ته اړتيا لري ځکه نو دا ستاسو ناپوهي ده چي دلته د وجد لپاره د ضالا پر



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دویم مفعول کېدو ټینګار کوئ او د هدی له مقدم مفعول منلو څخه هم منکر یاست.

موږ د زړه له تله د دوی مننه وی یو چي موږ ته یې د علم نحوې دا هیر کړي درسونه را یاد کړي، که یې دوی بده نه ګڼي نو موږ به یې هم ځیني هیر شوي درسونه وریاد کړو. که دوی ته تکلیف نه وي نو زموږ مضمون دې یو ځل بیا ولولي او ودې ګوري چي په هغه کي پر دې مسئله چیري بحث شوی وو چي د عربي ژبې له مخې مفعول پر خپل فعل نه شي مختـه کېدای او وجد هیڅکله یـوه مفعول تـه پـه تعدی کولـو د صادف پـه معنا نـه شي راتلای. زموږ اعتراض دا وو چي د سورت الضحی په دې ایت ووجدک ضالا فهدی کي ضالا د هدی مفعول بلل او وجد لـه ضالا څخه پرې کول د عربیت لـه مخې پـه هیڅ ډول امکان نه لري. غالبا دوی په دې فکر دي چي هر لفظ کومې معناګاني درلودای شي هر ځای مرادیدای هم شي، د هغه چا علمي سویه هم دا وه چي د غالب دا بیت یې لوستی وو:

غالب کو برا کیون کهو اچها مرې آګې

او بیا یې د هغه دا شرحه کړې وه چي تاسو غالب زما په مخ کي په بنو الفاظو یادوئ نو د نورو په مخ کي یې بد بولئ؟. د مجلس لـه ګډونوالو یو چا وویـل چي بناغلې اچها دلته په هغه معنا نه دی چي تا ترې اخیستی نو سمدستی یې وویـل چي د اردو ژبې هر قاموس درپورته کړئ ویې ګورئ په ټولو کي د اچها یوه هغه معنا هم لیکل شوې چي دلته موږ مراد کړې ده.

د دې علمي سویې له خاوند سره به اوس څه خبرې وشي او هغه ته به په څه ډول وویـل شي چي نیوکه پر دې نه ده چي اچها په دې معنا راځي او که نه؟ اعتراض پر دې دی چي د غالب په بیت کي اچها په دې معنا دی او کـه نه؟. کان په عربي ژبه کي تامه هم وي او ناقصه هم، خو د بیلګي په توګه ایا په مَا كَانَ إِبْرَاهِيمُ يَهُودِيًّا وَلَا نَصْرَانِيًّا[2] کي پر

---

[2] آل عمران ۳ : ۶۷



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

یوه مهال د دې دواړو شکلونو تطبیق کېدای شي او دواړه په یوه ډول سم بلل کېدای شي؟ د سورت الضحی د دې ایت و وجدک ضالا فهدی په اړه به موږ یو ځل بیا له پوره اطمنان سره دا بیان وکړو چې په هغه کې د عربیت له مخې ممکنه نه ده چې ضالا له وجد څخه په غوڅولو د هدی مقدم مفعول شي او په هغه کې وجد حتما د علم په معنا دی او دلته د صادف په معنا نه شي اخیستل کېدای. مسله د مفعول د مخته کېدو نه ده چې د نحوې په فلانې او فلانې کتاب کې هغه موانع ولټول شي چې په کوم ځای کې د مفعول د مخته والي مخه نیولای شي، مسله دا ده چې که کله د ضالا په څېر کوم مفعول دا ډول له وجد سره پیوست وي نو ایا له هغه فعل څخه په بېلولو د کوم بل فعل مفعول بلل کېدای شي؟. موږ وایو چې په عربي ژبه کې د دې هیڅ امکان نه شته، د دې ژبې په ټوله ذخیره کې یې یوه بېلګه هم نه شي وړاندې کېدلای، زموږ د تفسیر امامان د ایاتونو په تفسیر کې عموما تر ټولو کمزوري نحوي احتمالات هم بیانوي مګر حقیقت دادی چې دوی په خپلو تفسیرونو کې د دې ایت په اړه له پوره صراحت سره صرف د دې یوه صورت یادونه کړې چې دلته وجد د علم په معنا دی او دوو مفعولونو ته یې تعدا کړې. زمخشري لیکلي:

| | |
|---|---|
| و الم یجدک من الوجود الذی بمعنی العلم و المنصوبان مفعولا وجد. (الکشاف ۴/ ۷۶۷) | او په الم یجدک کې دلته وجود د علم په معنا دی او تر هغه وروسته د خطاب ضمیر او ضالا دواړه منصوب د هغه مفعولین دي. |

رازي لیکلي:

| | |
|---|---|
| الم یجدک من الوجود الذی بمعنی العلم و المنصوبان مفعولا وجد. | الم یجدک دلته له وجود څخه د علم په معنا دی او تر هغه وروسته دواړه منصوب د وجد مفعولین دي.[3] |

---

[3] باید واضحه وي چې وجدک ضالا پر همدې الم یجدک عطف دی له همدې امله یې حکم له هغه څخه بېل نه شي کېدای.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

(التفسیر الکبیر ۳۱ / ۲۱۴)

تر دې وروسته یې د الشفا د شارح خفاجي په حواله لیکلي چې دلته د وجد یو مفعول محذوف دی، دې ته له پام پرته چې د خفاجي دا نظر هم د عربیت له مخې بالکل غلط دی او موږ ثابتولای شو چې په عربي ژبه کې د دې لپاره هم څه امکان نه شته او په خپله خفاجي هم په نسیم الریاض کې اقرار کړی چې ډېری نحویان یې نه مني، دې ټولو ته له پام پرته موږ غواړو د علم او فن له څښتنانو وپوښتو چې د بحث له موضوع سره د دې حوالې تړاو څه دی؟. موږ چې د پروفیسر صیب پر کومه ترجمه نیوکه کړې وه په هغې کې د وجد د دویم مفعول په محذوف منلو یې د دې ایت ترجمه داسې نه وه کړې چې د خفاجي نظریې په تائید کې وړاندې شي، هغه وجد د صادف په معنا اخیستی او یوه مفعول ته یې متعدي بللی بیا یې د هغه ترجمه کړې او موږ پر همدې بنسټ ناسمه ګڼلې وه. اوس دې دا ښاغلي ووایي چې په دا ډول شیانو سره له اصلي مسلې څخه د توجو په اړولو په هغو دغو خبرو کې د خپلو لوستونکو د ښکېلولو له هڅو پرته بالاخره دې ته بل څه نوم ورکول کېدای شي؟.

د علم نحوې له دې درس او تدریس څخه تر فراغت وروسته یې د قرآن په ترجمه کې د اې محبوب د خطاب د طرز په اړه زموږ پر نیوکه هم خبرداری راکړی دی، په دې کې شک نه شته چې په دې معامله کې له موږ څخه لویه تیروتنه شوې. کوم کسان چې د غزل د محبوب او د خدای د رسول د خطاب د طریقو تر منځ هم له توپیر کولو عاجز وي هغوی ته د دې ویلو هڅه حماقت دی چې د قرآن په ترجمه کې د اې محبوب اسلوب پر سالم ذوق سخت تمامېږي. موږ واقعا پر دې له دوی څخه بخښنه غواړو او هیله مو داده چې پر دې بې ځایه مشوره مو معذرت ومني.

تر دې وروسته یې لیکلي چې دې سړي د قرآن د یوه ایت پر دوو یا درو مفاهیمو بیانولو هم نیوکه کړې، په داسې حال کې چې زموږ له بزرګانو څخه د بیلګې په توګه غوث



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

الاعظم د یوه ایت څلویښت تفسیرونه بیانول او که دا غلط کار وي نو دا تیروتنه رازي، قرطبي او نورو مفسرینو هم ځای پر ځای کړې او دا څه متضاد تفسیرونه نه وي بلکي د یوه حقیقت بیلا بیل تعبیرونه دي چي دا ښاغلي یې بیانوي. هغوی د دې لپاره د رازي له تفسیر څخه همدا ایت وجدک ضالا فهدی د بیلگي په توګه وړاندي کړی او ویلي یې دي چي ده په خپل کتاب کي د دې ایت شل بیلا بیل تفسیرونه نقل کړي دي، په دې کي شک نه شته چي زموږ مفسرینو دا کار کړی دی مګر دلته لږ د رازي له دې شلو تفسیرونو څخه یو څو یې ولولئ. ده د یاد ایت یو تفسیر دا نقل کړی چي اې رسوله! ته له خپل نیکه څخه ورک وې نو ستا رب هغه ته ور ستون کړې.

دویم تفسیر یې دا نقل کړی چي تا له میسره سره په سفر کي لار ورکه کړې وه، ته الله کاروان ته ورسولې.

دریم تفسیر یې دا نقل کړی چي ته د کفارو په منځ کي کمزوری وې نو الله قوت درکړ.

څلورم یې دا نقل کړی چي ته د قبلې په اړه شکمن وې نو ستا مخ یې هغه لور ته کړ چي خوښ دي وو.

پنځم یې دا نقل کړی چي په پیل کي دي د جبریل د پیژندني وس نه درلود نو الله ته له هغه سره معرفي کړې.

شپږم یې دا نقل کړی چي ته له تجارت او طریقو سره یې نا اشنا وې نو الله درته لارښوونه وکړه او د تجارت کول یې در زده کړل.

اووم یې دا نقل کړی چي تا د هجرت وس نه درلود نو الله یې ستا لپاره لارې خلاصې کړې.

دا هماغه تفسیرونه دي چي په اړه یې دوی ویلي دا په اصل کي د یوه حقیقت مختلف تعبیرونه دي، هغه څرنګه بالاخره په خپل منځ کي متضاد بلل کیدای شي؟.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

موږ نه پوهېږو چي که دا تضاد نه وي نو بيا تضاد د څه شي نوم دی؟ څو مره به ښه وای چي دې ښاغلو په تجارت د نه پوهېدو، قبلې په اړه د شک، د هجرت د لار نه موندنې، د جبريل له پېژندنې د بې وسه کېدو، په کفارو کې د ضعف، د سفر پر مهال د لارې ورکولو او له خپل نيکه څخه د ورکېدو تر منځ چي يې کوم مشترک حقيقت موندلی هغه يې هم بيان کړی وای څو زموږ په څېر زده کوونکو ته هم دا درک لګېدلی وای چي د تعبير د اختلاف او تضاد تر منځ په حقيقت کي څه توپير وي؟.

زموږ په اند دا د تفسير هغه طريقه ده چي امت يې په ګډوډيو او افتراق اخته کړ او له قرآن سره يې د هغوی د ذهنونو افرادو اړيکه له منځه وړې، حقيقت دا دی چي د دې تفسيرونو په مطالعه انسان دې فکر ته اړوزي چي ايا دا هماغه کلام دی چي په اړه يې دعوه شوې وه پيريان او انسانان يې د بيلګې وړاندې کولو وس نه لري او پر دې څمکه د غوره بيان او فصاحت و بلاغت يوه بې جوړې معجزه بلل شوې وه. زموږ په اند د دې تفسيرونو تر مطالعې وروسته خو د دې منل هم ګرانېږي چي دا په حقيقت کي يو داسي معنادار کلام دی چي انسان د هغه لور ته د هدايت لپاره رجوع کولای شي.

پاتې شو دا دليل چي زموږ ټول مفسرين همداسي کوي نو دا په حقيقت کي هيڅ دليل نه دی، که مخکينيو غلطي کړې وي نو دا پر موږ له کومه واجبه شوه چي په بندو سترګو نسل پر نسل هماغه غلطي تکرار کړو؟. د قرآن کريم په اړه دا چلند د هغه د څرګندو نصوصو او عام عقل خلاف دی، د الله پر دې کتاب زموږ د ايمان تقاضا دا ده چي موږ د ملامتي کوونکو ملامتي ته له پام پرته هغه په پوره شدت سره رد کړو.

دلته به د ضالا لفظ د هغې ترجمې په اړه هم يو څه ووايو چي موږ يې په خپله ترجمه کي ملاتړ کړی وو، دوی ويلي چي د تفسير د امامانو په قولونو او لغتو په کتابونو کي يې د دې هيڅ ماخذ تر لاسه نه کړای شو. موږ به دوی ته وړانديز وکړو چي د ژبې په تحقيق کي د تفسير د امامانو اقوال او د لغتو د کتابونو درجه بيخي دويمه ده، په دې معامله کي



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

اصلي ارزښت تل د ژبې د ويونكو كلام لري. د لغتو كتابونه په خپله له همدې څخه ترتيبېږي او د تفسير امامان خپل نظرونه له هماغه ځايه اخلي، د عربي ژبې تر ټولو غوره قاموس مثلا لسان العرب او د نحوې يو مستند اثر مثلا د زمخشري المفصل يا د ابن هشام مغنى اللبيب در واخلئ دا حقيقت به ييخي څرګند شي چي د ژبې په تحقيق كي د دې فن د ماهرينو اصل مرجع څه ده او دوى خپل دريځ په څه ډول په هغو بيلګو او شواهدو ثابتوي چي د ژبې د ويونكو له كلام څخه په لاس ورځي. لكه څرنګه چي د اردو ژبې په تحقيق كي د اصفيه او نور اللغات قاموسونو مقام دويم ماخذ دى او دا كتابونه په خپله دې ته اړ دي چي د خپلو محتوياتو لپاره د مير او غالب له كلام څخه سند وړاندي كړي همدا راز د لسان، صراح، صحاح او د قاموس د ليكونكو لپاره هم له دې پرته بله چاره نه شته چي دوى په خپلو كتابونو كي څه ليكي د سند لپاره يې د عربو د كلام شواهد وړاندي كړي. په دې معامله كي د دې امت د څېړونكو ترمنځ هيڅ اختلاف نه شته چي د عربي ژبې د تحقيق لپاره تر ټولو لومړنى ماخذ په خپله قرآن دى او تر دې وروسته دا حيثيت د رسول الله او صحابه وو د هغو اقوالو دى چي د روايت باللفظ په توګه نقل شوي او بيا جاهلي ادب دى. موږ چي د ضالا لفظ كومه معنا بيان كړې وه غواړو د هغه په اړه دا ووايو چي لومړى دې د منهاج القرآن مسئولين له خپلې دفاع ځان خلاص كړي تر دې وروسته كه هغوى وغواړي نو موږ به ان شاء الله د عربي ژبې له همدې سرچينو څخه د همدې لفظ دا معنا ثابته كړو، خو كه بيا هم تر هغه وخته دوى د فرزدق پر دې شعر غور وكړي نو هيله لرو چي كه الله وغوښتل دوى ته به د ضلالة د لفظ د معنا په اړه ځيني حقايق په ډاګه شي، ده ويلي:

لقد ضللت اباك تطلب دارما

كضلال ملتمس طريق وبار



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دوی د خپل مضمون په پای کي ویلي چي تاسو باید پر دې غور وکړئ چي ستاسو او ستاسو د استاذ د ټول عمر د زحمت نتیجه څه ده؟، همدا څو سوه کسان دي. بلې خوا ته زموږ استاذ صرف په پنځو شپږو کلونو کي په زرګونو نه بلکي په لکونو داسي پلویان پیدا کړي چي تل یې سر په لاس کي نیولی او دعا کوي چي کله به هغه د سترګو اشاره وکړي او موږ به په خپلو سرونو لوبي.

زموږ فکر دادی چي که دوی د خپل دریځ لپاره صرف همدا دلیل وړاندي کړی وای نو د مطالعې، علم او فن په هغو درو کي سرګردانۍ ته به هیڅ اړتیا نه پیښېده چي د سفر نتیجه یې په تېرو پاڼو کي بیان شوې، ممکن دوی به دا خبره نه وه احساس کړې چي د دوی دا دلیل یوازي د هغې نیوکې خاموشوونکې ځواب نه دی چي موږ د دوی پر مشر کړې وه بلکي د حق او باطل په معامله کي زموږ زده کوونکو د ډېرو ستونزو یو څرګند او باوري حل هم دی. د دین او علم په ټولو مسایلو کي یوې اخیري نتیجې ته ترسېدو پوري چي موږ کوم بیلابیل علوم او فنون مطالعه کوو، شپه او ورځ د نحوې، اعراب، بلاغت، معاني، حدیثو او فقهې کوم کتابونه اړوو او څرګنده نه ده چي کومې درې وهو او ترکومو لارو تیرېږو نو دا ټولي هڅې بې ځایه وې. تر دې دلیل وروسته دا کړاوونه د تل لپاره ختم شول نور چي د کوم شي په اړه د سم او ناسم پریکړه کول وي د هغه لپاره همدا بس ده چي د دریځ خپلوونکي پلویان وشمیرل شي او دا څرګنده شي چي د هغه په اشاره څه کولو ته چمتو دي؟ تر دې وروسته چي د چا د پلویانو شمیر زیات او په چا کي د سر قربانولو حوصله ترنورو ډېره وي هغه به حتما حق او د مقابل هر نظر به یې له څه تردد پرته باطل بلل کېږي.

د هغوی تر دې دلیل وروسته دا مهال پر دې نوره څه تبصره کېدای شي، حقیقت دادی چي دا نباغلي خپلو پلویانو ته همدا ذهنیت ورکوي او بیا یې د همیشه لپاره د حق او باطل تر منځ له امتیاز څخه بې برخې کوي. زه د خپل ځان په اړه نور هیڅ نه وایم یوازي



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دومره یادونه کوم چي که زه کوم دویاړ څه لرم نو هغه صرف همدا دي چي ما د امین احسن د شاګردۍ ویاړ تر لاسه کړی خو تر کومه ځایه چي په امین احسن پوري اړه لري نو غواړم ووایم چي د هغه د منهو -ترړو هدف هیڅکله هغه شیان نه دي پاتي شوي چي دا خلګ ځانونه پرې وژني.

هغه تل د دې چټیاتو لور ته سترګې وراړول هم نه خوښول، په خلګو کې د مقبولیت موندلو هغه طریقې چي د دې ښاغلو لپاره هنیئا مریئا دي که بهیې چا د ده په مجلس کي یادونه هم وکړه نو د هغه لپاره به یې یا هلته د ځای موندلو هیڅ صورت نه پاتېدی.

ده چي په خپل ټول ژوند کي کوم څه شعار ګرزولی وو هغه دا وو چي که د انسان سیوری ورسره ملګرتیا ونه کړي نو هم باید په هر حال کي پر حق ټینګ شي، هغه په ټولنه کي د فکر او عمل د ټولو ناولتیاوو په راغونډولو ورته دلایل ونه لټول بلکي هڅه یې وکړه چي زړه او دماغ له دې ناولتیاوو پاک کړي، هغه له خلګو سره په هر ذلت کي ښکېل نه شو، ده د هغې لوړتیا پر لور بلنه کوله چي د خپل شعور په لومړۍ ورځ ور رسېدلی وو، د هغه دنیا د علم او دیانت دنیا ده، په هغه دنیا کي د مذهبي ملاتړو او سیاسي لوبو لپاره هیڅ ځای نه شي پیدا کېدای، هغه په خپل شخصیت کي یوه صحرا او په خپل وجود کي یو سمندر دی، هغه په خپل اقلیم کي دومره بوختیاوې لري چي د دا ډول شیانو لپاره ورسره وخت نه شته.

ده چي ټول عمر په کوم میدان کي خواري کښلې هغه د پیرۍ او مریدۍ نه د علم او تحقیق میدان دی، که څوک غواړي د هغه د خواریو حاصل وویني نو د علم او تحقیق هغه شهکار دې مطالعه کړي چي نن یې نړۍ د تدبر قرآن په نوم پېژني، هغه د نن ورځې بنده نه د سبا مېړنی دی او د هغه عصر او س ډېر لرې نه دی.

زما په اند خبره ختمه شوه او د قلم لاروی خپل هدف ته ورسېد. د بحث په پای کي د دې ښاغلو حضور ته له دې پرته څه ووایم چي:



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وہ شی کچھ اور ھی کھتې ھی جان پاک جسې
یہ رنگ و نمر، یہ لھو، آب و نان کی ھې بیشی

۱۹۸۸



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

# اسلامي انقلاب

نيمه پيړۍ پر پوره کېدو ده چي موږ په دې هيواد کي د اسلامي انقلاب خوبونه وينو، کوم کسان چي د دې لپاره را پاڅېدل لومړۍ نسل يې له دې نړۍ تللی او دويم يې په ډګر کي دی. د دې لپاره ډېر څه وليکل شول او لويي هنګامې جوړي شوې، په دې لار کي ځوانانو خپله وينه وبهوله او مشرانو ځو ځله خپل ارمانونه ګور ته يو وړل. تر دومره هڅو او دومره قربانيو وروسته خو لږ تر لږه بايد دا هيله وای چي که هدف نه وي تر لاسه شوی نو او س يې نښې زموږ په مخ کي دي، مګر هر سړی ليدای شي چي هدف له لرې هم نه ښکاري، مشران ولاړل، لارويان ستړي شول او په چا کي چي کومه حوصله پاتي وه هغوی هم خپل ټول ځواک، پانګه بلکي د علم او اخلاقو سرمايه هم د دې هڅو لپاره له لاسه ورکړه مګر خبره هماغه ده چي:

میری رفتار سے بھاگے ہے بیابان مجھ سے

داسي هم نه ده چي د دې ستونزمني مينې دا زوروونکې قافله پر دې لاره لوڅې پښې تللې، د دې هيواد په تاريخ کي مو هغه زمانه هم وليده چي د اسلامي انقلاب زمزمې د واک په ماڼيو کي انګازې وکړې [1] کوم اواز چي يو وخت له محراب او منبر څخه پورته کېدی او د شاهي ماڼۍ له ديوالونو سره په لګېدو به بيرته را ګرزېدی په خپله د شاهي ماڼۍ له دروازو او بامه را پورته شو، زموږ غوږونو په دې کلونو کي څو ځله دا روح خوښوونکې زېری واورېد چي نور دوی يو ځل بيا د هغې ټولنې جوړول غواړي چي په لومړۍ پيړۍ کي مو ور څخه خپل تاريخ پيل کړی وو او په هغې کي د انسان د ټولو اخلاقي ايډيل تصوراتو نړۍ را منځ ته شوه، خلګو په خپلو سترګو وليده او په خپلو

---

[1] د جنرال ضياء الحق د واکمنۍ پر مهال



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

www.syedahmadghamidi.com www.al-mawrid.org

لاسونو يې لمس کړه، دا هر څه وشول، ورځې په مياشتو او مياشتې په کلونو بدلې شوې مګر نتيجه له دې پرته بل څه نه شوه چې:

وه جو رکهتې تهې همر ايک حسرت تعمير سو هې

داسې ولې وشول؟ د دې پر عواملو او اسبابو ډېر څه ليکل کېدای شي او ډېر څه به وليکل شي؟ ځيني به يې د تقدير پريکړه وګڼي او د موجوداتو په نړۍ کې به يې د يوې الهي ويرنې په ګڼلو ډاډه شي، ځيني نور به يې عوامل د هغه وخت په سياسي حالاتو کې ګوري، مګر تر کومه ځايه چې موږ غور کړی په هر حالت کې دې نتيجې ته رسېدلي يو چې اصلي تېروتنه په کړنلاره او د عمل په فلسفه کې ده.

له همدې امله دا مهال چې دا اوسنيو ټاکنو[٢] پايلو ډېر کسان پر ډېر څه فکر کولو ته مجبور کړي مناسبه ښکاري چې په دې چاره کې دلته خپل نظر له پوره وضاحت سره وړاندې کړو.

موږ وينو چې د دې هڅو يو دور پای ته ورسېد او دويم دور يې پيل کېږي، موږ فکر نه کوو چې دا مهال کوم کسان په ډګر کې دي هغوی به زموږ د دې وړانديزونو په رڼا کې خپله لاربدله کړي، مګر دا هيله خو کېدای شي چې په راتلونکي کې به څوک د دې انقلاب بيرغ پورته کوي د هغوی مخ ته به پراته وي.

## د انقلاب کړنلاره

په انساني تمدن کې واک او اقتدار ته د يوه دعوت حق وي او که باطل له لرغونې زمانې تر اوسه څلور شکلونه موندل شوي:

يو دا چې د وسلوال اقدام په وسيله واک تر لاسه شي.

---

[٢] د ۱۹۹۳ ټاکنې چې پکې د پاکستان جماعت اسلامي ګوند د خپل تاريخ له ترټولو بدې ماتې سره مخ شو.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دويم دا چي د ولسي بغاوت په بنه خلګ لارو - کوڅو ته را ووزي او د واک خاوندان د دعوت کوونکو په حق کي خپل ځای پرېښودو ته مجبور شي.

درېيم دا چي د ټاکنيز سياست په وسيله دې ځای ته د رسېدو هڅې وشي.

څلورم دا چي د کوم قوم د چارو خاوندان او واکمن له دې دعوت څخه په اغيزمنېدو مفتوح او له استدلال څخه په اثر اخيستلو د هغه په وړاندي سر ټيټ کړي.

لومړني دوه صورتونه هغه څه دي چي په اسلامي شريعت کي ور څخه په شخړو او پا څون تعبير کېږي، څرنګه چي اسلام پر دې ټينګار کوي چي د بشري نفس حرمت له قتل او په ځمکه کي له فساد پرته په هيڅ صورت کي هم له منځه نه شي تللای او د مسلمانانو په ټولنيز نظم کي که هر څومره خراب هم وي ګډوډي په هيڅ قيمت نه شي منل کېدای او هيڅوک که څه هم د ابو بکر صديق و عمر فاروق په څېر لوړه مرتبه ولري او د اسلامي شريعت بيرغ ورسره وي د مسلمانانو له خوښې پرته پر هغوی نه شي مسلط کېدای، له همدې امله د سياسي انقلاب دا دواړه صورتونه هغه وخت مني [3] چي دا درې شرطونه پوره شي:

۱) واکمن ښکاره کفر وکړي

۲) د هغه حکومت يو ظالم حکومت وي چي نه د مسلمانانو په رايه راغلی وي او نه يې څوک د هغوی په رايه د بدلون وس ولري.

۳) د پاڅون لپاره هغه څوک را پورته شي چي د هغه په اړه له پوره ډاډ سره دا خبره کېدای شي چي د ملت ډېری د هغه پر مشرتوب اتفاق لري.

د لومړي شرط دليل دا دی چي د قرآن له مخې تر کومه وخته د مسلمانانو چارواکي له هغوی څخه وي او د خپل ځان يا د دولت د نظم په اړه کومه چاره کي د شريعت له برلاسې

[3] دلته بايد دا خبره سپينه شي چي صرف مني يې، په هيڅ حال کي يې واجب او مستحب نه بولي.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

څخه انکار ونه کړي پر هر مسلمان يې اطاعت واجب دی، په مسلمانانو کي هيڅوک ور څخه سرغړونه نه شي کولای. الهي وينا ده:

أَطِيعُواْ اللّهَ وَأَطِيعُواْ الرَّسُولَ وَأُوْلِي الأَمْرِ مِنكُمْ فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللّهِ وَالرَّسُولِ (النساء ۴: ۵۹)

د الله، رسول او هغو خلګو اطاعت وکړئ چي په تاسو کي د امر خاوندان دي. که ستاسو تر منځ په کومه چاره کي اختلاف شو نو الله او د هغه رسول ته يې راجع کړئ.

رسول الله صلی الله عليه وسلم د همدې په وضاحت کي ويلي دي:

الا ان تروا کفرا بواحا عندکم من الله فيه برهان. (مسلم، شميره: ۴۷۷۱)

تاسو له خپلو واکمنو سره صرف هغه وخت شخړه کولای شئ چي د دوی له لوري ځرګند کفر ووينئ او له تاسو سره په دې معامله کي د الله حجت وي.

همدا راز ده ويلي:

على المرء المسلم السمع و الطاعة فيما احب و كره الا ان يؤمر بمعصية فان امر بمعصية فلا سمع و لا طاعة. (مسلم، شميره: ۴۷۶۳)

پر مومنانو لازمه ده چي که د دوی خوښه وي او که نه په هر حال کي د خپلو واکمنو خبره واوري او ويې مني مګر پرته له دې چي د کومې ګناه امر ورته وکړي، که يې په ګناه امر کړل نو نه به يې اوري او نه به يې مني.

د دويم شرط دليل دا دی چي په اسلام کي د حکومت د جوړښت او په هغه کي د بدلون لپاره د وَأَمْرُهُمْ شُورَى بَيْنَهُمْ [4] کوم قانون ټاکل شوی که هغه په بشپړ ډول نافذ وي او حکومت له هغه سره سم را منځ ته شوی وي او له هغه سره سم بدلېدای شي نو د هغه پر خلاف د بغاوت په وسيله يې د بدلون هڅه د دې قانون ځرګند مخالفت او په دې ډول به د

[4] الشوری ۴۲: ۳۸



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

حکومت پر خلاف نه بلکي د مسلمانانو پر خلاف بغاوت وبلل شي چي د اسلامي شريعت له مخي په ځمکه کي فساد دی او په اسلام کي ورته د قتل سزا ټاکل شوې. رسول الله ويلي:

من اتاکم و امرکم جميع علی رجل واحد يريد ان يشق عصاکم او يفرق جماعتکم فاقتلوه. (مسلم، شميره: ۴۷۹۸)

که تاسو د يو چا پر مشرتوب را غونډ ياست او يو څوک ستاسو د ډلې ټوټه ټوټه کولو او ستاسو په اجتماعي نظم کي د تفرقې پيدا کولو لپاره را پورته شو نو ويې وژنئ.[5]

د دريم شرط دليل دا دی چي د أَمْرُهُمْ شُورَىٰ بَيْنَهُمْ هم د دې قاعدې له مخې پر مسلمانانو حکومت د هغوی د اکثريت په ملاتړ سره را منځ ته کېږي او پر همدې بنسټ دوام کوي، له همدې امله د بغاوت حق هم حتما هغه څوک لري چي د ده په اړه له پوره ډاډ سره دا خبره کېدای شي چي په مجموع کي د قوم اکثريت له ده سره دی او د مخکيني حکومت په مقابل کي د ده د مشرتوب منلو ته بالکل چمتو دی. عمر فاروق رضی الله عنه په خپله يوه وينا کي ويلي:

من بايع رجلا عن غير مشورة من المسلمين فلا يبايع هو و لا الذی بايعه تغرة ان يقتلا. (بخاري، شميره: ۶۸۳۰)

چا چي د مسلمانانو له رايې پرته له يو چا سره د حکومت بيعت وکړ دی او هغه څوک چي بيعت ورسره شوی دواړه به په خپل دې اقدام سره ځانونه قتل ته وړاندي کړي.

د پاڅون په دې صورتونو کي که د وسلوال اقدام شکل غوره شي نو د دې لپاره يو څلورم شرط دا هم دی چي بغاوت کوونکي بايد تر هر څه لومړی په کومه خپلواکه سيمه کي خپل حکومت را منځ ته کړي. دليل يې دا دی چي الله خپل هيڅ داسي رسول ته چي د

[5] د رسول الله دا امر د سورت المايدې پر ۳۳ ايت بنا دی.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

حجت پوره کولو وروستۍ وسیله وي تر هغه وخته د تورې پورته کولو اجازه نه ده ورکړې چي د هجرت په کولو يې په کومه ازاده سيمه کي خپله منظمه ډله نه ده جوړه کړې او پر هغې ډلې يې د زور له لارې اقتدار نه دی قايم شوی. د موسی علیه السلام په اړه څرګنده ده چي هغه ته دا امر د دې شرط تر پوره کېدو وروسته ورکړل شو او د رسول الله د ملګرو لپاره يې هم لار هغه وخت پرانيستل شوه چي کله د عقبه تر بيعت وروسته په مدينه کي د دوی يوه منظمه ډله را منځ ته شوه ځکه له سياسي اقتدار پرته جهاد صرف فساد دی. د امارت کوم نظام چي پر خپله ډله د الهي حدودو د نافذولو او د جرم کولو په صورت کي مجرم ته د سزا ورکولو اختيار نه لري هغې ته بالاخره څه ډول د جګړې اجازه ورکول کېدای شي؟، د دې امت علماوو تل پر دې شرط اتفاق کړی دی. په فقه السنه کي دي:

والنوع الثالث من الفروض الكفائية ما يشترط فيه الحاكم مثل: الجهاد واقامة الحدود.

او د کفايي فرضو دريېم ډول هغه دی چي د واکمن وجود پکي شرط دی لکه جهاد او د حدودو نافذول.

(السيد سابق ۳/ ۳۰)

امام فراهي ليکي:

"... په خپل هيواد کي له هجرت پرته جهاد نه دی روا، د ابراهيم عليه السلام له کيسې او د هجرت په اړه له نورو اياتونو هم دا حقيقت په ډاګه کېږي. د رسول الله له حالاتو هم د دې خبرې تائيد کېږي، علت يې دا دی چي که جهاد د ډلې درلودونکي او واکمن امير له لوري نه وي نو هغه صرف اړودوړ، نا امني او فتنه و فساد دی." [6] (تفاسير فراهي: ۵۶)

[6] دا د استاذ امام امين احسن اصلاحي ژباړه ده، له بده مرغه چي د امام فراهي اصل عربي عبارت مو تر لاسه نه کړای شوای.



www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org
© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

استاذ امام امین احسن اصلاحي په خپل کتاب «دعوت دین اور اس کا طریق کار» کې د دې شرط د همدې اړخ په وضاحت کې لیکي:

"لومړۍ وجه خو دا ده چې الله د کوم باطل نظام ګډوډي او انتشار هم تر هغه وخته نه خوښوي چې تر څو د دې امکان نه وي پیدا شوی چې کوم کسان دا باطل نظام له منځه وړي هغه به یې پر ځای یو د حق نظام قایم کړای شي. د ګډوډۍ او بې نظمي حالت یو غیر طبعي حالت دی، بلکې دا له انساني فطرت څخه دومره لرې دی چې په مقابل کې یې یو غیرعادلانه نظام هم د ترجیح وړ دی. له همدې امله الله کومې داسې ډلې ته د جګړې اجازه نه ده ورکړې چې بالکل ناځرګنده او نا معلومه وي، ځواک او وړتیا یې شکمنه او مجهوله وي، د کوم واکمن امیر تر مشرتوب لاندې، د اطاعت او وفادارۍ ازموینه یې نه وي اخیستل شوې، غړي یې تیت-پرک او پاشلي وي، کوم نظام دړې-وړې کولای شي خو دا خبره یې په ثبوت نه وي رسولې چې ګډوډ حالت را ټولولای هم شي. دا باور یوازې پر داسې ډله کېدای شي چې په سملاسي ډول د یوه سیاسي ګوند بڼه ولري، په خپله دایره کې دننه د داسې ضبط او نظم درلودونکې وي چې د الجماعة اطلاق پرې کېدلای شي. د دې حیثیت تر خپلولو وړاندې یوه ډله دا حق لري چې د الجماعة جوړېدو لپاره هڅې وکړي او د هغوی دا هڅې به د جهاد حکم ولري، خو دا حق نه لري چې په عملي ډول وسلوال جهاد او قتال پیل کړي.

دویمه وجه دا ده چې کومه جنګي ډله د انسانانو پر ځان او مال کوم اختیار تر لاسه کوي هغه دومره بې ساری او مهم دی چې یوه داسې ډله یې نه شي سمبالولای چې پر هغې د مشر واک صرف اخلاقي غوندې وي، اخلاقي اقتدار د دې کار لپاره کافي ضمانت نه کوي چې خلک په ځمکه کې له فساد کولو را منعه کړای شي. له همدې امله صرف د اخلاقي اقتدار پر بنسټ د کوم اسلامي مشر لپاره دا روا نه ده چې خپلو پلویانو ته د تورې پورته کولو اجازه ورکړي، که نه د دې قوي امکان شته چې کله یو ځل د هغوی تورې



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وبریښي نو د حلالو او حرامو حدودو ته به پابند پاتي نه شي او د دوی په لاسونو به هغه ټول څه ترسره شي چي دوی يې د له منځه وړلو لپاره توري پورته کړې دي. عام انقلابي ګوندونه چي غواړي صرف انقلاب راولي او د دوی هدف له دې پرته بل څه نه وي چي د جوړ شوي نظام په له منځه وړلو د واکمنې ډلې اقتدار له منځه يوسي او پر ځای يې خپل واک ټينګ کړي دا ډول لوبي کوي او کولای يې شي، د دوی په اند د کوم نظم ګډوډي نه چندان پيښبه ده او نه د کوم ظلم کول ګناه. له همدې امله دوی ته هر څه روا دي، خود يوه عادل او حق خوښوونکي ګوند مشران بايد حتما دې ته وګوري چي دوی د الله بندګان له کومې ادارې بې برخې کوي ايا تر هغه د غوره ادارې را منځ ته کولو وړتيا لري او که نه؟ او دوی چي د کوم ظلم په له منځه وړلو پسې دي ايا د دې وس لري چي خپل کسان د دا ډول ظلمونو له کولو را وګرزوي؟ که داسي نه وي نو هغوی دا حق نه لري چي صرف د تصادف پر بنسټ د خلکو په ځان او مال لوبي وکړي او د کوم فساد پر خلاف چي را پاڅېدلي په خپله تر هغه لوی فساد را منځ ته کړي." (۲۴۱)

له دې څخه په ډاګه شوه چي د پاکستان په ډيموکراټيک نظام کي د سياسي انقلاب دا دواړه شکلونه د شريعت له مخې په هيڅ ډول نه شي غوره کېدای، له همدې امله چي دلته کوم کسان د جهاد وقتال او په لاس د منکر د مخنيوي په وسيله د انقلاب را منځ ته کولو لپاره د خپلو فدايانو د ګومارنې پروګرام جوړوي د هغوی دا عمل بالکل د هغه شريعت خلاف دی چي دوی يې د احياء او نفاذ لپاره بيرغ پورته کړی.

په اوسني عصر کي د اسلامي انقلاب تر ټولو لوی داعي مولانا سيد ابو الاعلی مودودي صيب د ماچي ګوټ په تاريخي غونډه کي د خپل ګوند غړو ته په خطاب کولو وايي:

"په يوه قانوني او جمهوري نظام کي د مشرتوب د بدلون په موخه ستاسو لپاره د غير قانوني لارې غوره کول شرعا جواز نه لري او له همدې امله ستاسو د ګوند اصول



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."
www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

نامې تاسو په دې مکلف کړي ياست چي تاسو د خپلې اصلاح او انقلاب لپاره له قانوني او ډيموکراټيکو لارو کار واخلئ." (تحريک اسلامي کا اينده لايحه عمل، مخ: ۲۰۵)

د دويم شکل يعني ټاکنيز سياست له لارې حکم او اقتدار ته د رسيدو پر هڅه شرعا کومه نيوکه نه شي کېدای خو که غور وکړو نو دا صورت د خپل نوعيت له مخې د درو خبرو غوښتنه کوي:

اول دا چي د دې مشري بايد داسي څوک وکړي چي د خپل شخصيت له مخې اصلاً يو مشر او سياست پوه وي، د اقبال، ابو الکلام او ابو الاعلی مودودي په څېر کوم کسان چي په حقيقت کي عالمان، څېړونکي، مفکرين او پوهان دي دا د هغوی د وس کار نه دی. د دې لپاره بايد د يوه جناح او کوم بوټو ته انتظار وشي، په دې کي شک نه شته چي که دا ډول کوم شخصيت د سياست په ډګر کي د اسلامي انقلاب بيرغ پورته کړي نو د ډېرو غير معمولي نتايجو هيله کېدای شي خو د علماوو او مفکرينو په اړه دا خبره بيخي يقيني ده چي که دوی دې ډګر ته ور کښته شي نو کيسه به داسي شي لکه غالب چي ويلي:

هاں اہل طلب کون سنے طعنۂ نایافت
دیکھا کہ وہ ملتا نہیں اپنے ہی کو کھو آئے

دويم دا چي کله د دې لپاره کوم ګوند جوړ شي نو بايد د مسلم ليګ او پيپلز ګوندونو په څېر يوه سياسي ډله وي، يوه داسي ډله چي اسلامي انقلاب خپل هدف وبولي هغه بايد پر خپل شاوخوا د داسي کسانو د راټولولو هڅه وکړي چي په ټولنه کي کوم سياسي دريځ ولري او په دې توګه د يوه فطري مشر په توګه د سياست په ميدان کي د دې دعوت بيرغ پورته کولای شي. ديني او مذهبي ډلې د دې لپاره نه هيڅکله مناسبې دي او نه کېدای شي، هغوی دلته له پرله پسې ماتو او ورو-ورو د خپل هويت له بايللو پرته بل څه نه شي ترلاسه کولای.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

درېيم دا چي په دې کي د ټاکنو پر مهال هره کړنلاره غوره کېږي هغه بايد د موجودو حقايقو پر بنسټ وي، ټاکنې يوازي د دعوت د پراختيا او په نورو د خپل ځان د پېژندنې لپاره نه وي بلکي په موجودو سياسي حقايقو کي په نورو د خپل ځان منلو لپاره ترسره کېږي او هدف يې تل بريا وي. په دا ډول معاملاتو کي فتحې ته پام نه کول د انساني فطرت خلاف دي او د فطرت په اړه دا يېخي منل شوې ده چي د هغه پر خلاف هيڅ شی هم په دې دنيا کي تر ډېره خپل ځان نه شي ساتلای.

دا د همدې صورت لازمي غوښتنې دي، دې ته له پام پرته که کوم دعوت هغه غوره کوي نو پايلې به يې هماغه وي چي له تېرو پنځوسو کلونو څخه د جماعت اسلامي تر هڅو وروسته يې موږ په خپل هيواد کي وينو، هر سړی ليدای شي چي له دې لارې د بريا په لټون کي:

۱) ورو – ورو دعوت د تذکير له خپل روح، فکري هويت او د حق ثابتولو له خپلې جذبې څخه داسي بې برخې شو چي اوس د يو ځل لپاره پر همدې بنسټ د کومې سا موندل هم ممکن نه دي.

۲) په تنظيم کي مشرتوب له هره پلوه د علماوو و مفکرينو له لاسو ووت او له سياسي پلوه په بشپړه ډول د اغيز نه درلودونکو او د علم و پوهي له مخې بالکل د بې سويې خلګو لاسونو ته ولوېد، له همدې امله اوس نه د سياست په ډګر کي رښا ليدل کېږي او نه د دعوت په ډګر کي.

۳) تر ډېرو ستونزو وروسته چي د سيرت او اخلاقو کومه سرمايه را غونډه شوې وه ډېره يې لوټل شوې او کومه چي پاتي ده د هغې په اړه هم هر سړی اټکل کولای شي چي نوره به تر ډېرو خوندي پاتي نه شي.

له همدې امله دا يېخي باوري ده چي د اسلامي انقلاب د بيرغ پورته کوونکي کوم عالم، محقق او مفکر لپاره که دا صورت مناسب کېدای شي نو صرف هغه وخت کېدلای



www.javedahmedghamidi.com
www.al-mawrid.org
© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

شي چي دعوت يې په ټولنه کي داسي اغېزناک او ملت يې پر مشرتوب داسي را غونډ شي چي د هغه لپاره ټاکنې د واک د ليږد له قانوني اړتيا پرته بل حيثيت ونه لري او هغه چي کله وغواړي د ټاکنو په وسيله د خپل ځان په اړه د ملت پريکړه تر لاسه کولای شي.

څلورم شکل يعني يوازي او يوازي د دعوت په وسيله د ټولنې د چارواکو د ذهنونو ګټلو هڅې که څه هم دا مهال د خلګو لپاره ډېري نا اشنا دي مګر حق دا دی چي د ياد هدف لپاره که په دې ټولو شکلونو کي د دين و شريعت له مخې کوم شکل ډېر زيات مناسب او د پايلې له مخې ډېر اغيزناک کېدای شي نو هغه همدا دی.[٧]

د الله نبيانو په خپل ټول تاريخ کي همدا لاره غوره کړې، هغوی چي هر وخت را پاڅېدلي او په هر دور کي يې خپل دعوت پيل کړی هيڅکله يې له دې پرته بله لاره نه ده غوره کړې. په دې کي شک نه شته چي د هغوی دعوت هم رد شوی، له وطنه هم شړل شوي او ډېر ځله وژل شوي هم دي خو هغوی د بريا لپاره پر بله لاره د دوو ګامونو اخيستل هم نه دي زغملي، د هغوی رب تل ورته دا هدايت کړی چي پر دې لاره ټينګ پاتي شي. د دوی کار همدا دی، هغوی چي کوم مسئوليت ترسره کوي هغه د ښوونې او نصيحت کولو مسئوليت دی، دوی د خپل قوم محتسبين نه دي.

حقيقت دا دی چي که د الله رسولان په دې نړۍ کي کوم وخت د خپل انقلاب په راوستلو بريالي شوي نو تل په همدې طريقه بريالي شوي، په خپل قوم کي د موسی عليه السلام دعوت په همدې ډول د بريا پړاو ته ورسېد. د يونس عليه السلام قوم او د هغوی

---

[٧] دا مضمون د جماعت اسلامي د دعوت په شاليد کي ليکل شوی، له همدې امله پکي دعوت د انقلاب د يوې وسيلې په توګه تر بحث لاندي نيول شوی. که نه بايد دا خبره څرګنده شي چي سياسي انقلاب د دې دعوت داسي هدف نه دی چي د دې لپاره په دين کي ټاکل شوی وي، د قرآن له مخې د دې هدف (لعلهم يحذرون) (څو خلګ د الله له عذاب څخه ځان وساتي) دی او د دې لپاره را پاڅېدونکي بايد دا کار په هر حالت کي د معذرة الی ربکم (د دې لپاره چي موږ ستاسو د رب په مخکي خپل عذر وړاندي کړو) له وجې وکړي.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

چاروا کو په همدې ډول د ده په وړاندې سرتېټ کړ او تر ټولو پورته لا دا چې په یثرب کې د رسول الله حکومت عینې په همدې ډول جوړ شو.

دا د تاریخ یو نه ردېدونکې حقیقت دی چې په ام القری کې کم و زیات تر یوولسو کالو ځان کړوونکو هڅو وروسته د هغه ځای مشرانو د رسول الله دعوت ونه مانه نو ده د الله په امر نورو قبایلو ته وړاندې کړ چې په نتیجه کې یې د یثرب ځینو کسانو ایمان راووړ او بیا د هغوی په هڅو د دوو کالو په لنډه موده کې د هغې ټولې سیمې مشرتوب د حق دین په وړاندې صرف او صرف د دعوت په وسیله سرتېټ کړ. ان د عقبه وروستې بیعت پرېکړه وکړه چې که نور رسول الله وغواړي د یوه مشر او واکمن په توګه یثرب ته تلای شي او د هغه ځای د اقتدار واګې په خپل لاس کې اخیستلای شي. تر دې وروسته چې کله دی مدینې ته ورسېد نو د رسول الله یوه صحابي ابو قیس صرمه رضي الله عنه پر همدې مهال په خپل یوه شعر کې وویل:

ثوی فی قریش بضع عشرة حجة    یذکر لو یلقی صدیقا مواتیا

"ده تر لس کاله یو څه زیاته موده په قریشو کې په دې هیله خلګو ته نصیحت کاوه چې (د هغوی له مخورو او مشرانو) به کوم ملګری او ملاتړی پیدا کړي"

و یعرض فی اهل المواسم نفسه    فلم یر من یؤوی و لم یر داعیا

"د حج پر مهال به یې له خلګو سره لیدل مګر نه یې کوم پناه ورکوونکی وموند او نه داسې څوک چې له ده سره د حق د دعوت ملاتړ وکړي."

فلما اتانا اظهر الله دینه    فاصبح مسرورا بطیبة راضیا

"خو تر دې وروسته چې کله موږ ته راغی نو الله دلته خپل دین ته غلبه ورکړه، د طیبې په دې سیمه کې دی له هره پلوه خوښ او خوشاله شو."



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."
www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

که د دې هیواد په سیاسیانو کې څوک دا وایي چې دی غواړي د اسلامي انقلاب لپاره هڅې وکړي نو بې شکه هغه ته به دا مشوره ورکړل شي چې د دې لپاره دې د ټاکنیز سیاست لاره غوره کړي خو د دیني علماوو لپاره یوازینۍ لاره همدا ده، دوی د رسولانو وارثان دي، له همدې امله که هغوی دا لاره پرېږدي خپل میراث به پرېږدي او نتیجه به یې له دې پرته بل څه نه وي چې د سیاست په سیالیو کې به ورو –ورو له خپل هویت څخه بې برخې شي. دا د علماوو لپاره د دوی د انتخاب مسله نه ده، په قرآن کې د دوی مسئولیت همدا بیان شوی چې دوی صرف او صرف د دعوت په وسیله خپل ملت او د هغوی چارواکي هغو بدلونونو ته چمتو کړي چې اسلام یې د دوی په شخصي او ټولنیز ژوند کې را منځ ته کول غواړي. الهي وینا ده:

وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُونَ لِيَنفِرُواْ كَآفَّةً فَلَوْلاَ نَفَرَ مِن كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَآئِفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُواْ فِي الدِّينِ وَلِيُنذِرُواْ قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُواْ إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ (التوبة۹: ۱۲۲)

او د ټولو مسلمانانو لپاره خو دا شونې نه وه چې دې کار ته تللي وای، خو دا سې ولې ونه شول چې د دوی له هرې ډلې ځیني کسان تللي وای څو یې په دین کې پوهه تر لاسه کړې او د خپل قوم خلګ یې هغه وخت وېرولي وای چې (د علم تر زده کړې وروسته) د هغوی لور ته را ستانه شوي وای، څو هغوی ځان ساتلی وای.

د دې کړنلاره باید څه وي؟ که څه هم په قرآن کې یې بنسټونه ښېخي مشخص دي[۸] خو څرګنده ده چې تفصیلات یې د هر ملت حالاتو او د هر وخت د اړتیاوو له مخې ډېر مختلف کېدای شي، زموږ په اند پاکستان کې یې سمه کړنلاره داده:

په دین کې دې د څېړنې او اجتهاد او د هغه د ښوونې او تدریس لپاره داسې اداري جوړې شي چې په هغو کې قرآن کریم پر هر څه پورته وي، د هغه په وسیله دې د اسلامي

[۸] د تفصیل لپاره یې زموږ په کتاب میزان کې د دعوت قانون وګورئ



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

علومو بنسټونه يو ځل بيا د هغو له اصلي ماخذونو يعني قرآن او سنت سره برابر شي.

په هيواد کي دي د فکر او عمل د سپيڅلتيا يو داسي غورځنګ جوړ شي چي شپه او ورځ له دې دعوت سره د ملت د ډېرکو افرادو په ځانګړي ډول د چارواکو د پيوستون هڅې کوي.

په قرآن سره نصيحت دي د دې غورځنګ اساس وبلل شي او خلګ دي د ځانګړې مذهبي ډلې د تعصبونو او له خاص شخصيت سره د تړاو پر بنسټ د يو داسي قانون لور ته را وبلل شي چي په هغه کي په مشخص ډول ويل شوي وي چي موږ په دې هيواد کي د اسلام پر بنسټ د سياست، اقتصاد، ټولنې، ښوونې او روزنې او حدودو و تعزيراتو په نظام کي کوم بدلونونه غواړو؟.

تر ايف اې او ايف ايس سي پوري دي په هيواد کي د عمومي زده کړو د معياري ښوونځيو يوه لړۍ را منځ ته شي چي هلته به زده کوونکو ته په خپله د قرآن په وسيله قرآني دعوت د دوی په ذهن کي داسي ځای پر ځای کېږي چي په وروسته وختونو کي له پوره اخلاص سره پر دين ټينګ پاتې شي.

دعوت کوونکي دي د تل لپاره د دې خبرې پريکړه وکړي چي تر څو په دې هيواد کي اکثريت د دوی ملګري نه شي د خپل مطلوب انقلاب لپاره به تر دعوت او انذار ها خوا هيڅکله کوم بل ګام نه اخلي.

که زموږ په هيواد کي دا دعوت له دې طريقې او کړنلارې سره سم پيل شي نو له هغه څخه چي د کومو پايلو تمه کېدای شي هغه دا دي:

د دې يوه نتيجه دا کېدای شي چي داعيان به د دې دعوت په کار کي مړه شي او هغوی به يې د بني اسرائيلو د ډېری انبياوو په څېر تر ځان راتلونکو کسانو ته پرېږدي او له دې نړۍ به ولاړ شي. دويمه نتيجه دا کېدای شي چي د دعوت کوونکو اعلان د ملت د چارواکو زړونو ته لار پيدا کړي او هغوی په توبه او رجوع سره د خپل رب په وړاندي سر



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ټيټ کړي.

درېيمه نتيجه دا کېدای شي چي ملت د دعوت کوونکو پر مشرۍ داسي متفق شي چي دوی کله او څه ډول وغواړي د مشرتوب او اقتدار لپاره د خپل ځان په حق کي د دوی پريکړه ترلاسه کړي.

څلورمه نتيجه دا کېدای شي چي د ملت په سياسيانو کي يو څوک دا دعوت داسي ومني چي د پاکستان په ډيموکراټيک نظام کي د هغه شخصيت په زور د ټاکنيز سياست په وسيله د واک او اقتدار پړاو ته ورسېږي.

۱۹۹۴

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

# د دعوت حدود

دا مهال د ديني دعوت هڅې له دې ستونزې سره مخ شوې چې عموما يې ترسره کوونکو هغو حدودو ته پام ونه کړای شو چې بايد په دې کار کي حتما ورته پام وشي. په تېر وخت کي چې څه شوي او س يې اصلاح ممکنه نه ده خو په راتلونکي کي چې څوک د دې کار ته ملا تړي او که د الله خوښه وه نو حتما به يې ترسره کوي د هغوی د لارښوونې لپاره دلته هماغه حدود بيانوو چې د حق رښتني زده کوونکي په دې معامله کي له کومې غلط فهمۍ سره مخ نه شي.

## د حق حتمي حجت

لومړی حد دا دی چې الله نبوت پر خپل وروستي رسول پای ته رسولی، له همدې امله نور پر دې ځمکه هيڅوک هم دا حق نه لري چې خپل کوم فکر او نظر د حق حتمي حجت او خپل کوم قول و فعل د حق و باطل معيار وبولي او له خلګو يې د پيروي غوښتنه وکړي. دا يوازي د پيغمبر حق دی چې په اړه يې ويل شوي: فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ أَن تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ [1] او دا يوازي د همده مقام دی چې د ده په اړه په خپله د نړۍ والو رب اعلان کړی چې فَلاَ وَرَبِّكَ لاَ يُؤْمِنُونَ حَتَّىَ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لاَ يَجِدُواْ فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُواْ تَسْلِيمًا [2] د الله تر رسول وروسته چې نور هر څوک پر دې ځمکه له دې دعوت سره را پاڅيږي د هغه مسئوليت دا دی چې خپله خبره د قرآن او سنت له دلايلو سره خلګو ته

---

[1] النور ۲۴ : ۶۳ (نو کوم کسان چې د ده له امره سرغړونه کوي هغه دي له دې وويرېږي چې پر دوی به کومه ازموينه راشي او يا به يې دردوونکی عذاب ونيسي.

[2] النساء ۴ : ۶۵ ( ستا په رب قسم دا خلګ تر هغو مومنان نه شي کېدای چې په خپلو اختلافاتو کي تا منځګړی ونه مني او ته چې کومه پريکړه وکړې په خپلو زړونو کي د تنګۍ له احساسولو پرته يې په وړاندي سر ټيټ نه کړي.)



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وړاندي کړي او په اړه يې مخاطبينو ته وضاحت وکړي چي دا د ده تحقيق دی او پر صحت يې باور لري، خو په دې کي په هر حال د تيروتنې امکان مني. دی چي خلګو ته څه وايي د دلايلو پر بنسټ دي وايي او يوازي د دلايلو د زور په وسيله دي په خلګو خپله خبره ومني، له دې پرته نور هيڅ الهام، هيڅ القا، هيڅ خوب او د سينې خلاصون هم دا حيثيت نه لري چي د درلودونکي په اړه يې دا دعوه وشي چي ان الحق يدور معه حيث دار.[3]

## سمع و طاعت

دويم حد دا دی چي له خلګو څخه د خپل شخصيت لپاره د سمعې او طاعت غوښتنه هم يوازي رسول کولای شي، له شک پرته هغه خپل قوم ته دا ويلای شي چي اعْبُدُوا اللَّهَ وَاتَّقُوهُ وَأَطِيعُونِ[4] (د الله بندګي وکړئ، له هغه ووېرېږئ او زما تابع شئ) تر دې وروسته که څوک دا حق لري نو هغه يوازي د مسلمانانو اولوا الامر يعني چارواکي دي چي د قرآن او سنتو په حدودو کي له دوی څخه د سمعې او طاعت غوښتنه کولای شي خو د دوی لپاره هم دا حق د قرآن کريم له مخې د دې شرط پر بنسټ موجود دی چي په ټولو شخړو کي معامله الله او د هغه رسول ته راجع کړي او د پريکړي لپاره وَأَمْرُهُمْ شُورَىٰ بَيْنَهُمْ[5] د اصولو پيروي وکړي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ أَطِيعُواْ اللّهَ وَأَطِيعُواْ الرَّسُولَ وَأُوْلِي الأَمْرِ مِنكُمْ

اې مومنانو! د الله، رسول او هغو خلګو اطاعت وکړئ چي ستاسو د چارو خاوندان

---

[3] د شاه اسماعيل شهيد عبقات، يوولسمه عبقه (نو هر ځای چي دا شخصيت ګرزي حق ورسره وي) د عبقات ليکوال په دې سره د هغه شخصيت مقام بيان کړی چي د شيخ احمد سرهندي په اصطلاح د ولايت عليا مقام ته رسېدلی وي، صرف دومره نه بلکي د هغه په اړه يې دا هم زياته کړې چي فالحق تابع له لا متبوع (حق د همدې شخصيت تابع وي، دی د حق تابع نه وي.)

[4] نوح ۷۱ : ۳

[5] الشوری ۴۲ : ۳۸



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللّهِ وَالرَّسُولِ (النساء۴ : ۵۹) دي، که مو تر منځ شخړه راغله نو الله او رسول ته يې راجع کړئ.

له شک پرته په دين کي دا حق د دې درو يعني الله، د هغه رسول او د مسلمانانو چارواکو ته ثابت دی ځکه نو اوس د الله تر رسول وروسته د سمعې او طاعت حق هم د چارواکو لپاره دی. پاتي شول د دين نور داعيان نو څرنګه چي د دوی لپاره د قرآن او حديثو په پوره ذخيره کي هيڅ ځای دا حق ثابت نه دی له همدې امله چي دوی بالاخره له خلګو کومه غوښتنه کولای شي هغه داده چي دوی د خير او تقوا په چارو کي له هغوی سره مرسته وکړي[٦] او د الله د دې حکم يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا أَنصَارَ اللَّهِ[٧] په پيروي له هغوی سره کومک وکړي او که د دې هدف لپاره په خپل منځي مشوره کوم نظم را منځ ته شي نو د أَوْفُواْ بِالْعُقُودِ[٨] له عام هدايت سره سم دي د هغه اتباع وکړي.

لکه څرنګه چي پورته وويل شول نبي کريم صلی الله عليه وسلم د رسول په توګه يقينا د سمعې او طاعت حق لري خو ده چي د داعي په توګه بالاخره له خپل قوم څخه کومه غوښتنه وکړه هغه دا وه چي:

فايكم يبايعنى على ان يكون اخى و صاحبى. (احمد، شميره: ۱۳۷۱) په تاسو کي څوک له ما سره بيعت کوي چي په دې کار کي به زما ورور او ملګری وي.

له همدې امله که هغوی وغواړي له خپلو ملګرو څخه د ورورولۍ او ملګرتيا بيعت اخيستلای شي خو د سمعې او طاعت د بيعت غوښتنه هيڅکله ترې نه شي کولای، دا

[٦] وَتَعَاوَنُواْ عَلَى الْبرِّ وَالتَّقْوَى (المايده ۵ : ۲) او تاسو د نيکۍ او تقوا په چارو کي له يو بل سره مرسته وکړئ.

[٧] الصف ۶۱ : ۱۴ (اې مومنانو! د الله مرستندويان شئ!)

[٨] المايده ۵ : ۱ (اې مومنانو! خپلې ژمنې او تړونونه پوره کړئ)



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

بیعت یوازي د واکمنو لپاره دی. رسول الله هم د عقبه په مقام کي د یثرب له خلګو دا بیعت هغه وخت واخیست چي کله هغوی د واکمن په توګه مدینې ته د ورتلو دعوت ورکړ، تر دې وړاندي يې د ام القری مکې په دیارلسو کلونو کي هیڅکله له خلګو څخه د دې بیعت غوښتنه ونه کړه.

## د ډلې ملګرتیا

دریم حد دادی چي د رسول الله په دې وینا: انا آمرکم بالجماعة [9] کي چي د ډلې د ملګرتیا کوم حکم بیان شوی هغه د مسلمانانو له سیاسي ادارې سره تړاو لري، امام بخاري چي په دې اړه د ابن عباس کوم روایات نقل کړي په هغو کي دا خبره په پوره صراحت بیان شوې، دی وايي:

عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: من رای من امیره شیئا یکرهه فلیصبر علیه فانه من فارق الجماعة شبرا فمات الا مات میتة جاهلیة. (بخاري، شمیره: ۷۰۵۴)

له رسول الله څخه روایت دی چي ویې ویل: که څوک له امیر څخه د خپلې خوښې خلاف شی وویني نو باید صبر وکړي ځکه څوک چي د یوې لویشتې په اندازه هم له ډلې لرې شي او په همدې حالت کي ومري تر د هغه مرګ به پر جاهلیت وي.

همدا روایت په یوه بله طریقه داسي راغلی دی:

عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: من کره من امیره شیئا فلیصبر

له رسول الله څخه روایت دی چي ویې ویل: د چا چي د خپل امیر کومه خبره نه وي خوښه باید صبر وکړي ځکه څوک چي

---

[9] انا آمرکم بخمس الله امرنی بهن: بالجماعة و السمع و الطاعة و الهجرة و الجهاد فی سبیل الله. (احمد، شمیره: ۱۷۱۰۴)
زه تاسو ته د پنځو هغو شیانو امر کوم چي الله يې ما ته امر کړی: د ډلې ملګرتیا، سمع و طاعت، هجرت او د الله په لار کي جهاد.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

فانه من خرج من السلطان شبرا مات میتة جاهلیة. (بخاري، شمیره: ۷۰۵۳)

یوه لوېشت هم د اقتدار له اطاعت څخه ووزي او په همدې حالت کي ومري مرګ به یې پر جاهلیت وي.

که دې روایاتو ته وګورو نو د الجماعة او السلطان الفاظ بالکل د یوه بل د مترادف په توګه کارول شوي، له دې څخه معلومېږي چي الجماعة په حقیقت کي السلطان یعني سیاسي اقتدار دی. له همدې امله د رسول الله د دې حکم اطلاق د مسلمانانو پر یوې داسي ډلې کېدای شي چي د ځمکې په کومه برخه کي سیاسي خپلواکي ولري او تر منځ یې د امارت نظام وي، رسول الله مور ته د همدې د ملګرتیا لارښوونه کړې او له هغې څخه وتل یې له اسلام څخه د وتلو په معنا بللي دي. دا له سیاسي اقتدار څخه له بې برخې کوم دیني ګوند یا تنظیم سره هیڅ تړاو نه لري.[10]

## هجرت او برأت

څلورم حد دا دی چي یقینا په قرآن کي د هجرت دا حکم پاتي دی چي که مومنان په کوم ځای کي د دین کولو له امله د سر له خطر سره مخ وي نو باید د هغه ځای په خوشي کولو کوم بل ځای ته ولاړ شي، خو هغه هجرت چي په قرآن کریم کي د دعوت د یوې مرحلې په توګه بیان شوی او په حقیقت کي د حق د داعي له لوري له خپل قوم سره د برأت اعلان وي د هغه په اړه دا خبره بیخي څرګنده ده چي تر رسولانو خاص دی. علت یې دا دی چي د دې هجرت یو لازمي شرط د حجت پوره کېدل دي او د فرد په توګه د دې تصور یوازي د رسولانو په اړه کېدای شي. دا هغه شخصیتونه دي چي تر راتګ پېړۍ وړاندي یې د الله نبي اعلان کوي، وړاندوینه یې د نړۍ رب په خپلو کتابونو کي ثبتوي او شهادت

[10] دا د تنظیم یا دیني دعوت د کومې ډلې د دې کار کومه لازمي دیني تقاضا هم نه ده، د دې امت علماوو دا خدمت تر دې وړاندي هم عموما په شخصي ډول ترسره کړی او اوس هم که کوم ضرورت غوښتنه نه کوي نو دا کار په همدې ډول ترسره کولای شي.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

يې د ملتونو او قومونو تر منځ د هغوی د راتلو تر وخته دوام کوي.[11] هغوی په خپله ټولنه کې د وجود خلاصه او په خپل سيرت کې اسوه حسنه وي،[12] الله پرې خپله وحې نازلوي، تل يې تر څارنې لاندې وي.[13] د هغوی شا او مخ ته داسې پيرې وي چې د هغه د پيغام په رسونه کې هيڅ ځای کومه تيروتنه ونه کړي،[14] دا يوازې د هغوی مقام دی چې د دوی په دعوت پر يوه قوم د الله حجت داسې پوره شي چې د شيدو ټول غوړ يې را ووزي او يوازې ځګونه پکې پاتې شي.

له قرآن کريم څخه ښکاري چې د حق داعيان څه چې دا مرحله د هغو نبيانو په دعوت کې هم نه ده راغلې چې د الله له لوري نبوت ورکړل شوی، خو د رسالت مسئوليت نه وو ور سپارل شوی. د بني اسرائيلو په انبياوو کې حناني او ميکايا ه زندان ته ولېږل شول.[15] الياس د سينا د ټاپو وزمې په غرونو کې پناه اخيستلو ته مجبور شو،[16] زکريا په سليماني هيکل کې د مقدس او قربانۍ د ځای تر منځ په ډبرو وويشتل شو،[17] يرمياه وډبول شو، زندان ته وليږديد او په رشمو تر تړلو وروسته ډک حوض ته ځوړند شو،[18] عاموس جلا وطن شو[19] او د يحی سر د يوې نڅاګرې په فرمايش غوڅ او په تال کې هغې ته وړاندې شو[20] خو له دوی څخه د هيچا په دعوت کې هم د هجرت او برأت هغه مرحله

[11] الأعراف ۷ : ۱۵۷

[12] القلم ۶۸ : ۴، الاحزاب ۳۳ : ۲۱

[13] الطور ۵۲ : ۴۸

[14] الجن ۷۲ : ۲۷، ۲۸

[15] تواريخ باب ۱۷، ايت ۷، ۱۰ : ۱، سلاطين باب ۲۲، ايت ۲۶، ۲۷

[16] سلاطين باب ۱۹، ايت ۱ – ۱۰

[17] تواريخ باب ۲۴، ايت ۲۱

[18] يرمياه باب ۱۵، ايت ۱۰، ۲۰. ۲۳، باب ۲۰، ايت ۱ – ۸

[19] عاموس باب ۷، ايت ۱۰ – ۱۳

[20] مرقس باب ۶، ايت ۱۷ – ۲۹



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

رانغله چې د رسالت منصب ته د رسيدلو نبيانو په دعوت کې راغلې او په دې توګه هغوی د خدای پر ځمکه الهي حجت ګرزېدلي.

پر دې سربيره د دې هجرت په اړه دا خبره هم له قرآن څخه څرګندېږي چې پريکړه يې يوازې الله کولای شي، د يوه انسان لپاره د خپل عقل او فکر له مخې دا پريکړه کول چې د ده له لوري حجت پوره شوی او د قوم له خوا نور د دعوت په اړه د مثبت غبرګون هيله نه شي کېدای په هيڅ ډول ممکنه نه ده. کله چې د الله فرشتې د لوط د قوم په اړه له دې پريکړې سره د ابراهيم په څېر ستر رسول ته ورغلې نو هغه تر وخت وړاندې وبلله او په دې اړه يې له الله سره مجادله وکړه.[21] يونس عليه السلام د خپل فکر له مخې همدا پريکړه وکړه نو الله سخته جزا ورکړه.[22] او د هغه تر رجوع وروسته د ده د قوم په ايمان دا خبره ښخې ثابته شوه چې د هدايت تر لاسه کولو د توفيق په وخت صرف الله خبر دی، قرآن د هغه د بيلګې په وړاندې کولو په ډاګه کوي چې د الله رسول بايد په دې معامله کې له پوره صبر سره د هغه پريکړې ته انتظار وکړي. هغه له ځانه د دې فکر په کولو چې د ده له لوري د دعوت مسئوليت په کافي اندازه ترسره شوی خپل قوم نه شو پرېښودای، پر هغه لازمه ده چې ده ته کوم مسئوليت سپارل شوی پر له پسې يې تر هغه وخته پر مخ يوسي چې د ده رب دا پريکړه وکړي چې حجت پوره شو، د قوم مهلت پای ته ورسېد او نور رسول له دې سيمې هجرت کولای شي. الله چې کله خپل وروستي رسول ته دنده وسپارله نو هغه ته يې امر وکړ:

وَلاَ تَمْنُن تَسْتَكْثِرُ * وَلِرَبِّكَ فَاصْبِرْ* (المدثر ۷۴ : ۶، ۷)

او خپلې هڅې په ډېرو ګڼلو مه غوځوه او د خپل رب تر پريکړې صبر وکړه.

---

[21] هود ۱۱ : ۷۴–۷۶

[22] الصافات ۳۷ : ۱۳۹–۱۴۸



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

فَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ وَلاَ تَكُن كَصَاحِبِ الْحُوتِ (القلم ۶۸ : ۴۸) نو د خپل رب تر پریکړې صبر وکړه او د ماهي د څښتن (یونس) په څېر مه کېږه.

له دې حکم څخه ښځي څرګنده شوه چې دا هجرت صرف د الهي پرېکړې له مخې کېدای شي، له همدې امله د نبوت تر ختمیدو وروسته نور تر قیامته د حق د دعوت کوونکو لپاره د الله فیصله همدا ده چې هغوی تل په خپل کار بوخت شي او هیڅکله دعوت پرې نه ږدي. په دې کې شک نه شته چې که د باطل پلویان د هغوی لپاره له دې دعوت سره د ژوند کولو فرصت پرې نه ږدي نو دوی د اصحاب کهفو او حبشې د مهاجرینو په څېر د خپل قوم په خوشې کولو یو داسې ځای ته تلای شي چې هلته له دې ظلم څخه نجات تر لاسه کړای شي خو هغه هجرت چې پر خپل قوم د حجت تر پوره کولو وروسته د الله رسولانو کړی هغه د تل لپاره پای ته ورسېد، له همدې امله یې د دین د دعوت په مراحلو کې نوره یادونه یوه بې معنا خبره ده چې تائید یې نه عقل کوي او نه له قرآن و سنت څخه کوم شی د هغه په اړه وړاندې کېدای شي.

## نهی عن المنکر

پنځم حد دادی چې تر وعظ او نصیحت ها خوا په واقعي ډول د معروف پلي کولو او په زور سره د منکر د مخنیوي حق هم الله هیڅ داعي ته نه دی ورکړی، قرآن په دې اړه بیخي واضح دی چې د حق د داعي په توګه د الله هیڅ رسول ته هم تر نصیحت او ښکاره رسونې ها خوا د بل اقدام اجازه نه ده ورکړل شوې. الهي وینا ده:

فَذَكِّرْ إِنَّمَا أَنتَ مُذَكِّرٌ * لَّسْتَ عَلَيْهِم بِمُصَيْطِرٍ * (الغاشية ۸۸ : ۲۱، ۲۲) ته نصیحت کوونکی یې، پر دوی څارونکی نه یې.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کېدای شي ځیني کسان د رسول الله دا وینا د دې په رد کې وړاندې کړي چې من رأی منکم منکرا [23] په دې کې شک نه شته چې زموږ د تاریخ په بېلا بېلو دورو کې له دین سره نا اشنا ځینو حوصله درلودونکو کسانو له دې څخه دا معنا اخیستې چې د رسول الله دا وینا هر د قوي عزم څښتن په دې مکلف کوي چې لومړی د خپلو پیروانو یوه ډله جوړه کړي او تر دې وروسته د منکر د مخنیوي لپاره د حکومتونو پر خلاف بغاوت او جهاد ته ملا وتړي. د روایت د همدې تعبیر پر بنسټ د دین د غلبې بیرغ پورته کوونکو دا مهال د زده کوونکو په لاس کې د قلم او کتاب پر ځای ټوپک ورکړی او اوس همدا ډول ځیني کسان په حاضر وخت کې د اسلامي انقلاب کړنلاره تیاروي، خو په دې اړه باید هر سړي ته دا خبره څرګنده وي چې د قرآن کریم د څرګندونو، دین د منل شویو اصولو، رسولانو د سیرت او روایت د خپلو الفاظو په رڼا کې د دې سم تعبیر دا دی چې دا د هر مسلمان د خپل اختیار له دایرې سره تړاو لري. مېړه، پلار او واکمن ټول د خپل اختیار په دایره کې یقینا په دې مکلف دي چې منکر په زور له منځه یوسي، له دې څخه پرته چې هر شکل هم خپل کړي نو که د دین کوم مصلحت مانع نه وي یقینا چې د کمزوري ایمان نښه ده خو له دې دایرې څخه د باندې داسي کوم ګام هیڅ جهاد نه بلکې تر ټولو بد فساد دی چې د دې لپاره په دین کې هیڅکله کوم ګنجایش نه شي ثابتېدای.

## هر اړخیز عذاب

شپږم حد دا دی چې د حق دعوت د تکذیب په نتیجه کې پر عادیانو، ثمودیانو، د نوح، لوط او دا ډول نورو قومونو کوم عذاب راغی هغه هم د رسالت تر زمانې خاص دی. قرآن کریم په دې هکله بېخي څرګند دی چې د فرد په توګه یوازې د الله رسول دا حیثیت لري چې د هغه په وسیله پر یو قوم د الله حجت داسې ترسره کېږي چې که تر دې وروسته هم

[23] مسلم، شمیره: ۱۷۷



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ایمان را نه وړي نو عموما د ځمکې له مخې نیستي کېږي. تر رسول الله وروسته نور هیڅ داعي دا حق نه لري چې خپل قوم ته د داډول عذاب ګواښ وکړي، یقینا د الله خبرداری اوس هم نازلېږي او سبب یې د حق له کوم دعوت سره د خلګو چلند هم کېدای شي، خو هغه هر اړخیز عذاب چې هر رسول یې خپل قوم ته ګواښ کړی او پر خپل ځای د رسالت دلیل دی هغه اوس د کوم شخص له دعوت سره تړاو نه شي درلودای. نور د حقپالو په اړه د الله قانون همدا دی چې دوی د اخرت نصیحت د خپل نصیحت محور وګرزوي او په هیڅ مرحله کې د هغه له دې اړخ څخه تجاوز ونه کړي.

## تکفیر

اووم حد دا دی چې هیڅ داعي د کوم شخص د تکفیر حق نه لري، کېدای شي چې له دین څخه د ناخبرۍ پر بنسټ په مسلمانانو کې کوم کس کفر او شرک ترسره کړي خو که هغه په خپله د هغه شي کفر او شرک د منلو اقرار نه کوي نو یقینا به د هغه د کفر او شرک حقیقت ورته بیانېږي او د قرآن و سنت له دلایلو سره به ورته ثابتېږي هم، د حق پلویان به یې د هغه په ناولتیا هم خبروي او د دنیا و اخرت نتایج به یې هم ورته بیانوي خو څرنګه چې د هغه د تکفیر لپاره د حجت اتمام ضروري دی له همدې امله نور له رسول الله وروسته تر قیامته هیڅ ډله یا شخص دا حق نه لري چې کوم څوک کافر وبولي. د سورت التوبې د پنځم او یوولسم ایت له مخې د مسلمانانو اجتماعي نظم هم بالاخره یوه شخص یا یوه ډله نامسلمانه بللای شي خو دوی یې هم د کافر بللو حق نه لري.

مګر د دې معنا دا هم نه ده چې د حق داعي د کفر او شرک په ابطال کې د نرمۍ کولو اجازه لري، د حق اثبات او د باطل بطلان د هغه دنده ده د هغه اصل مسئولیت همدا دی چې هر ډول خطر او مصلحت ته له پام پرته د توحید، رسالت او اخرت په اړه ټول ناسم تصورات رد کړي او خلګ هغې نېغې لارې ته را وبولي چې د نړۍ والو رب الله په خپل کتاب کې انسانانو ته تشریح کړې ده، دا پر هغه لازمه ده خو د دې په هیڅ مرحله کې هم دا



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

حق نه لري چي په امت کي شامل کوم شخص يا ډله کافر او مشرک وبولي، د هغوی د جمعې او جماعت له لمانځه بېل شي او له هغوی سره د ټولنيزو اړيکو په غوڅولو په مسلمان امت کي ځان ته د يوه بېل امت جوړولو هڅه وکړي.

۱۹۹۰

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

# د مضامینو تېروتنې

(دا لیکنه د ډاکټر محمود الحسن صاحب د هغه مضمون په ځواب کې ولیکل شوه چې تر همدې عنوان لاندې د ۱۹۸۷ ډسمبر پر دیارلسمه په نوای وقت ورځپاڼه کې خپره شوه)

د استاذ امام امین احسن اصلاحي له نهه ټوکه تفسیر تدبر قرآن څخه چې ډاکټر محمود الحسن صاحب د مضامینو کومې دوې غلطۍ را ایستلې دي له هغو څخه د رجم د سزا په اړه مو خپل نظر تر دې وړاندې په خپلو مضامینو کې واضح کړی دی، البته دلته د سورت الفیل د تفسیر په اړه ځینې ملاحظات وړاندې کوو.

د دې سورت عام تفسیر دا دی چې په ۵۷۰ او یا ۵۷۱ میلادي کې د یمن واکمن ابرهه له شپیته زره پوځ او دیارلسو فیلانو (ځینو روایاتو پر بنسټ له نهو فیلانو) سره د کعبې ورانولو لپاره پر مکه برید وکړ، مکیان په دې فکر چې له دومره ستر پوځ سره په جګړه د کعبې د ساتنې وس نه لري د خپل مشر عبد المطلب په مشرۍ غرونو ته ولاړل. په دې سره د الله پیاوړي پوځونه د مرغانو په شکل راغلل چې په مښوکو او منګولو کې یې وړې ډبرې نیولې وې او د ابرهه پر پوځ یې وورولې چې منی ته څیرمه دا ټول پوځ د محصر په دره کې بالکل د ژوول شویو بوسو په څېر شو.

د تدبر قرآن لیکوال له دې تفسیر سره اختلاف لري، ده چې په خپل کتاب کې کوم وجوهات بیان کړي په هغو کې د ده په اند لویه وجه دا ده چې د سورت دا تفسیر د هغه قانون خلاف دی چې د الهي نصرت په اړه په خپله په قرآن کې ځای پر ځای بیان شوی او په قرآن کې هیڅ داسې تفسیر چې د هغه په مدعا کې تناقض پیدا کوي په هیڅ ډول نه شي منل کېدای. دی لیکي:



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

"کومو کسانو چې پر قریشو د دې بې غیرتۍ تور لګولی د هغوی په اند ګواکې د دې سورت درس دادی چې الله په خپله د دې کور ساتونکی دی، که یې ساتونکي د دښمن له وېرې هغه خوشې کړي او وتښتي بیا به یې هم ساتنه الله کوي. کله چې قریش د ابرهه د پوځ له وېرې په غرونو کې پټ شول نو الله د ابابیلو په وسیله پر هغوی ډبرې وورولې او ویې ځپل. که واقعاً د دې سورت درس همدا وي نو دا د الهي سنت خلاف دی، د الله قانون دا نه دی چې بندګان په خپلو کورونو کې په ناسته د بني اسرائیلو په څېر ووایي چې فَاذْهَبْ أَنتَ وَرَبُّکَ فَقَاتِلا إِنَّا هَاهُنَا قَاعِدُونَ [1] (ته او ستا خدای ولاړ شئ جګړه وکړئ موږ دلته ناست یو) او الله د دوی لپاره میدان وګټي، تخت ورته خپور کړي او دوی ورباندې کښېني. که الله داسې کوي نو له بني اسرائیلو سره یې ولې داسې ونه کړل؟ هغوی ته خو یې د دې سزا دا ورکړه چې تر څلوېښتو کالو یې په بیدیا کې سرګردان کړل، له قرآن څخه چې د الله کوم سنت معلومېږي هغه خو دا دی چې دی له هغو کسانو سره مرسته کوي چې د خپل مسئولیت تر سره کولو ته را پاڅېږي. که څه هم شمېر یې لږ او وسایل یې محدود وي. قرآن چې د بیت الله په اړه په سورت البقره، سورت التوبه، سورت الحج او نورو کې زموږ کوم مسئولیتونه بیان کړي هغه همدا دي چې د هغې د ازادۍ او ساتنې لپاره چې مو څه په وس وي ویې کړو، الله به مو مرسته وکړي. دا یې هیڅ ځای نه دي ویلي چې که تاسو څه وکړئ او که نه، زموږ ابابیل به یې ساتنه کوي. په هر حال د قریشو چې څه په وس پوره وو هغه یې وکړل، لکه څرنګه چې موږ وویل د هغوی دفاع کمزورې وه خو الله د خپل حاصب (تونډې او تیزې هوا) په وسیله د هغوی په دې کمزورې دفاع کې دومره ځواک پیدا کړ چې دښمن د بوسو په څېر وځپل شو، رسول الله د بدر پر مهال د قریشو د پوځ پر لور صرف یو موټ خاوره وغورځوله خو هماغه موټ

[1] المایدة ۵: ۲۴



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

خاوره د دوی لپاره توپان شوه او الله يې اهميت دا وښود چې وَمَا رَمَيْتَ إِذْ رَمَيْتَ وَلَكِنَّ اللّهَ رَمَى [٢] (هغه ډبرې پر د ښمنانو تا نه وې غورځولې بلکي الله وغورځولې.) " (تدبر قرآن ۹ / ۵۶۲)

د تدبر قرآن ليکوال چې د دې سورت کوم تفسير کړی لنډيز يې دا دی چې په دې وخت کي واقعا مکيان غرونو ته تللي وو خو دا کار يې له دفاع څخه د لاس اخيستلو لپاره نه وو کړی بلکي د ابرهه د ستر پوځ په وړاندې دا د دفاع يو شکل وو چې دوی غوره کولای شوای، کله چې يرغلگر پوځ منی ته نژدې شو نو دوی د غرونو له کمينونو پرې ډبرې واورولې د هغوی د لارې بندولو هڅه يې وکړه او الله د دوی د دې هڅو په بدل کي د تيز او توند توپان په وسيله د ابرهه پوځ داسې وځاپه چې د محصر په وادي کي غوښو خوړونکو مرغانو د هغوی د مړو غوښې خوړلې.

د خپل دې فکر له مخې ده د سورت ترجمه داسې کړې:

أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصْحَابِ الْفِيلِ * أَلَمْ يَجْعَلْ كَيْدَهُمْ فِي تَضْلِيلٍ * وَأَرْسَلَ عَلَيْهِمْ طَيْرًا أَبَابِيلَ * تَرْمِيهِم بِحِجَارَةٍ مِّن سِجِّيلٍ * فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَّأْكُولٍ* (۱۰۵)

ايا تا و نه ليدل چې ستا رب د فيل له څښتنانو سره څه وکړل، ايا د هغوی تکتيک يې بيخي له منځه نه يووړ او پر دوی يې ډلې –ډلې مرغان نه را ولېږل؟، تا هغوی له پخو خټو په جوړو غونډي شگو ويشتل، بالاخره الله هغوی د ژوول شويو بوسو په څېر کړل. [٣]

د ډاکټر محمود الحسن صيب لپاره همدا ډېره وه چې د دې تفسير پر يو څه درک بريالی شوی وای خو هغه پرې د نقد ليکلو هڅه کړې او وگورئ چې له کومې علمي

---

[٢] انفال ۸ : ۱۷

[٣] تدبر قرآن ۹ / ۵۵۷



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

سويې سره يې کړې دي؟. دې وايي که د ترميهم معنا داوي چي تا پر هغوى ډبرې اورولې او مخاطبين يې د مکې قريش وي نو څرنگه چي رسول الله هم له قريشو څخه وو له همدې امله به دى هم په ډبرو ويشتونکو کي شامل وي په داسې حال کي چي د فيل د پيښي پر مهال دى زوکړى لا هم نه وو. د ده د تحليل په رڼا کي يو څه د سورت البقرې دا ايا تونه هم تلاوت کړئ:

وَإِذْ نَجَّيْنَاكُم مِّنْ آلِ فِرْعَوْنَ يَسُومُونَكُمْ سُوءَ الْعَذَابِ يُذَبِّحُونَ أَبْنَاءَكُمْ وَيَسْتَحْيُونَ نِسَاءَكُمْ وَفِي ذَٰلِكُم بَلَاءٌ مِّن رَّبِّكُمْ عَظِيمٌ * وَإِذْ فَرَقْنَا بِكُمُ الْبَحْرَ فَأَنجَيْنَاكُمْ وَأَغْرَقْنَا آلَ فِرْعَوْنَ وَأَنتُمْ تَنظُرُونَ * وَإِذْ وَاعَدْنَا مُوسَىٰ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً ثُمَّ اتَّخَذْتُمُ الْعِجْلَ مِن بَعْدِهِ وَأَنتُمْ ظَالِمُونَ* (۲: ۴۹-۵۱)

(اې بني اسرائيلو!) هغه مهال درياد کړئ چي تاسو مو د فرعونيانو له غلامۍ خلاص کړئ، دوى تاسو په سخت عذاب اخته کړي واست، ستاسو ماشومان يې حلالول او ستاسو ښځې يې ژوندۍ پرېښودلې او په دې کي ستاسو د رب له لوري لويه ازموينه وه او درياد کړئ چي کله مو د سمندر په څيرلو تاسو ته لار درکړه، بيا مو وژغورلاست او همالته مو ستاسو د سترگو مخ ته فرعون ډوب کړ او هغه وخت درياد کړئ چي موږ موسى ته د څلوېښتو شپو وعده وټاکله نو بيا تاسو سخوندرکى په خپل معبوديت ونيو او په دې ډول مو ډېر لوى ظلم وکړ.

د دې اياتونو تر ټولو لومړني مخاطبين د مدينې يهود دي او ډاکټر صيب به يقينا له موږ سره په دې معامله کي اختلاف ونه کړي چي کله فرعونيانو د بني اسرائيلو ماشومان حلالول، د هغوى ښځې يې ژوندۍ پرېښودلې او کوم وخت دوى د دې ظالمانو له غلامۍ خلاص شول، د دوى لپاره سمندر څيرې او لار پيدا شوه، هغوى را پوري وتل، د دوى رب فرعونيان د هغوى د سترگو په وړاندې غرق کړل، رسول يې د څلوېښتو شپو



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."
www.javedahmadghamidi.com www.al-mawrid.org

قرارداد وکړ او تر هغه وروسته دوی د سخوندرکي عبادت پیل کړ په هغه وخت کي د مدینې له یهودو څخه یو هم نه وو زېږېدلی نو ایا په دې ایاتونو کي به هم دی هر ته او تاسو په هغه او هغوی بدلوي؟.

د ژبې منل شوی قانون دی چي کله کوم قوم یا ډلې ته د قوم او یا ډلې په توګه خطاب کېږي نو د هغوی د ټولو افرادو د زوکړي پر تاریخ څېړنه نه کېږي، کله چي موږ وایو اې مسلمانانو! کوم مهال چي تاسو د عربو له بیدیاوو څخه د ایمان د دولت په راوړلو راووتلئ او زموږ په اوریدونکو کي یو څوک د دې په ځواب کي ووایي چي ته کومو خلکو ته خبرې کوې هغه مهال خو زموږ پلار او نیکه هم نه ووزېږېدلي؟ نو ډاکټر صیب دي ووایي چي د هغه د عقل او پوهي په اړه به دی کوم دریځ ولري؟.

ده لیکلي چي د جمعې حاضرې لپاره یې د واحد حاضر استعمال هم کوم ځای نه دی تر سترګو شوی، زموږ په څېړزده کوونکو سره خو د هغه د دې محرومیت هیڅ علاج نه شته خو تر کومه ځایه چي په عربي ژبه پوري تړلې په هغې کي دا اسلوب دومره عام دي چي که یې له قرآن کریم او عربي کلام څخه دلته بیلګي وړاندې کړو نو د قلم او کاغذ لپاره به یې ځایول سخت وي.

له عربي سره لږ بلد کس پوهېږي چي دا اسلوب هغه مهال غوره کېږي چي کله هدف د یوه په توګه ټولي ډلې ته خطاب کول وي، د سورت لقمان په ۳۱، د ابراهیم په ۱۹ او د شعراء په ۲۲۵ ایاتونو کي الم تر د بقرې په ۱۰۶ کي الم تعلم، د مایدې په ۸۲ کي لتجدن او ۸۳ کي تری د سورت الفتحې په ۲۹ کي تراهم او د بني اسرائیل په ۲۱ او ۴۰ کي لا تجعل او لا تقف او داسي نور د همدې مثالونه دي. له دې څخه د علم بلاغت په اصطلاح کي په خطاب لغیر معین تعبیر کېږي، د طرف شعر دی:

فأن تبغنی فی حلقة القوم تلقنی    وان تلتمسنی فی الحوانیت تصطد



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

"نو كه تاسو ما د قوم په مجلس كي ولټوئ هلته به مي پيدا كړئ او كه مي د شرابو په دوكانونو كي ولټوئ هلته به مي و مومئ."

په اردو كي هم د خطاب دا اصول په عام ډول كاريږي، اقبال ويلي:

یہ ایک سجدہ جسی تو گران سمجتاھی
هزار سجدیں سی دیتاھی ادمی کو نجات

ډاكټر محمود الحسن صيب به د دې شعر په اړه هم وايي چي په دې كي د واحد حاضر صيغه ده او تر دې وړاندي پكي د قوم يا ډلې يادونه هم په قطعي ډول نه شته له همدې امله يې مخاطب د اقبال كوم ملګرى مثلا سيد نذير نيازى يا ميا محمد شفيع كېداى شي. د اردو ژبې د قوانينو له مخې څرنګه مسلمان قوم د دې مخطاب بلل كېداى شي؟.

دى وايي: د ارسل على الفاظ په قرآن كي هر ځاى د الهي عذاب لپاره كارول شوي، زموږ په فكر دلته هم غالبا هماغه د نيمګړي نظر خبره ده كه نه د قرآن هر زده كوونكى پوهيږي چي لكه څرنګه چي دا الفاظ په هغه كي د عذاب لپاره راغلي همدا راز پر يو چا د مسلط كېدو لپاره هم استعمال شوي. په سورت مريم كي دي:

أَلَمْ تَرَ أَنَّا أَرْسَلْنَا الشَّيَاطِينَ عَلَى الْكَافِرِينَ تَؤُزُّهُمْ أَزًّا (مريم ١٩: ٨٣)

ايا تا ونه ليدل چي موږ دې كافرانو ته شيطان ور خوشي كړى چي دوى ښه پاروي.

د سورت فيل په ياد ايت كي د دې معنا څه ده؟ استاذ امام امين احسن اصلاحي ليكي:

" داد ابرهه د پوځونو له هلاكت، ځپل كېدو او بې كسۍ و بې وسۍ څخه كنايه ده يعني الله په خپل كامل قدرت هغوى داسي وځپل چي د مړيو پورته كولو لپاره يې څوك پاتي نه شول او په ډګر كي پراته وو. الله غوښې خوړونكي مرغان را ولېږل چي هغو د دوى



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

غوښې وشکولې، ويې خوړې او د مکې دره يې د هغوی له ناولتيا پاکه کړه." (تدبر قرآن ۵۶۰/۹)

د ډاکټر صيب په اړه خو موږ څه نه شو ويلای مګر له عربي ژبې سره اشنا هر د ذوق خاوند اندازه کولای شي چې د دې معنا لپاره دا الفاظ څومره مناسب دي؟. عربي شاعران عموما د دښمن د بې وسۍ او څپل کېدو لپاره د هغوی پر مړيو د مرغانو د يرغل راوړلو تعبير غوره کول، د مرار شعر دی:

انا ابن التارک البکری بشرا          عليه الطير ترقبه وقوعا

"زه د هغه چا زوی يم چې د بکر قبيلې بشر يې داسې څيرې کړ چې مرغانو يې د غوښو خوړلو لپاره پرې برسيره پرواز کاوه."

هغه ليکي چې د تدبر قرآن د ليکوال په وينا کوم مهال الله د ابرهه پوځ د تيزې او توندې سيلۍ په وسيله له منځه يوووړ نو بيا د مکيانو ډبرې اورول له دې سره څه تړاو لري؟ زموږ فکر دا وو چې ده به تر نقد ليکلو وړاندې حتما د امام فراهي تفسير لوستی وي، خو د هغه له دې نيوکې څرګنده شوه چې د نورو ډېرو شيانو په څېر يې ممکن دا تفسير هم تر نظر نه وي تېر شوی که نه له دې تړاو څخه به دومره ناخبره نه وای. امام فراهي ليکلي:

" قريشو د ډبرو په اورولو د ابرهه پوځ له بيت الله څخه منعه کاوه، الله په همدې پرده کې له اسمانه پرې ډبرې وورولې لکه څرنګه چې يې د بدر د غزا ډبرې اورول ځان ته منسوب کړي (ولکن الله رمی)، همدا رازيې د خوړل شوي بوس په څېر د کفارو ګرزول هم د خپل غالب ځواک لور ته منسوب کړي. څرګنده ده چې دا يوه ستره معجزه ده ځکه د قريشو لپاره د ابرهه د ستر پوځ دړې - وړې کول څه چې د هغه شا ته کول هم اسانه نه وو." (مجموعه تفاسير، مخ: ۳۸۸)



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دی وایي: د غوښو خوړونکو مرغانو او حیواناتو په اړه یې اوریدلي وو خو د غوښو خوړونکو مرغیو په اړه یې هیڅکله نه وو اورېدلي، حقیقت دادی چې د ډاکټر صیب دا نیوکه د خپلې علمي سویې له اندازه کولو پرته د قلم پورته کولو افسوسناک مثال دی.

تر اوسه مو فکر دا وو چې دی یوازې د عربي ژبې له اسلوبو نا خبره دی خو د ده له دې نیوکې دا حقیقت هم څرګند شو چې د ده د اردو ژبې معامله هم هغسې ده، که یې د دې جملې تر لیکلو وړاندې کوم قاموس ته رجوع کړې وای نو ورته څرګنده شوې به وه چې په دې ژبه کې د مرغیو لفظ په څه ډول د هغو مرغانو لپاره کارېږي چې سهار او ماښام زمونږ په کورونو کې نارې وهي، همدا راز یې د شاهین، باز، تیپوس او نورو لپاره یې هم د اردو ژبې فصیح کسان همداسې بې تکلفه کاروي.

ده پوښتنه کړې چې مولانا امین احسن اصلاحي د سورت الفیل کوم تفسیر کړی د هغه ماخذ څه دی؟ د ده د دې پوښتنې په ځواب کې به موږ په ډېر احترام سره عرض وکړو چې د مولانا صیب د دې تفسیر ماخذ په خپله قرآن دی او د هغه اصول دادي چې دی کله د قرآن کریم د الفاظو، شواهدو او کلام د نظم په رڼا کې کومې نتیجې ته رسېږي نو بیا بل کوم نظر ته صرف پر دې بنسټ ارزښت نه ورکوي چې په زړو کتابونو کې لیکل شوی دی.

دی وایي: که د شیطانانو د ویشتنې سنت د امام فراهي په نزد د مکې د قریشو د ډبرو ویشتلو په یاد را منځ ته شوی وي نو ولې د منی پر ځای د محسر په وادي کې نه ترسره کېږي او په دې کې د شکو پر ځای ولې لویې - لویې ډبرې نه ویشتل کېږي؟ تر کومه ځایه چې له لومړۍ نیوکې سره تړاو لري نو په اړه به یې وو وایو چې د ډبرو ویشتلو په اړه ثابته ده چې په محصب کې وې او محصب په منی کې شامل دی.



© "All rights of this book are reserved by the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

پاتي شوه دويمه نيوکه نو پر دې به اوس څه تبصره وکړو، دى چي د ننبې او حقيقت پر کوم توافق ټينګار لري تر هغه وروسته خو زموږ په څېر زده کوونکي له ده څخه د دې پوښتنې جرأت کولاى شي چي دى دا سنت د کومې پېښې په ياد کي ادا کوي ايا د هغې په اړه ثابتولاى شي چي ابراهيم عليه السلام هم همدغسي لومړى ابليس صرف له جمره کبرى سره په شګو ويشتلى وو، له هرې شګې سره يې تکبير ويلى وو او تر قربانۍ وروسته يې هم دا کار پرله پسې درې ورځې په همدې ترتيب او همدې ادابو سره ترسره کړ؟.

همدارنګه دى وايي: د تدبر قرآن ليکوال په تاريخ کي له قياس څخه کار اخيستى او د مکې د قريشو يوه دود لپاره يې د سنت لفظ کارولى، د فيل د پېښې په اړه يې د ابن اسحاق او نورو روايات او د جاهلي شاعرانو په سلګونو شعرونه بالکل له پامه غورځولي دي.

د ډاکټر صيب دا نيوکې هم د لومړنيو نيوکو په څېر يوازي په ناخبرۍ کي د يو څه ليکلو نتيجه ده، هغه پر دې غور نه دى کړى چي استاذ امام کله په ترميهم کي قريش د ضمير مرجع ګڼي نو د هغه ټوله دعوه په خپله د قرآن په نصب ثابتېږي، نو بيا په دې کي قياس له کومه شو او سنت يوازي هغې طريقې ته نه وايي چي کوم نبي يې را پيل کړي بلکي د نبي د تائيد او تقرير په نتيجه کي هم سنت را منځ ته کېږي او اسلام په همدې ډول ځيني نوري طريقې هم په دې توګه پرېښې دي.

پاتي شوه د فيل د پېښې په اړه د رواياتو او اشعارو خبره نو ډاکټر صيب غالبا دا جمله د تفاسير فراهي له مطالعې پرته ليکلې، که نه حقيقت دا دى چي امام فراهي نه يوازي دا ټول شيان په خپل تفسير کي نقل کړي بلکي له هغو څخه چي يې کوم څه منلي او کوم څه يې خوشي کړي د هغو اسباب او دلايل يې هم په پوره وضاحت سره بيان کړي دي.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دا وې د مضامينو هغه تيروتنې چي ډاکټر محمود الحسن صيب د امام فراهي په نظرياتو او د استاذ امام امين احسن اصلاحي په تدبر قران کي موندلې وې، د هغه دې نادر تحقيق ته به نور د ده حضور ته له دې پرته څه وړاندې شي چي:

نگاہ تیری فرو مایہ ہاتھ ہے کوتاہ
ترا گنہ کہ نخیل بلند کا ہے گناہ

۱۹۸۷

د ژباړې پای

۲۰۱۵ / نومبر / ۱۰

هرات-افغانستان

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

# ماخذونه


۱ ) الانسان الکامل فی معرفة الاواخر و الاوائل، الجیلي، عبد الکریم قطب الدین، شرکة مکتبة و مطبعة مصطفی البابی الحلبی و اولاده، مصر، دویم چاپ، ۱۳۷۵ ھ / ۱۹۵۶م

۲ ) الاغاني، ابو الفرج علی بن الحسین بن محمد بن احمد الاصفهاني (مړینه: ۳۵۶ ھ)، دار الکتب العلمیة، بیروت، دویم چاپ، ۱۴۱۲ھ / ۱۹۹۲م

۳ ) اعلام الموقعین عن رب العالمین، ابن قیم، شمس الدین محمد بن ابی بکر بن قیم الجوزیه، مکتبة ابن تیمیه، القاهره، ۱۳۸۹ھ / ۱۹۶۹م

۴ ) احکام القرآن، ابن العربي، ابو بکر محمد بن عبد الله (مړینه ۵۴۳ ھ)، دار احیاء التراث العربي، بیروت، دویم چاپ، ۱۳۹۳ھ / ۱۹۷۲م

۵ ) احکام القرآن، الجصاص، ابو بکر احمد بن علی الرازی (مړینه: ۳۷۰ ھ)، دار الکتاب العربي، بیروت، ۱۳۳۵ ھ

۶ ) احیاء علوم الدین، الغزالي، ابو حامد محمد بن محمد، دار المعرفة، بیروت

۷ ) البدایه و النهایة، ابن کثیر، ابو الفداء اسماعیل بن عمر بن کثیر الدمشقي (مړینه ۷۷۴ھ)، دار ابن کثیر، بیروت

۸ ) بدایة المجتهد و نهایة المقتصد، ابن رشد، ابو الولید محمد بن احمد بن محمد بن احمد بن رشد الاندلسي (مړینه: ۵۹۵ھ)، المکتبة العلمیة، لاهور

۹ ) تلخیص الحبیر، ابن حجر، ابو الفضل احمد بن علی بن محمد بن حجر العسقلاني (مړینه: ۸۵۲ھ)، المکتبة الاثریة، پاکستان، ۱۳۸۴ھ

۱۰ ) تحریک اسلامي کا آینده لایحه عمل، سید ابو الاعلی مودودي، اسلامک پبلیکشنز، لاهور، دوه ویشتم چاپ، ۱۹۹۶م

۱۱ ) تدبر قرآن، امین احسن اصلاحي، فاران فاونډیشن، لاهور، پنځم چاپ، ۱۹۹۳م

۱۲ ) تفهیم القرآن، سید ابو الاعلی مودودي، اداره ترجمان القرآن، لاهور، اووه دیرشم چاپ، ۱۴۲۶ھ / ۲۰۰۵م




© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."
www.javedahmadghamidi.com www.al-mawrid.org

۱۳ ) التفسير الكبير، الرازي، ابو عبدالله محمد بن عمر بن حسين القرشي، دار الكتب العلميه، طهران، دويم چاپ

۱۴ ) تفاسير فراهي، حميد الدين فراهي، فاران فاونډيشن، لاهور، دويم چاپ، ۱۴۱۲هـ/۱۹۹۱

۱۵ ) الجامع الصحيح، البخاري، ابو عبد الله محمد بن اسماعيل (مړينه: ۲۵۶هـ)، دار السلام، الرياض، دويم چاپ، ۱۴۲۰هـ/۱۹۹۹م

۱۶ ) الجامع الصحيح، مسلم، ابو الحسين مسلم بن الحجاج النيسابوري (مړينه: ۲۶۱هـ)، دار السلام، الرياض، دويم چاپ، ۱۴۱۹هـ/۱۹۹۸م

۱۷ ) الجامع الكبير، الترمذي، ابو عيسى محمد بن عيسى (مړينه: ۲۷۹هـ)، دار السلام، الرياض، لومړی چاپ، ۱۴۲۰هـ/۱۹۹۷م

۱۸ ) دعوت دين اور اس کا طريق کار، امين احسن اصلاحي، فاران فاونډيشن، لاهور، شپږم چاپ، ۱۴۱۸هـ/۱۹۹۷م

۱۹ ) روح المعاني، الآلوسي، ابو الفضل شهاب الدين السيد محمود البغدادي (مړينه: ۱۲۷۰هـ)، دار احياء التراث العربي، بيروت

۲۰ ) الرحيق المختوم، صفي الرحمان مبارک پوري، المكتبة السلفية، لاهور، لومړی چاپ، ۱۴۰۸هـ/۱۹۸۷م

۲۱ ) سنن النسايي الصغری، النسايي، ابو عبد الرحمن احمد بن شعيب (مړينه: ۲۷۳هـ)، دار السلام، الرياض، لومړی چاپ، ۱۴۲۰هـ/۱۹۹۹م

۲۲ ) سنن ابن ماجه، ابن ماجه، ابو عبد الله محمد بن يزيد القزويني (مړينه: ۲۷۳هـ)، دار السلام، الرياض، لومړی چاپ، ۱۴۲۰هـ/۱۹۹۹م

۲۳ ) سنن الدارمي، الدارمي، ابو محمد عبد الله بن عبد الرحمن بن الفضل بن بهرام (۲۵۵هـ)، نشر السنة، ملتان، ۱۳۸۶هـ/۱۹۶۶م

۲۴ ) السيرة النبوية، ابن هشام، ابو محمد عبد الملک بن هشام المعافري، دار الخير، بيروت، دويم چاپ، ۱۴۱۶هـ/۱۹۹۵م



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۲۵ ) سيرت سورور عالم، سيد ابو الاعلى مودودي، اداره ترجمان القرآن، لاهور، پنځم چاپ، ۱۴۰۹ هـ/ ۱۹۸۹ م
۲۶ ) شرح القيصري على فصوص الحكم، داود بن محمد القيصري، انتشارات بيدار، قم، ۱۳۴۳ هـ
۲۷ ) الطبقات الكبرى، ابن سعد، محمد بن سعد ( مړينه: ۲۳۰ هـ)، دار الفكر، بيروت، لومړی چاپ، ۱۴۱۴ هـ/ ۱۹۹۴
۲۸ ) عهد نبوي مين نظام حكمراني، ډاکټر محمد حميد الله، اردو اکيډمي، کراچۍ، درېيم چاپ، ۱۹۸۷ م
۲۹ ) فقه السنة، السيد سابق، دار الفكر، بيروت، دويم چاپ، ۱۴۰۰ هـ/ ۱۹۸۰ م
۳۰ ) فتح الباري، ابن حجر، احمد بن علي بن حجر العسقلاني ( مړينه: ۸۵۳ هـ)، دار نشر الكتب الاسلاميه، لاهور، ۱۴۰۱ هـ/ ۱۹۸۱ م
۳۱ ) فتوحات مکيه، محي الدين بن العربي ( مړينه: ۶۳۸ هـ)، دار الكتب العلمية، بيروت، ۱۴۲۰ هـ/ ۱۹۹۹ م
۳۲ ) كتاب السنن، ابوداود، ابوداود سليمان بن الاشعث السجستاني (مړينه: ۲۷۵ هـ)، دار السلام، الرياض، لومړی چاپ، ۱۴۲۰ هـ/ ۱۹۹۹
۳۳ ) الكتاب، سيبويه، عمرو بن عثمان بن قنبر، دار الكتب العلميه، بيروت، لومړی چاپ، ۱۴۲۰ هـ / ۱۹۹۹ م
۳۴ ) كنز الوصول الى معرفة الاصول، البزدوي، علي بن محمد البزدوي الحنفي (۴۸۲ هـ)، قديمي کتب خانه، کراچۍ
۳۵ ) الكشاف، الزمخشري، ابو القاسم محمود بن عمر ( مړينه: ۵۳۸ هـ)، دار احياء التراث العربي، بيروت، ۱۴۱۷ هـ/ ۱۹۹۷ م
۳۶ ) لسان العرب، ابن منظور، ابو الفضل جمال الدين محمد بن مكرم بن منظور الافريقي ( مړينه: ۷۱۱ هـ)، دار صادر، بيروت ۱۳۰۰ هـ
۳۷ ) المسند، ابن حنبل، احمد بن محمد بن حنبل ( مړينه: ۲۴۱ هـ)، موسسة الرسالة، بيروت، ۱۴۲۰ هـ/ ۱۹۹۹ م



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."
www.javedahmadghamidi.com www.al-mawrid.org

۳۸ ) منهج انقلاب نبوی، ډاکټر اسرار احمد، مرکزي انجمن خدام القرآن، لاهور، دويم چاپ، ۱۹۸۹م

۳۹ ) المفصل فی علم العربية، الزمخشري، ابو القاسم محمود بن عمر ( مړینه: ۵۳۸ هـ)، دار نشر الکتب الاسلامية، لاهور، ۱۳۲۳هـ

۴۰ ) مغنی اللبيب عن کتب الاعارين، ابو محمد عبدالله بن يوسف بن احمد بن عبدالله بن هشام الانصاري ( مړینه: ۷۶۱ هـ)، دار نشر الکتب الاسلاميه، لاهور، لومړی چاپ، ۱۹۹ هـ/۱۹۷۹م

۴۱ ) الموطا، مالک بن انس، المکتبة الثقافيه، دويم چاپ، ۱۴۱۴هـ/۱۹۹۳

۴۲ ) منازل السائرين، عبدالله الانصاري الهروي (مړینه: ۴۸۱ هـ)، انتشارات مولی، تهران، ۱۳۴۱هـ

۴۳ ) مکتوبات، مجدد الف ثاني، الشيخ احمد سرهندي، رؤف اکيډمي، ۱۳۹۱هـ

۴۴ ) الموافقات فی اصول الشريعه، الشاطبي، ابو اسحاق ابراهيم بن موسی (مړینه: ۷۹۰هـ)، دار الکتب العلميه، بيروت

۴۵ ) نسيم الرياض، الخفاجي، شهاب الدين احمد بن محمد بن عمر (مړینه: ۱۰۶۹ هـ)، دار الکتاب العربي، بيروت

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

المورد

د علم او څېړني اداره